میوند خپرندویه ټولنه

کابل - افغانستان

# د افغانستان

# یاد ښتونه



ژباړن:

محمد زبیر شفیقی

لیکواله:

کریستینا لیمب

لیکواله: کرستینا لیمب

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

# د افغانستان یادښتونه

PROPERTY OF ACKU
11634

زباړن: محمد زبیر شفیقي

... خاور
...ل تهانه، پشاور
5703708

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00011634 2

بسم الله الرحمن الرحیم


**د کتاب پېژندنه:**

د افغانستان یادښتونه

لیکوال: کریستینا لیمب

ژباړن: محمد زبیر شفیقي

کمپوز او ډیزاین: علي جان سلطاني او محمد هارون شفیقي

لومړی چاپ: ۱۳۸۳ لمریز، وری

د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرندوی: میوند خپرندویه ټولنه



کابل: صدارت څلور لاری، تیلفون: ۲۲۰۰۴۵۵ و ۲۱۰۳۵۶۹

موبایل: ۰۷۰۲۸۴۹۵۴ و ۰۷۰۲۹۵۲۱۴ پست بکس: ۵۲۲۵

E-Mail: maiwand@asia.com



د چاپ حق خوندي دی.

ACKU

# اهدا

هغه اولس ته چې وینې دوی ورکوي، عزت د نورو پې
لوړ شي.
هغه اولس ته چې ځوروي یې پردي، دلاسه یې هم په
پردیو کیږي.

"شفیقي"

ACKU

# نیولیک


| گڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱. | د ژباړن سریزه | ۲ |
| ۲. | د پیل خبرې | ۷ |
| ۳. | د طالبانو له خوا ربړول | ۱۷ |
| ۴. | موټرسایکل سواره ملایان | ۴۱ |
| ۵. | حقانیه دارالعلوم | ۸۲ |
| ۶. | په جلا وطنۍ کې شاهي دربار | ۱۲۷ |
| ۷. | د هرات سفر | ۱۷۰ |
| ۸. | د هرات د جامو ګنډلو مرکزونه | ۱۹۱ |
| ۹. | د ګیلاسونو راز | ۲۳۲ |
| ۱۰. | بد رنګه طاووس | ۲۷۱ |
| ۱۱. | د عبدالله کیسه | ۳۱۲ |
| ۱۲. | له طالبانو سره مخامخ کېدل | ۳۵۲ |
| ۱۳. | له جنرال حمیدګل سره لیدنه | ۳۶۵ |
| ۱۴. | له کابل څخه یو لیك | ۳۸۳ |
| ۱۵. | اخذلیکونه | ۴۲۷ |

# د ژباړن سريزه

درنو لوستونکيو !

((د د افغانستان يادښتونه )) په نامه د نړۍ د مشهورې او غوغا جوړوونکې خبريالۍ د دغه اثر په نړيواله سطحه ډېر زيات هرکلي شوی دی، خو دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی زما د ارادې نه بلکې مجبوريت حاصل دی چې نژدې يو کال يې ستومانه کړی يم.

ما د مرحوم نسيم حجازي څو پنډ پنډ تاريخي ناولونه وژباړل خو د دغه اثر په پرتله ډېر لږ پرې ستومانه شوی يم.

نژدې يو کال پخوا مې د جنګ ورځپاڼې د يکشنبې ورځې په اونيزه مجله کې د کرستينا ليمب په قلم ( د افغانستان يادښتونه ) تر سر ليك لاندې مضمون تر سترګو شو، لوستو يې خوند راکړ، د کرستينا د جنجال پاروونکي طبعيت له مخې وپوهېدم چې د سهار لوستونکيو ته به په زړه پورې وي، فکر مې کاوه چې په دوو دريو مجلو کې به محدود وي، د خپلو نورو ژباړو تر څنګ مې قلم پرې را واخيست، چې خبره له درې څلورو اونيو واوښته غوښتل مې ترې تېر شم، خو نيمګړی پرېښودل يې ورو ورو راته ګران او ناشوني شول، اونۍ پر اونۍ اوښتې تر دې چې بالاخره دغه يادښتونه په ۳۳ برخو کې د جنګ ورځپاڼې د يکشنبې په اونيزه مجله کې بشپړ شول، ماد همدغه برخو د تنظيم او

کتابي چاپ اراده درلوده چې د تېرې جنوري په میاشت کې مې له یوه دوست سره پخپله کتاب ولید چې ومې کوت مازغه مې ورته وخوټېدل.

زما زیار چې ۳۳ اونۍ یې ستومانه کړی وم ډېر نیمګړی ؤ، په کتاب کې څو بابونه داسې وو چې مانه وو ژباړلي، پر دې سر بېره څو بابونه نور نیمګړي وو چې باید بشپړ شوي وای، بالاخره مې په نه زړه بیا ځان دې شاقې تیار کړ چې دا دي اوس تر ممکن حده یو بشپړ اثر ستاسو مخې ته ږدم، البته په ځینو برخو کې د بې اهمیته بحثونو لنډیز کافي بلل شوی دی.

دغه اثر د کرستینا لیمب یادښتونه دي چې نوموړې کندهار، هرات، جلال آباد او کابل ته د خپلو سفرونولیدلي اورېدلي او خاطرې، پکې را ټول کړي دي، د دغې مشهورې انګرېزۍ ژورنالیستې د دغه اثر په لوستو ماته د اردو ادب د تاریخي داستانونو د ستر لیکوال (الیاس سیتاپوري) دغه خبره ډېره سترګو سترګو ته کېږي چې انسان د پېړیو په اوږدو کې همغه انسان دی، او هر انسان لومړی انسان دی بیا پاچا، ملك، وزیر او یا کوم عادي سړی وي، چې د مینې، کرکې، رخې، کسات او ...... احساسات لري.

ماته د کریستینا لیمب په دې اثر کې د لیکوالې څو څېرې تر سترګو کېږي، کله یوه بشر دوسته لیکواله شي چې د طالبانو له ظلم نه را تښتېدلیو بې وسه کډوالو ته اوږه او غوږ اخلي، کله یوه غرضي او د کوم مرموز هدف خاونده شي چې پخپله پرې اعتراف هم کوي چې طالبانو څوك ځورولي دي دایې را غبرولو ته ور رسېدلې ده، یا دا چې افغانان پر پښتنو او غیر پښتنو وېشي ! او دا بیا د پښتنو د ظلم او ستم پر خلاف د غیر پښتنو په لوري ولاړه وي ...........!

کله کله صفا انګرېزه شي چې د افغان اولس په تېره د پښتنو په سپکه او بده پسې یې متې را بډ وهلې او د خپلو اسلاقو خبرې د سند او دلیل په حیث پرې راوړي چې:

پر مار اعتماد وکړه پر بد لمنې ښځې نه، خو پر بد لمنې ښځه باور وکړه پر افغان نه ((اډیار کپلنګ)) ..............

د افغانستان د پخوانیو شاهانو د تاریخ پېښې یې هم زیاتره له هغو کتابونو را اخیستې چې یا افغانستان ته د جاسوسی په ماموریت راغلي وو او یا له هغو پوځونو سره چې په کابل کې یې شاشجاع پر تخت کېنولی و، دلته دا برالا یوه داسې انګرېزه ښکاري چې د لته بند او میوند خرپونو یې پر زړه داغونه ایښي دي او غواړي دغه داغونه پرې مینځي.

پردې سر بیره د ((د افغانستان یادښتونه)) په دغه اثر کې طالب د جهالت، وحشت او بې رحمی د سمبول په حیث معرفي شوی دی، که څه هم زه پردې خبره باور نه لرم چې زیاتره ماته خوړلي یا پړه یاران پرې له ملامتی نه ځان ساتې او استدلال پرې کوي چې (تاریخ به قضاوت کوي)، ځکه چې د تاریخ قضاوت زیاتره ډېر مسخره او روند وي او د هر وخت قضاوت یې بېل وي.

زه په زغرده د طالب جامد سیاست غندم چې هم یې اسلام بدنام کړ او هم یې افغان اولس په لویو غمیزو واړاوه.

پردې د تاریخ قضاوت ته اړتیا نشته، ځکه چې که خبره د هغه قضاوت شي بیا به یا ملا داد الله اتل راوزي او یا به د (B52) تر سیوري لاندې یاران پکې اتلان وي او د کرستینا لیمب یادښتونه به هم د تاریخي اسنادو په حیث یو لوی اعتبار لري.

په هر صورت د طالبانوله علم، تکنالوژۍ او کتاب سره دښمني داسې واقعیتونه دي چې افغانانو د سر پر سترګو لیدلي دي، د دوی «خون روا او رنګ ناخن نارواً» دریغ هم ډېرو افغانانو ته د فهم وړ نه و، خو په دې اثر کې د هغوی په اړه ډېرې داسې خبرې شته چې د مبالغې مرچ او مالګه ډېر پرې دوړېدلي دي، مثلاً د مزار له نیولو وروسته د هغه ولایت د نوي والي ملا منان نیازي دا فتوی چې ( هزاره ګان مسلمانان نه دي! ) همدغسې لیکوالې ډېر ځایه طالبان په پښتنو تعبیر کړي دي.

خو پر دې سر بیره په دې اثر کې ډېرې نوېې او ناویلې خبرې شته چې یو خاص ارزښت لري، کرستینا لیمب د خپل چاپېریال او ټولنې په ژبه غږېدلې ده او د کلتورو د توپیر پروا نه لري، په زغرده دود کا او هغه کوکاکولا یادونه کوي چې ( شراب پکې ګډ شوي دي) په مجموع کې د افغان اولس پر خلاف د هغو توطیو یادونه کوي چې پردې پکې بوخت دي. خو پردې برسیره ډېر ځله د ژباړې پر وخت زه پرې پښیمانه شوی هم یم. په دې اړه نور قضاوت پخپله درنو لوستونکیو ته پرېږدم، راځم د ژباړې په باب ځینو ټکیو ته.

لومړی دا چې متاسفانه ځینې نومونه داسې دي چې نه مې یې له چا نه سمه بڼه پیدا کړای شوه او نه مې پرې زړه اوبه څښلې لکه د ( موټر سایکل سواره ملایان ) تر سر لیك لاندې ( رت ملا ) دغسې تیر وتنې په اردو متن کې ډېرې وې چې ځینې مې یې اصلاح کړې لکه خواجه غلتان ولي چې خواجه غطا راغلی، یا عایشه دراني ښوونځی چې په اردو متن کې ( هشایي دراني ) راغلی دی.

یا فاطمه مري، چې غالباً ماري ده، همدغسې اردو ژبې لیکوالان د میرویس پر ځای واعظ لیکي په داسې حال کې چې دا دواړه بیل نومونه دي او په افغانانو کې دواړه شته، په پای کې د دغه ستومانوونکي اثر په کمپوز، تصحیح او اوډون کې درانه ورور علي جان سلطاني راسره ستوماني ګاللې چې ډېره مننه ترې کوم.

پردې سربېره زما ګران ورور محمد الله کمال او ګران بچی محمد هارون جان د دې اثر په تصحیح او ترتیب کې شپې را سره روڼې کړې له ستر پروردګار څخه یې استعدادونه غوړېدلي غواړم،

نور دا تاسو او دا د کریستینا لیمب ( د د افغانستان یادښتونه).

په درنښت

محمد زبیر شفیقي

د ۱۸۸۳ لمریز کال د ورې ۲ مه

سردار احمد جان کالوني کراچۍ کور

## د پیل خبرې

دا د ۱۹۸۷ کال دنوامبر دیوه سهارخبره ده، په برمنگهم کې هغه مهال توند باران اوریده اوآسمان په تورو وریځو کې پټ و. زما داوسیدوپه کوټه کې پرغوربدلی غالي په زرینو کرښو لیکل شوي بلن لیك پروت و، دادپاکستان دپخواني صدراعظمې بې نظیر بوټو دواده بلن کارت و .یوه داسې بلنه چې ماقبو له کړه نودپاکستان اومنځني آسیا ټولې دروازې مې پرمخ پرانیستل شوې.

زه به تل دبې نظیر بوټو احسانمنه وم چې ماته یې بلنه راکړه اودیوې نوې اوحیرانوونکې نړۍ دلیدو زمینه یې راته برابره کړه.

په هر صورت دلته پریوه حقیقت باید اعتراف وکړم. اودا ضروري بولم، په افغانستان کې چې له ماسره کوم نیك چلند وشو اوافغان مجاهدینو چې په څومره ښه نیت او خلاص زړه په سفر کې زما ملگرتیا وکړه او یوې انگریزې نجلۍ ته یې دننه دسفراجازه ورکړه، پردې له اعتراف پرته دغه کتاب نشواى بشپړیداى.

دافغانستان په څیر زما د کیسې هم نه کوم پیل شته اونه پاى. په پښتنو کې له پخوا راسې یو متل دی چې د دې کایناتو د جوړولو نه وروسته چې له الله تعالي سره ډیر کمرونه او ډبرې هسې پاتې شول، نو افغانستان یې ترې جوړکړ. دې سیمې ته یې څه وخت دانوم کیښود

او ولي ، په دي اړه د مورخينو ترمنځ اختلاف دی. که زه غواړم دافغانستان په اړه خپله کيسه پيل کړم نوبايد ماضي ته ولاړه شم اوتيرېادونه راوسپړم. کله چې دځواني په موسم کې اويوويشت کلنه وم له پوهنتون څخه دفلسفي په څانگه کې نوي فارغه شوي وم. د انگلستان په اطرافي سيمو کې مې و زگار وخت تيراوه. يوه ورځ مې ځان دپيښور په څير سرحدي سيمه کې وموند، دروډ کپلنگ په اشعارو کې ډوبه اوددېزلو لړي رانه ختي ، دلته په يوه غورازه ويگن کې راغلي وم.

په لاسوکې مې يو دروند دجامويکس نيولي و چې په وړوکي يي ښه په زحمت وم ماپه خپل اندخپل دغه بکس له هر هغه شي څخه ډک کړي و چې دجگړي ديوه ژورنالست لپاره يي اړتيا وه ، دڅه ځنډ لپاره مى‌سترگي پټي کړي اوپه تصورکې گورم چې په کوم ځاي کې بکس په لاس کې ولاړه يم، دگردونو اودوړو شاته لمر دلويدو په حال کې دي.

په دي پردي اونابلده.چاپيريال کې دريکشاگانو په گڼه گوڼه کې يوه انگريزه نجلۍ په يوه بي باوره حالت کې ده اوهغه ريکشا گان گوري چې تير اوېږ کيږي اود ايف ۱۶ جنگي بمبارد الوتکو رنگه انځورونه پري کښل شويدي، شاوخواته د فقيرانو اوسوالگرو هم گڼه گوڼه ده چې دچايولاس غوځ شويدي اودچا ښيا پښه نشته، په هغوي کې ځيني داسې سوالگر هم و، چې مخونه يي جذام خوړلي وو، دچا لويي پگړۍ اود اوږو خولې پرسر چې مخې ته يې مختلف دپلورلو شيان ايښي وي.

په دوي کې دزياترو په غاړو کې توېك داسې ځړيدلي وي لکه

دلندن خلك چې چترۍ ورسره ګرځوي.

په تنګواوپخوانيو کوڅو کې چې دوارو لوريو ته يې دلرګيو دوه پوړه پخواني کورونه وو تيره شوم اوبيا مې يو ريکشا ته لاس ورکړ اوهوټل ته ورسيدم ،داسې ،هوټل ته چې هلته دوسلو اوټوپك سوداګرځي راځي.

ماته يې هلته يو داسې اطاق راکړ چې کړکۍ اودروازې يې پردې نه درلودې،زه پريستره ايښې يوه تکيه ورپريوتم اوتر لږ ځنډه مې دمه جوړه کړه شمال لويديځ لوري ته تر تور اسمان لاندې دلوړو اودنګو غرونو يوه لړۍ وه چې دهغو شاته افغانستان پروت دي.

هغه افغانستان چې روسي پوځونو نيولي دي يو وخت دغه ځاي زما په خيال کې له انګلستان څخه په زرګونه ميله لري و. اوس زه يوازي څلويښت ميله ترې لري وم.

که دځمکي په کره کې داسې کوم ځاي وي چې برخليك يې جغرافيې اوموقعيت ليکلې دي نوهغه افغانستان دي چې هلته هيڅ ځواك هم که روس دي اوکه انګريز ددغه خاورې پر مستعمره کولو ونه توانيد.

افغانستان ديوې داسې تاريخي لارې حيثت لرې چې منځنی، ختيځ منځنې آسيا، دهند نيمه وچه اولرې ختيځ سره نښلوي ،ځکه خودغه ساحه تل دجګړو ميدان او دلويو ځواکونو هديره پاتي شويده.افغانان دمارکوپولو، چنګيزخان، لوي سکندر، ګوډتيموراوپرهغوي برسيره دمغلو،سکانو اوايراني فاتحانو اواميرانو داسې يادونه کوي لکه چې همدا اوس اوس تير شوي وي، له ميلاد څخه په څلورمه پيړۍ کې سکندر له ديرش زره پوځ اوپيلانوسره له

دې سیمې نه په دري کالو کې تیر شو. دنولسمې پیړۍ په جریان کې دافغانستان وچې اوپراخې دښتي او غرونو دهغه لویې لویې لپاره ستیج تیارکړ چې دتزاري روسیې اوبرتانوي امپراتورۍ ترمنځ په سیمه کې دخپلې برترۍ پرسر دجګړې دپیل ټکې شو.

د پیښور ښار یو وخت دافغانستان برخه وه. دافغان واکمن دژمي پلازمینه همدغه ښارو.

دپیښور دښار په هوټل کې شپه دهغو دوو کلونو پیلامه شوه چې په هغوکې هرڅه په بل لوري واوښتل .چې تراوسه پورې یې ډیر قدر اوعزت و.

ارخښتونه بدل شول. په مختلفو بڼو دجامویدلولو اوله افغان مجاهدینو سره دخیبرنه تیریدلو سره ما احساس کړه چې داهغه زړور اومیړني خلك دي چې ډیر دهیراني احساس لري ،پردي سربیره مې دغه خلك ولیدل چې دوي یوبل ته لاس ورکول اوګلان به یې تولول.

په دوی کې زیاتره داسې وو چې وړوکې هنداره به یې په لاس کې وه او په ساعتونو به دخپلې پزې دننه ویښتانو په غوڅولو بوخت وو.

کله کله دوي له ډیرې مبالغې څخه کار اخیست او دیوې روسي هلیکوپترې دراغورځولو پرځاي به یې داوو دراغورځولو ادعا کوله بیا هم دوی دشاعرانه روح اومزاج خاوندان دي لکه ایوبې چې دافغانستان په لویدیځ کې داسماعیل خان ملګري و روسي خوله پرسر دغه چاغ اوپنډ سرې بهچې کوټې ته راغي چوپتیا به خپره شوه

هغه ماته دخداي پاماني په وخت کې دفارسي ژبې یو شعر لیکلی راکړچې مفهوم یې داسې و:

"که ته ماپه زرو کلونو کې یوځل هم یادنکړې زه به دي هر ساعت زرخله یادوم"

دروسي پوځونو پرخلاف دجګړې په وخت کې سره له دې چې په کنډو کې په ناست وو دشپې په تیارو کې به موسرې دمرمیو رڼاګانې لیدلي او توغندي اوګولۍ به موټر سرتیریدي دانارو له تروشو دانوسره به موسبا ناري و ،ددې ټولو خطرناکو تجربو سره سره زه ډېره خوښه اوتازه وم زه ،دعمر په داسې پړاو کې وم چې په سړي کې غیر معمولي اعتماد راپیدا کیږي چې تل داګونګوسي درته کوي چې:

دنړۍ هیڅ شی ماته زیان نشي رسولی.

له دې سره یو دمینې راښکون و . داسې به یې باوري کولم چې زه ددې خلکو سره یم چې دیوه ستر ارمان لپاره قرباني ورکوي ، ځکه چې په انګلستان کې زما وړوکتوب په سري ایالت کې دلندن په جنوب کې تیر شویدي، هلته دداسې بې قانونی په باب څوك خوب هم نه ویني اودبغاوت په باب څوك تصور نشي کولي تردی چې هلته خلك دکنسرت او یا تیاتر دلیدلو نه وروسته دوروستي ریل له تلونه خلك اندیښمنی وي چې کورته به څنګه ځان رسوي؟

بیا هم افغانستان زما لپاره غیر معمولي ارځښت درلود، د داسې خلکو په منځ کې ژوند تیرول چې له دوي سره دهر څه له لاسه ورکولو وروسته هیڅ هم پاتي نه وي ، دایوه داسې ځمکه وه چې خلك یې هوا بویوې درته وایي چې پاس په لوړو غرونو کې سپین اوبې داغه دواوروګلان غوړیږي اوهلته یو دواوروېږ هم قدم وهي! هغه خلك چې یوه ښکلي ګل ته یو ساعت پرلپسې کتل ورته دوخت ضایع کولو په مانا نه دي.

دداسي ځمکي کيسه ده چې هلته دکتابونو پرځاي مشران دعلم اصلي سرچينه بولي، هلته چې دکورني اوقبيلې مانا دخلکو له مجموعې څخه ډير ه لوړه وي.

کله چې زه له افغانستان څخه بيرته خپل هيواد ته راستنه شوم نودلندن کوڅي اوسرکونه دخلکو په ګڼه ګوڼه اومنډو رامنډو ډك وو، ددوی څيرې له حرص اوتمي څخه ځليدې هغه شيبه افغانستان ديوه ازغي په څير زمازړه ته راچوخ شو، لکه زما چې له دې وطن سره ريښتينې مينه پيدا شوي وي دشمالي لندن دشپې په يوه ميلمستيا کې چې کله خلك په ډيرو سرسري اوعادي خبرو اترو بوخت وو ماغوښتل ديوه داسې هيواد په باب خبري ورته وکړم چې دهري کورني يو غړی يې يا وژل شوی و اويا يې يوه پښه اويالاس الوتي و ،هلته هر ماشوم يو څوك په وژل کيدو ليدلي وو.

هلته چې ماته يوه ماشوم دخپل ارمان په باب وويل چې غواړم په يوه رنګين اوښکلي توپ لوبې وکړم.

خوچي مادافغانستان په باب خبري پيل کړي نواحساس مي کړه چې دخلکو په ستر ګو کې يوډول ځلاراغله لکه ما چې دداسې فلم کيسه ورته کوله چې له ماپرته چا نه و ليدلی.

په تيرو څوکلونو کې مادجنوبي امريکا څخه تر شمالي امريکا پورې اودجنوبي افريقا څخه داروپا تر جنوب پورې دګرځيدو راګرځيدو فرصت په لاس راووړ. چې زه دنويو کيسو اودوستانو اوسيمو سره آشنا شوم.

بيا هم افغانستان دنيمګړی ميني په څير زما په زړه کې پاتې شو، ماته له افغانستان څخه بلني هم راتلي.ا ودخپلو دوستانو

پیغامونه پرلپسي رارسیدل.

خوماته داځومره دخجالت خبره وه چې هیڅکله مي هغو ته ځواب ورنکړ.

هوربښتیا کله کله به چې ما تېز اسماني رنګ ولید نوناڅاپی به دمزارشریف دآبي ګنبزو جومات ستر ګو ته را ته ودرید. اوچي کله به مي داعلي انګورو دخوړلو موقع وموند ه نوپه خیالونو کې به کندهار ته ولاړم. چې هلته به دخايې خلکو دا دویاړ دعوه وه چې د دوي دانګورو په څیر خواږه اوخوندور به په نړي کې ونه مومي کله کله به دصنوبر دلرګي خوشبويي دهرات په کوڅو کې ګاډي راپه یاد کړي ، زه دافریقا تر لري لري سیمو پورې هم تللي یم دزمبیا په شمالي برخه کې دځلیدونکیو ستورو لاندي پرته وم چې ناڅاپه کلونه کلونه مخکي دسپین غره هغي شپي رایادي شوي چې دآسمانونو ویرې هلته دټولوخلکو شونډي ورګنډلي وي اوپه دي چوپه چوپتیا کې یوازې دیوه افغان قوماندان غږ آزانګې کولې چې ویل یې چې د آسمان له هرستوري سره یو افغان شهید آرام اوچوپ ویده دی.

په پاکستان کې دهر سیاسي بدلون اویا پوځي کودتا نه وروسته زه هلته تللي یم، هلته چې دافغانستان دمهاجرینو لپاره په جوړوشو یو کمپونوکي دهیواد څلورمه برخه خلك میشت وو چې هرځل تر پخوا په پراخه سیمه کې خپریدل ، ما هلته لومړي ځل د یوه نوي ګروپ نوم واورید چې په عامه اصطلاح یې "طالبان" بلل ،چې مشری یې دیوه له اسرارو ډك یو سترګي سړي په لاس کې وه، زما افغاني دوستان هم هلته اوسیدل اوهلته دژوند نه بلکي دوخت په تیرولو مصروف وو. احساساتي اوبا عزمه ځوانان په داسې عمر خوړلیو اوچاغو بنیادمانو

بدل شوي وو چې خېتې يې راوتلې وې.
اوسترګې يې پرسترګو لګولې وې د روسي پوځونو له وتلو وروسته لويديځ له دوی نه مخ اړولی و.
دهغوی ټولو په زړونو کې له پاکستان سره کرکه مخ پرزياتېدو وه چې دوي هلته په اوسېدو مجبور شوي وو اودخپلو ټولو اندېښنو او مصيبتونو پړه يې پرپاکستان ورغورځو له.يو ه پخواني دوست حامد ګيلاني په خوښۍ راته وويل چې په اسلام آباد کې يو نوي ايټالوي رستوران پرايستل شوي دي اوماته يې هلته د ډوډۍ بلنه راکړه.
کله چې په اسلام آباد کې هغه رستوران ته ورسيدم نو په ميز مې يو سرپرانستی کوکاکولا ايښی و حامد ګيلاني راته وويل:
دغه خاص کوکاکولا وڅښه اوپخواني يادونه دي را وسپړه. ما هغه کوکاکولا اوچت کړ سمدستي وپوهيدم چې حامد په هغې کې سره واين ګډ کړي دي دحامد دعينکو له هندارونه مادهغه اوښکي وليدلې چې له سترګو يې رابهيدلي هغه خپل کوک په لاس کې اوچت کړ ويې ويل:
"ته مې چې وليدي داسې راته ښکاري چې زړه مې صاف شو ، ستايو ميړه دی.زوي دې دی دنده لرې اوکور هم لري ، زه سلام درته کوم. زه داسې يوځوك يم چې ټوله ځواني اوژوند مې ديوه داسې ځاي لپاره وقف کړه چې اوس يې هيڅ وجود نشته.
د ۲۰۰۱ م دسپتمبر له ۱۱ مې سره هرڅه بدل شول، په نيويارك کې سوداګرې نړيوال مرکز اوپه واشنګټن کې پنتاګون تر داسې تر هه ګري يرغل لاندې راغلل چې دنړۍ په تاريخ کې يې تراوسه پورې ساري نه و، له شنه اوصاف آسمان څخه داسې عذاب رانازل شو

چې دسترګو په رپ کې یې هرڅه پرېل مخ واړول زما خپل دوه کلن زوی په غېږ کې و اوپه تلویزیون مې دانندارې لیدلې، سیاسي اودیپلوماتیکو پنډ تانو ددې پېښې په اړه خپل تحلیلونه وړاندې کول ،اونړیوالو ته یې ددې بدمرغو پېښو عوامل اومسئوولین ورپه ګوته کول. دالوتکو تښتوونکو په باب ددوی ټولو اذهان دمنځنې ختیځ لوري ته تلل ،داشتباهي کسانو په لست کې تر هر چا مخکې دعراقي اولس مشر صدام حسین نوم اخیستل کېدو، خوېو بل نوم هم و ،سعودي نژاده ترهه ګر اسامه بن لادن چې پرامریکا یې دترهه ګري برغلونو ګواښ کړي و اویوازې څو اونۍ مخکې یې ویلي وو چې پرامریکا به داسې یرغل وشي چې نړۍ به یې تصور هم نشي کولی.زه دتلویزیون پردې ته ځیروم چې ناڅاپه یې دافغانستان نقشه وښودله داسې راته ښکاره شوه لکه کومه بده ارواح چې دقبر پرسرتیره شوې وي ،څومره چې دتلویزیون پرپرده ددغه هېرشوي هېواد نقشه ښودل کېدله چې دایران، منځنۍ آسیا اوپاکستان ترمنځ پروت دی مابې اختیاره دخپل غاړې دطلا یې زنځیر په هغه لاګټ لاس واهه چې پرسپینو زرو "الله اکبر" دافغانستان په بڼه کېښل شوي و ،داتحفه ماته ډیر کلونه پخوا دوړو کې ډېرې اوځلیدونکیو سترګو خاوند قوماندان عبدالحق راکړې وه.مابه له هغه سره تل ګلابي ډوله آیس کریم خوړل . افغانستان چې ماوروستي ځل لیدلي و له هغونه ۱۳ کاله تیرشوي وو په دې موده کې دکابل زیاتره برخه په کورنۍ جګړه کې په کنډوالو بدله شوې وه په زرګونوخلک تر اوسه پورې هلته وژل شوي دي.

خلک په عامه ګڼه ګوڼه کې په دار ځړول کیږي دتلویزیون سیټ

ACKU

دټانکونو تر چینونو لاندي ماتیږي اوپرسندرو اوساز سرود باندي بشپړ بندیز لګیدلی دي ، په داسې حال کې چې له تیرو څو کالو راسې هلته یوځاځکی باران نه دي شوي ، مافکر کاوه چې بیا به کله هغه دآبي ګنبذو ښکلي جومات بیا ووینم. چې په مزارشریف کې مي لیدلي و چې سپیني کوترې پکي الوتې آیازه به دهرات د ۱۲۰ ورځنیو تودو بادونو پر اوږو بیا سپره راشم چې هلته دصنوبر دونو خوشبویي احساس کړم؟

آیا بیا به دکندهار دخوندورو انګورو مزه وڅکم ؟ آیا په رښتیا ماغوښتل چې په غرونو او ګړنګونو کې را ایسار نه بخښل کیدونکي وطن ته ولاړه شم چې دوژنو او لوټمار په سبب په خپلو وینو سوردي؟ یاهغه ځمکه غوارم بیا ووینم چې له همغه مهاله مي په ارواکي ژوندی ده.

چې کله زه ډیره وړوکي وم اوله هیڅ شي مي ویره نه درلوده له همغه راسې کله چې ه خپلو خیالونو سره یوازې شم تل داسې چورتونه وهم اوله ځانه دغسي پوښتني کوم.

که کوم وخت مادخپلو پوښتنو ځواب ولید داسې نشي چې زما ټول یادونه چې زمادژوندشتمني اوزیرمه ده رانه ولاړنشي؟ ددې پوښتني ځواب یوازې هماغه کسان ورکولي شي چې خوبونه ویني اوپردي حقیقت هم پوهیږي چې کله خوبونه تیت اوړنګ شي څومره دغم اوخپګان وړوي!!

# د طالبانو له خوا ربړول

د انسانانو شر د دوی له مرګه وروسته هم ژوندی پاتې کېږي، خو نېکي يې له هډوکو سره خښېږي
شکسپير ( ژولسزار)

قومانده ورکونکي افسر هدايات ورکول او د هغه تر لاس لاندې کسان ټول غوږ غوږ وو ، هغه په رسا غږ ورته ويل:

تاسو بايد د ډيرې بې رحمی اوسخت زړي څخه کار واخلی تردی چې خلك مووويني له ويري په لړزه شي. وژل او ورانول خوهرڅوك کولي شي. دخلکو وړې ترې ساتل هم څه خبره نه ده، زه غواړم چې ستا سو ډله دظلم اوشکنجو داسې نمونه لاړې پيدا کړي چې په کار ولويې دتورنوداسي کرېږي پورته شي چې کار غان دخپلو ځالو په پريښودلو مجبور کړي ،که تصادفي له هغوئ نه ګوم يوژوندې پاتې شي نوتر عمره پورې آرام خوب ونکړاي شي.

زه په ويره اولړزه کې ډوبه وم اوداټولي خبري مي اوريدلي دا داکتوبر لومړي شپې ورځې وي او موږ ټول په کوټتي کې دميوو په يوه بڼ کې ديوه لوی ميز په شاوخوا کې ناست وو، شپه ورو ورو راخپريده اوپه هوا کې يخني مخ پرزياتيدو زموږ شاوخوا ته دمېو دميوي په زړه پورې وږم فضا معطره کړي وه ،شاوخوا باغونو ته په ورغليو لښتيو کې داوبو مترنم آوازپر غوږونو ډير ښه لګيده دمبز تر شا زما ترڅنګ دحامد کرزي خوان وراره جميل کرزي ناست،و.

له خانه سره یي دري داسې کسان راوستي وو چې غوښتل یي له ماسره خبرې وکړي دهغو دري وارو اړیکي له طالبانو سره وې خوزما ټول پام په هغو درې وارو کې یوه ځوان ته وراوښتي و.

دهغه نوم ملا خلیل احمد حسني و ،هغه دوړوکي قدخاوندنري ډنګر سړي و چې زما په اند هغه ددې ډیر هیله من و چې خلك یی ستاینه وکړي دهغه پرسر یوه کندهارۍ خولۍ وه دځیرې ټولیزاغیزیي داسې و لکه هغه ته چې ډیرې شکنجې اوعذابونه ورکړای شوي وي ، هغه دطالبانو دپټوپولیسو له شبکي څخه و اودتیرو دری کلونو راسي دخپل افسر امرته غاړه ایښودل دده په ذمه واریو کې شامل وو، پاس یادشوي هدایات اصلاً دملا خلیل احمد حسني لپاره وو . هغه دیرش کلن ځلمي و چې واده یي کړي و او یوه لوریي درلوده . هغه لیسه لوستی وه او له طالبانو سره دیوځاي کیدو نه مخکي یي دمحاسب په حیث دنده درلوده دنورو طالبانو په څیرهغه هم په پاکستان کې زده کړې کړې وې ځکه چې هلته دافغان مهاجر په توګه اوسیدلی و دهغه دوه مشران ورونه د ګلبدین حکمتیار سره په ملګرتیا کې دروسانو په مقابل کې په جګړه کې شهیدان شوي وو.

هوکې همغه ګلبدین حکمتیار چې په اوومشرانو کې ترټولو زیات بنسټپال ګڼل کیږي دملاحسني کورنی ترډیره حده شتمنه وه چې په کندهار کې یې ښه ډیره ځمکه اوځوکورونه درلودل.

دجګړي له پاي ته رسیدو وروسته ددوی کورنې کندهارته بیرته راغله . خودی په پیښور پوهنتون کې دلوړو زده کړو لپاره پاتې شو هغه خپل خان دملاحسنی په نامه راوپیژاند خوبیا یي پرشونډو یوه پیکه موسکا راغله اویه وضاحت یي وویل : له طالبانو سره دیوځای

کیدو له امله مې له نامه سره "ملا" زیات شویدي پردي هیڅکله هم داسې ګومان ونه کړي چې زه کوم مذهبي اویا دیني عالم یم خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ ویې ویل:

دنورو ډیرو خلکو په څیرزه هم له طالبانو سره په خوښه اورضانه یم یوځاي شوي بلکي د ۱۹۹۸ م په پیل کې زه په کویټه کې په یوه کمپنۍ کې دمحاسب په توګه په کار بوخت وم چې دوچې میوي " بادام اوپسته" کاروبار یې کاوه . همدلته ماته خبر راغي چې زما بابا چې ۸۵ کلن و په کندهار کې طالبانو نیولي دي اوډیر یې وهلي اوځورولي دی تردی چې ددې وهلو اوځورنه یې دمرګ امکان هم شته.

په یوه شرط دهغه دپریښودلو امکان و چې دده پرځاي ددوي دکورني یو نارینه هغوی ته ورحواله کړای شي ځکه خو پچه زما په نامه وختله او دغسي دهغه دژوند دژغورلو په خاطر زه مجبور شوم چې کندهار ته ولاړ شم اودهغوي ملګر تیا وکړم.

په دې دوران کې دخلیل احمد دکورني ډیر نور کسان هم له طالبانو سره یو ځاي شوي وو چې په هغوي کې ځینو ته دا ګوانښ شوي وچي که له طالبانو سره ملګرتیا ونکړي نو ځمکه به تري واخلي. ځینو کسانو طالبانو ته دمیاشتي شل ډالره رشوت ورکاوه او پرهغوی له ورګډیدو څخه یې ځانونه ساتل ، شل ډالره په دي هیواد کې ډیري پیسي بلل کیدي.

ځکه چې هلته دکلني تنخواه منځني اندازه تردوه سوه ډالرو هم کمه ده طالبانو دځینو کسانو څخه ددوي سره د ملګرتیا په بدل کې پرپیسو برسیره دوه سیټه ډاټسن موټر هم غوښتل چې ددوي دخوښې موټر وو اود وسلو او نشه یي موادو دسوداګرو لخوا به دوي ته دغه

موټر دسوغات په توګه ورکول کیدل ،ددې په بدل کې یې هغوي ته دافیمو په کرنه اوبیا یې بهر ته په کاروبار کې پشپړه آزادي ورکړې وه په هغه وخت کې افغانستان په نړۍ کې دافیمودحاصل تر ټولو لوي هیواد و، دروسي پوځونو دلس کلن تیري په وخت کې دافغانستان داوبو لګولو سیستم قصدي ویجاړ کړاي شوي و چې له هغو وروسته په ټول هیواد کې دتریاکو له کرلو پرته بله چاره نه وه ځکه خودافغانستان په جنوب لویدیځو سیمو کې دتریاکو تولید په لویه پیمانه پیل شو.

چې وروسته د دوه زرم کال په جولای کې طالبانو دکوکنارو کرنه غیر اسلامي وبلله اود افیمویه تولید اوکرنه بندیز ولګید پردي سربیره دافیمو کاروبار بنه په زور اوشور دوام درلود. اوپه افغانستان کې جوړ شوي هیروئین ټولي نړي ته په قاچاق وړل کیدل چې له همدي امله دې سیمې ته د" زرین هلال "نوم ورکړای شو.

دافغانستان په پټو پولیسوکي دخلیل له شاملیدو نه وروسته دده مسئولیت داو چې دشپې په کوڅو اوواټونو کې غله وڅاري ځکه خوپه پیل کې ده داسې ګڼله چې طالبان ګټوره اواغیزمنه فریضه سرته رسوي ځکه چې دده په قول دروسي پوځونو له وتلو وروسته وضعه ډیره عجیبه شوي وه په کندهارکې ځایي سردارانو اوجنګي قوماندانانو هرڅه پلورل اوخوړل یې ،چې په هغوکي د بریښنا او تلیفون مزي هم شامل وو ،هغوي به ځواني نجوني اوهلکان ورسره تښتول د خلکو لوټل او دلاري نیول یې ورځني معمول ګرځیدلي و. ددغسي وضعي له امله د طالبانو راتګ غنیمت ګڼل کیدو موږ ټولو دافکر کاوه چې طالبان نیك اوښه خلك دي چې په افغانستان کې به

دقانون واکمني راولي.

دطالبانو په اړه ماداسي خبري په وار وار اوريدلي دي ،که په يو ډول وګورونو هندوکش افغانستان په شمال اوجنوب دوو برخو ويشلي دي په شمال کې زياتره فارسي ويونکي اوترکي نژاده خلك اوسيږي خو په جنوب کې اکثريت پښتانه اوسي تاجکان اوهزاره ګان دافغانستان په غرنيو سيمو کې ژوند کوي، په ۱۹۹۴ م کال دطالبانو دراپورته کيدو نه پخوا ژبنيو اوقومي اختلافونو افغانستان په وړو وړو رياستونو ويشلي و، ځکه چې هلته دوسلو ذخيري پريمانه اوله هر چا سره وي دغه مقامي واکمن اوقومي قوماندانان په دي کې ډير مشهور وو چې د سترګو په رپ کې خپله وفاداري بدله کړي.

دلته د يوي خبري څرګندونه ضروري ده چې د ۱۹۸۰م لسيزه کې د امريکا اوشوروي اتحاد د پوځي مرستو په نتيجه کې افغانستان د وسلو له درکه دنړۍ تر ټولو مهم هيوادګرځيدلی و اودنړيوالو وسلو په اړه په ۱۹۹۱ کال کې چاپ شوي يوه کتاب کې د شمير نو اواعدادو له درکه افغانستان ته رسيدونکي وسله تر عراق څو ځله زياته وه، په هرصورت دطالبانو رامنځته کولو اود هغوي واك ته رسولو اسباب چې هرڅه وو په دي کې هيڅ شك نشته چې هغوی يي په داسې نيکواوشريفوخلکو تعبيرول چې په اساسي ډول په افغانستان کې دقانون دواکمني اودنظم اوامن دټينګولو لپاره راغلي دي چې دراتلونکي اقتدار اوواك دساتلو سره هيڅ مينه نه لري.....

په همدي ماښام دهوټل په باغ کې د ډوډي لپاره په غوړيدلي ميز زموږ ترمنځ له يوه اوبل سره خبري اترې کيدې ما مې دخپل ميړه تصوير هغوي ته وروښود چې توري سترګې اوزيتوني رنګ يي

دپرتګالي فاتحانو (مسلمانانو) ته ورته دي.

خليل احمدحسني چې تصوير وليد سمدستي يي وويل: داخو د افغانانو په څيردي.

دشنبه چاي دچاينکوله راتلو نه مخکې هوابنه سړه شوې وه او دهوټل بڼ ورو ورو له خلکو څخه تشيدو.

خوزما اوخليل ترمنځ لاناويلې خبرې ډيرې وې دپټو پوليسو له خدمت نه پرته هغه څومياشتې دملا عمر د ساتونکي په توګه هم کار کړي و ملاعمر دطالبانو روحاني رهبرګڼل کيده چې دغلجي قبيلې ديوې څانګې سره يي اړيکي وې.

خليل هم دهمدې قبيلې څخه و ځکه يې دملا عمر دساتونکي په توګه داعتماد وړ باله.

ملاخليل حسني توره لونګۍ پر سر کړه او د کندهار په کوڅو او واټو نو کې به يې ګزمې کولې. خو د ده په زړه کې يوې لويې انديښنې ځای نيولیو. چې دی يې آرام نه پرېښود تر دې چې د ده پر دې انديښنه د طالبانو مشران هم پوهيدل، په ۱۹۹۸ م کال د طالبانو مشرتابه نوي نوي فرمانونه پيل کړل، چې هر يو تر بل ډير انقلابي و دغسې د ملاحسني دنده هم بدليده د مجرمينو او تخريبکارو کسانو د څارنې او پلټنې پر ځاي يې ده ته دا دنده وسپارله چې داسې کسان وپيژني او جزا ورکړي چې په ويډيو فلمونه ګوري، سندرې اوري، يا قطعه بازي او سطرنج لوبه کوي. او يا مرغان ساتي په داسې حال کې چې د کوترو پالنه په کندهار کې له پخوا نه رواج ده، کوترې داسې روزي چې د نورو پاللي کوترې تېر باسي او ورسره رايې ولې په دې کې د هغو خلکو وهل او سزا ورکول هم شامل وو. چې ډيرې يې لنډې کړې

وې د چا به چې ډېره تريو موټي کمه وه هغه ته به د سنتو په ترك کولو سزا ورکول کېده ښځو ته سپين بوټونه يا داسې پايزار چې چغ چغ غږ کوي منعه شوي، له کوره د وتو بنديز خو پخوا پرې لګېدلی و، د کاغذ پران په الوزولو هم بنديز لګيدلی و.

د ولي جان د مارکيټ يو دوکان يې په دې ګناه وسوځاوه چې هلته له ماليزيا ياڅخه داسې صابون راوړل شوی و، او پلورل کيدو چې پر هغوي د لمبيدونکې ښځې تصوير انځور شوی و، په يوه بل دوکان کې د جامو مينځلو پوډر ايښی و، چې پر هغو د يوې کورنۍ ښځې او ماشومانو تصويرونه وو.

هغه هم وسوځول شول، پوليسو د خوراکي شيانو هغه پاکټونه هم ضبطول چې د انسان تصوير به پرې چاپ شوي و. د ملاحسني وينا وه چې: موږ عکاسخانې او د ويډيو دوکانونه هم وتړل هيڅا هم د سندرو کسټ نشوی پلورلی. يوازې د طالبانو د ترانو پلورلو ته اجازه وه چې د دوی تر ټولو غوره ترانه ويونکې سراجي نومي سړی و، چې رزمي ترانې بې ويلې او خلك يې جهاد ته هڅول.

د هغه يوه ترانه دا وه:.

دا د آزادۍ خاوره دا د جګو غرو وطن

دا د زمرو وطن دا د زمرو وطن

او.............

هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

طالبانو پر هر څه بنديزولګاوه يوازينۍ تفريح په عامه ګڼه ګوڼه کې د خلکو په دار ځړول وو، او يوازينی بې ضرره بوختيدنه ويده کيدل

PROPERTY OF ACKU 11634

وو، ما یو ځل له ملاعمر نه وپوښتل چې خلك د خپلې طبیعي د تفریح او ساعت تیرۍ لپاره څه وکړي؟

خواب یې راکړ چې په باغونو کې دې ګرځي، د ګلانو ننداره دې کوي، خو د وخت ستم ته ګوره چې د دوی د واکمنۍ له پیل سره پینځه کاله اوړده وچکالي راغله او هر څه مړاوي او وچ شول څکه خو ګلان هم پاتې نه شول.

ما ترې وپوښتل چې طالبانو د منعه شویو شیانو کوم لست جوړ کړی و، خلیل په ځواب کې وویل:

لست نه و ډیر شیان منعه وو. چین موږ پرې خبروو خونوی فرمانونه به را تلل او نوي شیان به منعه کیدل مثلاً خپله لونګۍ سیده ترئ او داسې نور باید چې له لږ ځنډه وروسته وویل: ما ته دې له یادښت کتابچې. څخه یوه پاڼه راکړه بیا یې له ما سره د خبرو په ترځ کې پر هغه پاڼه څه لیکل چې نوې خبره به ور په زړه شوه پکې زیاته به یې کړه ما بیا هغه پر چا وژباړله چې داسې وه:

۱- ټول خلك باید په جماعت لمونځونه ادا کړي.

۲- هیڅ ښځه له کوره یوازې نشي وتلی، له هغه سره یې باید نارینه محرم لکه پلار، ورور او میړه کوم یو وي.

۳- ښځې له نارینه دوکاندارانو څخه سودا نشي رانیولی.

۴- ښځې به خامخا چادري اغوندي.

۵- که د کومې ښځې پندۍ لوڅې وې په درو به وهل کیږي.

۶- ښځې به نه نارینه و، ته لاس ورکوي او نه به ورسره خبرې کوي.

۷- په عام محضرکې خندل منعه دي، د کومې نامحرمې ښځې غم باید وانه وریدل شي.

۸- ښځې ته د لوړو پوندو پایزار پښو کول یا داسې بوټونه چې چغ چغ او یا کړپ کړپ غږ کوي منعه دي، نامحرم سړی باید د ښځې د پایزارغږ وانه وري.

۹- د سینګار سامان استعمالول منعه دي، که کومې ښځې نوکان رنګ کړل نوکان یې باید وایستل شي.

۱۰ – ښځو ته په لوبو کې ګډون او کلبونو ته تلل منع دي.

۱۱- له کم رنګه نیلي او ژېړ وجامو پرته د جنسي میلان پیدا کوونکې رنګینې شوخې جامې اغوستل منعه دي.

۱۲- ځلیدونکې جامې باید د چادرې لاندې هم نه وي اغوستل شوي.

۱۳- ښځې به په عامه ګڼه ګوڼه اوسیندکې جامې نه مینځي.

۱۴- ښځې به د خپلو کورونو برنډو ته هم نه راوزي ، د هر کور هنداري باید رنګ شي چې له بهرنه کومه ښځه ښکاره نشي.

۱۵- موسیقي اوریدل سخت منعه دي.

۱۶- د تلویزیون اجازه نشته.

۱۷- قطعه بازي منعه دي.

۱۸- سطرنج لوبه منعه ده.

۱۹- کاغذ پران الوزول منع دي.

۲۰- د مرغانو پالنه منع دي، که چا داسې وکړل بندیان به شي او مرغان به یې ووژل شي.

۲۱: د ږيرې خرېيلو او يا لنډولو اجازه نشته د ږيرې شرعي اندازه يو موټی ده. له دې وره به ږيره ونه کڼل شي.

۲۲: ټول خلك دې اسلامي جامې اغوندي، خولی پرسر ول ضروري دي د جوړ شوي کميس اغوستلو اجازه نشته.

۲۳: د غير اسلامي کتابونو ساتونکي او يا ګرځوونکي ته به سزا ورکول کېږي.

۲۴: داسې کتابونه منعه دي، چې تصويرونه لري، داسې کتابونه به په کورو کې څوك نه ساتي.

۲۵: ټول خلك بايد اسلامي نومونه کېږدي.

۲۶: نامسلمان خلك دې په خپلو جامو يوه ژيړه پټه وګنډي چې وپيژندل شي.

۲۷: ټول لوبغاړي بايد خپلې پښې او متې پټې وساتي.

۲۸: هيڅ کوڅه او يا ځای به د ښځې په نامه نه نومول کيږي، که چيرته داسې نومونه وي هغه دې بدل کړای شي.

۲۹: ټول طالبان دې پګړی تړي.

۳۰: که کومه لوبه کيږي خلك به چك چك نه کوي، او نه به نارې وهي، يوازې الله اکبر به وايي:

خليل وويل چې په بنيادي ډول هر ډول خوښي غير قانوني وګرځول شوه، که به څوك د کومې خوښۍ په نمانځلو! ونيول شول نو په داسې لښتو به مو وهل چې په اوبو کې به ايښودل شوې وې ځکه چې هغه به د چاقو په څير په غوښه کې ننوتلې او کوټه به په وينو سره شوه، هډوکې به يې هم ځپل.

موږ د خوړولو ډیرې طریقې درلودې یوه یې له هغو نه دا وه چې سړی په مو سر په څیږې را ځړاوه او همغسې به مو ویده کاوه، ځینې به مو په ستنو کلك تړل، کله کله به چې د هغوي د ملا تیر مات شو نو ډوډۍ به مو لرې ورته کیښوده چې په سینه ورو ښوئیږي، دا به پخپله لوي عذاب و. بیا به مو دغه راپور خپل قوماندان ته ورکاوه، چې په عذاب ورکولو کې خپل کمال وروښیو، ما یو ځل د کندهار په یوه جیل کې د بندیانو وهل ولیدل، دومره یې ووهل چې دانه ښکاریده چې جامې یې درلودې که لغړ وو. چې بې سده به شول، موږ به یې پر ټپونو مالګه وموښله چې چیغې وکړي، او دغه چیغې په تر لرې ځایه اوریدل کیدې.

د طالبانو دې وحشت په خلکو کې داسې ویره خوره کړه چې داسې ښکاریدله چې ټول خلك یو د بل جاسوسي کوي. د ملا حسني د وینا سره سم چې ویل یې: موږ به چې د شپې په ګزمه راووتو نو ځایې خلك به راغلل او شیطاني به یې کوله چې څوك ویدیو ګوري، څوك سندرې اوري او اوس چیرته د قمار او یا فلم لیدو مجلس توددی.

ملا خلیل وروسته هرات ته واستول شو. هرات ښکلی ښار دی، چې ښځې یې په ودونو کې ډیره په زړه پورې، نڅا او اتڼ کوي، نجونې یې ښوونځیو ته تلې، چې طالبانو هرات ونیو د نجونو ښوونځي یې وتړل چې بیا یو سل او پنځوس ښځې راووتې او د هرات په ښار کې یې مظاهره وکړه. ملاعمر چې پرې خبر شو له غوسې تور شین شو، او ملاحسني یې هرات ته واستاوه او امر یې ورته وکړ، چې ټول احساسات یې پرې مړه کړه، ځکه چې یو هغوي فارسي ویله دوهم دا چې شیعه ګان دي، طالبان سني مسلمانان دي.

دوي چې ولاړل په شپې ګرځيدو يې بنديز ولګاوه او هراتيان يې ډير وځورول.

بله ډله چې ډېر د ځور او عذاب حقدار ګڼل کيدل هزاره ګان وو، چې د هيواد ۱۹ فيصده اوسيدونکي دي. "دغه شمير نې ټولې تقريبي دي او تر اوسه حقيقي شمير نه نه ده شوي"

هزاره ګان زياتره د هيواد په ښارو مرکزی برخو. کابل مزار شريف او هرات کې اوسيږي.

فارسي وايي او شيعه ګان دي. د دوی پلن مخونه او چيتې پزې دي آسيايي نسل دي، دوي د چنګيز خان او د مغولو د جګړه مار نسل څخه دي چې په ۱۲۲۱ – ۱۲۲۲ م پورې يې دغه سيمې تر پښو لاندې کړې. چنګيز خان د ښار آبادول نه خوښيدل او چې څومره يې توان و، ښارونه يې ويجاړ کړل ځکه چې د ده په خيال د ښارونو د جوړيدو په سبب دده په سوونو ورشوګانې له منځه تللې د بلخ، باميان هرات اوغزني ښارونه يې وران کړل. يوازې د باميان ځلی يې پريښود، ځکه چې پر هغو به وروختل او دښمن به يې تر ځاره.

په بلخ کې يې داسې عام قتل وکړ، چې يو سيلانی وايي چې له سپيو پرته هلته هيڅ هم ژوندی پاتې نه شول.

هزاره نسل داسې ګڼي چې دوي، ځوانان شي بايد د پښتنو واکمنو خدمت وکړی او هر ډول ظلم يې وزغمي.

په ۱۸۳۹ م کې د ستکاټلند يوه ځوان الکساندر يو کتاب (د بخارا سفر نامه) ليکلی چې ډير شهرت يې ګټلی دی، دی يې د دوست محمد دربار ته د يوه سوداګري پروګرام په پلاوي کې استولی و، خو اصل هدف دا وعو چې روسانو د جنوب تودو اوبو ته د رسيدو لپاره څه

پروګرامونه تر لاس لاندې نیولي دي، ځکه چې روسي واکمن له لوي پیتر څخه دغه خوبونه وینې.

په دې سفر نامه کې د هزاره خلکو په باب لیکي چې دا ډیر ځپل شوي خلك دي، په افغانستان کې میشتو نورو قومونو ډیر ځورولي دي له دوی څخه یوازې د لرګو ماتولو څارویو پالنه بار وړو، او نورو دې ته ورته کارونو کې کار اخلي چې بیا یې د غلامانو په څېر پلوري دغه خلك د رخت د تر لاسه کولو لپاره خپل اولادونه هم پلوري.

پر دوی بد وخت د انګریزانو تر سیوري لاندې .د عبدالرحمن خان واکمني وه چې د ۱۸۹۰ په لسیزه کې یې دې قوم په زرګونو تنه ووژل او په زرګونو نور یې د غلامانو په څیر کابل ته بوتلل چې کله تاجکان چې هغوی هم لړ کې واقتدار ته ورسیدل دوی هم هزاره ګان ونه ببښل. په ۱۹۹۳ کې د احمد شاه مسعود کسانو په کابل کې په هزاره میشتو سیمو کې نژدې تر زرو تنو پورې ووژل د ښځو، بوډاګانو او ماشومانو سرونه یې غوڅ کړل او په څاګانو کې یې وغورځول.

د هغوی لاسونه او پښې یې سپیانو ته واچول او پر ښځو یې په پراخه پیمانه جنسي تیری وکړ.

خود طالبانو په وخت کې له هزاره و سره د ظلم انتها و شوه، هغوی د هیواد دغه ستره شیعه ټولنه چې نژدې پینځه ملیونه دي، ملحد او زندیق وبلل، د هزارو ښځې چې ځلیدونکې جامې اغوندي او د لوړو پوندو پایزار په پښوکوي د سرو او سپینو زرود ګاڼي استعمال بکې عام دئ، او بهر ته لوڅ مخې راوتې چې پردې د دوی غوسه ورته اوپاریده.

د ۱۹۹۷ م په اګست کې چې د کابل له نیولو وروسته طالبان د مزار شریف په نیولو کې ناکام شول نو د دوی څواکونو هزاره جات کلابند کړ، پر هغوی څلور واره لارې بندې شوې، چې د هغې له امله د هندوکش په لمن کې ل لوږې د لس لکه تنو د مرګ ویره پیدا شوه بهر نیو مرستندویو تنظیمونو مثلاً آکسفیم Oxfam او نورو پردې سخت احتجاج وکړ دوی ته یې وویل چې په مرکزي برخو لکه بامیان، غور، وردګو او غزني کې کېښتونه د وچکالۍ له امله وچ شوي دي، هلته خلکو له لوږې واښه وخوړل که اوس لارې خلاصي نه شي نو دا خلك له به لوږې مړه شي خو پر دوی یې هیڅ اغیزه ونه کړه، تر څو دوی مزار شریف ونه نیو دغه کلابندي یې مانه نه کړه بالاخره په مزار کې د دوستم پلویان دوی ته ورواښتل او دوستم ازبکستان ته وتښتېدسپیني جنډې پورته شوې او مزار شریف طالبانو ته تسلیم شو طالبانو. د تیرکال ناکامي په بدل کې ډیرې وینې توېې کړې. سپیني جنډې پرې څرېدلې ډاټسن به په ښار کی په کوڅو کې ګرځېدل چې پر سر یې نصب ماشینداورنه یې دومره ګولۍ واورولې چې په سرکونو او کوڅوکې د تشو تولیوا نبارونه جوړشول. د یوه عیني ګواه په وینا دغو موټرود واده په ورا رواني ښځې تر ټایرونو لاندې کړې یو ماشوم هلك چې ډوډۍ او دال یې پلورل او یو بوډا چې په میچن یې غنم اوړه کول، هم د هغوی تر موټر لاندې شول د تولې ورځې وژلو او ګولیو اورولو وروسته د دوی یو ځل بیا هزاره قوم ته پام شو، کور په کور تالاشي شوه او د ځوانۍ منګ ته رسیدلي هلکان یې ټول له نارینه و، سره راونیول او ویې وژل هغوي یې پر مخونو او خصیو کې ویشتلي وو

دتفصیل لپاره د ۱۹۹۸ م د نومبر میاشتې د بشر د حقوقو کمسیون راپوروګوري."

د مزار شریف نوي والي ملا منان نیازي چې د کابل د والي په حیث یې په برالا اعدامونو ډیر شهرت ګټلی و، اعلان وکړ چې "هزاره قوم مسلمانان نه دی" له دې سره خلکو ته د دوی د وژلو او د دوی په ښځو د تیری جواز په لاس ورغی، شیعه ناروغان یې په تیل وهلو له روغتون څخه راوایستل او ملا نیازي تر پینځو ورځو پورې خلکو ته د دوی د مړیو د پورته کولو اجازه ورنکړه چې کوڅه ډبوسپیو یې مړي وخوړل او وداړل.

تر دې یو کال پخوا جنرال دوستم همدغسې سلوك له طالبانو سره کړی و".

نور په زرګونو کسان یې په هغو کانتینرونو کې بندیان کړل، چې د سرې جګړې پر مهال افغانستان ته وسلې پکې راوړل شوې وې، په هغو کې یې خلك په زور ننه ویستل چې د ډیرو ساه بنده شوه او پکې مړه شول، او نور یې د جنوب جیلونو ته راوړل له هغو نه یې څو کانتینرونه هرات ته راوړل، چې ملاحسني او د ده کسان یې پر څارنه وګومارل شول هغه دغه معامله بد ترینې پیښې وبللې او تفصیل یې داسې بیان کړ:

یوه ورځ هرات ته ورسیدم چې پخوانۍ زیاتې روسي لارۍ (کاماز موټرونه) هرات ته را ورسیدل، هغه له مزار څخه کندهار ته روان وو، اوسپنیز کانتینرونه بار وو، چې په زرګونو بندیان پکې وو. تقریباً څلورنیم سوه پکې ښځې او ماشومان وو، چې نارینه یې ټول وژل شوي وو، لا د تودوخې موسم و، دغه لارۍ دوې ورځې په چوك کې سره لمر

ته ولاړې وې، ماشومانو اوبه غوښتې او چيغې يې وهلې خو مور ته امرشوی و، چې بايد هيڅ هم ورنکړو. مور هغوی د متيازو او نور حاجت لپاره هم بهر ته نه پريښودل د هغو کريږې مې اوس هم په غوږو کې کړنګيږي.

هغوی دکانتينر اوسپنيزديوالونه په سوکانو او څپړو وهل اوله مور نه يې غوښتل چې بهر ته يې پريږدو، ورو ورو د دوی کريږې خپ شوې په دې وخت کې تودوخه بهر ۴۰ درجی سانتي ګراد وه، معلومه نه ده چې دننه به څومره وه که سره تبې او تنور ورته ووايو بيځايه نه ده خامخا به هغوی ټول مړه شوي وي.

عجيب تصادف دئ، په دې ماسپښين له خليل سره تر ملاقات مخکې زه د کويټې په اطراف کې د کيرانې ګنې آبادۍ ته تللی وم. خام کورونه او څو دوکانونه دي، خبره شوم چې هزاره ګان مهاجرين دلته اوسي په کلي کې دننه يو د خام غولي جومات دئ. چې چت نه لري په هغو کې ۳۰-۳۲ وړې ماشومان او ښځې راټول وو، هغوی رنګينې خو خيرنې او زړې جامې درلودې، د هغوی په ليدو وپوهيدم چې دوی ډير ويريدلي دي.

څو تنه بوډا نارينه هم پکې وو، هغوی ماته وويل چې باميان ته نژدې په يوه کلي کې اوسيدل چې له شل ورځې مزله وروسته دلته را ورسيدل لږ لاره يې په يوه لارۍ کې مزل کړی و، او نور پلي راغلي وو. د دوی کلي د طالبانو په لاس د بودا د لويو لويو مجسمو د نړولو له امله ډيرشهرت وموند. که څه هم نړۍ پر دې احتجاج وکړ، خو چې طالبانو څه غوښتل ويې کړل. اسما د شپږو زامنو مور ته وويل:

مورې کور او کلی د دې لپاره پرېښودل چې څه مو نه درلودل، چې ويې خورو هغې ځليدونکې ګلابي کميس اغوستي و. او سور ګلدوزی شال يې پر سرو.

درې لوراني او درې زامن يې درلودل هغوی برېښتنې، نغری او نور د اړتيا وړ شيان هيڅ نه درلودل. يوازې د اوريدلو لپاره يې ډيرې کيسې درلودې، چې څه ډول يې خپل نارينه وليدل چې طالبانو ژوندي وسوځول څه ډول يې کور ورته وران کړ، څه ډول يې د ښځو عزتونه لوټ کړل او نارينه يې د ګازرو امومولی په څير ټوټه ټوټه کړل.

اسما او زامن له احساساتو پرته په ستومانه او سړه لهجه را سره خبرې کولې ويل يې:

زما ميړه يې هغه وخت وواژه چې مورږ تيښنه کوله.

طالبان پر اسونو سپاره راپسې راغلل، څرنګه چې زما ميړه سامان ورسره را اخيستی و. ځکه خو تر ټولو وروسته را روان و، هغه په يوه ګولۍ ولګيد چې ځای پر ځای مړ شو. زما ميړه کروند ګر و، غنم يې کرل خو د باران د نه اوريدوله امله غنم شنه نه شول.

زمورږ په کلي کې يې يوه حامله ښځه په کوټه کې ايساره کړه، او اور يې ورواچاوه د هغې اولادونو کريږې وهلې هغوی ماشومان د اوسپنې په راډو وهل او ويې وژل او سترګې يې پرې وايستلې ما دوی د يوه داسې سمڅې په الوزولو وليدل چې دوه سوه کسان دننه پکې پټ وو، ما مې د خپلو ماشومانو خولې په لاسونو بندې کړې چې چيغې يې پورته نشي.

په ډې ډول دوی په يوه مياشت کې درې زره کسه ووژل.

زما په ګومان چې په دې کې هیڅ مبالغه نه وه، نوري پر دې هر څه ډیره وروسته خبره شوه. غالباً هغه مهال خپره شوه چې مهاجرینو پاکستان ته رارسیدل پیل شول خو د انساني حقوقو اړوند تنظیمونو د شمیرنو او سروې له مخې د ۱۹۹۸ م تر اګست پورې له وسلې ایښودو وروسته له څلورو تر شپږ زرو تنو خلك طالبانو ووژل.

یوې ښځې پرې ګل چې تورې سترګې یې وې، زه یې تر منځ کش کړم او پام مې یې ور واړاوه راته ویې ویل:

زموږ په کلي کې درې سوه تنه ووژل شول، هغوی زما میړه په کور کې بندي کړ،او اور یې ورواچاوه ما دننه کورته د تیښتې هڅه وکړه.

چې ډیره یې ووهلم بیا مې درې زامن او درې لوراني وړې شول ماله خلکو څخه ډوډۍ وغوښته او هغوی مې ماړه کړل هغوی هر کور ته اور واچاوه پر فصلونو یې کیمیاوي مواد وشیندل، او ویې سوځول څکه خو له هیڅا سره د خوراك لپاره هیڅ هم پاتې نه شول، موږ په کمرونو کې راشنه کیدونکي شینلی او بوټي خوړل، ما مې د خپل یوه زوی د پلورلو هڅه هم وکړه، مګر څا به پیرلی و؟ نه چا، سره د څه شي د رانیولو هیڅ هم نه وو، پاتې زما په ګومان هغه تر دیرشو کالو د لږ عمر وه، سره له دې چې له ما نه تر لسو کالو زیاته کشره وه، خو زما د مور پر ځای ښکاریده بیا یې په خپلو وچو کلکو لاسونو زما ګوتې ونیوې، او په سلګیو شوه ویې ویل : موږ هیڅ ګناه نه ده کړې، یوازې غوښتل مو چې ژوندي وو . لومړی یې وړې کړو بیایې و وژلو هیڅوك مو مرستې ته رانه غلل.

د داسې کیسو په اوریدو به کله کله دومره وویریدم چې زړه به مې غوښتل د یادښت کتابچه مې بنده کړم. او وتښتم په پاکستان کې

ر ډیرشو لکو تو زیات مهاجرین دي د داسې کیسو خاوندان یو دو نه دي ډیر دي. کله کله به ځان راته یو طفیلی چیبجی ښکاره شو، چې ویروونکي کیسې له دی مهاجرونه زییښم او په زرګونو میله لري یې په اخبارونو کې بیرته را قی کوم.

په داسې حال کې چې مرګه کوونکیو ته له هغو نه هیڅ ګټه نه رسیده. زما سره د دې پوښتنې هیڅ ځواب نه و. چې نړیوالو ولې له دوی سره مرسته ونکړه؟

په ۱۹۸۰ م لسیزه کې چې زه لومړی ځل پاکستان ته راغلم، هغه مهال مې له ډیرو مهاجرو سره مرکې وکړې کله کله به مې شپې هم د دوی په کمپو کې تیرولې، هغه وخت افغانانو دیوولس کلونو جګړې غم او دوه کاله او دوی روس سره په پرلپسې ماتې هم ورکولې. د دوی په سترګو کې بیا هم د امید ځرکونه وو. اوس د جګړې ۲۳ کاله تیر شوي وو، دوي په خپلو کې یو بل وژل او د انساني احساساتو څخه تول له یوې مخې محروم شوي وو.

ما چې د دوی او د دوی د بچیانو محرومي او نوره لیده نو په زرګونو میله لرې مې خپل زوی سترګو ته ودرید چې هر ډول راحتونه ورته تیار وو.

ما خو د دوی محرومی ته ځواب نه شوای ویلی خو له نژدې دوکان نه مې څو بورۍ اوړه او ډوډۍ او څو کمپلې دوی ته راخیستلې، چې د دوی په سرګو کې د مننې او احسان نخښو زما د جرم احساس نور هم زیات کړ ځکه چې پرته د خوددوی چاره نه کیده....

د ملا عمر په باب هغه ماته ددیرو خبرو په ترڅ کې داهم وویل چې ده زیاتره اسامه بن لادن هم لیدلی دی چې دملاعمر کورته

دتوروښیښنو  په یوه تور لنډکروزر کې راتلو او اوه اته نور موټرونه به بدرګه ورسره وو خلیل  احمد راته وویل  چې داسامه بن لادن سره راغلي ساتونکي زیاتره دلوړوقدونو خاوندان سوډانیان ښکاریدل.چې چنګ چنګ ویښتان  یې درلودل ، دهغوي  ټولو سره به دامریکا یې ساتونکیو په څیر په لاسوکي دمخابري  سیټونه  وو.  کله کله به هغه په ارزګان کې دملاعمرکورته تلو چې هلته به یې له اسامه سره  یوځای دمرغانو اوکبانو ښکار کاوه.

ملا عمر ډیر له اسرارو ډك دئ، هغه تر اوسه پورې یوازې دوه ځله کابل ته تللی دئ، په ارزګان کې زیږیدلی خو کندهار یې خپل ټاټوبی باله او همدلته اوسیده، له لویدیځو خبریالانو سره یې تر اوسه  پورې مرکه نه ده کړې په دولتي دفترونو کې یې  کوم تصویر نه و راځړیدلی.

په اخبارونو کې چې د ده په باب  کوم مطلب خپور شویدی. په هغو کې د ده هغه تت تصویر ورسره خپور شوی دی. چې په کندهار کې د تلویزیون له کامرې څخه اخیستل شوي دي. دا په ۱۹۹۶  م کال کې د طالبانو یوه ځانګړې غونډه وه چې په هغو کې ملا عمر د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مبارکه خرقه په لاسو کې نیولې ده، په همدې  غونډه کې دی د امیرالمومنین او د اسلام د لوی سالار په نامه اعلان شو. دغه مبارکه خرقه "عبا" تر شپیتو کلونو زیاته موده وروسته لومړی ځل عام محضر ته راوایستل شوه.

د ملا عمر په باب یوازې دومره خبره  معلومه شوې ده، چې دی تر ۱۹۹۴  کال پورې  په یوه کلي کې امام و. دا یو ختین کلی دی، چې له کندهار څخه  په موټر کې د یو ساعت په فاصله پروت دی.

په دې وخت کې نژدې څلوېښت کلن و، تر یوه موټې زیاته ږیره او توره لونګۍ یې پر سروله.

د ده یو سترګه په ۱۹۸۰م لسیزه کې روسي توغندې په چا ودنه کې له منځه تللې او بله یې په ډېر زحمت ژغورل شوې ده.

که نه هغه به تېر روند شوی و، څو ورځې وړاندې، زما د یوه آشنا دوست هوټل ته راغئ او ماته یې خپ وویل چې د ملاعمر یو اصلي تصویر ورسره دی، بیا یې یو پاکټ راته ونیو، خپ یې ځکه راته وویل چې په هوټل کې د آی اس آی څو تنه لیدل کیدل.

ما چې پاکټ پرانیست ومې لیدل چې یو پاسپورت سایز تور او سپین تصویر پکې و، چې ملاعمر پګړۍ پر سراودواړه سترګې یې روغې جوړې وې.

ملا خلیل د ملا عمرد څیرې ( بڼې ) با باب ښه وضاحت ونه کړای شو، د هغه وینا وه چې:

هغه نورمال انسان دی، منځنی قد، بدن یې لږ غوښن، یوه سترګه یې مصنوعي ده، چې شین رنګ لري، بیا یې له لږ ځنډ وروسته وویل: ملا عمر دوهم خلیفه حضرت عمر "رضی الله عنه" خپل ځانته د عمل نمونه اوباید یال ګڼي چې ډېر ساده ژوند یې درلود، له هغه سره به یوازې یو کمیس او یو څادر و، هغه خپل یوه زوی ته په ګناه د مرګ سزا ورکړې وه " د حضرت عمر فاروق په باب خوتر اوسه ما داس روایت نه دی اوریدلی، او نه مې لوستي دي چې خپل زوی ته یې دې په کومه ګناه د مرګ سزا ورکړې وي. پښتو ژباړن) د شپې مهال به په ښار کې ګرځیده چې پر خلکو څارنه وکړي، همدغسې به ملا عمر

هم پر خپل ګوډ مات موټر سایکل د شپې په واټونو او کوڅو کې ګرځېده تر څو دا معلومه کړي چې خلك د طالبانو په باب څه وايي.

ملا حسني وويل:

که څه هم ملا عمر د ساده ژوند خوښولو دعوه کوله خو عملاً داسې نه دی، هغه یوه کیسه یاده کړه چې، هغه به خپل ډوډۍ پخوونکي تل پردې رټلو چې ولې غوښه ورته پخوي په داسې حال کې چې د جګړې په محاذ مجاهدین ترې محروم دي، خو د دې ګواښنو او رټلو سره سره به یې هغه ډوډۍ خوړله.

هغه د جنګي ترانو د اوریدو ډیر شوقي دی. اود عربي نسل آسونه یې ډیر خوښیږي،

پر هغه سپریږي او د خپل کور په انګړ کې یې راګرځوي، یو ځل هغه دا هم وویل چې ملا عمر یوازې خپل نوم لیکلی شي. او لاسلیك کولی شي، نور سم سیده نالوستی دی.

ما ته یوه خبره څو ورځې وړاندې د کندهار د روغتون رئیس جنرال اسحق وکړه. هغه پخوا په افغان پوځ کې جنرال و، او د ملاعمر علاج یې هم کړی دی. هغه ویل چې ملا عمر ته نژدې یو توغندی ولګید او وچاودید چې د هغو څو چرې د ده په سر کې ماغزو ته ننوتې ځکه به یې تل پر سر درد و.

له دی خوږو دخلاصی لاره یې دا وه چې په خپل موټر کې په سپور شو او هغه به یې چا لان کړ، چې تر څو به د موټرو انجن شو، ر اوزوږ دوام درلود دی به آرامیده په دې وخت کې به یې له چا سره نه لیدل د دې دورې په وخت کې به یې چې خوبونه لیدل نو ده به داسې ګڼله چې دا واکمن ده ته څه شیان وربښي.

د طالبانو مشرانو که څه هم د ساده ژوند سوګند خوړلی و، چې دوی به د۱۴ سوه کاله پخوا نبوي دوران یاد را تازه کوي، خو ملا حسني وايي چې ملاعمر ډیر ساټ او باټ خوښیده.
او په ډیره شانداره ماڼۍ کې يې ژوند کاوه چې د ژوند هر ډول آسانتیاوې ورته تیارې وې.

دملاعمر اواسامه ترمنځ د ډیرې ژورې دوستی په لیدو هغه دې نتیجې ته ورسیدچې اصل کنترول د طالبانو نه بلکې داسامه بن لادن په لاس کې دی موږ به چې واوریدل چې امریکا له ملاعمر نه اسامه غواړي چې باید په لاس يې ورکړي نوډیر به موسره وخندل ، امریکا يو ليوني قوم دي . افغانستان داسې هیواد نه دي چې دټرهه ګری سرپرستي اوپالنه کوي، برخلاف داسې يو هیواد دي چې تر هه ګري چلوي ځکه خو که اسامه بن لادن وغواړي ملاعمر امریکا یانو ته سپارلی شي خوملا عمردا واك نه لري چې هغه کله اسامه امریکا یانو ته وسپاري.
خلیل احمد حسني له طالبانو سره دتیرو کړیو وختونو یادونه راسپړل ناڅاپه يې له طالبانو څخه د تیښتي د لارې په باب بحث راواخیست اوويې ویل: موږ ته يې دجګړې لیکې ته دتلو امروکړ چې دلته ماته د تیښتي فرصت په لاس راغي موږ ټول ۶۲ تنه وو.چې دکابل په شمال کې بګرام تر وتلو امر راته شوي و.
هلته دشمالي اتحاد پوځونو پرموږ حمله راوړه.
اوموږ تقریباً له ماتي سره مخ شوو زما ډیر ملګري په دي جګړه کې ووژل شول ،موږ په دي هم نه پوهیدو چې څوك له چا سره جنګیږي

؟ وړاندي او وروسته تونده جګړه روانه وه چې په پای کې زموږ قوماندان موږ پرېښودو اوپه موټر کې له هغه ځایه وتښتېده ځکه موږ ته هم لاره خلاصه شوه او ټوله شپه پلي روان وو اوله هغې سیمې نه یو ډول په راوتلو بریالي شوو .بیا هم زه په ټوله لاره کې ویریدم چې ونه نیول شم زما داویره پرځای وه ځوتنه عربان په مخه راغلل چې غوښتل یې په دې وپوهیږي چې زه ولې تښتم؟

تر دوو ورځو پورې هغو موږ بندیان وساتلو او دویم ځلې یې همدغه محاذ ته راواستلو، یوه شپه زه په خپل محاذ کې په ګزمه بوخت وم و.مې لیدل چې دپسونو او وزو څخه ډکه یوه لارۍ دشمال اتحادله سیمې څخه راغله ماورټوپ کړل اوپه دې موټر کې سپورشوم ځان مې کابل ته ورساوه له کابل څخه کندهار ته راغلم دلته یې زه ونیولم اواته ورځې بندي وم چې ډول ډول پوښتنې یې رانه وکړې .خودخپلو ځو تنو خپلوانو په منځګړتوب چې په طالبانو کې مخور او دواك خاوندان وو ماته له کندهارڅخه کوټې ته دراتلو زمینه برابره شوه. له طالبانو څخه تر را تښتیدو وروسته ملا خلیل احمد حسن په کوټه کې له خپلې میرمنې اولورسره ژوند کاوه اوپه څه کار پسې ګرځیده ، په داسې حال کې چې ده داویل چې طالبان هسې په نامه پاتې دي بیا هم پرخپل ځان ډیر ویریده.اوزه پردې ډیره حیرانه وم چې ده دا ټول رازونه ماته وویل ځان یې ولې په خطر کې وغورځاوه؟

هغه ویل:

زه غواړم خلك وپوهوم چې له مانه ډیربدکارشوی دی. چې تلافي او جبران یې پرهمدې کیدای شي چې زه ټول نړیوال ددغو خلکو په اصلي څیروخبر کړم.

# موټرسایکل سواره ملایان

د نورو جګړو پر خلاف د افغانانو جګړې له پای ته رسېدو وروسته جنجالي شي
(سر اولف کیرو)

په افغانستان کې سفر داسې دی لکه ته چې دتیتو پرکو شیانو په منځ کي لاره وباسې د خلیل احمد کیسه دده له اټکل څخه زیاته ماته مهمه وه ،ځکه چې دهغي له اوریدو وروسته ما په خپل ذهن کې دافغانستان یوتیاره تصویر وکښلو. ځکه خو به چې هغه کله کندهار یاداوه نوزما دماغ کې به سمدستي د قافلو پخواني لاري اودسویو ټانکونو اوپه بمباریو کې ړنګوکورونو یوه داسې نقشه انځور شوه چې دکوم ورك او هیرشوي تمدن کنډوالو ته ورته وه چې له هغه ښار سره به یې لرټوپیر درلود چې لوي سکندرله میلاد څخه ۳۳۰ کاله پخوا پخپل نامه دهغو بنسټ ایښي دي . خو په کندهار کې دلیدو لپاره نورهم ډیر شیان وو، لومړي ځلي کندهار ته سفر مي له یوه ملاسره په موټر سیکل سپره تر سره کړ چې په هغي کې زه وپوهیدم چې دا دنړۍ ترټولو وېجاړ ځای دي هر لوري ته وچ واښه په وچه اوبې اوبوځمکه راشنه شوي وو له لرې لیدل کیدونکي ډبرین غرونه لږ سره وزمه ښکاریدل.

مامي پرسریوه لونګي تړلي وه چې په دښته کې دراپورته شویو ګردونو او دوړو نه یي په امان ساتلي وم. دکندهار ددښتو شمال دومره تودوي چې د کندهار د اوسیدونکیو په وینا چې کب په ورغو

ی کې ورته ونیسي کباب به یې کړي.

د۱۹۸۸ م کال خبره ده چې دافغانستان دوهم لوي ښار یعني کندهار ته سفرله ستونزو او خطرونو څخه ډك و، دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه راغلي دخپرونو خبر یالان دپيښور په یوه فايف ستار Fivestar هوټل کې ځاي پرځاي وو اوله همغه ځایه يې دافغانستان دجګړې خبرونه خپلو خپلو خپرونو ته استول پردې علاوه له روسانو سره په جګړه بوخت د اوو لويو جهادي ګوندونو مرکزي دفترونه هم په همدغه هوټل کې وو.چې دهغوي په مرسته افغانستان ته ننوتل ډیر ګران نه وو.

بیا هم داهرڅه ماته ډیر بدل وو. زه یوه ځوانه دپردي هیواد نجلۍ وم اوپه داسې هيواد کې وم چې ښځه دطلااوځمکي په څیر شخصي ملکیت ګڼل کیږي.

یعني "ښځه ، ځمکه اوزر" چې ښځه تر اوو پردو دننه ساتي، زه دخپل کم عمر اوبې تجربګۍ له امله په دې نظر وم چې له خلکو سره دکیدو نکیو بې عدالتیو په باب چې زه څه ولیکم نونړۍ به بدله کړم.خو داحقيقت مې هیر کړي و چې زه پخپله دهمدغو بې انصافیو یوه برخه یم ځکه له خپلو مسوولیتونو څخه لري کیداي نشم.

تراوسه مې چې دافغانانو په باب څه معلومات درلودل. هغه دروډ یا رډکپلنګ اودنولسمي پیړي په اوږدو کې دافغانانو په باب لیکل شویو لیکنوڅخه ووچې انګریزانو لیکلي وز، په دې لیکنو کې ترټولو مخکي دماونټ استهورټ انفستین وي چې نوموړي په ۱۸۰۹ م کال دبرتانوي هند په استازیتوب دافغانستان له پاچا سره کتلي وو دافغانانو په باب ده خپل خیال داسې بیا کړي وو چې:

په هغو خلکو کې چې کومي بدي ليدل کيږي په هغو کې حرص، هوس لوټماري .دکسات اخستلو جذبه کينه اوحسد اوخپلسري په ځانګړي ډول ډيادوني وړدي دافغانانو دښيګڼو په باب نوموړي ليکي:

هغوي پراز ادي مين ، ددوستانو وفادار، تر لاس لاندي خلکو باندي مهر بانه ، کمينه، ميلمه پال . زړور، ميړني ، زيارکښ، دزغم خاوندان اوهوښيار دي.

کندهار ته ددې لپاره هم ولاړم چې دانوم زما ډير خوښ و. لوي سکندر ډيري فتحي کړي وي له مقدونيې تر هندوستانه پورې په دې اوږده لاره اوډيرو برياوو کې يې دډيرو ښارونو بنيادونه هم ايښي وو. چې زياتره يې دنامه مختلفي بڼي دي خودکندهار دښار په نامه کې ماته يو حيرانوونکي راښکون دي. ددې ښار دنامه له اوريدوسره ماته ديوه مانوس ځاي تصور ذهن ته راشي

کندهار! په حقيقت کې داهغه ځاي دي چې دافغانستان تاريخ تري پيل شويدي دافغانستان دلومړي پاچا احمد شاه ا بدالي قبر هم په همدي ښار کې دي چې په دي جګړه ځپلي ښار کې يو آرام ځاي ګڼل کيږي.

دمزار په زينوکي دامساوو په مرسته روان نارينه اودجګړي له امله کونډي شوي خيرات ټولوي، او دهغو ظلم اوستم کيسي کوي چې افغانستان يې له جوړيدو وروسته پرلپسي ترنځښه اوګوزارونو لاندي دي ، اودهغو بنياد ديوه وژل شوي پاچا پرخزانه ولاړ دي چې د" کوه نور" مشهور الماس هم په هغو کې شامل و.

دهغه غمي په باب دامشهوره وه چې بيه يې ديوي ورځي لپاره

دټولي نړۍ دخلکو لګښت پوره کولي شي.

نن هغه غمي دبرتانيي په شاهي تاج کې ايښي دي او دنورو غميو اوجواهرو سره دلندن په برج کې خوندي دي چې ۲۴ ساعته يي کلکه ساتنه کيږي.

په هر صورت دي ښکلي اوځليدونکي غمي ته کوم هندو ډيري پيړي پخوا داښيرا کړي وه چې له هر چا سره دغه غمي وي پرتو له نړۍ به حکومت کوي خوکه هغه کوم نارينه وي نوډير به ورته شوم وي."

دکندهار دسفر بل سبب داو چې په پيښور کې زما ملاقات له يوه داسې چاسره وشو چې له احمد شاه ابدالي سره يي نسبي اړيکي درلودي اوکندهاري و. چې نوم يي حامد کرزی دی هغه دشمله په يوه شخصي ښوونځي کې زده کړې کړې اوډيلي له پوهنتون څخه يي په سياست کې ماستري ترلاسه کړي ده .دهغه عمر دډير شو کلونو په شاوخوا کې و اودهندوستاني انګريزي اخبارونو په څير په پخوانۍ انګريزي لهجه يي خبري کولې، ماچې تر اوسه پورې له څومره کسانو سره ليدلي وو حامد کرزي په هغو ټولو کې بل ډول و ، هغه دځر مني واسکټ اوپتلون اغوستي وو خواکتپونه اوتګ يي کټ مټ شاهانه و.

کرزي په داسې يوه ښار کې چې هيڅ نارينه بې وسلې نه ګرځيده په ډيره نرمه اوشريفانه لهجه پرخبرو عادت و. هغه د انګريزي له کلا سيکي ادب سره ډيره مينه درلوده له ماسره يي دخبرو اترو پيل دانګريزي ادب اوموسيقي په اړه و.

په خبرو اترو کې به يي هغه مهال يو روحاني اغيز راپيدا شو چې

کله به یي دکندهار پرباغونو . چینو. ځلوېښت ډوله انګورو اودسرو دانو لرونکیو انارو په باب یادونه کوله ده به ویل چې دا دومره مزه دار او خوندور دي چې ایراني شهزاد ګیو به له دي پرته بل څه نه خوړل اودمیني شاعرانو به په خپلو عشقي غزلو کې ستایل. حامد کرزي په زړه کې پردي ډیر خپه و چې افغان جهاد کومي مثبتي نتیجي ته له رسیدو پرته پاي وموند، دهغه نظر داو چې دافغانستان راتلونکي دجهاد په قوماندانانو اوقبایلي سردارانو پورې تړلي ده، دکابل دخوان قوماندان عبدالحق هم همدا نظر و چې دپیښور پوهنتون ته نژدي په ټاون کې یي زما له هستوګنځي څخه دوي کوڅي وړاندي هستوګنځي و. زه به تل هلته ورتلم اوله عبدالحق څخه به مي غوښتل چې له خپلومجاهدینو سره مي کابل ته واستوي زما په ځواب کې به هغه ویل چې:

ته نجلي یي .داستا کار نه دي زه قوماندان یم . جګړه مي دنده ده اودرهبرانو چې کوم کار دي هغوي پري پوهیږي . خواوس داسي ښکاري چې د دوي مسئوولیت ته هم مونږ اوږه ورکړو. هغه به په ډیره غوسه خپله مصنوعي پښه"۱" له خپله ځایه وښوروله او ویل به یي:

---

– دکابل په یوه جګړه کې په ۱۹۸۷ م کال دیوه ماین دچاودنې له امله دهغه یوه پښه الوتي وه.

موږ خپل ارمان ته لومړي هم وفادار وو اواوس هم. خوکه دغه مشران خپل اختلاف شاته نه کړي او سره یو نشي نوموږ دخپل هیواد بربادي نشو لیدای.

یوه ورځ حامد کرزي ماته دیوه آزاد ګروپ په باب خبره وکړه چې "دملا یانو جبهه "یې بلله اودکندهار په اطرافو کې په جګړه بوخت وو. حامد له هغو خلکو سره دلیدولپاره روان و . ماته یې‌هم بلنه راکړه چې ورسره ولاړه شم. راته ویل یې:ته باید خامخا کندهار ته ولاړه شي ، اصلي افغانستان همغه دي ما له دي خبري سره دهغه په ځیره کې ژوري لیکي لیدلي.

کندهار ته دتلو لاره مو له کویټي تیریدله چې دبلوچستان مرکز دي اوهلته دقانون دواکمني هیڅ نخښه نشته .دښار په شاوخوا کې په وړوکیو ځیروکي ناست صرافان تاته دنړۍ په هره سکه پیسي دربدلوي هلته له زیړې اوزعفرانو سره دوکانداران وریښمین توکران هم پلوري.

نارینه داسې جامې اغوندي چې ګریوان یې خامك او وړوکي وړو کې هینداري پرې ګنډل شوي وی او د ډیرو لوړو پوندو درلودونکي ځپلي په پښوکړي وي.

په هغه وخت کې هلته یوازي یو هوټل و چې CnewLundeis نومیده چې یقیناً دانګریزانو په وخت کې جوړ شوي و ،ځکه چې دکویټې په چونۍ کې و، دهغه شنه چمن ته به دي چې کتل نودا به دي احساسوله چې دلته به یو وخت طاووسان هم ګرځیدلي اونځیدلي وي .دهوټل کوټې ښايي له ۱۹۴۷ م ځخه راپه دي خوا نه وي جارو شوي .

دکمود د اوبو پرتني. به دي چې ګوته کيښږود: اوبه به کوټې ته راغلې. درنا لپاره يي يو داسې څراغ ايښي و چې پلك يي نه درلود اولوخ مزي به يي سره وپيچل اود برښنا په ساکټ کې به يي وروملنډل.

د سپين رنګ ، شنو سترګو اوسرو وينستانوله امله ماته ډيره ګرانه وه چې ديوه افغان "چريك" په ښه ځان جوړ کړم. په تيرو ورځو کې ديوي مهاجري افغاني ميرمني په ښه تللي وم ، زما مخ اوبدن په چادري کې پټ و کله کله به يي يو ماشوم هم راسره ملګري کړ. چې زه به يي تر ګوته ونيولم اوروان به و چې څوك رابانديي شکمن نشي.

بيا هم دملايانو دجبهې يوګروپ ته ښايي داډيره خندوونکي واي چې په کندهارکې کومه ښځه له هغوی سره ليدل شوي واي.

ځکه مي داخل د سفر له ملګريو افغان مجاهدينو سره دنارينه و په جامه کې دتلو تکل وکړ ،يعني پرکميس اوپرتوګ برسيره مي يوه درنه پګړۍ پرسروتړله اويو خړ کندهاري څادر مي په بې پروايې پر اوږو واچاوه چې څنډي يي په خامك ګنډل شوي وي زما سره پر حامد کرزي برسيره دکندهار دلومړي ليکي يو قوماندان عبدالرزاق اونور مجاهدين هم وو، عبدالرزاق ته به يي "دهوايي ډګر قاتل" وايه ځکه چې هغه په هوايي ډګر کې دروس پرالوتکو ډير بريالي بريدونه کړي وو او ډيرې الوتکې يې ويجاړې کړې وې. پردې سربيره دتورو سترګو اوتورې ګڼې ږيرې خاوند قوماندان: رت ملا" هم زموږ ملګري و، دشپې په تياره کې موږ دخواج" دري څخه تيريدو. زموږ شاوخوا ته به داسې لارې موټر تيريدل چې زړه راښکونکې طبيعي منظرې او ياکومه ښکلې پيغله به پرې انځور شوې وه موږ دغه وخت

په قبائیلي سیمه کې ووچې په عام ډول "علاقه غیر" هم ورته ویل کیږي ،په هغو ویجاړو اوبې اوبو سیمو کې چې کوم کاروبار په زښتیا ډیر پرمختګ کړي دي نوهغه قاچاق اویرغمل نیول دي.

زموږ دمزله په بهیر کې په دره خوجك کې دریل کربنه اوهغه تونل هم ښځیدلی و چې انګریزانو جوړکړی اودری میله اوږدو . دغه تونل په جنوبي آسیا کې تر ټولو اوږددي چې بل ساري نه لري، دپاکستان پرپینځه کېز کلدارو نوټ هم ددې تونل تصویر شته. کله چې موږ دبلوچستان له سرحده تیر شوو اوافغانستان ته ننوتلو شپه ترنیمايي اوښتي وه مجاهدینو دسپین بولدك دبیا نیولو لپاره زور اچولي و. دهغوی دټوپونو اوتوغندیو لمبو زموږ ښه هرکلی وکړ چیرته چې موږ شپه تیره کړه هلته په یوه دیوال راځړیدلي جنتري کي دمولوي خالص تت تصویر ښکاریده .یونس خالص دبنسټ پالو احساساتي مشرانو له ډلې څخه شمیرل کیدو چې عمر یې اویا کاله و. هغه له یوې شپاړس کلنې پیغلې سره واده کړی و اونوموړی دافغانستان دشاهي رژیم له کلکو مخالفینو څخه دی. دلته دحامد کرزي ډیر دروند او شاندار هرکلي وشو. هرڅوك په ډیر درناوي او عزت ورسره مخ کیدل . دخوراك لپاره یو لوی دسترخوان تیار شوي و چې ډیر زیات خلك پکي شریك شول ،عبدالرزاق چې پخپله هم دیو نس خالص دګوند سړي و د ډوډۍ په وخت کې یې موږ ته وویل:

دلته دګوندونوڅخه ځانګړي مطلب نه وي، څوك چې موږ ته وسلې راکړي موږ له همغه سره ملګر تیا کوو. دپیښور کوم مشر ته څه مجال شته چې دلته راشي!

دوهمه ورځ سهار وختي موږ په دښتو کې خپل مزل پیل کړ.

زموږ بر کامونو لاندې دعربو د دښتو هغه ریکونه نه وو چې یو وخت دکروال ټي اې لارنس په اوږدو لاروپکي سفرو نه کړي وو.

دافغانستان بې اوبو ډبریني دښتې . هغه خړ بې سراوسامانه میدانونه دي چې دلمر تودې وړانګې راغبر ګوي دلته هغه کلي وو چې جګړو ویجاړ کړي وو چې استعمال شوي وسله پکي ویجاړه تیت اوپرك پرته وه .له داسې یوه کلي څخه چې تیریدو موږ له خپلو خپلو موټرونو څخه راووتو. ویجاړ کلي کې څلورو خواو ته وګرځیدو او دویرانیو ننداره مووکړه . هلته موږ یو ویجاړ روغتون ، یو ښوونځي اوجیل هم ولیدل چې ودانۍ یې کندوالې شوې وې هغه ټول په روسي بمبارۍ کې ویجاړ شوي وو پر دړنګ شوي ښوونځي پر دیوال پر سکاره دیوي هلیکوپټري تصویر کښل شوي وچي پر څمکه پرتوافغاني مجاهدینو یې اوربل کړي و. نژدې یو ټانك هم ښکاریده چې اوربې اخستې اوویجاړ شوی و .زه پرهغه ټانک کیناستم اوتصویرونه مې واخیستل.

په همدې شیبه کې مې ولیدل چې دوه په خیرنوجامو کې افغاني ماشومان له یوې کندوالې څخه راووتل هغوی دواړو لاس تر لاس نیولي وو او مخونه یې په ګردونو او دوړو کې پټ وو. داسې ښکاریدل چې په دې کلي کې یوازې همدغه دوه ماشومان ژوند ی پاتې دي. هغوی دواړه له لوږې بې سیکه شوي وو او له موږ نه یې دخوراك لپاره څه شي غوښتل . زه په دې سوچونو کې سرګردانه وم فکرمې کاوه چې هغوی مې له لاسه دبسکټو نو ډبلي وتښتاوه اوپه ډیر ډ بې صبرۍ یې دسترګو په رپ کې هغه و نغړل .هلته هرلورې ته باروتي مینونه ښودل شوي وو څکه خوموږ یو دبل پرپله پل ایښودو

او وړاندې تلو خوتوند سمال لګېده چې کله کله به يې دپښو خاپونه ورن کړل اوهر لورې ته به يې کردونه اودوړې راپورته کړې

زما جامې ، غوږونه ، اومخ ټول په ګردونو کې پټ شول. دتوند شمال دې څپېړو په وار وار زما اوږه ده وېښتان پرمخ راغورول چې ما په بيا لرې او نژدې هيڅ نښواې ليداې.

تودوخه ترڅلوېښتو درجو سانتي ګراد پورې رسيدلې وه اوله ډېرې تندې زما پرسودرد راغې، په همدې وخت کې "رت ملا" راښکاره شو.

. داوبو پرڅاې يې ماته په لاس کې يو غرنې ګل نيولې و اوله په شرمنده لهجه يې راته وويل:

دادې په وېښتانو کې وموښه!

ماګل دخپلو غوږو نو ته نږدې کړ او هغه بې اختياره په خندا شو دنورو مجاهدينو په څير هغه هم غرنى ګل په لاسونو کې دکوم ملګرې سره لاس په لاس هلته قدم واهه. چې کله ماترې پوښتنه وکړه چې له دغه ګلانو سره ستاولې دومره مينه ده؟

هغه په غمجنه لهجه ځواب راکړ چې داځکه چې دغه ګلان پرامن او ښکلا برسيره دهغو ټولو شيانو نمونه دي چې موږ له لاسه ورکړي دي

زموږ وروستى منزل دعبدالرزاق پټ دروزنې مرکز او مدرسه وه چې په خنجراب دره کې وه. دلويو غرونو لاندې يې يوه لويه ډبره په باروتو الوزولې وه او دننوتلو لاره يې جوړه کړې وه. زه چې دننه ورغلم ومې ليدل چې يو ساتونکې پرميزناست دې اومخې ته يې دتيليفون پخوانى تك تور سيټ ايښې دى . عبدالرزاق راته وويل چې دغه تليفون دروسانو څخه دمخابرې له نورسامان سره په لاس راغلى دي

ددی په مرسته زمونږ دغه ساتونکي دغرونو په سرونو کې له مجاهدینو سره اړیکې ساتي او ددښمن دهر دول حرکت خبر راکوي. هاته زمونږ کسان دالوتکو ویشتو نکو وسلو سره شته. دعبدالرزاق له دغه پټ مرکز اودیني مدرسې نه په یوه وخت کې دځو هدفونو لپاره کار اخیستل کیده. څکه خود "ملایانوجبهی" کسان دآرام لپاره همدلته راتلل.دغه مرکز یو کال مخکې هغه مهال جوړشوی و چې یحوا نې مرکز په درې ورځو پرلیسي بمبارۍ کې روسي میک الوتکو پربل مخ واړاوه. چې په هغو کې ملایانو دجبهی پرتولو وسلو اومهماتو برسیره پنځوس تنه مجاهدینو هم ساکاني حق ته وسپارلي. څلویښتو روسي الوتکو پرمونږ درې ورځې بمونه وغورځول.

داهلته یوه ډیر رانه دوول احوال دافغانانو دعبادت له مخې دایره مبالغه وبلله څکه چې دوی هر څه له لسو سره دضربولو شوقیان دي هغه زیاته کړه:

یوازې همغه یوه ورځ داسې وه چې مونږ لمونځ هم پکې ونه کړای شو.

لمونځ اوعبادت دهغو ورځ نیزو مرکزونو مهم فرایض کنل کیدل، دعبدالرزاق په دې مرکزکې اتیا تنه مجاهدین او ۴۰ تنه شاګردان وو ، دشاګردانو عمرونه له اتو تر اتلس کلونو پورې وو.

عبدالرزاق ماته هغه دیني مدرسه هم راوښودله چې دقرآن اوعربي ژبې زده کړې پکې کیدې.

مونږ دقرائت یوه تولګي ته ورغلو . هلته زده کوونکي ناست وو، مخې اوشاته زنګیدل اودقرآن په تلاوت بوخت وو عبدالرزاق له کوټې څخه یو څه کتابونه هم ورسره راوړي وو چې سپین پېرې

استاذ ته يې ورو سپارل.

حامد رانه وويل چې په دې مدرسو کې دقرآن دتلاوت په وخت کې چې دغه زده کوونکي مخې اوشاته زنګېږي دايې داسې عادت شي چې بيا په ژوند خان نشي ترې ژغورلی کاشکي زه پوهېداي چې دغه زده کوونکي به وروسته دطالبانو په بڼه راښکاره شي ، ما په خپلو ورځنيو يادښتونو کې وليکل دمحمد جان طالب عمر يوازې اته کلونه دی ددېني زده کړو نه وروسته هغه دازده کوي چې بي ايم ۱۲ توغندي ويشتونکي څه ډول ډکيږي.

وروسته بيا مونږ ددې زده کوونکيو دهستوګنې ځای ته ولاړو ، . چتونه يې په وښو اووچو څانګو پټ کړي وو چې هوا پکې وچليږي او دننه تودوخه نه وي. يو ورځ کې هلك په دروازه کې ناست و اودکلاشينکوف ميل يې پاکولو هرلوري ته وسله خوره وره پرته وه.

عبدالرزاق رانه وويل:

زمونږ سره ۳۵ آرپي جي RPG 7 .دوه ځلوېښت"ميلهMM 82 RR " توپکونه او اوه الوتکي ويشتونکې داسکې شته دي .پردې سربيره دشپږوستهنګر ميزائيلو څخه دوه ورسره پاتي وو چې په ۱۹۸۷ م کال يې تر لاسه کړي وو او اوس يې ۲۴ ساعته ډيره کلکه څارنه ترې کوله. البته دتصويرونو اخيستلو لپاره به يې کله کله پراوړو کيښودل ، په ۱۹۸۶ -- ۱۹۸۷ م کلونو کې امريکا نهه سوه فيره دغه توغندي چې په حرارت پسې درومي افغان مجاهدينو ته وسپارل چې له روسي پوځونو سره په جګړه بوخت وو .دغو توغنديو دشوروي اتحاد دفضايي برلاسي په ختمولو اودجګړې دپلي په اړولو کې ډير مهم رول ولوباوه. خو وروسته بيا دهغو توغنديو څخه زيات

ACKU

شمير په ايران وپلورل شول چې بيادامريکا سي آی اې بيرته له مجاهدينو څخه دهغو درانيولو هڅې وکړې خوتر دې مهاله ډيره ناوخته شوي وه اوستنګر له ايران څخه ترانګولا اوالجزاير پورې رسيدلي وو.

دغه روزنيز کمپ دعبدالرزاق يوه نژدې ملګرې غازي محمد ګل چلاوه چې خپل عمرېې ۲۸ کاله ښودلو. خواصلاً به لږ تر لږه اته ديرش کلن و. هغه ماته ويل چې غوښتل يې ملا شي اوپه کوم کلي کې په مدرسه کې ديني تدريس ته دوام ورکړي. خو هغه پرافغانستان د روسي پوځ له راکيوتلو وروسته دجهاد له ليکو سره ملګري شو. په ۱۹۸۳ م کال روسانو ونيو اوکابل ته نژدې بدنام دڅرخي پله جيل ته يې واچاوه چې په ختيځ جرمني کې روزل شويو دخاد غړيو اداره کاوه .او هغه مهال لس زره افغانان سياسي مخالفين پکې بنديان وو. غازي محمد ګل څلورکاله په څرخي پله جيل کې بندي و اوهغه دبنديانو په تبادله کې هغه وخت را خوشې شو چې کله عبدالرزاق دافغان حکومت يو مهم قومانداڼان ونيو په داسې حال کې چې ډير لږ خلك دڅرخي پله له جيل څخه ژوندي راوتلي دي .

څکه مې وغوښتل چې له محمد ګل څخه دهغه جيل د شپو ورځو دژوندانه په اړه پوښتنې وکړم. هغه ماته کيسه پيل کړه.

چې کله به روسي پوځونو ته سخت زيان واوښت موږ به ډير زر پرې خبريدو په داسې وختونو کې به دوی يوشمير بنديان ورسره بوتلل دهغوی نه به يې توله وينه وکښله اوبيا به يې په ګوليو وويشتل.

هغه د ډيرو وحشيانه سزاګانو اوځورنو په باب هم کيسې وکړې. چې روسانو به دغوبنديانو ته ورکولې.

کله کله به دوی پزې . غوړونه، غاښونه اوتناسلي غړي له برښنا سره تړل . همدغه سبب دي چې زه اوس دمردی نه لویدلي یم.کله کله به یې دبوتلو پرتوتو درولو اوپه ونو پورې به یې تړلو، اوبیا به یې ډیرې ورځې همغسې پریښودو تردې چې زموږ دپښوزخمونه به خوړین اوخوساشول او چینجي به یې وکړل، کله به یې په خوراك کې جلاب اویا بل داسې شي راکړل چې دهغې له امله به سخت اسهال شوو بیا به یې په یوه وړوکي خونه کې بند کړو چې موږ به تر ډیرو ورځو پورې چتلې، بدبویي اوکندګي زغمله . کله کله به یې نیمه شپه زموږ دچانوم واخیست اووبه پوهیدو چې ددوی وروستی شیبې رارسیدلې دي ،ځکه به موږ تولو په یوه غږ له هغه سره خدای پاماني کوله.

ددغو خبرو اترو په وخت کې فضا ډیره غمجنه اوله خپګانه ډکه شوې وه ،په کوټه کې چوپه چوپتیا وه ښې شیبې همدغسې چوپې تیرې شوې لږ خند وروسته ماچوپتیا ماته کړه او دمرکز دنورو برخو دلیدو هیله مې وکړه.

هلته یو وړوکي درملتون هم و چې دزخمونو دتړلو لپاره څو بنداژونه او د اسپرین ګولیو یو ډبلي پکې وو ،یو ډاکتر دیوه افغان مجاهد ټپي ورون مینځلو ، چې ډیره وینه تري بهید له، دتکلیف اودرد سره هغه افغان مجاهد چوپ و اوهر څه یې په خپلو سترګو لیدل.

ددرملتون ترڅنګ یو تنور هم و چې سرې سکروټې پکې بلې وې اوهلته څو تنو افغاني زلمیانو دتنور پر دیوالونو ډوډۍ وهله څو نورو هلکانو په وړوکي سیند کې جامې مینځلې چې له هغوځخه سور دوینو رنګ په اوبو کې له ورایه ښکاریدو، هلته نژدې څو وزې

اوپسونه هم څریدل ، د مرکز شاوخوا په ځمکه کې یې بینډی کړلي وي دمنو څو ونې مي هم ولیدې چې مطلب تر ي دادي چې دخوراك، څښاك په برخه کې دغه کمپ نژدي پخپله پوره دی په مرکز کې داوسیدو اصول ډیر سخت وو.چې په هغو کې یو داو چې هلکان مذهبي اودیني زیات تعلیم باید وکړي له مرکز څخه چې څوك بهرته درومي جامې یي ښي پلټل کیږي تر څو په پټه دوسلو اومرمیو دوړو مخنیوی وکړي که څوك پردې ونیول شول ډیره سخته سزا ورکوي، په هغه مهال وسله پلورونکي دیوې کنځلې اوپیغور په مانا و . ځکه چې ډیرو قوماندانانو چې دروس په مقابل کې دجهاد لپاره کومې وسلې تر لاسه کولې دهغو په پلورلو یې ډیر دولت ټول کړې و ،پردې سربیره دې قوماندانانو دلړو وسلو دترلاسه کولو په بدل کې د ډیرو وسلو تسلیمولو سندونه لاسیکول چې په انعام کې یې دوي ته ډیر رشوتونه ورکول کیدل غازي محمد گل ماته وویل:

موږ دنورو افغاني ډلو سره ډیر توپیرلرو ځکه چې هغوی نه یوازې دمرستې په پیسو کې درغلي اوخیانت کوي بلکې وسلې اوکار توس هم پر ایرانیانو پلوري هغه له مانه وپوښتل.آیا ددې سپیڅلي جهاد څخه همدغه مقصد دی؟

.... هغه ماته داهم وویل چې دکلي زیات کسان زموږ درملتون ته د دوا اودرمل لپاره راځي ځکه چې په پنځو س میله مربع ساحه کې دازموږ درملتون یوازینی طبي مرکز دي چې دوي ورته رسیداي شي .پردي علاوه زیات کسان دا هیله لري چې زامن یې ددیني زده کړو لپاره دلته دې مرکزته راواستوي. ځکه چې دلته دهستوگنې اوخوراك ، څښاك هیڅ بدل اوفیس نه تري اخیستل کیږي.

دابنايي لومړي خل و چې ما: داسي مجاهدينو يوګروپ ليدلو چې خلکو ته يې تعليم هم ورکاوه او طبي مرستې يې هم ورسره کولې.

کله چې موږ له مرکزي دروازې څخه راووتو نو يولس کلن هلك مووليد چې پرلپسې څوارلس ساعته يې مزل کړی و سترې ستومانه راورسيد هغه دروسانو پر خلاف دافغان جهاد له لکو سره ديوځای کيدو لپاره راغلی و.

دغه لس کلن هلك هلك دويرې کسات او غم دکډو وډو احساساتو په ترڅ کې ووييل:

پلار مې روسانو وواژه . زه مې له مور نه پټ دلته راغلم، اوس به درسونه ووايم چې کله دتويك وړوشم بيا به له روسانو سره جګړه وکړم اوخپل پلار بدل به واخلم. چې له مرکزنه راووتو خرمابنام و، دغونډيو په منځ کې په هسکوتيتولارو مودموټرو څراغونه ګل کړي وو. ځکه چې روسي الوتکو موږ نښه کولای شوای په تولسه سيمه کې زروسانو مينونه ايښي وو.

څکه خو دوه زړورکسان زموږ دجيپ په مخکې پلي روان وو چې موږ له مينونوڅخه خبرکړي. په هغوی پسې زموږ جيپ تقريباً په ښوييدو روان و. په افغانستان کې په هغو مينونونو دګام ايښودلو اودوژل کيدو اويا ټپي کيدو تجربه ډيره دردوونکي وه. په هغو کې داسې ماينونه هم وو چې مجاهدينو توپ وهونکي مينونه نوم پرې ايښي و چې له خپله ځايه به يي توپ وواهه اود انسان تناسلي غړي به يې ورسره والوزول. ځيني ماينونه يي دلوبو دشيانو په څير هم جوړ کړي وو چې ماشومان يې سمدستي دراپورته کولو هڅه وکړي. په هغو کې زياتره وژرلرونکي وو چې له جيټ او يا هليکوپټرو څخه به

پر سیمه غورځول کیدل چې هدف ترې دخلکو وژل نه بلکې معیوبول اوفلجول وو .ترڅو دوه دري تنه هغه ورسره پورته کړي اوپه دي ډول د مجاهدینو دافرادو ځواك کم اوکمزوري کړي.

هیڅاته داسهي معلومات نه و چې ددغو ماینونو شمیر څومره دي؟ دامریکا د رسمي شمیرنې له مخې دغه شمیرترلس ملیونو زیات و. چاته ددې ماینونو ځاي هم معلوم نه و، ځکه چې دجګړي دتولو اصولو پرخلاف له روسانو سره دهغوی دغوړید هیڅ نقشه نه وه.

ماپه پیښور کې ډیر هغه کسان لیدلي وو چې ددغو ماینونو په واسطه معیوب شوي وو. دچامتې اودچا پښې غوڅې شوي وې، دچا سترګې نه وې دچا کولمي بهرته راوتلي وې . پردې سربیره مادپیښور په بازارونو اودمهاجرینو په کمپونو کې زیاتره داسې کسان لیدلي ووچې په تککونو تلل. دغه تولې ننداري چې رایادې شي له ویرې مې سلګۍ واخلي. اوپه چور تونو کې شم چې په کومه ځمکه موږ هغه مهال ګامونه ایښې وو هغه هم له ماینونو څخه ډکه وه.ا وترکوم آسمان لاندې چې هغه مهال موږ وو امکان لري دبې شمیره ستوریو په منځ کې یې کومه روسي میګ الوتکه هم وي.

هغه مهال دشپې دوې نیمې بجې وې چې موږ خپل منزل ته ورسیدو ، یو وخت دغه ځاي پرګڼو باغونو پټه یوه ښکلې دره وه چې دکندهار له ښار څخه یوازې پنځلس (۱۵) کیلومتره لرې پرته ده.

هوکي! هماغه کندهار چې لوي سکندر له خپلو دیرش زره پوځ اوپیلانو سره هلته پړاو اچولي و او اوس د روسانو پرخلاف دافغاني مقاومت په یوه مهم مرکز بدل شوي و.

زه په مزله کې ډیره ستړې شوي وم، له څلورو لوریو دکولیو غږ

ونه را تلل هلته نژدي دسيند دځپو په بهيرکې خدای خبر دی څه جادو و چې دخويونو دنيا ته يې يوړم

سهار موچي دانار پردانو مالګه پاشله اوسبا ناری مو کاوه ومې ليدل ټوله سيمه پربمباري رنګه بنګه شويده.

اوځاي ځاې لوې لوې سوري جوړ شوي وو چې په منځ منځ کې يې دمجاهدينو قبرونه وو. چې د ډبرو وړوکي وړوکي توټي پري ايښي وي او سرونو ته يې شنې جنډۍ ريږدلې، هلته به دروسی توپخانې اوټانکونو ډزې اوبمباري تل دوام درلود کله کله به دومره توندي ډزي وي چې دهغو څخه راپورته شوېو ګردونو به موږ ټول پټ کړو، بيا هم هيڅ يوه مجاهد هغه لوري ته څه ځانګړي پام نه کاوه .حامد راته ويل چې دده دماشومتوب په وختونو کې دغه سيمه دتفريح او ميلو لپاره يوه ډيره په زړه پورې سيمه وه.اود توتوشاتوت زردالو، انارو انځيرو اوشفتالو ډيري ونې پکې وي خواوس يې نوم او نخښه نه ده پاتې شوې دجګړې په بهير کې فصلونه تباه.شوي وو اويا پروخت چې نه وو راټول شوي ټول توېې شوي او خوساشوي وو.

روسانو دسيمي کاريزونه اوداوبولګولو سيستم هم له منځه وړی و تر څو افغان مجاهدين دوي ته په هغو کښتونو کې پټ نشي اوغلچکي حملې پرې ونکړي.

دغه وخت په فضا کې دماشينونو غږ اوچت شو او زيات شمير کسان چې پګړۍ يې تړلي وي پرموټرسايکلونو سپاره راغلل دمنځنيو پيړيو هغه ړيرور خلك مې چې پر يا ما هاموټر سايکلونو سپاره وليدل داراته يوه نمونه اوعجيبه تجربه وه.بي اختياره مې وخندل، حامد يې له خايه راجګ شو اودهغوي له يوه پنډ سړي سره يې غيږه ورکړه

"رت ملا" وپيژانده چې تيره ورځ له موږ څخه بيل شوي و اواوس يې له خپلو ملګريو مجاهدينو سره راغلي و. پرموټر سايکل يوه اوبل لوري ته په تلو راتلو کې ډيره آسانتيا ده، روسي الوتکې يې هم زرنشي ليداي خوکه کومه لويه سپارلي وي نوډير په آساني يې نښه کولي شي.

رت ملا دموټر سايکل پر ار څښت خبري وکړي وي ويل:

چې کله دروسي ټانګونو په ډزو کې لږ څنډ راغلي موږ ټول ددې موټر سايکلونو پر شا سيټونو سپاره شوو اوله هغه ځايه راووتو په دښتو کې پرهغو موټرسايکلونو سپريدل اوپورته غورځيدل داسې ښکاريدل لکه دا چې پرکوم جنګ جوړي شوي ننداري وې او هرلوري ته له دوړو ډکې کندې وې ماتردې وړاندې په افغانستان کې داسې ننداره نه وه ليدلې.ما په رت ملا پسې په موټر سايکل ځان ښه ټينګ کړی و او پرلپسې مې چيغې وهلې: تاسو دخداي پرښتې ياست . تاسو دخداي پرښتي ياست، خو رت ملا پردې الفاظو نه پوهيده، موږ دواړه بې اختياره په خندا شو و.

په دې موده کې زما دسرپګړۍ رنګه شوه چې مخ مې پکې پټ شو، له ښه ډير مزله وروسته موږ دکندهار- هرات له لارې سره موازي روان وو په کومه سيمه کې چې موږ وو هغه بشپړه دمجاهدينو تر واک لاندې وه، آبې ګونبزې ته مخامخ چې دروسانوله بمبارۍ څخه روغه پاتې وه او اوس هلته دوی مرکز جوړ کړی ود سرك سره جوخت يې يو ديوال راتاو کړي و چې په هغو کې يې ويجاړ شوي موټر او ټانګونه راټول کړي وو چې دهغو ټول شميره ۸۲ و .پرسرك سفر له خطره خالي نه و.ځکه چې روسي هليکوپټرو هروخت موږ ليداي او نخښه

کولاي شوو ځکه خو موږ سرك پرېښود اوداناړو په باغونو کې دننه مو دمز له اراده وکړه ، چې یوځه خوندي لاره وه، بالاخره موږ هغه سیمې ته ورسیدو چې دافغان مجاهدینو اوروسي پوځونو ترمنځ سخته جګړه پکې شوي وه او اوس بلکل له خلکوتشه وه اویوازي جنګیالي مجاهدین پکې پاتې وو ،موږ چې په کومه چوکۍ کې هستوګنه غوره کوله هغه یوه کورته ورته و چې مخې ته یې و ړوکي بڼ هم و چې سره اوارغواني ګلان پکې غوړېدلي وو ددغه مرکز دقوماندان نوم" بورجان "و هغوي دروسي پراشوټ څخه د دستر خوان کار اخیست اوشین چاى او ځه ایشیدلي خواړه یې په مخ کې راته کیښودل هغه پخوا دافغانستان په پوځ کې افسر و خواوس یې یوه دیني مدرسه اداره کوله دځپلو ملګریو ملا رباني اوعبدالرزاق سره یوځاي دجهاد له لیکو سره یو ځاي شو.

بورجان راته وویل:

موږ لومړی نوي (۹۰)کسان وو خواوس یوازې اته تنه ژوندي پاتي یو، دانه شم درته ویلي چې موږ له کومو کو مو مصیبتونو سره مخ شوي یو بورجان راته وویل چې موږ دمولوي محمدنبي محمدي په ګوند حرکت انقلاب اسلامي کې شامل شوو،ځکه چې په پوځي لحاظ په پیل کې دغه ګوندتر نورو ټولو ځواکمن و. په پیل کې له موږ سره یوازې څو دره یې ټوپك وو ،خو وروسته موډیري وسلي اوټوپکونه ونیول اودغه لړۍ پسې پر اخه شوه . موږ لومړني مجاهدین وو چې سنګرونه مو وکیندل اوله روسانو سره مومقابله وکړه ، ځکه چې دغه سیمه دچریکي جګړو لپاره مناسبه نه ده په ۱۹۸۲ کال دحرکت نه بیل شوو او دمولوي یونس خالص ګوند ته ورغلوچې ښې وسلې

اوجبه خانه تر لاسه کړو.

"دملا يانو جبهه" عبدالرزاق جوړه کړ ه. دا راز ماته بورجان وويل او زياته يي کړه:

هغه محلي قوماندانان په مختلفو برخو کې وګومارل چې دهمدغه هدف لپاره يي دنده ورسپارلې وه اوټول خرڅ پرڅ يي ده پرغاړه درلود، ترڅو چې اوس له موږ سره دوه زره مجاهدين دي چې په ارغنداب ،زابل او" ملاجت" کې يي جهاد ته دوام ورکړ ،ماله بورجان څخه دقوماندي داساسي بنيادونو په باب پوښتنه وکړه هغه په ځواب کې راته وويل چې زموږ سره مخابروي سيستم نه و قومانده مودليك په واسطه ورکوله که زموږ سره مخابري واي هم دښمنى ته به افشا وې اوموږ پرهغو قومانده نشواى ورکولى. په عام ډول موږ په ګډه پر دښمن حمله کوو.هر محلي قوماندان له ځانه سره پنځه يالس تنه راولي بيا دغنميت مال هم ټول په خپلو منځو نو کې ويشو، که څه جنجال اوجګړه راپيښه شي نومحلي سپين روبي اوياعلما يي دځايي دستور او رواج سره سم حل کوي.

خوکه هغه هم ناکام شي بياځانګړي اسلامي محکمه ورته جوړېږي اومعامله ورته وړاندي کيږي. ددغې ځانګړې محکمې مشر يو مولوي صاحب دي.

يوشى چې ماهلته احساس کړل داوو چې هغه خلك ټول له پاکستان څخه خوشاله نه وو، په تيره له هغو ليډرانو څخه چې په پيښور کې وو ټول ناراضه وو ، دافغان مجاهدينو لپاره دمرستو زياته برخه دهغوى جيبونو ته لوېږي بورجان ويل چې په کويټه کې زموږ دټپي مجاهدينو لپاره يوازې دوه روغتونونه دي چې موږ په دوو

ورځو کې هلته رسیږو خو په پېښورکې بیا په سلګونو داسې روغتونونه شته.

دبورجان په وینادوی دافغان اولس اوښاریانو ملاتړ هم تر شادرلود. پردي سرېیره هم د دوي مجاهدین له لوږې او تندې سره لاس اوګرېوان وو. دهغه په قول یوځل شوروي پوځونو ډېري درنې ډزي اوبمباري کوله او موږ یې په منځ کې را ایسار کړي وو تر دري اونیو پورې موږ یوازي انګور خوړل او ګوزاره مو پري کوله خواوس چې وچه ډوډۍ پاتي شې موږ یې دسختو ورځو لپاره ساتو دتیر کال دیخنۍ په موسم کې تر ۱۸۲ ورځو پورې کلابند وو چې همدغه وچه ډوډۍ موخوراك وه او ژوند مو پري کاوه.

دبورجان په دغه مرکز کې یوه اونۍ پاتي شوو. ماته له چوکۍ نه دوتلو اوښاوخوا ته ګرځېدو هیڅ اجازه نه وه ځکه چې پردي یې پوهولي وم چې ملایانو دمرکز لپاره به داډېر خجالت اورسوایي خبره وي چې که نور جهادي مرکزونه خبر شول چې موږ دلته یوه لویدیځواله نجلي ته راوستلی ده.

که دا ووایم مبالغه به نه وي چې دوي پر دي خبره د روسي پوځونو له حملي څخه زیاته اندیښنه اوویره درلوده ،زما ناڅاپه له خپلي پګړي سره کرکه پیدا شوه چې په ډېرتوند اوګرم لمرکي به مي پرسر درنه شوه او وېښتان به یې په خولو کې راته لاندې خیشته کړل .خوزه مجبور ه وم چې تل یې پرسرکړم اوهمدا راته امر شوي و. هغوي به تل راته ویل:

په یاد لره چې ته یوکندهاری زلمی یې زه په دې جمله کې پر پټو هغو ټولو خطرونو پوهیدم چې دیوه کندهاري ځوان کیدو په صورت

کې ورسره لاس اوګریوان کېدم.

ځکه چې په افغانستان غونډي هیواد کې داکومه غیر معمولي خبره نه کڼل کېده یو ماسپښین دموټر سایکل غږ اوچت شو.

معلومه شوه چې دراغلي سړي نوم احسان الله دي اودپوپلزیو دقوم څخه و. هلته ټولو هغه ته خان اویا آغا خان کاکا ویل. هغه تندي تر یو کړ ماته یي وکتل ویې ویل.

زه دصالح محمد خان زوي یم چې په ۱۹۵۶ م کې یي دښځو دآزادي پرخلاف مظاهره کړي وه اودسمینار تالار نه علاوه یې یو دنجونو ښوونځۍ هم سوځولی وو.

دخپل پلار دپاي په باب یي راته وویل:

کمونستانو هغه ونیو ولایت ته یې یوړ. پر سړیي په ډېرو وویشت اوویي واژه. دبورجان په مرکز کې چې یوه اوني پاتي شوم ماهیځ کار نه درلود. ځکه خو به دمرکز وړوکي باغ ته ولاړم اوخپل ورځني یادښتونه مي لیکل اوزما ښي اوکیڼ لوري ته به کولی او توغندي اوریدل چې دبورجان کسان به دخپلو وسلو دپاکولو او دېزو دننه ویښتانو دصفا کولو اویا دګلانوله سیل څخه وزګار وو مایه ورسره روغبړ کاوه په هغوی کې چې څوك لوستي وو زیا تره به یې قرآن تلاوت کاوه دتیر ځل په څیر ماداخل هیڅوك هم دتر یاکو په څکولو ونه لیدل.

خودنصوارو اچول عام وو. ماته یی یو کلاشنکوف لرونکی ساتونکی هم راکړي و چې نولس کلن ساده زلمکی و اوعبدالواسع نومیده .کله به چې زه دغسل په خونه کې وم هغه به یي پردروازه پهره کوله. ماته یې هلته یوه بستره هم راکړې وه چې ډیر دخوند خوبونه

مي پري کول، خو وروسته راته معلومه شوه چې په کومه بستره زه خواره خوبونه غوروم هغه يي دمرميو پر صندوق غوړولې ده.

رت ملا چيرته کومه مرغۍ نيولې وه هغه يي په تارترلې وه او په بڼ کې يي خوشي کړي وه چې هر وخت به يي ټوپونه وهل اولړ لړ به الوتله. کله کله به مستواقغانانو له يو بل سره شرطونه وهل چې مرغۍ به تر کومه ځايه ټوپ ووهي اوبيا به يي مرغۍ ته نژدې په کلاشينکوف ډزې وکړې.

يوه ورځ بورجان موږ ته وويل چې پرهوايي ډګر دحملې لپاره ځو او سهار وختي بايد روان شو، بيا هم چې تر ځو روانيدو ښه وخت تير شوي و. موږ ټول شل تنه وو چې پرموټر سايکلونو دهوايي ډګرپه لوري وخوځيدو. زه په رت ملا پسې سپره وم اوپرلپسې مي هڅه کوله چې توازن وساتم ځکه چې مادځان اوهغه تر منځ څه فاصله ساتله، که دهغه له بدن سره مي بدن لګيدلې واي ښايي هغه ناراضه شوي واي ،ډير ځايه زه هسې له غورځيدو بچ شوم بالاخره موږ بورجان مرکز پريښود اودجوارو دفصل په منځ کې تيريدو. هلته ښه فصلونه ډير ښه لګيدل ناڅاپه مي دکښتونو په منځ کې پريوه تراکتور سترګې ولګيدې چې چلوونکي يې مړه شوي و،مړيله تراکتور څخه را ځړيدلې وو اوسرې اوکولمې يي راوتلې وې.

او س موږ دشاه توتو له ونو څخه ډکې يوې سيمې ته رسيدلي وو موږ هلته په يوه لويه کنده کې چې د توتانو په څانګوکي پټه وه خپل موټر سايکلونه پريښودل او درت ملا په لاسوکې دقرآن کريم په سيوري کې په منډو منډو هغو خندقونو ته ورسيدوچې مجاهدينود ښار حلورو خواوو نه کيندلې وو. له هغه ځايه لږ وړاندې غونډۍ

ښکاریدلې چې له هغونه وړاندې هوايي ډګر و.

څو تنو مجاهدينو له کندې څخه وړاندې د ميزو د حوزولو په يوه برج کې مورچل ونيو او دهوايي ډګر په لوري يې ټرشندې ونوغزول چې هدف يې دکومې الوتکې او يا ټانکر له منځه وړل وو. خو زما په ګومان د فاصلې دزياتوالي له امله ددې امکان نه و.

دغه وخت مې يوه لويه کريږه واوريده او درت ملا په څيره کې دانديښنې اوچوړ تونو کرښې جوړې شوې هغه زه پرځمکه وغورځولم اوخپل دروند بدن يې راباندې واچاوه اويته يې کړم. دغو نديو له شانه دوه روسي ټانکونه رابښکاره سول اوزموږ په لور وړاندې راتلل. بيا يوه زوروره چاودنه وشوه چې دهغو ټانکونو دتوپ دګولۍ وه. دسترګو په رپ کې زموږ شانه دانکورو دچولوهغه برج راولويد اوپرخاي يې يوازې دوړې او دو دونه پورته کيدل. له پاسه د ورو او خاورو باران پيل شو عبدالواسع زه تر مټ ونيولم اوپه کنده کې يوه خوندي ځاي ته يې بوتلم له څلورو لوريو څخه دټيپي مجاهدينو زګيروني اوکريږې اوريدل کيدې خوموږ له هغوی سره هيڅ مرسته نشوای کولی. ځکه چې له خندق څخه دسر پورته کولو معنا مرګ وه.

تر دوو ورځو پورې پرلپسې موږ په دې خندقونو کې ايسار وو روسي ټانکونو دبيرته تلو هيڅ اراده نه درلوده. دټپيانو دزګيرويو اوچيغوغږونه نورنه راتلل اوڅلورولوريو ته ويروونکې چوپتياخپره وه.

موږ د خوراک څښاک لپاره هيڅ نه درلودل. ماته مې خپله ژبه پنده غوندې ښکاريده په خندق کې خړې اوبه ولاړې وې. خينې کسانو په لپو لپو وڅښلې. د اوبو پر مخ مړو مچانو لابو وهله لږ خنډ وروسته ما هم

هغه خرې اوبه وڅښلې چې دخاورو خوند پکې و. ما ته په اسلام آباد کې د یوه برتانوي ډپلومات نصیحت را یاد شو چې ویلې یې وو:

تاسو چې د هرڅه لپاره افغانستان ته ځئ نو خپل ګیلاس درسره یوسئ که نه یوه ناروغي به مخامخا در پورې ونښلي.

لږ خند وروسته "رټ ملا" په خوښۍ په خپلو لاسو کې څه شی راوښودل دا په هغو ځمو کې چونګانې "کني کبر" و. ما چې ولید چیغه مې له خولې ووته خوده په مزه په خوله کړ او د هډوکو کړ چار یې اوچت شو چې ویې ژووه او په مزه مزه یې وخوړ دا مې چې ولیدل هغو نورو هم له خړو اوبو څخه نور چنګاښونه راوایستل او ویې ژوول ځکه چې ټول له دوو ورځو راپه دې ځوا وږي وو.

بالاخره دوهمه ورځ ټانګونه ولاړل. ځکه چې هغوی ګومان کاوه چې موږ ټول مړه شوي یو. موږ په ښوییدو او رغړیدو د شاه توتو تر ونو لاندې خپلو موټر سایکلونوته ورسیدو او چې مرکز ته ورسیدو ښه په مړه خیټه مو خوراک او څښاک وکړ او شین چای مو ور پسې وڅښه.

ما راډیو روښانه کړه او لږ خند وروسته مې د بي بي سي نړیوال سرویس ته ستن برابره کړه.

لویې ارمسټر انګ پخپل درانه غږ اناونس ورکاوه چې What the wonderful world? "وټ دی ونډ رفل ورلډ".

موږ چې څه ځنډ وړاندې له کومې پیښې نه بیرته ورګرځیدلي وو، دا د هغو شیبو څخه یوه وه چې انسان یې هیڅکله نشي هیرولئ ما چې خان بیا ژوندی لیده ډیره خوښه وم په همدې احساس کې مې له عبدالواسع نه وپوښتل چې آیا کله ویریدلئ یې؟ هغه په نه! سر وخوځاوه او ویې ویل:

دا زمونږ د کورنۍ لپاره ډېره د بې عزتۍ خبره ده له ویرې چې څوك وتښتي د مسلمانانو دستور دا دی، چې دهغه مړئ نه ښخوي، هغه به رسوا او له جنته محروم وي:

هغه شپه زمونږ له رخصتیدو نه مخکې وروستۍ د شپې ډوډۍ وه، مونږ د غوښې پولاو وخوړ او له کاشوغې پرته مو په لاسو وخوړ، سبا ته پاکستان ته له تلو مخکې مې ولیدل چې هغه د باغ مرغۍ ورکه شوې وه.

زه چې د جګړې د راپوړونو تیارولو لپاره څومره خلې افغانستان ته تللې یم، هر ځل پردې ښه پوهیدلې یم، چې هلته ډیرې ربښتینۍ کیسې شته ما ته دا ربښتیانۍ کیسې په ورو ورو ټوټو په لاس راتلې، بشپړ تصویر یې یو ځل په لاس نه راتلو ما به په پیښور کې دغه وړې ټوټې سره نښلولې چې هلته به د خوراك او هر ډول عیاشۍ لپاره هر څه ډیر وو، خو چې زه به بیا پیښور ته ستنه شوم، او هر څه به راورسیدل د یو ډول ځوروونکې تشې احساس به مې کاوه چې د دې تشې د لرې کولو لپاره به مې بیا دننه تلو لپاره تیارې کاوه په دې ډول د جګړې د چاپیریال د واقعیتونو موندل ماته یوه نشه غوندې شول او ډیره کلکه د دې نشې عادي شوم.

زما د دغه کیفیت نه چې خبر شوي و، یوه عمر خوړلي ژورنالست په نصیحت راته وویل چې دا د بهرني ایډیټر او ژورنالست اصلي دنده نه ده، چې ځان په داسې خطرونو کې وغورځوي ما یې چې خبره واوریده ومې خندل او د قاچاقي ودګا سره مې ورته نصیحت هم تر ستونې تیر کړل مونږ په ودکاته " ګوربا چوف" ویل او چې کله به مو نشه زیاته شوه بیا به په نیمه شپه کې د پرل کانټینینټال د لامبو حوض

ته ورولوېدو د هوټل چارواکي به له غوسې نه غومبېدل او لکه مار اوښتل به آیا دا ورکي حقیقت و. چې د شلېدلیو جامو او پلاستیکي بوټونو خاوندانو مجاهدینو په مار کول توپکو د روسي پوځونو ټانکونو او الوتکو ته په وار وار ماته ورکړې وه؟

دا واقعیت و. او په رښتیا چې ډېر لوړ و.

خو دا هرڅه د جلال آباد د جګړې نه وړاندې خبرې دي.

د جلال اباد خبره بیله وه، هغه مهال ۱۹۸۹ کال په مارچ کې روسانو له افغانستان څخه خپل پوځونه بشپړ ایستلي وو، پر مجاهدینو چې ډېر کلونه یې چریکي جګړې کړې وې د افشارو چې اوس باید جلال آباد ونیسي او دا ثابته کړي چې هغه ساتلی شي

یوه امریکا یې دیپلومات په خپل اونیز بریفنک کې ویلي وو. چې اوس هغه مهال راسیدلی دی. چې یا کب ونیول شي او یا د چنګ تارغوږ کړای شي او موږ پوهیږو چې جګړه به لا دوام وکړي او کابل باید ونیول شي

خو تر کابل د غرونو دیوال را چار پیروی او نیول یې آسانه نه دي. ځکه خو د شاهي کورنۍ د ژمي پلازمینه " جلال اباد" غوره شو. ځکه چې د پاکستان له سرحد څخه ۵۸ میله لرې پروت دی. او د وسلو او باروتو وررسول آسانه دي. په پېښور کې نور هیڅ خبره پټه او راز نه وه، د هرډول اوازو او پروپاګند په منځ کې پر اصلي خبره ټول پوهیدل چې د پوځي پاکستانۍ چارواکو پر سشوره کار روان دئ. ځکه خو موږ ژورنالستانو هر یو غوښتل چې تر بل مخکې ځان جلال آباد ته ورسوي.

زه یو ماښام په اسلام آباد کې وم چې ټیلیفون راغی چې " معامله تیاره ده" ما سمدستي خپل د مجاهدینو جامې کمیس او پرتوګ

واغوستل پوتاشیم پرمنگنیټ می له خاورو سره ګډ کړل او پر خپل پوستکي مې وموښل چې غنم رنګې شم. ویښتان مې په پکول کې پټ کړل او دا نوشال "پټو" مې واغوست او تلو ته تیاره شوم.

تر دې وخته ما د "وار جنګیز کلب" د غړیتوب ټول شرطونه پوره کړي وو. او غړیتوب مې یې تر لاسه کړی و. زما سره امریکا یي پوځي خالدار جاکټ هم و، یوه وړ وکې غوټه هم را سره وه او په سوزوکې وړوکې موټر کې کیناستم د اوښانو او پر وسلو بار لاریو موټرونو کې مې لاره وایستله او د پیښور په لور روانه شوم تر څو له هغو چیریکانو سره ملګرې شم چې د یو ځایي سفر لپاره مې ورسره خبره کړې وه. خو هغوي دا بد خبر را واوراوه چې آی اس آی لاره تړلې ده. او کوم خبریال ته دننه تلو اجازه نه ورکوي

قوماندان زما دوست و. هغه دې خطر ته هم تیار و چې په قاچاقي ډول مې له سرحده واړوي. زه سمدستي له هغوي سره د جیپ په شاتنۍ برخه کې کیناستم او د تورخم په لور وخوځیدو د خیبر تر درې پورې نرۍ غرنۍ ۲۵ میله لاره وه چې ځای ځای د خیبر د ملیشو ښنګونه او بیرغونه لګیدلي وو. چې برتانوي تاریخ ښه ترې خبر دی

غرونه شاړ وو، خو ډیر لوړ نه وو. د غرونو په اوږو او ډډه په تیره شوی له خطرونو ډکه لاره سفر راته له کیفه ډك او زړه وړونکي و، ماته په برتانوي تاریخ کې لیکل شوی هغه ناکام سفرونه را په یاد شول چې په ۱۸۳۹ م کال پیل شوي وو. انګریزی پوځ په لومړی یرغل کې تر دې ځایه پر مختګ کړی و، او په ۱۸۴۲ کې مې ناکام شوي و. په ۱۸۷۸ م کال بیا وړاندې شول، چې بیا یې هم ماته وخوړه هغوي هر ځل یوازې له دغې درې څخه د تیرویدو سل سل تنه پوځیان له لاسه ورکړل دغه

دره له همغه وخته تر ننه د ويني تويونكي افريدي قوم په واك كې ده چي په قاچاق او بي اعتمادۍ كې مشهور دي. هغوي انګريزي پوځ ته زيات تاوان رسولی دی " د انګريزي قوم له دې خبرياليې څخه دا پوښتنه کيدای شي. چې برتانيي د کوم سپيڅلي هدف په خاطر پر افغانستان حمله کړي وه، چې افريدي اولس بايد د دوي د هيلو په تول پوره ختلی وای؟" (ژباړن)

دانګريزي مړيو قبرونه اوس په دره کي په يوه څوکه کې د يوه چومات تر څنګ دي.

تورخم ته نژدې د آی ايس آی زيات پوځيان وو.

يو افسر شاته راغی او د لاسي څراغ په رڼا کې يې موږ ته وکتل ما خپل سر ښکته واچاوه او چي څومره ممکن و. مخ مې پټ کړی و. هغه پر دې بدګومانه شو او زه يې ورکش کړم له موټر څخه يې ښکته کړم راته ويې ويل:

ته مجاهد نه يې کومه برتانوی يې.

بس بيا زما ملګري مجاهدين له پولې واوښتل او ولاړل

زه يې د پوليسو په موټر کې بيرته پيښور ته را ورسولم. له ډيرې غوسې په اور کې سوځيدم.

جلا ل آباد ته د تلو هڅه مې ناکامه شوه چې ډيره يې وځورولم، خو چې په پيښور کې مې دا وليدل چې که زه ولاړه نه شوم نور خبريالان هم نه دي تللي لږ بيرته آرامه شوم. مشهورو خبريالانو د هوټل په دهليزونو کې قدم واهه له ترجمانانو سره يې کپ شپ کاوه او هغوي ته بې د ډالرو بندلونه ورښکاره کول آی اس آی مجاهدينو ته صفا ويلي

وو. چې که له کوم چا سره خبریال پیدا شو نو دوه زره ډالره به جریمه کړای شي ځکه خو خبریالانو هم د تلو له هڅو لاس واخیست.

خو ما داسې په آسانۍ ماته نه منله د شپې مې د څو تنو دوستانو سره اړیکې ټینګې کړې له هغوي څخه مې وغوښتل چې له سرحده د تیریدو څه لاره وسنجوي. اصل مساله دا وه چې زه زر هلته ورسیږم که نه پلې او یا له قاچاقبرانو سره پر خرو سپره د غرونو په لاره تګ راته آسانه و.

خو په هغوی ډیره ناوخته کیده.

ما ته خپل دوست اعظم را په یاد شو چې څو امبولانسونه ورسره وو. او له افغانستان څخه به یې ټپیان پکې راوړل ما په یوه موټر کې پټ سفر کولای شوای هغه دې خطر ته ځان چمتو کړ. د موټر د منځه یې یو سیټ لرې کړ. زه یې په هغه تش ځای کې کینولم هغه زما پر سرکمپلې انبار کړې او پر هغو د پاسه یې د دواګانو کارتنونه کیښودل.موږ سهار وختي روان شوو. د دوی امبولانسونو په کار ون کې زه په وروستي امبولانس کې پټه شوې وم. له پیښور څخه د خیبر درې په لاره تر تورخمه په دووساعتونو کې ورسیدو چې کله مې د دروازو د پرانستل کیدو غږ واورید ساه مې ونیوه موږ ته یې لاره راکړه یوازې وروستی موټر یې سر سري ولیده زه چې تر کومو کمپلو لاندې پټه شوې وم، په هغو یې میکروب وژونکي دوا هم پاشلې وه، چې بد بوی یې زما بدن ته سرایت کاوه. ځکه خو چې زه د ورځې په رڼا کې په افغانستان کې له امبولانس څخه راښکته شوم د هغو دوا اغیزې مې په بدن کې وې.

د امبولانسونو دریوران د خپل پلان پر کامیابۍ ډېر خوښ وو او په خندایي ږانه ویل:

د قاچاق د مخنیوي چارواکي مو څنګه تیر ایستل؟

له سرحده چې تیر شوو زموږ اندیښنه لرې شوه.

زه د سپین غره په غرونو اولمنو کې د صنوبر او څېړیو په وړمو کې خوماره وم. او تر ډېره حده یې د میکروب وژونکې دوا بد بویې هم ورکه کړه.

موږ په یوه پراخ میدان کې ناست وو، چې په لومړني امبولانس کې راغلې یوه تنکۍ زلمی چې تعیم تومیده د نارنج ګل راکړ او ویې ویل:

مور مې ویل چې له جګړې څخه مخکې به د نارنج پر ګل مشاعرې کېدې او شاعرانو به د دې ګل د رنګ او بوی په ستاینه کې شعرونه ویل.

هغه ږانه وویل چې په روغتیا یې کمیټه کې کار کوي او غواړي په عمده ډګر کې پر مختګ وکړي.

د هغه پلار او مشر ورور په جګړه کې شهیدان شوي وو. څکه خو د خپلې مور او خویندو نفقه او پالنه د ده پر اوږو وه.

خو د زړه هیله یې دا ده چې مجاهد شي.

ما ته د هغه په خبرو کې غیر معمولي څه نه ښکاریدل څکه چې په دې خاوره کې د مجاهد کېدو لپاره په دزجنونو سببونه شته دي.

له دې خایه د نارنجو او سنترو باغونه لرې وو. خو ما بیا هم د افغانستان د ښارونو او باغونو وړمې بویولی شوای د ډاکتر ویلیم برایډن مشهور روغني تصویر مې په یاد و. چې پر خپل ستومانه آس نیم ژواندی خوږند د کلا دروازې ته راړسیدلی و. هغه په ۱۸۴۲ کال د

کابل څخه د راتښتيدونکي ۱۶۰۰۰ کسيز پوځ يو تن و، چې يوازې ژوندی پاتې شوی و، "۱" دی. ډاکټر برايډن د اکبر خان په امر ژوندی پريښودل شوی و. اکبرخان " وزير محمد اکبر خان" د پخواني واکمن دوست محمد خان زوی و، چې هغه انګريزانو له واکه لرې کړی و. ډاکتر برايډن په خپل راپور کې د دې عامې وژنې ډيره دردوونکې انځور ګري کړې ده او ليکلی يې دي چې د دوی په کاروان کې انګريزي افسران او هغوی بال بچ په تنګو او واورينو درو کې د افغانانو په ډزو کې ووژل شول. د وژل شويو کسانو شمير دومره زيات و، چې کله يو کال وروسته د هغوی د بدل لپاره انګريزی پوځ پر کابل يرغل کاوه په لته بند کې په تنګو دروکې موټرونه د مړيو په ککريو او هډوکو تيريدل.

دغو درو ډير مرګونه ليدلي دي، زه په يوه څوکه ناسته وم او له لرې مې د الوتکو غړمبهار او د ټانکونو او توغنديو دربهار اوريده او په فضا کې مې د دودونو لوخړې هم ليدې چې پورته کيدې او خپريدې زما بدن له هيجان او احساساتو څخه ميږي ميږي شو زه به کله کله له داسې حالت سره مخ کيدم او ورسره آشنا وم.

موږ تر لږ خنډه په غازي آباد کې د مجاهدينو په هغو خامو کوټو کې ايسار شوو چې له جلال آباده شل ميله لرې وې يو يو ګيلاس شين چای مو له ګوړې سره وخوړ، په سلګونو ځوانان چې کلاشينکوفونه يې په غاړو کې وو. او سترګې يې تورې کړې وې، جګړې ته د تلو په انتظار ګرځيدل راګرځيدل. هغوی چا نوسوار اچولي وو او چا افيم او تمباکو ژوول او په بيا به يې په زوره پر ځمکه تو کړل

له جبهې څخه ښه خبرونه نه راتلل یوه ورځ وړاندې مجاهدینو د ښار په جنوب ختیځ کې په ثمر خیلو کې د دولت ډیرې مور چې نیولې وي، چی په هغو کې د ثمر خیلو ۱۱ مه فرقه چې خطرناکه فرقه وه هم شامله وه. دا ټول ځایونه دوي د اټکل پر خلاف په اسانی نیولي وو، د مجاهدینو د یوه قوماندان په وینا چې موږ ور ورسیدو دوي وتښتیدل.

څومره چې دجګړې دایره دجلال آباد ترهوایي ډګر پورې پراخیدله له کابل څخه ډیره زیاته مرسته ورته راورسیده دافغان حکومت هوایي ځواك چې امریکایانو له کاره لویدلې اوفلج باله، دروسانوله تلو وروسته اوس پخپله افغاني پیلوټانو په ډیر مهارت اوزړورتیا د مجاهدینو پرخلاف بمباري کوله اودا ډیره د اندیښنې خبره وه ، زموږ تر نظر لاندې د دودونو غونډې پورته کیدې دبمرنو اوګولیو دچاودنو غږ ونه هم را تلل زما دامبولانس طبي رضا کار شیرعلي په امبولانس کې پرتی کولی راپورته کړې اوویې ویل: تیر ځل چې موږ راغلو دغه ګولی موپرامبولانس ولګیدې. هغه دامبولاس دشاپر دروازه دګولیو دلګیدو داغونه هم راوښودل هغه له خنده راسي چوپ اوپه فکر کې و کله چې موږ دکابل پر سیند له یوه پله څخه تیر یدو ناځاپه دالوتکې دروند غږ اوچت شو چې شیبه پرشیبه رانژدې کیده یوه بمبارد جیټ الوتکه ډیره ټیټه زموږ پرسر تیره شوه ، زموږ امبولانس په یوه جټکه بریك وواهه موږ ټول ترې راښکته شو ه و او په یوه شیله کې پټ پریوتو داسې ښکاریده چې دوخت حرکت تم شو زما زړه دومره په زور درزیده چې بهرمې هیڅ غږ نه اوریده . هغه مهال مادځان دژوند لپاره دعاګانې کولې همدغه شیبه یوه ډیره زوروره چاودنه وشوه اوزموږ شاوخوا ګردونه او دوړې پورته شوې څلور و خواو ته دیوالونه

لوټه لوټه شوي وو ،هغه جيټ الوتکه تيره شوي وه څوشيبې چوپه چوپتيا خپره شوه په دې کې يو هر ځايي سپي په ژړا انګولا راورسيد .
اوبيا ناڅاپه له فضا څخه دکلستر بمونو باران شو. دهغو بمونو له چاودني سره پرځمکه دتورو دودونو وريځې شوي اوداسې ښکاريدلې چې زموږ پرلوري راځي دودونه چې لږ کم شول نوګورم چې دمخامخ پر سرك ولاړو دريو امبولانسونه نو له يوه څخه داور نارنجي لمبې پورته کيږي په څو شيبو کې امبولانس له يوي زوروري چاودني سره ذره ذره شو، زما په ګومان چې په دې امبولانس کې يو تن هم ژوندي پاتي نشو، زما غوږ تر شا په ويښتانو کې هغه ګلاب ګل اوس هم و چې يوساعت مخکې نعيم راکړي و .زه وويريدم خودومره ډيره هم نه هغه وخت مې دايوه خبره په ذهن کې وه چې په يوه لاره محاذ ته ځان ورسوم خوچي پاتي امبولانسونو بيرته پاکستان ته دتلو اراده وکړه زما په ذهن کې ډول ډول شکونه راپيدا شول . شيرعلي دامبولانسونو دبيرته راګرځولو جواز وړاندې کړ راته ويې ويل:
وضعه ډيره خطرناکه ده . موږ بايد ټول ستا دساتنې پام کړو که نه عظيم به ډير خپه شي.
ما اعتراض وکړ ومې ويل:
مګر تاسو خوامبولانسونه بيرته درسره بيايئ! تاسو خود تېپيانو دراوړو لپاره تر ټولو خطرناکوځايونو ته تلای شي خودوي زما خبري ته هيڅ غوږ ونه نيو اوپه ډيره بيړه موبيرته د پاکستان په لور مزل پيل کړ، خو په امبولانس کې دډير بحث اوجنجال نه وروسته دوي پردې راضي شول چې مادمجاهدينو په کوم مرکز کې کوزه کړي . هلته ما هر يوه ته دازاري پيل کړې چې دمجاهدينو لومړي محاذ ته مي

ورسوي په دي جريان کې درحيم وردګ ترقوماندي لاندې يوګروپ
هغه مرکز ته راورسيد چې ماله هغه سره له پخوا پيژند ګلوي درلوده،
دغه کسان دي ته راضي شول چې ماورسره بوزې ، زموږ لومړي پړاو
ثمر خيل و چې هلته يو دولتي غونډ مجاهدينو نيولي و په غونډ کې
پوځي افسرانو خپله ډوډي پرميزونو نيمګړي پريښې وه او تښتيدلي
وو ،دجواروپه پټيو کې دماتو نانځکو په څېر ډير مړي شوټ بوټ پړمخي
پراته وو ، ديوه مړي ترځنګ دکوپون سور رنګي کارت پروت وچې
ماراپور ته کړ دجګړې غږ شيبه په شيبه رانژدي کيده.
هوايي ډګرته نژدې موږ دمهاجرينو يوه ډله وليده چې پرخروسپاره
اوپلي روان وو.دهغوي شمير زرګونو تنو ته رسيده چې زياتره يې
ښځې اوماشومان وو اوخپل بچ کړی سامان يې په ګنډو اوغوټو کي
ورسره را اخيستي و، دډيرو پربدنونو ويني را ماتي وې او ډير سخت
ټپيان اونيم ژواندي کسان يې په لاسی ګاډيو کې ورسره اخيستي وو.
دې ننداره داصلي پيښو څخه پرده پورته کوله. دمغلي دوران يوښار
چې يو وخت دمانيو اوباغونو پرښار مشهور و اوس يې دوه لکه
اوسيدونکي دافغان مجاهدينو دتوغنديو اود افغان حکومت دبمباريو
اوبمونو څخه دځان ژغورني په هڅو کې سرګردانه وو.
زما د دوست قوماندان عبدالحق په څير نور قوماندانان هم له دې
جګړې سره مخالف وو او هغوی دهمدغسې وضعې دراتلو په باب
پخوا اټکل کړي و ،څکه خود څو ورځو په ترڅ کې ترلس زرو تنو پورې
ووژل شول چې ددې جګړې په دوران کې په يوه ځاي دوژل شويو
کسانو داتر ټولو لوی شمير دي .ما دغه ټوله وضعه اوپيښې په خپلي
ديادښتونو کتابچي کي بيله ناغې ليکلي . زما سره ډيره لويه کيسه

وه چې نږۍ ته يې واوروم. خوربږه داوه چې افغان مهاجرين کومه غربي نجلي وويني سمدستي فکر کوي چې دا ډاکټره ده ځکه خود سرك پرغاړو دپرتوخلکو په منځ کې راګيره شوم.

يوه ښځه پرته وه اودخپلي وړوکي لورپرحال يې ژړل. دهغې دلور عمر به ښايې اوه کاله و زه چې ورنژدې شوم ښځې دنجلۍ له بدن څخه يو ټوکرلرې کړ.

. ياخدايه! ماچې دنجلۍ دغه وضعه وليده وويريدم.

ددغې کم عمره ماشومې خيته سورۍ شوې وه اوکولمې يې بهر ته راوتلي وي ،په دغه بوږ نوونکې حالت کې ما له نجلۍ څخه سترګې واړولي اوله مورنه مې يې وپوښتل:

پردې څه شوي دي؟

موريې ځواب راکړ:

داداوبو راوړو لپاره تللې وه چې يو توغندی راغی اوپرې ولګيد بيا يې په زاريو ته ورته لهجه زياته کړه:

مهرباني وکړه دادې په جيب کې پيښورته درسره بوځه، که دلته مړه شوه زه به دا غم ونه زغملی شم اوزاره چاودي به شم ،پلار يې پخوا وژل شوي دې ورور يې دوی ورځې راسې له جنګه نه دی راغلی موږ مور اولور دلته يوازې پاتې يو.

دخدای لپاره پرموږ ورحميږه ، مرسته راسره وکړه.

مادغه ټولي خبرې په خپله کتابچه کې وليکلي اومخکې تيره شوم ،ماغوښتل دجګړې ميدان ته ولاړه شم خود داحقيقت مې هيرکړې و چې جګړه خو زموږ څلورو خواو ته روانه وه هغې ښځې زه دکميس ترلستوڼي ونيولم ،په فضا کې تونده خوشبوي خپره وه خودا دنارنج

ګلانو دغوټیو نه وه بلکي دهغو زیړو اوارغواني ګلانووه چې نرګس ورته وایي اوهلته نژدي راپور ته شوي وو. اودپیښور په بازار ونو کې زیاتره پلورل کیږي، دنرګس دې ګلانو دهیلواوپسرلي پیغامونه راوړي وو.

هغي مور یو ځل بیا له مانه هیله وکړه:

دهغي نوم لیلي دي که ته وغواړي مرسته راسره کولي شي.

ماله شله ګي په ډکه لهجه ورته وویل:

افوس چې زه مرسته درسره نشم کولی ځکه چې زه ډاکتره نه یم ،بیا په پجیرو جیپ کې له هغو مجاهدینو سره کیناستم چې له ځنډه یي په ډیره بي صبري زما انتظار کاوه.

مور له هغه ځایه روان شوو دټپي ماشومي، مور په حیراني مور ته کتل اوپه وار وار یي دمرستي لپاره لاس راته پورته کاوه خو همالته رانه پاتي شوه.اوټري ولاړو ،دهغي ښځې تصویر زما دذهن پر هنداره نقش پاتي شویدی اوکله کله په عجیبو اوحیرانوونکیو حالتونوکې په یاد راشي.

دمثال په توګه په راك فیلر مرکز کې دنصب شوي کرسمس وني لاندي ناڅاپه یوه ځوانه نجلي وینم چې په واورو کې سکي لوبه کوي سریي شالوري ته خم شوي وي اوشني سترګي یي ځلیږي اومور یي تیزه راڅرخوي.

په هرصورت ډیر زرموږ پردي وپوهیدو چې هلته کوم منظم دجګړي محاذ نشته، بلکي نامنظمي ډلي وي چې هره یوه دځپل ژوند دژغورلو لپاره دبلی دوینو تږي وه هر لوري پربل په تورونو لګولویوخت و ، قوماندانانو ویل چې دوي خونه غوښتل چې جګړه وشي ځکه چې دوي نه دداسي جبهه یي جنګ لپاره وسله درلوده اونه

يي دداسي جنګ لپاره ضروري زده کړه اوروزنه درلوده.

جنرال ضياء الحق دامريکا دکانګرس له غړي چارلي ولسن سره داژمنه کړي وه چي دکرسمس په جشن کې به جلال اباد هغه ته په تحفه کې ورکوي. چارلي ولسن به پيښورته ډير تلو راتلو اودکمونستي شوروي اتحاد په وړاندې دجګړي له لوبولوبانو څخه و . خو ديوې فضايي پيښې په سبب جنرال ضياالحق ووژل شو ځکه خودژمنې دتر سره کولو په باب پرهغه اوس څه ذمه واري نه وه په کابل کې روسي سفير يوري وارنتسوف څومياشتي وروسته ماته وويل چې پر جلال اباد چې افغانانو څومره ګولي او باروت استعمال کړل دا ستالين ګراد په جګړه کې له استعمال شويو باروتو اوګوليو څخه څلور چنده زيات وو، ځکه چې دجرمني او روسي پوځونو پرخلاف افغانانو ته داوسلې اوباروت مفت په لاس ورتلل ځکه خوېي داسې په خلاص مټ وکارول.

په دغسې وضعه کې موږ ډير په احتياط وړاندې تلو، هره شيبه داخطر موجود و چې موږ چيرته دځپلو کسانودګوليو نخښه نه شو، زه ناڅاپه وپوهيدم چې زما ترڅنګ ناست مجاهد ډير وير يدلی دی.

هغه په ځير بهر څوك څارل چې ماېې نظر تعقيب کړ نو دا آي اس آي هغه ډګروال مي وليد چې په پيښور کې مې پيژانده ،رحيم وردګ چې هغه وليد په غوسه شو اودهغه لوري ته ورنژدې شو څه يي ورته وويل اوبيرته راغی

دآي اس آي دغه افسر ماته يوڅه وارخطا او ويريدلی ښکاره شو ځکه مي له رحيم وردګ نه وپوښتل چې دې دګروال ته دی څه وويل: هغه راته ويل:

ماهغه ته وويل چې تاسو تراوسه هيڅ جګړه نه ده ګټلې اوس

په کوم جرئت دلته راغلی يې داسې چاته قومانده ورکوې چې تراوسه يې هيڅ جګړه نه ده بايللې؟

په هرصورت ډيرې ورځې وروسته ماته دا معلومه شوه چې اسامه بن لادن هم په هغه جګړه کې شريك و. اوهغه دمجاهدينو اوبې ګناه ښاريانو په دغسې بې دريغه مرګ ژوبله ډير خپه اووځوريده اوپردې يې فکر وکړ چې په دغه جګړه کې دامريکا يانو دسيسې وې چې دپاکستانيانو په لاس يې عملي کړې ترڅو دجهاد سپيڅلي تصور بدنام کړي.

زما تجربه خو داده چې دجګړې هيڅ اړخ هم ښکلی نه شي کيدای ، بلکې دابه ووايم چې دې غونډې بد شکله شی تراوسه مانه دی ليدلی چې زه يې هم په ځينو داسې کړو مجبوره کړې يم چې ډير بدوو.

دجګړې اصلي کيسه اوحقيقي داستان له ډزو اوجګړو سره هيڅ نيغې اړيکي نه لري ،بلکې اصلي اړيکي يې له هغو خلکو سره دي چې ترې اغيزمن شوي دی. دا دنعيم اوليلي غونډي بې مرستندويه اوبې کسه خلکو کيسه ده دادهغو لونړ، زامنو، ميندو اوپلرونو داستان دي چې په دې جګړه کې ووژل شول ،معيوب شول اويا ديتيمي او يسيرې پرژوند تيرولو اړشول.

زه پوهيږم چې هغه وړوکې بې ګناه ښکلي نجلۍ به ژوندی نه وي پاتې شوې ځوکه پام وشي زه هم دهغو مجرم يم ځکه چې پرې مې ښوده چې مړه شي اودهغې وضعه مې ليدله.

زه پردی هم پوهيدم چې زه چې هرڅومره لرې ولاړه شم دغه پيښې به مې په ذهن کې ژوندۍ پاتې وي اوهيرې به مې نه شي.

زه به داهرڅه هیڅکله هم هیرنکړای شم، تردې وروسته زه بیا افغانستان ته نه ولاړم نړی. افغانستان استعمال کړ اوبیا یې هیرکړ.
دنړی دې هیرولو ماته هم یوه پلمه اوجوازپیدا کړ اوس، زه هم په دې ګومان وم چې آیا په رښتیا مې افغانستان هیر کړی دی.

# حقانیه دارلعلوم

پرنړیوال سوداګري مرکز دتر هرګري یرغل نه یوه اونۍ وروسته زه دکویټي دستهلایټ تاون دیوه کور په مخه کې ولاړ ه وم.

داد حامد کرزي کور و، نړیوالي وضعي ښودله چې افغانستان یوځل بیا دجګړې په غیږ کې راښکیل کیدونکي دی بیا هم زه دراتلونکیو ورځو څخه هیڅ نه ویریدم ، یوازې پردې خپه اواندیښمنه وم چې دماضي شریدلي مړي به یو ځل بیا رالوڅیږي تردې مهاله دیوې جنګي ژورنالیستې په توګه زما ۱۴ کاله تیرشوي وو. اوزه له دې حقیقت سره پوره آشنا شوي وم چې جنجالونو ته له لرې ګوري نوډیرخطرناك ښکاري. مادحامد دکور زنګ وواهه دهغه دکور رنګ ګلابي ته ورته نارنجي دی چې څلورو لوریو ته یې لوړ لوړ دیوالونه دریدلي وو ،کلاشینکوف لرونکي قبایلي پهره داران پرې دریدلي وو ،حامدکرزي اوس دپوپلزي قبیلې سردار و چې پرطالبانو برسیره دالقاعده خلکو هم هغه تر ټولو لوي دښمن باله دسپتمبر د ۱۱ مې پیښو نه دوه کاله مخکې د ۱۹۹۹ کال دجولاي په ۱۴ مه دحامد کرزي پلار دخپل کور شاته پرسرك ووژل شو هغه پریوه موټر سایکل سپور هغه مهال ووژه چې دماښام له لمانځه وروسته له جومات نه راستون شوی و اوله کوم ګاونډي سره په خبرو اترو بوخت و.

دجلال اباد له سفر وروسته زه بیا افغانستان ته نه وم تللي

خوحامد کرزی مې په پاکستان کې څو ځله لیدلی و.

ځکه چې هلته ډېرو مزبوت پوځ په لاس دیو ه نه یوه صدراعظم دعزل کیدو په مهال زه دخپلې ملکي دندي اومسئوولیتونو دترسره کولو لپاره هلته تللي اوراغلي یم. له حامد کرزي سره به مې په لیدو کې په افغانستان کې دتیروشویو شپو ورځو یادونه راسپړل هغه شیبې به مویادولې چې خړې اوبه به موڅښلې اوپه ختو کې به موچینجي لټول ،موږ به ددې یادونو په تازه کولو بې اختیاره په خندا شوو.

حامد کرزي به نورو کسانو ته چې دغه کیسي کولي نوډیر به خوښ و، په ځانګړي ډول به یې ماته اشاره وکړه اووبه یې ویل چې دي هم په جهاد کې برخه اخیستي ده ،دجلا ل آباد دسختي حملي له ناکامي نه درې کاله وروسته بالاخره په ۱۹۹۲ کال کې کمونیست حکومت رانسکور شو.

دمجاهدینو په حکومت کې یې حامد کرزي ته دبهرنیو چارو وزارت دمرستیال دنده ورکړه خوهغه زر له وضعې نه زړه توری شو. جهادي مشران یوله بل سره لاس اوګریوان شول ،دګلبدین حکمتیار اواحمد شاه مسعود دپوځونو ترمنځ په جګړه کې ۱۹۹۳ میلادي دمي په میاشت کې حامد کرزي له خپلې دندي څخه استعفي وکړه په ۱۹۹۵ م کې یو ماښام په اسلام اباد کې دشپې د ډوډۍ پرمهال حامد راته وویل چې غواړم څه درته ووایم ستاخو به هغه دطالبانو جبهه په یاد وي که نه؟

ماپه هوکي سروته وخوځاوه.

- هوکي ! هماغه پرموټر سیکلونو سپاره ملایان اوس پرکندهار واکمني کوي.

زه حیرانه شوم ده ته مي وکتل.
حامد زیاته کړه:
هماغه د موټر سایکلونو خاوندان ملایان اوس طالبان شوي دي!
هغه زما حیراني نوره هم اضافه کړه ويي ویل:
ستا به په یا دوي هغه ځکه نیك خلك وو پردي سربیره وضعه دومره خرابه وه چې ته یې اټکل نشي کولي.
دشپې له ویده کیدو وروسته دا ډاډ نه و چې ژوندي به راجګ شم که نه ،ځکه خواوس ټولې هیلې په همدغو خلکو پورې تړل شویدي.
حامد کرزي نور تفصیلات راته وویل زیاته یي کړه چې دطالبانو دجبهې ټول مهم کسان اوس دحکومت دشورې غړي دي اوزه هم اوس له کویټې څخه کندهار ته تللي یم. هلته ددې خلکولپاره چندې اومرستې راټولوم.
افغان قوماندان بورجان چې موږ یي مرکز ته ورغللي وو اوس دطالبانو لوي پوځي قوماندان دی چې ملابورجان یادیږي چې دهلمند هرات، جلال آباد اوبالاخره کابل له نیولو وروسته اوس هغه دجنرال"رومل" لقب کټلی دی.
عبدالرزاق چې دهوایي ډګر دقاتل په نامه مشهور و اوس دملا بورجان مرستیال و اوپه کندهار کې دملاعمر دواکمنې شورې دغړي په توګه خپله دنده سرته رسوي ، ملامحمد رباني چې په ارغنداب کې یي دحامد کرزي ډیر تود هرکلي کړی و دملا عمر ښي مټ ګڼل کیده اود دوی دکابینې غړي هم و پردې سربیره په افغانستان کې دیوه ولایت دپوځ قوماندان هم و

ملااحسان الله احسان چې یووخت یې زما په لیدو ناخوښي وښودله اوپه ډېر ویاړیې راته ویلي وو چې پلار مي دښځو دآزادۍ ډېر توند مخالفت کړي و اویو دسینما تالار اودنجونو ښوونځي یې سوځولي وو هغه هم اوس دطالبانو د شورې غړی و. پردې سربیره رت ملا اوزما ځوان ساتونکی عبدالواسع هم دیوه یوه ګروپ قوماندانان ټاکل شوي وو.

تردې وخته پورې چا دطالبانو په باب زیات معلومات نه درلودل، خو وروسته چې څه ماته په لاس راغلل هغه ډېر داندیښنې وړ اوپریشانه کوونکي وو، په کندهارکې چې په ۱۹۹۴ اکتوبر کې طالبانو و نیو دنجونو ټول ښوونځي وتړل شول اوټولو ښځو ته یې امر وکړ چې دوی به هیڅ کار نه کوي اوتل به په کور کې اوسي.

په هرات کې هم طالبانو همدغسې اقدامات کړي وو، ددې ټولو حقایقو سره سره حامد کرزي دزړه له اخلاصه باور درلوده چې داټول اقدامات دنظم اوامن راوستلو لپاره کیږي چې وروسته به طالبان جلا وطنه پخوانی پاچا ظاهر شاه خامخا راوبولي هغه ماته داډ راکاوه اود ملایانو دجبهې په باب یې راته ویل چې له پخواني پاچا سره یې مینه ده. پردې سربیره حامدکرزي پنځوس زره ډالرهم هغوی ته ورکړل چې دپخواني پاچا زوم سردار عبدالولي د تورخم په سرحد کې له دوي سره خبرواترو ته راشي خوله حامدکرزي سره په اسلام آباد کې دشپې دډوډۍ پرمهال له لیدونه یوکال وروسته ملا بورجان اوملا رباني ډېر په مرموز ډول ووژل شول دهغوې دواړو دوژل کیدو په باب عامې آوازې داسې وې چې هغوي یې پردې له مخې لرې کړل چې له پاچا سره یې مینه درلوده.

په هرصورت بورجان هغه وخت ووژل شو چې پرکابل دوروستي برید په وخت کې دهغه ډاتسن پر یوه ماین وربرابر شو. په ۱۹۹۴ سپتمبر کې دکابل له نیولو وروسته ملا محمد رباني دشپږکسیزې شورا مشر وټاکل شو چې دکابل داداره کولو لپاره جوړه شوې وه ،خوناڅاپه ملا رباني هم ورك شو ، گومان کیږي چې هغه یې په بازار کې دتیریدو په وخت کې وواژه.

دملارباني دمړینې اوناروغي په باب رښتیا چې ډیرې آوازې وې ، خو هغه ناڅاپي ورك نه شو، په دی اړه ددې یادښتونو دلیکوالې معلومات ډیر سطحي دي.

ملارباني ظاهراً دهغي اوږدي ناروغي له امله مړشو چې څوځله یې پټ دتداوي لپاره سعودي او پاکستان ته هم ولاړ .ویل کیږي چې دسږیو په ناروغي اخته و خودهغه دناروغي په باب ډول ډول شکونه وو اوشته" ژباړن":

اوس ملاعبدالرزاق دملا لقب کتلی واو دادملا یانو دموترسایکل سپرو د گروپ یوازیني کس و چې ژوندي پاتې و او دطالبانو دشوري غړیتوب یې درلود ،هغه یې د هرات والي وټاکه او له همدي ځایه هغه دجنرال رشیددوستم پرخلاف لویدیځه جبهه پرانیسته په ۱۹۹۷ کال دمي په میاشت کې دمزار شریف په لور دپرمختک په وخت کې نوموړي دطالبانو قومانده پرغاړه درلوده اوتوئده جگړه پیښه شوه اوطالبان له مزار شریف څخه شاتگ ته اړشول اوهمدغه مهال ملا عبدالرزاق مړ شو.

"ملاعبدالزاق بندي شو چې بیرته بیا په مرموزه توگ

له بنده خلاص شو اوکندهار ته ورسید، نوموړي تراوسه پورې ژوندی دی "ژباړن"

مادخپل پخواني ساتونکي عبدالواسع په باب پوښتنه وکړه راته وویل شول چې دافغان پولیسو دیوه ګروپ مشرټاکل شویدی.

ملا احسان الله احسان یې دافغانستان بانك رئیس وټاکه چې پرهغو برسیره یې دیوه زرکسیز وسله وال ګروپ قومانده هم پرغاړه وه.

حامدکرزي له طالبانو څخه هم زړه توری شوی و اواوس یې دسختو مخالفینو له جملې څخه و، دده په وینا چې لومړي پرطالبانو آی اس آی غلبه وکړه چې وروسته ځینې نورعناصر هم له دوی سره لیدل کیدل چې زیاتره به چوپ وو.ماهغوي نه پیژندل خوداسې مې احساسوله چې داد اسامه بن لادن غونډي ترهه ګرو له خوا رااستول شوي وو اودابشپړ بدچاري خلك دي اوزما چې څومره توان و ددوی په باب مي نړۍ ته وویل.که کوم څوك په افغانستان کې دپیښیدونکیو حقایقو پرټولو لوړو اوژورو خبرو نوهغه حامد کرزی و. هغه پر هغو ټولو حقایقو اوپیښوخبر و چې دسوداګري مرکز دترهګري حملو سبب شوي.

دده د دروازې په مخه کې دمختلفو بوټونو اوڅپلیو کتارونو ګواهي ویله چې ډیرنور کسان هم په دې باور کې زما سره همنظره دي.

زه یې تاکاوي ته بوتلم چې هلته حامدکرزي دخپل قوم له مشرانو، قومانداانانو اویوه پخواني ښوونکي سره په غولي پلتي وهلې وې اوپه خبرو اترو بوخت وو.

هغه ماته سمدستي چای اوخواړه بادام راوغوښتل، تراوسه پورې

ماحامدکرزي ږیره خريیلي لیده خواوس دده په لیدو یوځه حیرانه شوم ځکه چې ږیره یي پرېښي وه چې نقره یي ویښتانو یي دعمر دډیروالي ګواهي ویله.

په داسې حال کې چې تراوسه پورې دده عمر ۴۴ کاله و، هغه راته وويل:

زه ډیر اندیښمن اوپریشانه یم ته نور هیڅکله هم له ماسره په تلیفون دخبرو هڅه مه کوه دهغه په لهجه کې خپګان او ګواښ و ... ځکه چې آی اس آی واله تل زما تیلفون کنترولوي بیایي په ډاډمنه لهجه وويل چې زما باور و چې یوه ورځ به دترهرګرۍ دغسي پیښي خامخا کیږي . که دوه کاله مخکي په لندن او واشنګتن کې خلکو زموږ خبري اوریدلي واي اوعمل یي پري کړي واي نودومره لوی ځاني زیان به نه و شوی هغه لاسونه په افسوس سره وموښل څوورځې وروسته هغه زه دشپې ډوډۍ ته ورو بللم.

داخل یي هم کور له خلکو ځخه ډك و. دقوم دمشر په حیث په ده زیات فشار و چې واده وکړي. ځکه یي تیر کال له یوي ډاکترې سره واده کړي و چې دده دمرحوم پلار دیوه دوست لوروه، دهغه مورهم له زوي اونږ ورسره اوسیدله، خودپښتنو دکورنیو رواياتو اورواجونو سره سم چې نجوني هرڅومره دزده کړي اوعلم خاونداني وي دنامحرمو خلکو مخې ته نه راځي، په هر صورت د ډوډي پروخت هغه چوپ اوپه چورتونو کې و ډیري خبرې یې ونکړې ماچې دابدلون ولید سمدستي یې پرحقیقت وپوهیدم اودده نوې راپورته شوې ږيرې ته مې اشاره وکړه ومې پوښتل:

ته دننه تلولپاره هڅه کوې؟

هغه مې دپوښتنې ځواب رانکړ، له خدای پاماني ځخه مخکې مې هغه ته وویل:

که ته دروغ ماهم درسره بوزه!

هغه په بې پروایۍ ځواب راکړ.

ښه ده ویه ګورو!

ددې ځواب مطلب یې داو چې نه!

مادده دهځولو لپاره وویل:

ګوره ! داخل به هم دتیرځل په څیر ډیره مزه وکړي.

خویه زړه کې مې پر دي باور درلود چې تیرې شوې شیبې هیڅکله بیا نه راګرځي .هغه ورځې به بیا هیڅکله هم را ستنې نشي ځکه چې داځل موږ له مختلف دښمن یعني طالبانو سره مقابل وو چې دژوند په باب یې نظر یه او طریقه له موږ سره ډیره بدله وه.

دوهمه ورځ دهوټل په استقبالیه کې ماته یو پیغام ورسید چې حامدکرزي ټیلفون راته کړي و، ځکه مې هغه ته تلیفون وکړ. دهغه سکرتر مالك، راته وویل چې هغه کراچي ته تللی دی چې هلته زموږ ورسره هیڅ اړیکي نشته. ځو ورځې وروسته مې بیا تلیفون وکړ. راته ویې ویل چې حامد کرزی په اسلام آباد کې دی هلته هم څه رابطه ورسره نشي کیداي، په هر صورت زه وپوهیدم چې مالك د دروغو ویلو سلیقه هم نه لري.

په همدې دوران کې مې واوریدل چې دعبدالحق په قومانده پوځي ګروپونه افغانستان ته دننه تللي دي. ترځوله طالبانو سره وجنګیږي اوس راته معلومه شوه چې کرزي چیرته تللی دی؟

مافکر کاوه چې کله زه له ملا یانو سره په موټر سایکل سپریدم

دجرم احساس می کاوه په داسې حال کې چې ماهغوی ښه خلك ګڼل نوله حامد سره به دغه احساس نورهم زیات وي.

تر دي وروسته په ستلایت فون زموږ تر منځ خبري وشوي ، هغه وخت دی دکندهار په شمال کې په ارزګان کې و چې دملاعمر پلرنی ځای دي.

په کویټه کې زما دنور اوسیدو لپاره هیڅ جواز نه و له کابل څخه راته دخپلې افغاني ملګرېي فاطمي دوهم لیك رارسیدلي و چې له لومړي لیك څخه یې ډیر غموونکي و.

خواوس زه پوهیدم چې پرافغانستان دامریکا د بمباری له پیلیدو سره به هغه ماته کوم لیك راونه لیږلی شي.

پرافغانستان دبمباریو له امله په کویټه کې بلواوې اوفسادونه پیل شول اوله طالبانو سره چې کومو خلکو خواخوږي درلوده بانکونه اوسینما ګاني یې سوځولې . هغوي پرهغه هوټل هم ډیرې واورولې چې دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه راغلې ژور نالستان او دملګرو ملتونو کارکوونکي پکې اوسیدل.

په جوماتونو کې ملایانو دامریکا یې اوانګریزي اوسیدونکو دوژلو فتواګاني ورکولې ،یو سهار چې راویښ شو و ، ګورو چې دهوټل پرپام دالوتکو ضد توپونه دریدلي دي اوځایي پولیسو موږ کلك را ایسار کړو چې باید له خپلو کوټو څخه راونه وزو.

ددې مطلب داو چې موږ ټول دننه کښینو اوپه سي ان ان CNN کې دپنتاګون له خوا اخیستل شوي دبمبارۍ فلمونه وویئو دهوټل تالار دآی اس آی له چاروا کو څخه ډك و اوکله کله به چې موږ دسرخطر ومانه او له هوټل څخه به یې دوتلو اجازه راکړه. بیا هم دی کسانو

هرځای موږ ځارلو اوراپسي به وو. څکه څو نور زموږ په منځ کې خبري اتري بې ماناشوي وي.

یوه ورځ دمهاجرینو په کمپ کې ماله یوې کونډې ښځې سره ولیدل چې یو ولس کلن زوی "عبدل" یې دحقانیه مدرسي زده کوونکې و. هغې ماته وویل چې له اته کلنې تر اوسه ماخپل زوي په سینه پورې نه دي نیولي او رانه بیل دي. په دې وخت کې یو خرګادې زموږ له مخي تیرشو چې شنې رنګې منې پکې انبار وې ، ما له دغې کونډې څخه وپوښتل:

عبدل دې مدرسي ته ولې واستاوه؟

هغې تازه منو ته اشاره وکړه ځواب یې راکړ:

زما څلوراولادونه دي چې تراوسه یې دمنو مزه نه ده څکلي، په مدرسه کې داوسیدو اوخوراك څښاك څه فیس نشته، دغسې دیني مدرسې دجهاد له پیل کیدو وروسته دزرګونو په شمیر په سرحدي سیمو کې جوړې شوي وې چې په خنجراب کې دعبدالرزاق مرکز یې یو پراخ شوې شکل و چې هلته دوړوکو اوږدو میزونو شاته زده کوونکو دقرآن ډله ئیز تلاوت کاوه اوپرې زنګیدل. بیله دې چې دقرآن ددې آیتونو پر مانا اومفهوم وپوهیږي.

دي ته یې دیني زده کړې ویلې خوله دې پرته د افغان مهاجرینو داولادونو دزده کړو اوروزنې بله کومه لاره اوبندوبست نه و دروسیې پرخلاف دجګړې لپاره چې په ملیاردونو ډالر له بهر څخه مرستي راتلې هغه دکتابونو پرځای دوسلو پر پیرلولګیدل.

په هرصورت حقانیه یوازې یوه دیني مدرسه ګڼل سهي نه دي. په عام ډول هغه دجهاد دپوهنتون په نامه تعبیریږي اوپوره نوم یې "حقانیه

ACKU

دارالعلوم" دي. چې دنورو ديني مدرسو په پرتله يې ډير شهرت ګټلی دی ،دطالبانو مشر ملامحمد عمر همدلته علم زده کړي دی چې د همدې مدرسې لخوا د" ملا" لقب ورکړای شوی دي.

ددغې ديني مدرسې دتعليمي راپور په کتاب کې په ډير و يارو ليکل شوي دي چې په افغانستان کې دطالبانو له تحريك سره ملګري کسان په سلو کې نوي ددې مدرسې شاګردان دي.

دپاکستان په سرحدي ايالت کې پرته دغه ديني مدرسه دطالبانو دهغو ټولو پاليسيو اصلي سرچينه ده چې دهغې په اړه ماته فاطمې مهدي په خپلو ليکونو کې يادونه کړې وه اوخليل حسيني د کويټې دهوټل په باغ کې دهغو لړزوونکي تفصيلات راته ويلي وو.

په هرصورت زه خبروم چې که کومه ورځ پردې د پوهيدو اړتيا راته پيدا شي چې هغه په موټر سايکلو نوسپريدونکي نيك خويه اودښه مزاج خاوندان ملايان ولې په هيبتناکو بلاو بدل شول چې دنوکانو درنکولو په ګناه دښځو نه ګوتې پرې کوي.

يادکاغذ پران غوندي بې ضرره لو به هم ډيره لويه ګناه ګڼي نوپردې مې باوردی چې ددې بدلونو د څرك لګولو لپاره زه بايد په حقانيه مدرسه کې شامله شم

زه چې يوه لويديځواله ښځه يم دا راته ډير ه ګرانه ده چې دنارينه و په داسې مدرسه کې شامله شم چې په هغو کې په پيل کې ماشومانو ته دادرس ورکوي چې له يوې نامسلماني نجلۍ سره خبرې اترې ستره ګناه ده چې سزا يې د دوزخ اوردې. دښځو په باب دحقانيې مدرسې دنظرياتو اټکل ددې مدرسې دتر جمان مولانا عديل صديقي له دې وينا څخه په آسانه کيدای شي چې نوموړي فرمايي:

مذهبي اوعصري علومو داثابته کړي چې نارينه په هراړخ کې برښځو برتري لري.

ماغوښتل حقانيه دارالعلوم ښه ووينم اوپردي هم زه پوهيدم چې داهرڅه بايد په چوپه خوله او په پټه وکړم. دمدرسې مشر سميع الحق يوپنستپال مولوي دي چې دملاعمر اواسامه بن لادن سره دنژدي اړيکو له امله يې دتر هه ګری پرخلاف دامريکا دجګړې په پلوي دپاکستان پرحکومت توندې نيوکې اواعتراضونه کول په داسې حال کې چې په يوه خاص مجلس کې هغه دامنلې وه چې دپاکستان حکومت ته له دې پرته بله لاره نه وه.

جمهور رئيس بش جنرال مشرف ته ويلي وو چې:

" يابه تاسو زموږ پرخلاف وی اويا به راسره ملګري"

په داسې وضعه کې که هغه دامريکا مخالفت کولی نوبرپاکستان به يېهم بريد کاوه، په هر صورت اوس پاکستان په دې جګړه کې له امريکا سره بشپړه ملګرتياکوله مولانا سميع الحق تر نظارت لاندي نيول شوي و اوهغه له لويديځو خبريالانو سره خبرې نشواې کولې خو بيا هم دپاکستان درواجي لارو سره سم هغه دخپل مرحوم پلار اودخپلو دوستانو دمرحومو پلرونو ترمنځ دوستانه اړيکي يې وکارولې ،څکه خوپه کومه ورځ چې هغه له نظربندی څخه خوشې شو ماته په يوه پيغام کې په اسلام آباد کې ديوه آپارتمان نخښه راکړل شوه ماته پردی تېنګار شوی و چې پوره دری نيمې بجې دانګلستان دوخت سره سم ځان ځاي ته ورسوم چې ددې مطلب داو چې زه بايد دوخت پابندي وکړم.

داسلام آباد په ليدو سمدستي سړي ته دا په خيال کې وروګرځي چې دايوه مصنوعي دارلخلافه ده چې دجوړولو امريي يوه پوځي جنرال

ورکړی دی اویوه یو نانی دودانیو ماهریې نقشه جوړه کړې ده.
ددې ښار ودانۍ سپین رنګې دی. دښارې فضا اوچاپیریال په خیر یې کوڅې اوسرکونه بې نومه پریښې دي اود نومونو پرځای یې پرعددونو اوتوریو پیژند نه کیږي چې له زیرو پوائنټ څخه پیل کیږي اویو پراخ اوسورورسرک دپارلمان تر مانۍ پورې تللی دی چې معمولاً دغه سرك ترلی وي.
زموږ لیدنه چې په کوم اپارتمان کې کیدونکې وه هغه دښار په یوه مخ خوړي برخه یعنې چې ۸سکټر کې و، زه هم له خپل ملګري دستدي تلیګراف له عکاس سره په تاکلي وخت ورسیدم ،سره اوسپنیزه جالي داره دروازه زموږ اوددې اپارتمان ترمنځ ولاړه وه. دروازې کوم زنګ نه درلود مونږ اوسپنیزه دروازه په زوره زوره وټکوله خوهیڅ خواب رانغی دروازه کولپ نه وه مونږ لږ انتظار وکړ بیا مې عکاس ملګري دروازه تیل وهله چې په نتیجه کې یې د دروازې شاته ایښې خبنتې وښوییدلې اوبیا تر تولو پاس خبنتې لاندې وغورځیدې موږ وویریدو اوهڅه مو وکړه چې لویدلې خبنتې بیرته راپورته کړو په دې کې یو جیپ راغې اومولانا سمیع الحق یکې تشریف راووړ. د جیپ دریور راکوز شو او د دروازې دپرانیستلو هڅه یې وکړه چې بیا په یوه درز تول دیوال له دروازې سره راپریوت ماسمدستي احساس کړه چې زه خودیوه داسې مولوي لیدو ته راغلی وم چې له لویدیځ سره سخت مخالف دی. داموڅه وکړل موږ خود هغه دکور دیوال وغورځاوه.
له ټیکه مرغه سمیع الحق داسې یو مولوي دی چې دټوکو مزاج لري خکه یې سمدستي په خندا کې وویل:
دلته خویهرني ترهه ګر رارسیدلي دي"

دهغه په نکریزو سره ډیره یوې اوبلې خوا ته زنګیدله.
اودتوزفریم واله عینکو لاندې یې سترګو خندل.
له لویدلي در وازې څخه چې تیریده وې ویل:
دمال تاوان خوهمدې ته وایې:
په ۱۹۸۰ یمه لسیزه کې دجنرال ضیاء الحق په وخت کې دسناغړی پاتې شوی دی، که څه هم دده عمر دري شپته کاله و خوآپارتمان یې ډیر بې تنبیه اوبې نظمه و کټ مټ لکه دیوه زده کوونکي کوټه دا یوه کوټه وه چې پرغولې یو پتنوس او څو چټل لوښي ایښي وو تر څنګ یې یو وړوکې تشناب هم و، ماته راپه یاد شول چې دهغه ځینې دشخصي ژوندانه پټ اړخونه هم ډیر مشهور شوي وو چې پرده تورونه لګیدلي وو، خودی هیڅ وارخطا نه و اویوه نارنجي رنګې پګړی یې پرسره اوپرلپسې یې ماته کټل بیا یې تر کټ لاندې دپپسي کولا بوتل چې دري برخي ډک و راواخیست اوپه ګیلاسونو کې یې تشاوه ویې ویل:
موږ پخواهم سره لیدلي دي.
ماته داخبره ډیره عجیبه ښکاره شوه چې یو داسې سړی چې حقانیه مدرسه چلوي اوداسامه بن لادن په وینا یې ټول امریکایان واجب القتل بللي دي اوس زموږ هرکلی په یوه مشهور امریکا یې شربت سره کوي ،خوپردغو خبرو اوس دفکر کولو وخت نه و نوماپریکړه وکړه چې له ده سره باید پر مطلب خبره وکړم اوهغه هم په پوره پام سره چې هغه دپپسي کولا ډک ګیلاس ماته راوړاندي کړ ما تري وپوښتل:
تاسو ته دطالبانو استاذ، لارښوونکی اومشر ویل کیږي ددې

مطلب څه دي، ته چې داهرڅه اوري څه احساسوي؟
مولانا سميع الحق ځواب راکړ ويي ويل :
هر استاذ پرخپلو شاګردانو وياړي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې هغوی دنړۍ لوی هيوادونه اوځواکونه سپکوي اوتحقيرې کوي اودهغوی په مخکې له سرټيټولو څخه انکار کوي طالبان خطر ناك خلك نه دي بلکې زه خووايم چې ددوی دسم پيژندلو هڅه نه ده شوي.
که چا طالبان په ريښتيني اواصلي بڼه پيژندل نوهغه سميع الحق و ،دطالبانو يو لوی شمير چې له نومونو سره يې حقاني تړلي وو دده له مدرسي څخه وتلي وو.لکه مولاناجلال الدين حقاني دطالبانو لوي قوماندان صدراعظم ، زياتره وزيران قاضيان، دکابل، کندهار او جلال اباد واليان ټول دحقانيه مدرسي څخه وتلي وو.
خومولانا ټينګار کاوه چې زه ددوي استاذيم خوقوماندان يي نه يم ،هغوی ډير وخت زما خبره هم نه مني، زه تل دانصيحت ورته کوم چې ډيره سخته رويه مه کوی بلکې نرمي کوی دساري په توګه ماهغوي دباميانو دبودا د مجسمې له ورانولو څخه هم منعه کړي وو خوهغوی زما ونه منله.
زما په ګومان مولانا سميع الحق دومره بنسټپال نه و، داخبره ټولو ته معلومه ده چې له ملاعمر سره دده منظمې اړيکې وي چې په ۱۹۹۶ م کال يي لومړي ځل ورسره وليدل اوهغه ته يي د حقانيي مدرسې افتخاري ډګر ي ورکړي وه ،ځکه چې ده هغه دري کلنه دوره نه وه پوره کړې چې د"ملا" دلقب لپاره ضروري وي مولانا اعتراف وکړ ويي ويل:
ملاعمر په شريعت اونورو اسلامي قوانينوکي تل له مانه مشوره

غوارۍ.زما ورسره په ټليفون اړيکې شته هغه ډېر نيك اوپرهيزګاره سړی دي. اوهيڅ ډول تشريفات اورواجونه يي نه خوښيږي. تل پرفرش کيني.

په واقعيت کې ماغوښتل پرهمدغه مسايلو [شريعت] اواسلامي احکامو په باب ورسره وغږيږم.

ماپه تفصيلي ډول دقرآن مجيد ترجمه لوستي وه.خوماهيڅکله هم داپکي ونه ليدل چې ليکل شوي وي چې شطرنج اويا کاغذ پران الوزول غير اسلامي لوبي دې څکه يې بايد منع کړي په قرآن کريم کې دښځو دحقوقو په اړه ډېر مثبت اوپرمختللي احکام شته چې دهغو له مخي نارينه اوښځي ته پخپله دروزي ګټلو اجازه ورکړل شويده.

"وګوري دقرآن کريم ۱۷ م سورت ۹۷ يم آيت اويا ۳۳ سورت ۳۵ ام آيت."

داسلام په پيل کې ښځې په ټولنه کې يو مهم اوښکاره مقام درلود چې دهغو له مخي يي دپوځونو دقيادت نه علاوه دهيواد په مشرتابه کې هم رول لوبولې دی . حضرت خديجې رضي الله عنها چې در سول الله صلى الله عليه وسلم ميرمن وه، دهغه پرذات ددې شخصيت ډيره ژوره اغيزه کړي وه ،څکه چې هغه نه يوازې په عمر کې ترې مشره وه بلکې تر ده شتمنه هم وه. له رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دواده هيله هم دې وکړه اودهغه صلي الله عليه وسلم دلوړو اهدافو دتر سره کيدو لپاره دې تل ورسره مرسته اوملګرتيا کړي وه زما ددې خبرو په اوريدو مولانا سميع الحق په طنزيه انداز خوپه ډير سکون اوآرامۍ موسکل اودخپلی خيرې له کرښو نه يي داښکاريده چې زه درسول الله داحکامو پرحقيقي مفهوم له پوهيدو څخه ناتوانه يم

خکه يي وويل:

اسلام هیڅکه داسې کوم کار نه دی منع کړی چې ټول انسانيت ته ګټور وي. که کاغذ پران الوزول يوازې دشوق اوسات تيرۍ لپاره واي هم نوسهي و خوله بده مرغه پردې هم جواري اوقمار وهل کيږي له بلې خوا داډيره خطرناکه اوداندیښنې وړلوبه ده خلك بامونو ته خيژي اوالوزوي يي چې په نتيجه کې يې رالويږي اوټپيان کيږي يا امکان لري مړه شي.

هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

شطرنج هم عموماً په شرطونو لګولووهل کيږي او کوم خاص هدف پکې نشته ترديه خوداغوره ده چې دوخت دتيرولو لپاره هم قرآن کريم مطالعه کړای شي.

دلته ده داسې اټکل کړه چې زه دده په خبرو کې ورلويږم اوغواړم څه ووايم. خکه يې سمدستي وويل: خوداسې لوبې چې يو هدف پکې وي او شرطونه نه پرې وهل کيږي هغه منع نه دي دساري په توګه طالبانو ګالف لوبه نه ده منع کړي. هغوي يو دکرکټ ټيم هم لري خوستونزه داده چې له پاکستان پرته څوك له دوي سره لوبوته چمتو نه دي.

تاسو انګريزان له زمبابوي سره لوبيدلای شی خو له طالبانو سره به هيڅکله هم کرکټ لوبه ونکړی.

- په هر صورت زه پردې خبره هيڅ پوهه نه شوم چې ګالف اوکرکټ با هدفه لوبې دي اوشطرنج بيا بې هدفه

بيا مې هم له هغه نه پوښتنه وکړه چې نجونې يې ولې ښوونځيو ته له تلو راايساري کړي دي؟

دایوازی دتیاری پړاودې ،ترڅو نجونوته دځانګړي تعلیم بندویست نه وي شوې دوی به په کورونو کې وي تر اوسه طالبانو د نارینه و لپاره دزده کړې نظام نه دی برابر کړی نودنجونو لپاره به چیرته برابر وي.

دچادري په نه اغوستلو طالبان ښځې ولې وهي؟

ددې پوښتنې له مطرح کولو سره سمدستي رایاد شول چې لومړی ځل مې له مولانا سمیع الحق سره څه وخت اوچیرته لیدلی وو.

داپه اسلام آباد کې یو ګډ محفل و چې دپاکستان ټول سرمشران اولیډران ورته راغلي وو، په دې محفل کې " جاني واکر" اوروسي " ودکا" داوبو په ځیر وبهیدل اوڅښل کیدل، په دي محفل کې شریکو ښاغلیو دپي آی اي دهوایي کربښي میلمه پالونجونوسره نڅاکوله اوترنیمي شپې پورې د ډوډوی او خوراك درك نه و ،څوك په سد نه وو، ټول له لوړې سخت بې سیکه شوي وو، په هرصورت مولانا سمیع الحق بیله ځنډه زما دپوښتنې په ځواب کې وویل:

اسلام ښځو ته د داسې جامو اغوستلو حکم کړی چې دبربنډتوب هیڅ اړخ ونه لري اودبدن هیڅ برخه يې ښکې ځرګنده اولوڅه نشي.په افغانستان کې دمولانا سمیع الحق اثر اونفوذ دطالبانو داحسان سبب نه و بلکې اصلي سبب یې په ۱۹۷۹ م کال دحقانیې مدرسې جوړول وو چې تر ټولو دمخه یې دروسي پوځونو پرخلاف دجهادفتوي ورکړه. دافغان مجاهدینو د اوو مهمو اومشهورو مشرانو څخه دوه تنه مرحوم مولوي محمد نبي محمّدي اومولوي یونس خالص دحقانیه مدرسي څخه فارغ شوي وو." دا دواړه ښاغلي دحقانیه مدرسي څخه نه دي فارغ شوي او ددې یادښتونو دلیکوالي معلومات په دي برخه کې

ناقص اویا پرغرض بنادي "ژباړن" چې دد وی جګړه مار ملګري وروسته بیا دطالبانو په بڼه راپورته شول. حقانیه مدرسه چې په عام ډول حقانیه دارالعلوم ورته وایي دپاکستان له منل شویو مدرسو څخه یوه ده څکه خوځواکمنو طالبانو ته په دې کې شاملیدل داسې وو لکه انګریزي زده کوونکیو ته په اکسفورډ او یاکمي برج پوهنتون کې شاملیدل.

دلویدیځ له بې عدالتیو څخه بیزاره اوناهیلي ځوان هلکان په یو لوي شمیر کې داهیله لري چې په حقانیه . مدرسه کې شامل شي.

مولانا سمیع الحق ویل:

پروسږ کال موږ ته دڅلور سوه تنو لپاره تر پنځو زرو زیات غوښتنلیکونه راغلل . دغه مهال د دوي په مدرسه کې دټولو طالبانو شمیر د دري زرو تنو په شاوخوا کې و چې عمرونه یې له پنځه څخه تر دیرش کلنو پورې وو. دهغه په وینا ددوی مدرسې ته دشامیدو لپاره دعمر هیڅ پابندي نشته ددې زده کوونکیو زیاتره پاکستاني اوافغانان دي دازبکستان ، تاجکستان اوچیچنیا هم یو شمیرزده کوونکي وو دحقانیې مدرسی دبرتانیې شیفلډ . برمنګهم اوبري له دیني مدرسو سره هم تړاو شته.

ماله مولانا سمیع الحق نه بیا وپوښتل:

آیا دا رښتیا ده چې دطالبانو دحرکت جوړوونکي ارګان ټول ستاسو له مدرسې څخه فارغ شویدي؟

په داسې حال کې چې یوه دویاړموسکا یې پرشونډو غوړیدلې وه ځواب یې راکړ:

هوکې اوپه اثبات یې سروخوځاوه.

له افغانستان څخه دروسي پوځونو له وتلو وروسته دکوم مرکزي حکومت هیڅ نخښه نه وه ،دمختلفو افغان ډلو ترمنځ خپلمنځي جګړې تودې و. په کندهار کې د بې قانوني اواخلاقي زوال حالت داسې حد ته رسیدلی و چې یوه افغان قوماندان له یوه ښکلي اوتنکي هلك سره واده وکړ اوهغه یې له ځانه سره په ټانګ سپور ګرځاوه اوخلکو ته به یې ښودلو چې دا زما ناوې ده. دا هغه کسان وو چې دجهاد سپیڅلې او دورند نوم یې رسوا اوبدنام کړ.

نوبه داسې حال کې زما طالبان څېرته چوپ اوغلي پاتې کیدای شوای؟

هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ وي ویل: په پیل کې ددې طالبانو شمیر ټول دیرش تنه و. دحکومت کومه تجربه یې هم نه درلوده ،آن تردې چې دوي کوم ځانګړې شهرت هم نه درلود. دوي دطالبانو په نامه پیژندل کیدل ګواکي داهغه دیني طالبان وو چې دبدماشانو اولوټمارانو دخپلو لپاره کوځو ته راوتلي وو له دوي سره موټر نه وو چې پکې سپاره شي ځکه یې په موټر سیکلونو باندې سفر کاوه دافغانستان پرنوي فیصده خاوره ددوي واکمني اوتسلط ددوي دزور اوځواك اغیزې اوپایلې نه وې بلکې برعکس افغان اولس داخلاقي فسادونو او جګړو څخه دومره بیزاره اوپه تنګ شوي وو چې څېرته دغه طالبان ولاړل ځایي خلکو هرکلي ورته ووایه اوخپلې ټولې وسلې یې دوي ته وسپارلې.

د۱۹۹۴ کال په اوړې دوکي هغه پخپله هم ددیني نوروعلماو اوپوهانو په ملګرتیا دپاکستان پرټولو دیني مدرسو وګرځیدل اوهلته په درسونو بوخت طالبان یې وهڅول چې ولاړشي اوله طالبانو سره

ملګري شي.

په لومړيو ورځو کې چې کله طالبان په سپين بولدك کې ددې سرحدي ښارګوټي دنيولو لپاره په جګړه بوخت وو نو ددوي مرستې ته چمن دعبدالغني مدرسي زده کوونکي هم ورغلل اوپه جګړه ور شريك شول ،عبدالغني دجمعيت العلماي اسلام دمشر تابه مرستيال و چې دپاکستان دلومړي صف ګوندونو څخه دی چې دطالبانو دراپورته کيدو پرمهال دبې نظيربوټو په مخلوط حکومت کې شامل وو اوغوښتل يې په ټول پاکستان کې دشريعت نظام نافذ وي. ددې مذهبي تنظيم ليډر مولانا فضل الرحمن هم چې هغه وخت په پارلمان کې دبهرنيو چارو دکميټي مشر و دحقانيه مدرسې څخه فارغ دي.

خودده اومولانا سميع الحق ترمنځ ځيني اختلافات راپورته شول چې بيا مولانا سميع الحق ددوي له ګونده بيل شو

اودجمعيت العملاي اسلام "سيمع الحق ګروپ" په نامه يې دخپل ګوند بنسټ کيښود ،خکه خوبه چې کله پرطاالبانو څه ستونزيی اومصيبت راغی لکه په ۱۹۹۷ کې په مزار شريف کې له ماتي وروسته چې ورسره مخامخ شول نو مولانا سميع الحق به دملا عمر په بوه تليفون خپله مدرسه وتړله اوټول زده کوونکي به يې هلته دطالبانو مرستې ته ورواستول، پردې سربيره مولانا سميع الحق پردې ټينګار کاوه چې زموږ په مدرسه کې دجګړي اونظامي زده کړو تعليم اوښوونه نشته ،اسلام دامن درس ورکوي تاسو به زموږ په مدرسه کې داسې څوك ونه ګوري چې وسله ولري.

زما داطالبان دوضعې نه مجبور شول اووسلې ته يې لاس کړخکه چې پرافغانستان پردې ځواکونه مسلط شوي وو دا بلکل داسې وو

لکه امریکا یي پوځونه چې ویتنام ته تللي وو اوویتنامي اولس ددوی پرخلاف مبارزې اومقاومت ته اړ شوي و هلته خوهیڅ کومه دیني اومذهبي مدرسه نه وه نودوی دغه وسله وال مقاومت ولې وکړ؟ که ته تاریخ ولولې نوداسي پیښي به ډیرې مخې ته درته راشي خکه خو دفرانسي له انقلاب څخه دچین تر انقلاب پورې به ته همدغسي وضعه وګورې اولس تل دظالمو واکمنو پر خلاف بغاوت کړی دی که دبرتانیې پرخیتې برخو کوم بهرني خواك تسلط وموميي نودبرتانوي حکومت غبرګون به څه وي؟ ښکاره ده چې تاسو به هغه وباسی او ورته راپورته به شي، توپیر یوازې دادي چې موږ پردي دجهاد نوم ږدو خوتاسو دآزادۍ جګړه ورته وایې.

تر څه خنده دجګړې په باب زموږ بحث اوخبرې اترې روانې وې ناڅاپه هغه پوښتنه وکړه چې آیا په ریښتیا له اسامه بن لادن سره هغه ضروري تکنالوژي اووسایل وو چې پرسوداګرۍ نړیوال مرکز دحملو لپاره ضروري اولازمي بلل کیږي؟

ماپه خواب کې ترې وپوښتل چې ددې خبرې څه ثبوت شته چې دغه حمله اسامه نه ده کړې؟ آیا له هغه سره تړول شواهد شته؟

ماپه زړه کې دا احساس کړه چې اوس به دې ددغه پیښې په باب همغه خبرې تکرارکړي چې پاکستان ته له راتلو راسې یې زه هر چیرته اورم چې ددې حملو اصلي مجرم اوس هم دامریکا په حکومت اوپنتاګون کې ناست دی. پرنړیوال سوداګرۍ مرکز دغه حملې یهودیانو کړې دي چې هدف یې دمسلمانانو بد نامول وو. ددې یوهدف دا و چې امریکا په دې سیمه کې خپلي پښې ښخي کړي.

په پاکستان کې درکشا له ډیورانو څخه نیولې د پوهنتون تر استاذانو پورې چې موږ له هر چا سره خبرې کړي دټولو متفقه خبره همدغه وه چې د۲۰۰۱ م دسپتمبر په ۱۱ مې څلور زره یهودیان په سوداګري مرکز کې خپلو دندو ته نه وو حاضر شوي.

چې دادهمدې خبرې ثبوت دی چې ددې پلان اصلي طراح ایرل شارون اواسرائیل وو ځکه چې له هغوي سره داویره وه چې دبوش د حکومت لخوا له دوي سره مناسبه مرسته نه کیږي .

خودمولانا سمیع الحق ځواب یوڅه تغیردرلود هغه وویل:

امریکا په افغانستان کې یو مزدور حکومت جوړول غواړي چې دچین مخالف وي ،هغه وویل چې دوي اونۍ پخوا ماله جنرال مشرف سره ولیدل ، زه ښه وپوهدم چې پر هغه دامریکا لخوا سخت فشار دی پردي سربیره پرهغه یو بل فشار هم دی هغه په هیڅ صورت دواك پریښودوته تیار نه دي ځکه جنرال پرویز سمدستي راته وویل چې موږ دهغه دوستي هم نشو زغملي ځکه چې له موږ سره یي تراوسه له وکې پرته څه نه دي کړي.

ترکومه چې د انګریزانو په باب خبره ده موږ پښتنو په تیرو درې پیړیو کې هغوې ته پخپله خاوره کې دپښونیټکولو موقع ورنکړه ، ځکه اوس دهغو بدل له موږ نه اخلي دهغه له خولې مې چې داسې خبرې واوریدې بې اختیاره خندا راغله.خونه مې غوښتل چې په اوږده بحث کې کیوزم.

ځکه چې غوښتل مې حقانیه مدرسه ووینم اوهمدغه مې له ده سره دلیدو اوخبرو اصلي هدف و ،ځکه خو چې کله ماده ته خپله دغه هیله څرګنده کړه چې غواړم هلته ولاړ ه شم نوویې ویل چې ښځو ته

هلته دتلو هیڅ اجازه نشته پردې سربیره زما طالبان لویدیځوال نه خوښوي ،هغه په عذر منه لهجه ماته ځواب راکړ :داسې چې دی پخپله هم پردې خبره نه پوهیده ،هلته هسې هم خلك راپاریدلي او په غوسه دي زه ویریږم چې پرتا به ډبري واوروي امکان لري ودې وژني.

ماپه ځواب کې ورته وویل چې زه به چادري واغوندم چې دبدن هیڅ برخه مې ونه ښکاري په هرصورت زه هر خطر ته تیاره وم چې مولانا په خندا شو وي ویل:

تاسو دوې ورځې وروسته په مدرسه کې زما کورته راشي.

که وضعه آرامه وه اوتاسو هم وعده وکړه چې هلته به کومې کړکي یادروازي ته څه زیان نه رسوی نوزما زوی راشد به مدرسه دروښیي دمولانا دټوکوحس لاځپل ځرګونه راښودل.

په ټاکلي ورځ مي همغه عکاس جستن اویو ډریور راسره کړل اوداسلام آباد نه په لویه لاره دپیښور په لوروخوځیدو .دادډیلي څخه کابل ته دتلونکې لویې لارې یوه برخه ده چې په تیرو پیړیو کې دډیرو حمله راوړونکیو فاتحانو دپلونوخاپونه پرې ثبت دي. سهار وختي ګلابي رنګه رڼا هرلوري ته خپریدله، دلمر وړانګو دریګونو وړې ذرې پرفصلونو کښتونو او دښتوخپرولې، هلته یوه وړوکي ماشوم سره خولي پرسرمیښې ځرولو ته خوځولې وي ،سهاروختي په فصلونو کې دامنظرې ماته دیوه په زړه پورې انځور په څیر ښکاریدلې چې کوم باکماله انځور ګرایستلي وي،دلوې سرك دواړو غاړو ته له اسلام آباد څخه دپیښور په لور وړاندي مادسروخښتو بټې اوداشونه هم لیدل چې هلته اوه کلن ماشومان هره ورځ څوارلس څوارلس ساعته کار کوي او یوازي دڅو روپیو په بدل کې خښتې تویوی اوپخوي.

چې کله کله دوی له دي لې اومعمولي اجورې څخه هم محروم کړای شي څکه چې پلرونو يې دوي دبتې پرخاوندانو پلورلي وي چې په ژوند کې دکومي مدرسي اوښوونځي مخ نشي ليدای ، چې زموږ موټر ديوې غرنۍ سيمې په گرځندي کې راوګرځيد ماناڅاپه دتازګی او خوښۍ احساس وکړ څکه چې زموږ سترګو ته هغه ,مخامخ پخوانۍ محراب و چې تر هغو تير شي دسيند دشنو اوبو په څنګ کې جوړه شوي داټك کلا پيليږي په بل لوري کې له ډېرو جوړه دمنارونو په منځ کې په يوه صحرايي تخته په غټو توريو ليکل شوي دي،"شمال لويديځ سرحدي ايالت ته په خير راغلي" تاسو د سرحدي ايالت په لويه دروازه ننوتلي ياست.

دلته چې افغانان راورسيږي تل وايي چې له دي ځايه دافغانستان سيمه پيليږي څکه چې په ۱۸۹۳ م کال کې کښل شوي دډيورند کرښه دوي نه مني چې دانګريزانو دواکمنۍ نخښه ده اوپه نتيجه کې يې دپښتنو پراخه پرګنې په دوو برخو وويشلې .دپښتنو دويشلو دغه کرښه دشاغلي مور تيمر ډيورنډ نامه ته منسوبه ده چې په برتانوي هند کې دبهرنيو چارو سکرتر و اودده تر څارنې لاندې سرحدي ويش عملي شو، ويل کيږي چې برتانوي حکومت له پيسو اوزورنه کار واخيست اودهغه مهال افغان واکمن عبدالرحمن خان يې دې کرښې منلو ته راضي کړ ،خوافغانان وايي چې دوی هيڅکله هم دغه ليکه دنړيوال سرحد په توګه نه ده منلې بلکې ددې اصل موخه يوازي دسيمو دحدودو ټاکل وو.

تر زرکيلو مترو زيات غځيدلي په سلګونو پښتنو اپريدي مومندو وزيرو اونورو قبايلو ويشونکی ډيورنډ کرښه يو داسې بريد دی چې

دوارو لوریوته ته دپښتنو قبایلو تګ راتګ پکې تول کال دوام لري، دسرحدي ایالت ددوروستي انګریز والي سراولف ګیر و په وینا ډیورنډ یوه داسې کرښه ده چې هیڅ لوري یې په مقابل کې بې ځایه مداخله نشي کولی.

انګریزانو چې پرپښتنو قبایلو بشپړ تسلط ونه موند لای شو اوناکام شول ، دډیورند کرښې د سرحد جوړولو څخه یې هدف داو چې دانګریزي واکمنۍ اوافغانستان ترمنځ دفارورد پالیسي ته په پام سره یوه داسې حایل سیمه جوړه کړي چې دهند تودو اوبوته دروسانو دراتلو مخنیوي وکړي ،ځکه خود دډیورنډ کرښې نه څه موده وروسته انګریزانو قبایلي سیمي اعلان کړې چې هلته پښتنو ته دا اجازه ورکړای شوه چې دیوه انګریزي پولتیکل ایجنټ تر څارنې لاندې دوي کولی شي خپل حکومت اونظم وچلوي دانګریزانو هماغه پالیسي ترننه پورې دوام لري په نقشه کې دپښتنو هغه برخې چې دډیورنډ کرښې جنوب لودیزې ته پرتې دي په سرکاري توګه دپاکستان په برخه کې دي خوپه حقیقت کې دغه قبایلي سیمې یاعلاقه غیر چې دڅټو څخه جوړوشو یو کلا ګانو، تنګو درو اولوړو غرونو کې راښکیل سیمه یوه داسې د"ترلیو دروازو" ساحه وه چې هلته هر پردی اونا آشنا سړی دښمن ګڼل کیږي اوپرکلا شنکوف برسیره دراکټ لانچر په څیر نویو وسلو استعمال ډیرعام دي ماپه وار وار دپښتنو له خولي اوریدلي دي چې له پنځه زره کلونو راسې پښتانه له ۱۴ سوه کلونو راسې مسلمان اوله تیرو پنځوس کلونو راسي پاکستاني یو حقیقت دادي چې ټول پښتانه ځانونه افغانان بولي اوبرالادپښتونستان ملاتړ کوي

چې مطلب يې تراټك پورې پراخ افغانستان دی چې دتاريخ يوه برخه دي

څرنګه چې د۱۸۹۳ م کال معاهده په ۱۹۹۳ کال خپله سل کلنه موده پوره کوله څکه پاکستان غوښتل په افغانستان کې داسې حکومت راشي چې دډيورنډ کرښه په رسميت وپيژني . تردي مخکې په ۱۹۸۹ م کال زه دافغانستان دپخواني پاچا ظاهر شاه د کورني له غړي همايون آصفي سره داټك پرپله راتيريدم هغه په پاريس کې ديوه وکيل په توګه بوخت و اودفتر يي دايلس ماني ته مخامخ و.

همايون آصفي يونيك خويه اومهربانه سړي دی چې دده د دواړو لاسونو دنوکانو صفايي اونفاست نن هم رايادېږي، هغه دخپل يوه آشنا اودافغانستان دملي بانك پخواني رئيس ډاکتر شمس سره جلال آباد ته تلوچې اروپاته تر تلو مخکې يوځل خپل پلرنې ښار ووينې ماهم ددوی دواړو سره يوځای سفر کاوه څويه جلال آباد کې جګړه روانه وه اومونږ هلته ونه رسيدلای شوای ، ډاکتر شمس چې د خپل کورلپاره په سرحدي سيمه کې کومي سنګترې پيرلې وې هغه ترخې اوتر وشې وې په هرصورت مونږچې دسندپردرياب جوړ داټك پرپله تيريدو اودخپل هدف په لور دتلو ټول اميدونه لا ژوند ي وو؟ ډاکتر آصفي وويل: دادافغانستان برخه ده يوه ورځ به راشي چې مونږ يې بيرته تر لاسه کړو ماچې داواوريدل ومې خندل خودآصفي پرڅيره دژورو فکرونو کرښې وې

داټك له پله نه چې تيرشوو دسنيد پرغاړه دمجنون بيد په ونوکې دمرغانو غاړو کې څه شيبه تم شوو، ماچې دسند آبي څپې په اټڼ

وليدلې دآصفي خبري مي په غوږ کې وکرنګيدې چې داټك دپله دپاسه یې په پوره جويت اوفکر راته کړې وې.

"دا دافغانستان برخه ده يوه ورځ به يې خامخا بيرته واخلو"

له لوي سکندر نه نيولي تر مغلي پاچا جلال الدين اکبر پورې ټول فاتحان له ديچ سينده تير شوي دي دخوهغه وختونه دلته داټك داوستي پله په ځير کوم پل نه و بلکې وړوکې کښتې به وې چې پل به يې ترې جوړ کړ اودسند له سينده به پورې وتل ځکه خوتر اوسه پورې دلته د مانو ګانو کلي شته دي.

تر دې لږ وړاندي دکابل سيند بهيږي چې اصلي سرچينه يې دهندوکش غردی چې له دې ځايه دوه سوه پنځوس کيلو متره لرې دکابل لويديځ ته بهيږي او دلته په اټك کې له سند سره ګډيږي خو ددوارو سيندونو اوبه يو له بل سره نه ګډيږي.

بلې غاړې ته چې وګورې داټك دکلا دشاندارو برجونو کرکې به وينې، دغه کلا اکبر پاچاد ۱۵۸۱ - ۱۵۸۶ کلونو ترمنځ هغه وخت جوړه کړه چې د کابل پر خلاف هغه داټك کلا دپوځي مرکز په حيث کاروله. اوس دغه کلا دپاکستان دپوځ په لاس کې ده چې دپوځي انقلاب نه وروسته عموماً سياسي بنديان پکې ساتل کيږي دپاکستان دپخوانی صدراعظمي بي نظير بوټو ميړه آصف زرداري پرخلاف دخيانت اودرغلۍ دوسيه هم دهمدې کلا په يوه ګوښه کې تر کار لاندې ده ، ديوه بل پخواني صدراعظم نوازشريف پرخلاف دغداری محاکمه هم په دې کلا کې روانه وه.

له اټك نه لږ مخکې دافغان کډوالو خيمې ښکاري اوس موږ داکوړي ختك ګرد جن ښارګوټي ته ننوتلي وو، دسرك پرپله غاړه

دحقانیه دارالعلوم ودانۍ تیت اوپرك صفا ښکاریدلي اودکومي بتي دلوړي غاړې په څير هغه سپين منار هم له لري ښکاريدو ،يوه عجيبه چوپتياوه ، دشمال غږ و چې لګيده، پر فضايو ډول ويره اوچوپتيا حاکمه وه ،داوسپنيزي دروازې تر شا ماڅه کسان وليدل چې پرکميس اوپرتوګ دپاسه يي پټوګان اغوستي وو چې له انګړڅخه به تيريدل اوله ستر ګو به پناه شول ،دشنه رنګي پلاستيك يوه کڅوړه اويوه دکاغذ ټوټه د ناراضي هوا پرغوسه ناکو څپروسپاره دلته هلته په ټوپونوو.

مامې دجامويه بکس کې دچادري دلټو لوهڅه وکړه خوچې سمدستي په لاس رانغله دامې غوره وبلله چې دسرويښتان مې په دسمال کې ښه پټ کړم او دمولانا سميع الحق کور ته ننوزم اوبيا مي پرهمدې عمل وکړاوکړندي دهغه دکور د درشل په لور ورغللو. له نيکه مرغه په دې ورځ هلته راپارلي ګڼه ګوڼه نه وه مولانا سميع الحق دکور مخې ته په يوه آرامه کرسۍ ناست و هغه يو نصواري رنګه داونو اوږدکوټ پراوړو اچولي و اودغه وخت يي راډيو اوريدله. څو تنه چې پګړۍ يي پرسر وې دهغه په شاوخوا راټول وو اومولاناښه په ترنګ کې و ،هغه چې موږ وليدو لاس يي اوچت کړ اوهرکلی يې راته ووايه اسامه ولاړ شه اودي بهرنيو ترهه ګرو ته چاى پيپسي اونورشيان راوړه چې زموږ دخيروکرښې يې وليدې نويه کړس کړس يې وخندل ويې ويل:

اسامه پنځلس کلن دي دازما زوي دی زه زياتره خپلوبهرنيو ميلمنو ته چې څه راغواړم دده په لاس يې راغواړم. زه چې پرده غږ وکړم بهرني ميلمانه مې يوه شيبه په حيرانۍ اوويره ورته وګوري په ځانګړي

توګه زما امریکا یي میلمانه چې له اسامه نه زیاته ویره لري زما پام و چي دامریکا یانو دویري په باب یی خبره کوله په هرتوري یي زور راوړ اوښه په خوندیی داجمله اداکړه ،اوس هغه بیرته درادیو په اوریدو بوخت شو له ورایه ښکاریده چې مولانا اوس وخت هیڅ ډول روغبړ اوخبرو اترو ته جوړ نه دی ځکه موږ چې خپل شربت وڅښل اودلرګو توتې ته ورته بسکټ موونغړل مادمولانا مشر زوی راشد ته وویل چې مدرسه راوښیي ، تر هرڅه لومړۍ هغوې موږ دکورشاته په مرمر ډبرو پوښل شوي یوه قبر ته وروستو، چې شاوخوا ته داوسپنې جنګله ترې راتاوشوي وه.

دقبرشاوخوا ته واښه اوبوټي خواره واره وو.

اوه ویشت کلن ځوان راشد راته وویل:

دازما دبا با شیخ الحدیث مولانا عبدالحق مرحوم قبر دی.

ده دحقانیه مدرسې بنسټ ایښې دی راشد دمولانا سمیع الحق د دوو میرمنو له اتو زامنوڅخه یودي ،راشد زیاته کړه.

ده دانګریزانو پرخلاف دآزادۍ په تحریك کې ډیره توده برخه اخیستي وه . هغه لکه چې موږ پرخپل علم خبرولو،ماته سمدستي دده له دې خبرې سر ه د مولانا سمیع الحق دغه خبره رایاده شوه چې:

جهاد دآزادي دغورځنګ یو شکل دي.

په هرصورت دهغه دمرحوم پلار له انګریزانو سره دومره کرکه وه چې خپل زوی ته یې دانګلیسي ژبې زده کولو اجازه نه ورکوله. ځکه خوچې ده کوم وخت دحقانیې مدرسې بنسټ ایښودلو نوویلي یې وو چې زموږ سره دومره پیسي او وسایل نشته چې دانګریزانو مقابله

پري وکړاي شو ،خودخوانانويو داسې نسل به وروزو چې زموږ خواك شي اوانګريزان زموږ له خاورې څخه وشړي.

دمزار تر څنګ يو وړوکي سپين رنګي جومات هم دی په ۱۹۴۷ کې دپاکستان دجوړيدو پرمهال مدرسه په همدې جومات کې وه چې يوازې ۱۲ تنه شاګردان پکې پر زده کړو بوخت وو ،مولانا عبدالحق د ديو بند د دارالعلوم په تقليد دمدرسې نوم حقانيه دارالعلوم ايښی و ځکه چې مولانا عبد الحق پخپله هم دهند دمشهور علمي مرکز "ديوبند دارالعلوم" څخه فارغ شوی و چې په هند کې د ديو بندي تحريك لومړنی مدرسه وه په ۱۸۶۷ کال هغو مسلمانو علماو اومشرانو دهغه بنسټ ايښی و چې په ۱۹۵۷ م کال کې يې دانګريزانو پرخلاف دآزادۍ په جګړه کې برخه اخيستې وه .هغه جګړه دانګريزي استعمار پرخلاف داولسي پاڅون په نامه شهرت لري . په هر صورت انګريزانو لس کاله وروسته دغه پاڅون ډير په کلکه وځپلو دآزادۍ په دغه جګړه کې هندوانو اوسيکانو هم برخه درلوده. خوانګريزانو يې ټول تور پرمسلمانانو پورې کړ او هغه ټولې ادارې يې کمې وې کړې چې په يوډول يې دپخوا نې مغلي حکومت سره تړاو درلود.

په ځانګړي ډول ټولي دزده کړې ادارې يې وتړلې همدغسې انګريزانو جوماتونه هم ترخپل کنترول لاندې راوستل چې په هغو کې د ډيلی مشهور جامع جومات هم شامل و، هلته انګريزانو خپل پوځي بار کونه جوړ کړل.

دمحکوميت اومجبوري په دغسې حالت کې زده کړه يوازينۍ داسې کيلي وه چې دهندوستان مسلمانان يې سره يو کولی شواي اوداسلامی ارځښتونودژوندي ساتنې اسباب يې برابر ول

،خودهندوستان لوي علما او سترپوهان په دې برخه کې په دوو ډلو وويشل شول، يوې ډلي دعلي ګړ اسلامي پوهنتون بنسټ کيښود. چې يوه پرمختګ خوښوونکي اداره وه اود اکسفورد

اوکيمبرج پوهنتونونو په څير جوړ شوي و. دلته به زده کوونکيو داردو اوانګريزي دزده کړي په بحثونو کې په منظم ډول برخه اخيسته.

ترکي خولی يي پرسر کولي اونکتايې به يي تړلې ، دکرکټ لوبي به يې هم کولي، دوهمې ډلې د ديوبند مدرسې بنياد کيښود چې نوي نسل ته داسلام له حقيقي روح سره سم مذهبي زده کړې ورو ښيي چې له ټولو لويديځو او هندوانه رسمونو څخه پاك وي.

دتيرو ديرش کلونو په بهيرکې دديوبند نظريات اومدرسې په جنوبي آسيا کې ډيرې خپرې شوي اوددېني زده کړو دنظام حيثيت يي خپل کړي ،دي ،په ځانګړي توګه په پاکستان کې چې دلته مور اوپلار غواړي خپل اولاد ته په کلکه ددېني زده کړو اوتعليم سپارښتنه کوي خو ددې اصلي اوبنسټيز سبب دمور اوپلار ددې هيلي پرخلاف دبشپړ حکومتي نظام ړنګيدل منطقي پايلي دي. په پاکستان کې بې سوادي ډيره ده اوپه ځلورو تنو کې يوازې يو تن ليك اولوست کولی شي ددې اصلي سبب دادي چې دپاکستان حکومت دخپل دولت دبودجې يوازې دوه فيصده دزده کړو اوتعليم لپاره ځانګړي کړي چې داپه نړۍ کې تر ټولو وړوکی رقم منل شوی دي.

ددې پرخلاف دپاکستان دبودجې ديرش فيصده په دفاعي چاور لګوي. جنګياليو اسلامي ګروپونو ترلويديځ څو ځله زيات دهوښيارۍ اوزيرکۍ څخه کار اخيستی راوړاندي شوې دي اودغه خلايي ډکه کړي ده چې په نتيجه کې دپاکستان ددېني مدرسو شمير له نهه سوه

ځخه زياتي شوي اوپه ۲۰۰۱ کال کې تر اتړزرو پورې رسيدلې دي.
په داسې حال کې چې غير رسمي ديني مدرسي هم په همدي شميردي اوکار کوي.

چې کله راشد مور دمدرسې اصل انګړ ته بيولونو په ځيره کې يي داندېښني آثار وو، هلته چې ورغلو ددغسې ديني مدرسو دمقبوليت پربل لوي سبب هم وپوهيدو راشد راته وويل:

داد زده کوونکيو ليليه ده ،زمور مخې ته يوه ځلور پوړه وداني وه چې پربام يي مينځل شوي جامي غوړيدلې وي ،يوه غريبه کورنۍ چې دخپلو اولادونو لپاره ددال اوډوډۍ په پيدا کولو کې سرګردانه وي هغه هم په کوم مهاجرکمپ کې.

دهغو لپاره ددې مدرسو ځخه غوره بل ځاي نشته چې دلته خولړ تر لړه ددوي اولادونو ته په مړه ګيډه ډوډۍ رسيږي اوتر چت لاندي يي بي غمه اوآرامه ويده کيداي شي.

ددغه په نامه ليليي دکوټو تودولو لپاره څه بندوبست نه و.

دکوټو پرخام اوچتل غولي نرئ پوزئ غوړيدلئ وو، خو داهر څه دمهاجرينو په کمپونو کې دولاړو خيمو له ژوندانه ځخه ډير ښه وو، پردي سربيره په دې ديني مدرسو کې له زده کړو وروسته دملا اويا مفتي کيدو چانسونه هم ډير وو چې دهغو په نتيجه کې دفتوي ورکولو صلاحيت ترلاسه کيږي، په يوه داسې هيواد کې چې ماشومان پلورل کيږي اودرانه کارونه پري کيږي پرهغو په ښځې کې ښځتې تورل کيږي او يادفوټبال توپونه پرې ګنډل کيږي، هلته به دغسې ديني مدرسې بيا هم غنيمت وي په دغو مدرسو کې دخوراك او اوسيدو بندو بست دشتمنو عربانو دصدقو او خيرات نه پوره کيږي ،خوملاتا

سمیع الحق په ټینګار دغه خبره رد کړه چې ده داسامه بن لادن څخه په دې لړ کې څه مرسته کله هم تر لاسه کړې نه ده، دې مدرسې ته زموږ له ورتګ څخه یوه ورځ مخکې جمهور رئیس جنرال مشرف په خپله یوه مرکه کې دغه دیني مدرسې وستایلې او هغه یې دنړۍ تر ټولو ستر رفاهي اومرستندوي تنظیمونه وبلل چې نژدې لس لکه بې وسه اوغریبو ماشومانو ته یې دزده کړو اوخوراك څښاك شرایط برابر کړي دي.

خوهغه حساسو تنکیو ځوانانو ته چې له خپلو کورنیو څخه شلیدلي وو اویا په جګړو کې یتیمان شوي وو اوبیا هلته په ژوند مجبور وو دا ورته ګران اویوځانګړی د ګوښی ژوند و چې دبهرني چاپیریال اوتازه هوا څخه بې برخي وو. دوي دسهار دلمانځه ادا کولو لپاره وختي په څلورو بجو راویښیدل ماهلته یوازې دوه پوسترونه ولیدل چې چسپیدلي وو چې په یویوه یې کوم حدیث لیکل شوي و په دوهم کې په سپینو جامو کې اسامه بن لادن و چې کلاشینکوف یې په لاس کې نیولي و.

له دي پرته ماددي لیلیي پرکوم دیوال دکوم مشهور سندرغاړي اویا دکوم ستریو سیستم موزیك کوم تصویر ونه لید په داسې حال کې چې هلته تر زده کړو لاندې دري زره زده کوونکیو دزیاترو عمرونه تر ۱۹ کلني هم ټیټ وو، په هغه ورځ هلته د زده کوونکیو شمیر ډیر لږ ښکاریدو راشد موږ ته وویل چې عموماً ددې مدرسې ټول ټولګي له زده کوونکیو ډك وي چې سپیني خولي یې پرسروي اودقرآن تلاوت کوي خوتیره ورځ له دې ځایه اوه سوه تنه طالبانو دفراغت سندونه واخیستل ، مولانا سمیع الحق دوي ته له شهادتنامو سره

هریوه ته یوه پګړۍ. هم ورکړه.تر ټولو زیات ستاینلیکونه هغو زده کوونکیو ته ورکړای شول چې ټول قرآن یې یاد کړي و. څکه خواوس زیاتره زده کوونکي یاپه رخصت تللي دي اویا افغانستان ته دجګړې لپاره تللي دي. په هر صورت په پوره باور هیڅ نشي ویل کیدای چې ته څه فکر کوې خوښه دي.

دا راشد په وضاحت کې راته وویل چې وړاندي تیر شوو اوپه یوه کونج کې راوګرځیدو ناڅاپه دوه کسان زموږ مخې ته راکوز شول هغوی خپلي دلاس ګوتې داسې موږ ته نیولي وي لکه په تومانچه موچي ولي هماغسي ولاړوو اواسامه اسامه چیغې یې وهلې چې څنګه یې پرموږ پسې راروان راشد سترګي ولګیدی چیغې یې بندې کړې او لاسونه یې ترملا شاته کړل اوغوښتل یې چې له هغه خایه ونښتي ماله راشد نه وپوښتل چې آیا زه له دې هلکانو سره خبري کولي شم؟ هغوي ډېرى ارڅانه او نرئ جامې اغوستې وې په پښو یې هغه پلاستیکي کلوشې وي چې دزیاترو مهاجرو هلکانو په پښو به لیدل کیږې دهغوي دوو هلکانو عمر تر یوولسو کلونو په هیڅصورت هم زیات نه و

ماله هغوي دواړو وپوښتل:

اسامه موولې خوښ دى؟

دلوږ قدخاوند هلك څواب راکړ:

هغه داسلام په پلوی له لویدیځ سره جګړه کوي

دوهم یې راته وویل:

هغه امریکا یان وژني.

ماتري وپوښتل:

تاسو چې ځوانان شي څه به درنه جوړېږي؟
دوارو په يوه خوله ځواب راکړ:
دسپيڅلي جګړي سرتيري به وو.
مااحساس کړه چې هغو هلکانو دمجاهد نوم ياد نه کړ مافکر وکړ چې د دومره کلونو کورنيو جګړو اوخپلمنځي جنجالونو خو به دمجاهد دنامه ارځښت کم کړي نه وي؟
تاسو ټوپك ويشتلي شي؟
دانو څه ګران کار دي؟
-که تاسو په جګړه کې ووژل شي نو مور به مو څه احساسوي؟
هغه وړوکي يي ښه په غور ځواب راکړ.
هغه چې وګوري موږ ته خداى دشهادت مرتبه راکړي نوخوښه به شي اوپردې به وياړ کوي.
دغه وخت يويل هلك هم هلته راغلى چې عمر به يي ۱۸ کاله و دهغو په سرو سترګو کې لکه وينې چې راخوټيدلي وي چې دتورو رنجو سره څه نوري هم تکې سرې ښکاريدلي دهغه دسترګو په توروکسيو کې دتوندې کرکي او نفرت علامي وې خپل نوم يي سلطان محمد وښود اودجلال آباد اوسيدونکي و په ډيره غوسه يي راته وويل:
موږ امريکا يان په هيڅ قيمت هم نه پريږدو، پرخچي به يي والوزوو.
ماته دده حالت داسې ښکاريدو لکه داجملې چې په ژبه نه اداکوي بلکي پرغولي يي توکوي. زموږ په ليدو هغه دومره راپاريدلى و چې کله يې دامريکايانو دپرخچوالو زولو خبرې کولي لاس يي بي اختياره په خپل ګريوان کې و اومنظم يي دپرخچوالوزلوتمثيل کاوه راشد چې داهرڅه واوريدل پرخپلو پښو وزنګيده لکه چې غوښتل يي

چې وړاندې ولاړ شوښايي هغه به پردې ويريده چې دغه هلك موږ په ډبرو ونه ولي دکوېتې دکوڅو اوواتونو په څيرېې دلته هم زه دخپل سپين رنګ په سبب خپل دښمن بللم.

پردې ټولو دپاسه زه يوه ښځه هم وم ځکه يې کرکه يوځه زياته ښکاروله چې ماته دپوره انديښنې وړوه.

په يوه پردي هيوادکې چې له تاسره برالا دغسې کرکه څرګنده شي . هغه هم په داسې حال کې چې تا يووخت دخپل کور په څير ګڼلي وي اوس ما هرځای داسې احساسوله لکه چې دجګړې په لومړي کرښه کې وم.

راشد په تينګار راته وويل:

راځی مخکې ځو:

ماشاوخوا ته سترګې واړولې هلته مې هيڅ ډبره ونه ليده هرلوري ته سپيره اوګردجن بوټي وو. مادهغو هلکانو په باب فکر کاوه چې دپيلوټ ، ساينس پوه، ډاکتر . ډريوړ اويا خلاته تلونکي پرځای يې په جګړه کې مرګ خوښاوه زه په همدې لټه کې مجبوره شوم چې وپوښتم چې کوم کوم مضامين دلته لولي؟

هغه ځواب راکړ:

اسلامي ايډيالوژي ، شريعت اواسلامي اقتصاد، پردې علاوه دحديثو اوقرآن په باب هم درس ورکول کيږي دهغو دیادولو هڅه کيږي. هغه زده کوونکي تر ټولو زيات د درناوي اوعزت وړوي چې ډير احاديث يې يادوي.

- آيا کله په ټولګيو کې په کومه موضوع بحثونه کيږي؟

راشد وويل:

په څه شي بحث؟ څه شي چې ليکل شوي دي نوهمغه دي.

ليکل شوي خبره وورستي ده پرهغو څه خبرو ا ترو اويابحث ته اړتيانشته.

له عربي ژبي پرته په حقانيه مدرسه کې کومه بله ژبه نه ويل کيږي، نه دکوم ساينس مضمون ورکول کيږي نه ماهلته دکوم کمپيوتر نخښې وليدي په داسې حال کې چې راشد راته وويل چې زه دحقانيه دارالعلوم دويب سايټ مسئوول يم.

ماله هغو هلکانو څخه دحساب څو معمولي پوښتني وکړي دوی هك پك شول اوزما خولې ته يې کتل

دوي دډاينا سور په باب په هيڅ نه پوهيدل ، خو دپاکستان داتومي بم په باب يې بيا په ډير وياړ يوڅه ويل . ددوي په وينا دوي ته د نجوم علم زده کړې هم کيدې خودوی پردې باور کولو ته تيارنه وو چې انسان سپوږمۍ ته هم رسيدلي شي.

ددوي نه يوه وپوښتل:

داڅنګه امکان لري؟ هغه به له سپوږمۍ نه لاندي راونه لويږي؟

ماته داسې ښکاريده لکه شاته چې مې سفر کړی وي اودقرآن دهغو ښونو سره مې ځان همغږې نه مونده چې دهغې له مخې يې علم ته له خدای نه وروسته زيات ارځښت ورکړی دی.

ځکه چې په قرآن مجيد کې دالله له نامه نه وروسته دعلم نوم تر هرڅه زيات راغلی دي، ماته مې هغه دوست رایاد شوچې دافغانستان څخه دملګرو ملتو له کومې اداري سره تړلي و. هغه ماته دهرات په يوه ښوونځي کې دطالبانو دمعارف وزير دوينا په باب وويل.

نوموړي وزير زده کوونکيو ته په خپله وينا کې فرمايلي وو.

که تاسو غواړئ چې انجنیر درنه جوړ شي نوپه کوم ګیراج کې درې میاشتې کار درته ضروري دی

که غواړې چې ډاکتران شی نوډکوم قصاب په دوکان کې باید کار زده کړی.

دوینا په پای کې وزیر صاحب دلویدیځ دزده کړې پرسیستم ملندې وهلې اوویلي یې وو:

یوځل له هیواده بهر زه دیوه ښوونځي یوه ټولګي ته ولاړم په توره دړه یې لیکلي وو چې لمر زموږ له ځمکي څخه په ملیاردونو میله لرې دی

اوس تاسو ماته ووایی چې دومره اوږده فیته له چاسره ده چې دغه واټن پرې اندازه شي؟

راشد موږ یوې ودانۍ ته بوتلو چې له هغه ځایه د روسانو پر خلاف د جهاد لومړی فتوې ورکړل شوې وه. پر دیوالونو د دې مدرسې څخه د فارغو شویو نومونه په چوکاټونو کې راځړیدلي وو. او پر هغو ټول دیوالونه ډک وو. نومونه په عربي ژبه په ښکلي خط لیکل شوي وو. راشد ځو مشهور نومونه راته ولوستل. په هغوی کې ملا کبیر حقاني د سر پرستۍ شورۍ مرستیال او د خټیځ زون رئیس د سترې محکمې رئیس نور محمد ثاقب. د طالبانو لوی قوماندان جلال الدین حقاني، د کندهار والي ملا حسن رحماني.

د ننګرهار د والي مرستیال مولوي صدراعظم، د جمعیت العلمای اسلام مشر مولانا فضل الرحمن او د نبي محمدي او محمد یونس خالص دوو جهادي لیډرانو نومونه هم پکې شامل وو.

"دغه دوه وروستي نومونه ښايي د دې اثر د ليکوالې د خيال توکي وي ژباړن".

بيا يې زه د فتواګانو کتابتون ته بوتلم چې په تاکاوۍ کې وه. دا له الماريو ډکه اوږده خونه ده چې زياتره د حقانيه دارالعلوم فتواګانې پکې دي، د هغو شمير تر يو لکو زيات دی، د راشد د وينا سره سم دا د ديوبند دسنی فکر په رڼا کې ورکړل شوي فتوا ګانې دي، او دا د وهابي عقيدې څخه هم غوره ده، چې د سعودي عربستان د علماو مسلك دی او اسامه بن لادن هم د هغوی تر اغيزې لاندې دئ. د هغو عقيدې پر اساس هر هغه شی بدعت دی چې د قرآن سره په ويښته توپير ولري. وهابيان د فلمونو او تياتر مخالف دي او ښځو ته د موټر چلولو اجازه نه ورکوي. خو د ده په قول د يو بندي مسلك د انسان د کړو وړو په هر اړخ کې داعتدال او برابرۍ غوښتونکي دي.

د کلتور په باب مې د پاکستانيانو د تنګ نظرۍ او تعصب په لړ کې د خپل دوست اکبر اس احمد يادونه کوم چې په واشنګټن دی سي امريکا يې پوهنتون کې د اسلامی مطالعاتو د مرکز مشر دی. هغه په بر تانيه کې د پاکستان سفير هم پاتې شوی و. هغه خپل ژوند د اسلامی نړۍ او لويديځ تر منځ د پخلاينې او تفاهم لپاره وقف کړی دی.

نو موړي په محمدعلي جناح يوفلم جوړ کړ په هغو کې د پاکستان د جوړوونکي رول د انګريزي ويږوونکيو فلمونو لوبغاړي کرستو فرلي ادا کړی دی، بس په همدې خبره د ده هيوادوالو يو توپان را پورته کړ اکبر احمد د دې چلن داسې وضاحت وکړ:

د اسامه بن لادن په څیر فکر او د هغو په مقابل کې د لویدیځ د رويې په غبرګون کې دا فکر پیدا شوی دی همدغسې د یو بندي فکر اسلام په یوه محدوده کې را کلابندوي چې طالبانو دغه فکر وروستیو حدودوته ورساوه.

د طالبانو له لویدیځ سره هیڅ اړیکې نه وې هغوی هلته سفرونه هم نه دی کړي، ځکه یې لویدیځ د فکر له ساحې څخه بیخي وتلی دی. تلویزیون تر ټانکونو لاندې کول او یا یې د برښنا په ستنو راځړول د همدغه فکر ښکارندوي دی، د دې یو بل لامل هم و. د هند مذهبي مدرسو تل د ظلم او تشدد پر خلاف شعار ورکړی دی.

په پاکستان کې دغه مدرسې بیا زیاتره په کلیوالو سیمو کې په بلوچستان او یا د پنجاب په پښتني میشتو سیمو کې او یا په کراچۍ کې په پښتنو میشتو سیمو کې دي. په نتیجه کې دغه مدرسې د یو ډول سنتي فکر او قدامت پالنې پښتنې روحیې لاندې راغلې دي پښتونولي روایات او اخلاق په دوه ډوله چلن راڅرګند شول.

یو دا چې د هر ډول بې عزتۍ بدل د پور او سود سره باید واخلي بل دا چې پر کمزوریو ظلم او ستم کول لکه چې اووه کلنې کمزورې نجونې په کور کې ایساوي اود چا دري په اغوستو یې مجبوروي طالبانو دغسې پښتنې روحیې ته د یو بندي جامه ور واغوسته او د هغو د خپراوې هڅه یې کوله.

د پښتونولې او د یو بندي عقیدې له یو ځای کیدونه ډیره ویروونکې طریقه رامخې ته شوه په ځانګړې توګه چې په پښتنو کې د ۱۸۹۸ کال راهیسې ډیر لږ بدلون راغلې دي. هغه مهال چرچل په " دي ستوري آف مالاکند فیلډ فورس " کې لیکلي وو:

پښتني قبايل تل په ځانګړيو او يا عامو جګړو کې راښکيل وي.
د دوي هر سړی جګړه مار، سياستوال او يو پر مذهبي چارو پوه دی.

هر لوی کور يوه جنګي کلا وي، ځکه چې په هغو کې د جنګي کلا تولې ځانګړنې وي، په دې ډول هر کلی ځانګړي دفاعي نظم لري هره کورنۍ خپلې دښمني پالي او هر قوم د خپلې بدې د بدل اخستو په اړه بوخت وي، هيڅ دښمني هيريدای نشي او ډير لږ داسې پوروونه شته چې ادا نشي.

ما د پښتونولۍ پر اصولو د پوهيدو لپاره دسپينو ويښتانو خاوند افتخار ګيلاني سره وليدل. له هغه سره مې لومړی ځل په ۱۹۸۸-۹۰ کلونو کې چې د بې نظير بوټو په حکومت کې دانصاف او قانون وزير و، ليدلي وو. خو په هغه حکومت کې يې چې خيانت او اختلاسې زيات وليد په مسلم ليګ ګوند کې شامل شو خوچې بيا يې په هغه ګوند کې هم همغومره اختلاس وليد بيرته د خلکو ګوند ته ورغی

ما له افتخار ګيلاني سره په اسلام اباد کې د ده د کور په برنډه کې وليدل هغه مهال دی د يوه کتاب په لوستو بوخت و. لمر لويدو ته نژدې و ما له ده سره چای او سموسې خوړلې.

دا دقيمې واله مساله دارې سموسې وې چې په خوله کې به اوبه شوې.

په دالان کې خړو خړومرغانوهم قدم واهه،مخامخ شنې او سمسورې درې ښکلې او زړه وړونکې منظره درلوده د سرك بل لوري ته د پاکستان د ساينس او تکنالوژۍ د ادارې دروازه وه، چې سخته پهره پرې دريدلې وه، دا دپاکستان داټومي اداره وه، چې د نړۍ لومړی اسلامي بم يې تيار کړی دی.

افتخار ګيلاني د دوو پوځي حکومتونو په منځ لنډه جمهوري دوره کې د خپل پلرني ځای "کوهاټ" څخه د ملي شوروی اوسنا د غړي په توګه ټاکل شوی دی. د ده ښار د انګريزانو پخوانی پوځي چوڼی وه، چې د دره آدم خيل، کرمې او اورکزي تر منځ راګير دي آدم خيل دره اصلاً د سرحد د وسلو جوړولو کار خانه ده.

دلته د اوسپنې ډيرې بټۍ دي، چې د هر ډول پېچلې وسلې دوهم لمبر ډول تيارولی شي.

افتخار ګيلاني يو اور ژبی پښتون دی، که کوم څوك د لويديځو آلو په وړاندې پښتونولې ښه تشريح کولی شي نو همدغه افتخار ګيلاني دی.

زما د پوښتنې په ځواب کې يې راته وويل:

لومړی يو ميلمه ميلمه وي. زموږ په منځ کې د ميلمه ډير قدر او عزت وي. که هغه جرم او ګناه کړې وي، هم که هغه موږ ته تاوان اړولي وي، هم موږ به يې ساتنه کوو. د دې خبرې د وضاحت لپاره يوه بلوڅي کيسه ده چې:

يو سړی يوه کورته ورننوت، د کور له مشر نه يې پناه وغوښته او ورته ويې ويل چې په ما پسې څو تنه سپاره را روان دي، ما تري وژغوره بوډا خان هغه ته پناه ورکړه، له ځان سره يې په ډوډۍ شريك کړ او بيا يې نوکر ته وويل چې ميلمستون ته يې بوزئ وروسته د خان زوی راغی پلارته يې وويل چې دوې مياشتې پخوا زما ورور او ستا زوی دې سړي وژلي دي، خان په ځواب کې ورته وويل: سهی ده خو هغه اوس زموږ ميلمه دئ. خو د خان زوی په غوسه ولاړ او ميلمه يې په خنجر وواهه او ويې واژه.

سبا ته چي خان خبر شو په غوسه راغی أو پوښتنه يې وکړه، چې زما عزت چا تر پښو لاندې کړي او ميلمه چا وژلي زوی يې په پښو کې ولويد او په زاری يې ورته وويل چې پلارجانه دا گناه له مانه وشوه پلار يې زوی په خنجر وواهه او ځای پر ځای يې وواژه ما ته د ده دا کيسه له باورځخه لرې ښکاريده خوافتخار گيلاني ټينگارکاوه چې داسې کيسې هره ورځ پيښيږي کوم سړی کوهاټ ته ځي، څوك وژني او بيا قبايلي سيمو ته پناه وړي ، اوس توپير يوازې دا دي چې د سيمې مشر او سردار د پناه په بدل کې پيسې غواړي.

ما ورته وويل چې که اسامه بن لادن دلته راغلی وي نو دا خو يې ښه پناه ځای دی، گيلانی راته وويل چې هوکې:

ما ترې وپوښتل چی د طالبانو په پاب ستا رايه څه ده؟ او هغوی د دومره سخت ډول اسلام تبليغ ولې کاوه؟

هغه وويل: طالبان ريشخند خلك وو، هغوی د پښتنو سم استازي نه دی، پښتنی ټولنه په مساوات او برابری باور لري، چې ذات او طبقې پکې نشته، دلته د سندي و ،ډيره گانو او يا پنجابي ځمکه والو په څير وضعه نه ده ما چې په خپل ۶۱ کلن ژوندانه کې کومې تجربې زده کړې دي، هغه دا دي چې يوازينی طبقه چې پښتنو کې په سپکه سترگه ورته گوري طالبان دي. زما د ماشومتوب له وخته طالبان سوال کوي او د دوي په لاسو کي به کشکول و، او چې کوم هلك به راغئ، او غړ به يې وکړ چې زه طالب يم، موږ به غريب هلك باله او ډوډی به مو ورکړه.

طالبان د بې وزلو په نامه يادول او ډوډی ورکول په دې منظور نه وو، چې د هغوی ژوند په بې وسی تيريده د هغوي يو بل کرغيړن اړخ

هم و، د مدرسو هلکان نه یوازې له خپلو میندو څخه بېل او لرې اوسیدل بلکې له، ټولو ښځو څخه له ماشومتوبه لرې ساتل شوی وو، دوي ته له ښځو نه کرکه ورښودل کیده، او دا زده کړه ورکول کیده چې د ښځې پنډی لوڅې شي یا نوکان رنګ کړی نو د سزا ورکولو وړ دي.

ښځو ته پښتانه تور سرې وایي چې په دې نامه تر څو د هغې ویښتان سپین شوي نه وي، باید سخته په پرده کې وي او په کور کې ایساره وې چې وهل ډبول یې هم عام دي.

افتخار ګیلاني وویل چې زه د داسې ټولنی یادونه درته کوم چې زما خپل کلی هم پکې شامل دی، په دې ټولنه کې هلك ته د نجلۍ ښکلول تر مرګ هم د سختې سزا وړدي. ځکه خو د دې پایلې دا دي چې له هلکانو سره لواطت رواج ومومي. په پښتنو کې دا عام عادت دی چې ښځې په کورونو کې ایساروي او دا پکې رواج دی. کوم هلك چې ښکلی وي په لسګونو بد ماشان ور پسې وي. زه هم ښکلی ځوان وم خو له نیکه مرغه د کورنۍ لوی نامه او ځواك ساتلی یم. طالبان له دې نه ځوندي نه وو او د زده کړې په ادارو (مدرسو) کې له طالبانو سره داسې سلوك کیږي... طالبانو چې واك تر لاسه کړ د هغو مایوسیو او بې وسیو بدل یې واخیست. د دوی د غوسې ښه زیاتره ښځې وې د مایوسوونکي ماضي یادونه هیڅکله هم نه هېریږي، دا یو همیشنی بد شکله داغ ګرځي چې هیڅکله څوك ځان نشي ترې ژغورلی.

# په جلا وطنۍ کې شاهي دربار

موږ دلته د شان او شوکت لپاره نه یو راغلي له مصیبتونو را تیښتېدلي یو
(حافظ)

دادجولای یوه توده شپه وه، دشهزادګۍ حمیرا ولي دواده هنګامې وې، دې په کابل کې دخپل، پلار دماڼۍ په بڼ کې دسپوږمۍ رڼا ته په نا آرامۍ قدم واهه، په دې کې یې دټانګونو دروند غورهار تر غوږو شو چې ورو ورو زیاتیدو.

دحمیرا ولي ژیړ وزمه سپین رنګ اوځلید ونکیو ویښتانو دې ته یو وقار وربخښلی و، دیاغي اسونو رام کول ددې په زړه پوری شغل و.

دظاهر شاه دمشرۍ لمسۍ واده دسږنۍ دوبي تر ټولو مهمه پیښه وه، دګلاب وږمو د شپې فضا خوږ بویه کړې وه او شهزادګۍ د خپل ژوندانه دنوي بدلون په چورتونو کې ډوبه وه.

چې نور به دا دیوې واده شوې ښځې په توګه نه له ساتونکیو څخه ګوښې دفلم دلیدو لپاره تلای شي اونه به یوازې په موټر کې دخپلې خوښې دلویدیځ سندرغاړیو سندرې اوریدای شي.

دهغې وریه یاد شول چې:

موږ به دپاچا محل ته ولاړو اودهغه په شخصي سینما کې مې " دي ګنډیس برجن" فلم لیدلی و اوټول ویده شوي وو. دتودوخې له امله ماته خوب رانغی بل سبب یې دځوانۍ راپاریدلي جذبات وو چې د واده په

ورځو کې خپلې اغيزې ښکاروي.

داکومه خاصه خبره نه ده اوهره نجلۍ ورسره مخ کيږي.زموږ دواده لومړي مراسم دوې ورځې وړاندې تير شوي ووچې په هغوکې ښاريانو ته ميلمستيا وه ،عامه ميلمستيا دوې ورځې وروسته وه چې ټولو ميلمنو به ښه برخه پکې اخيسته. شپه ډيره صفا وه دڅوارلسمې سپوږمۍ دآسمان تندي ته راغلې وه او وړانګې يې خپرولې، نژدې يوه بجه به وه چې زه دتازه هوا لپاره باغ ته ووتم، ناڅاپه دټانکونو غږ اوچت شو، ماته داډيرعجيب ښکاره شول. دکلني جشن ورځې نژدې وې ، ځکه مې خيال ته راغلل چې کيدای شي دا دهماغه جشن درسم ګذشت دتياري لپاره وي.

خودومره په تياره اوپه نيمه شپه کې ولې غوريږي! په همدې فکرونو کې بيرته کورته ستنه شوم. په زينوکې دوهم پوړ ته وختم چې له هغه ځايه مې دمانۍ ديوالونه ليدای شوای ، له هغه ځايه مې هغه واړه واړه سرونه هم ليدل چې درانژدې کيدونکيو ټانګونو نه را وتلي وو. خوټانکونه تيرنه شول اوزموږ دمحل په مخه کې ودريدل اودماشينګنو خولې يې زموږ دمانۍ په لور راواړولې.

له څو ورځو راهيسې دا آوازې تودې وې چې پخوانې صدراعظم داود دبغاوت پلان جوړوي.

خوزما بابا "ظاهر شاه" به ټينګارکاوه چې داود زما دکاکازوی دی هغه به له شانه زما په خيټه چاړه ښخه نه کړي. هغه دهيچا خبره ونه منله او د داود پرخلاف يې څه ګام اوچت نه کړ.

دافغانستان شاهي نظام که څوك دغدارۍ او خيانت کيسه وبولي نو دا به احمقانه خبره وي خوداسې دورې پکې راغلې دي چې

دتروزامنو يو بل وژلي دي ، ورور دخپل ورور سترګې ایستلې دي اوبيا يې له ډير ځورولو وروسته وژلي دي دظاهر شاه څخه پخوا يوه پاچا عبدالرحمن "امير عبدالرحمن خان" يو غلام ساتلی و چې دده دخوراك څښاك نه مخکې به يې پر هغه څکل ، چې که زهر پکې ګډ وي هغه غلام مړشي، اوده ته زيان ونه رسيږي ، هغه به زین کړي آسونه دماڼۍ په دروازه کې تيار درولي وو چې که په هيواد کې دننه چيرته جګړه ونښلي دي زرځان ور ورسولي شي، هغه به له ځانه سره ګرندۍ قاطرې هم تيارې ساتلې چې که تيښتې ته اړتيا شوه نودی خزانه هم ورسره بار کړي اوبوبي سې ،تر خپل سرپورې به يې ډکې تومانچې ایښې وې اوويده کيدو ، کټ ته نژدې به يې په الماری کې تيار ډك غوره ټوپك ساتل چې که څوك ورسره خيانت وکړي دی يې مقابلې ته چمتو وي، يو بل تدبیر يې داو چې دشپې به تر سهار ځلورو بجو پورې ويښ و ، بيا به کرۍ ورځ آرام ويده و ځکه چې ده به فکر کاوه چې هره توطيه او خيانت دشپې په تياره کې پلې کيږي او دورځې په رڼا کې هيڅ نه کيږي.

دعبدالرحمن له مرګه وروسته دده مشرزوی حبيب الله خان سمدستي دارګ کلا ونيوه دلته ډيره وسله اوښه خزانه وه هغه پردې ويريده چې ورونه به يې تر ې ونيسي ځکه يې وار وړومبی کړ.

دولتي وداڼۍ دبهرني اودننه ديوال په منځ کې جوړه شوې وه پردې سربيره هلته پر سرکونو او دواړو غاړوو نې او ګڼې کوټې هم وې چې دميلمستون کار ترې اخیستل کيده. دښځو لپاره ځانګړی حرم و دهمدغې ماڼيو په کتارکې يوه دحميرا دکورنۍ وه چې کله ټانګو نه هغو ته مخامخ ودريدل هغې وويل:

زه وپوهیدم چې څه کیدونکې دي ځکه مې په بیړه خپل میړه اوپلار راویښ کړل . زما پلار دمرکزي قواو قوماندان و هغه سمدستي برنډې ته راووت اووې لیدل چې ټانګونه ولاړ دي.

ده چې دټیلفون غوږي اوچته کړه چې له خپل مرکز سره اړیکي ونیسي ،تیلیفون غوڅ و. وروسته بریښنا هم ولاړه ، زما میړه او پلار په منډه خپل دفتر ته راکوز شول چې خپل ماشیندار راواخلي خو داهسې بیځایه هڅې و. ،په تومانچو اوماشیندارو به له ټانګونو سره څه ډول مقابله شوې وای زما سره یوه تومانچه وه چې تل به مې راسره ساتله.

پلار مو راته وویل له زینو سره دمرغانو لپاره دجوړ و شوېو دلرګیو له کپسونو سره کینو چې لوېي دروازې ته نژدې وې، خو ما دغسې ډېر پروګرامونه لیدلې وو. ځکه مې ورته وویل چې " نه" بیا مې مور وړوکې خور او نورې نجونې چې مور دپالنې لپاره ساتلې وې له کوټوڅخه راوایستلې او ټولوته مې وویل چې دخوب خونو ته دتللې دهلیز پرغولي پریوزې په هغو د خوب کوټو کې یوازې څو کړکۍ وې مامې پلار او خاوند ولیدل چې ټوپک یې په لاسونو کې وو اوپه زینو کې پاس وختل . بیا له ټانګونو څخه ډزې پیل شوې چې وروسته زما ، زما دخویندو اومور اوپلار دخوب کوټې دګولیو نښه شوې ، له کور څخه دودونه اولوخړې جګې شوې په کور کې دننه هم دتوپ یوه ګولۍ وچاوده چې له هغې سره ټولې ښیښې ماتې شوې زمور دناستې کوټې اور واخیست .زما مور په منډه ولاړه اوپرتوګ یې واغوست چې که مور غر غر ه کړي نوېښې به یې پټې وي.

زمور پلان داو چې که هغوی ونیولو نو یو بل به پخپله وژنو چې ژوندي دوی ته په لاس ورنشو، ځکه چې معلومه نه وه چې دوی په له

موږ سره څه ډول سلوك كاوه ما دځپلي مور اوځويندو دوژلو ذمه واري اخيستې وه ما پر تومانچي ډزې په پينځه كلنۍ كې زده كړې وې. په اوه كلنۍ كې لومړى ځل تيوپك راكړل شو اوپرهغو مې د ډزو ښه تمرين وكړ ،موږ پخپلوكې مشوره وكړه چې له عذاب اوځورولونه وژغورل شو اوپه آرامه مړه شو، موږ ځورول تر هرڅه سخت ګڼلي په دې كې زما دپلار" سردار عبدالولي" غږ اوچت شو چې ويل يې:

زما په ګومان هغوى زما په لټه كې دي ، بيا جګ شو اوروان شو خورمې دهغه تر پښو لاسونه راتاو كړل اوپه ژړا شوه وى ويل:

دخداى لپاره مه ورځه! هغه ټيټ شو او د خور پرسرمې يې لاس راكش كړ. په همدې شيبه كې دماشينګڼ ګولۍ راغلې اوزما دپلار تر سرتيرې شوې. كه هغه ټيټ شوى نه واى نوغلبيل شوى به و. حمله راوړونكي په كور راننوتل پلار يې ونيو اوموږ يې ټول داوسيدو په خونه كې بنديان كړو.

دكوټې غولى له ما توښيښو ډك و، مابهر ولاړ ټانګونه ليدل اوداود له خپل سپين تيو ټا سره ولاړ و اوپه دوربين كې يې يوې اوبلې خوا ته كتل چې موږ يې وليدو.

سهار شپږ بجې يې موږ شاهي مانۍ ته بوتلو هلته زما نيا دكاكا ښځې، ترورياني عمه ګانې اودترو زامن اولونې داوسيدو په خونه كې ناست وو نژدې ۲۳ تنه شهزادګان اوشهزادګيانې پوځيانو را ايسارې كړې وې ، پاس هليكوپترو څرخونه خوړل ، داو زما د واده جشن" دشاتو مياشت" چې دډوډۍ خوړلو پرميز به ويده كيدم. په دې بې دريغه مينه ناك "رومانتيك "چاپيريال كې يې يوه اونۍ راايسار كړي وو . هيڅ معلومه نه وه چې له موږ سره به څه سلوك كوي موږ به ووژني

که به موژوندي پريږدي ،ماته دپلار احوال هم معلوم نه وچې څنګه دي.

بالاخره يو سهار وختي نژدې څلور بجې يې هغوي دآريانا هوايي شرکت په يوه الوتکه کې سپاره کړل.

دحميرا نهه کلن دکاکازوی شهزاده مصطفي د هغې لاس نيولی و او د الوتکې په زينو کې وختل، له ختو مخکې يې دواړه تلاشي کړل ، په طلايي پوښ کې وړوکی قرآن کريم دمصطفی په غاړه کې ځړيده ،يوه سرتيري لاس ور واچاوه اوهغه يې ترې وشکاوه چې کله هغه احتجاج وکړ او سپاهي يې په څپړ وواهه سپاهي هغه دټوپك په کند اغ وواهه اوپه ځمکه يې وغورځاوه مصطفی يوموټی خاورې له ځمکې راواخيستې اوپه جيب کې يې واچولې.

الوتکې دوی روم ته ورسول هغوي هلته له پاچا سره يوځای شول چې دسترګو دعملياتو نه وروسته په روم کې ايسار و چې ورغ شي ، دهغه نور صحت هم ډير خراب و اوپه " اسچيا" جزيره کېې يې دهغې علاج پيل کړي و چې دانقلاب خبر ورته راغی.

حميرا تمه درلوده چې پلار به يې " سردار عبدالولي" له دې سره په الوتکه کې وي خوهغه په کابل کې په دهمزنګ جيل کې کوټه قلفي و ،هغه يې دومره ډبولی و چې دورانه هډوکي يې مات شوي و چې دهغې په سبب هميشه ګو تلو، چې له جيله خوشې شودرې کاله وروسته له خپلې لور سره په

د۱۹۷۳ کال دجولاي دهمغې نمجنې ورځې راهيسې شاهي کورنۍ په روم کې دجلا وطنۍ شپې تيروي اودوی دبهرنيو واکمنو اومشرانو په مرستو اوسوغاتونو په کرايه کورکې شپې ورځې تيروي دوی له خپل هيواده لرې دخپلې پخوانۍ اوهيرې پاچاهۍ يادګارونه

دي. مصطفی چې دوطن کومه خاوره ورسره راوړې وه هغه یې دسپینو زرو په یوه بوتل کې خوندي کړې ده، هره شپه یې ښکل کړي اوبیا یې ترسر لاندې کېږدي اوویده شي،پردې سربېره له هغه سره د تصویرونو یو البوم دی چې دی یې ګوري او خپل یادونه تازه کوي ، په هغو کې ځینې تصویرونه دارګ دمانۍ اوباغونو دي اوځینې یې دشهزادګیو دي چې په ځانګړیو جامو کې یې اخیستي وي خوزیاتره یې په اخبارونو کې چاپ شوي هغه تور اوسپین تصویرونه دي چې پاچا په سرخلاصي موټر اویا ګاډۍ کې اخیستي، یاله الوتکې څخه دراښکته کیدو پرمهال دماوزي تونك، آیزن هاور،جان اف کنیډي ، جواهرلال نهرو ،مارشال تیتو ، جنرال دوګول اود ماضي نور هیر شوي او ورك شوي واکمن لیدل کیږي چې پاچاته هر کلی وایي:

پاچا اوس ډیر کمزوری شوی دی اوخپل وخت په انځور ګرۍ اویا فرانسوي ناولونولوستلو،شطرنج لوبه اویادحیواناتو او ښکل وځایونو په عکاسي تیروي.

ماپه روم کې له حمیرا ولي سره ولیدل ، هغه وخت ددې عمر ۴۸ کاله و اوډیره کم عمره ښکاریده ، ډیر یې خندل اوښه مجلس یې کاوه ، یوازې هغه مهال به جدي شوه چې په موبایل فون به یې څه پیغامونه اوریدل اوځواب به یې ورکاوه ، زه هلته له پاچا سره دمرکې لپاره ورغلې وم. ځکه چې په هغو ورځو کې شمال تلوالې طالبان له بګرام هوایي اډې څخه په شاتګ ته اړ کړي وو.

اوس هغوی له کابل څخه یوازې ۲۳ کیلو متره لرې وو.

امریکا یې الوتکو دطالبانو پر مور چلونو درنې بمبارۍ کولې اوداسې ښکاریدل چې یوه ورځ به پلازمینه هم دطالبانو له منګولو

وزي، دواشنګټن له چارواکو څخه نيولې دکندهار تردوکاندارانو پورې خلکو ناڅاپه دظاهر شاه په اړه خبرې پيل کړې.

څکه چې ټولو ته دامن اوسولې لپاره هغه يوازينى اميد اوهيله ښکاريدو. خو ماتر اوسه دهغه دزوم سردار عبدالولي سره له مرکې څخه مخکې قهوه څښله چې پيغام راغى چې اعليحضرت سخت ناروغ دى. دغه ملاقات وځنډول شو، څکه خوحميرا ماته دا وړانديز وکړ چې په چکرو رسره ووزم.

داد مني يوه ښکلې خوندوره دشنه آسمان ورځ وه. حميرا په دې ښارکې ښه بلده وه. ديوې ماهرې لارښودې په څير راسره شوه. ماپخوا دغه ښار هيڅ نه و ليدلى. هغې خپل پخوا نى ګړندى موټر کټ مټ دځايي خلکو په څير چلاوه اود موټرو په منځ کې يې په مهارت لاره ايستله. يو خل خوېې دموټرو د زغاستې دسيالۍ دچلوټو رانبودو په نيت نږدې دپليو لارو له ديوال سره هم جنګولى و .موږ دسترو ياد ګارو نو اومجسمو په منځ کې تيريدو .هلته په هره څلور لارې کې دسترو ديو تاکانو" رب النوع" اود شاهي ډوليو مجسمې هر لورې ته دريدلې وې . حميرا د خپل موټر په ټيپ ريکارډرکې درابي وليم سره " ميك دي نايف" سندره پخپله هم زمزمه کوله.

دي په روم کې هم کټ مټ دخپل وطن په څير موټر چلا وه. اودځرمنې له جاکټ سره په همرنګه لمن کې ډيره ښکلې ښکاريده ، دې اعتراف وکړ چې دهغوټولو شيانوله ختميدو وروسته دلته راغلې ده چې ددې ډيره مينه ورسره وه .په کابل کې ددې هغه وختونه چې يوه شهزادګۍ وه دښاپيريانو دژوند په څير په ياد نه وو.

خوبيا يې هم د زړه وړونکي ماشومتوب اوحيرانوونکې حده ورته

برابرې آزادۍ یادونو ځورو له، داد پاچا دمشرې لو ر مشره لوروه، شهزادګۍ بلقیس حمیرا چې کوم ورور نه درلود نو دې ته دا زمینه برابره وه چې له ځانه "شهزاده" جوړ کړي ،دې ویل:

زما دبابا دپاچاهۍ په وخت کې نجونو اوهلکانو ګډې زده کړې کولې . په پوره آزادۍ سینما ته تلل، دپاپ موزیك بهر نیو سندرغاړو سندرې یې اوریدې، لامبو ته تللې او لنډې جامې یې اغوستې. خوما له هغوی څخه بیل مزاج درلود ،بیا یې په کړس کړس وختدل اوزیاته یې کړه:

ماپه دوه نیم کلنۍ کې پرآس سپرلي زده کړه، چې پینځه کلنه شوم دپلار تومانچه مې ویشتلې شوای اوزه دافغانستان لومړۍ ښځه یم چې موټرمې چلولو. مابه تومانچه په کمر بندکې وتومبله اوپه ښار کې به ګرځیدم که څه هم ساتونکي به تل راسره وو. دفلمونو لیدو سره مې ډیره مینه وه اوتل به په غلا پارك سینما ته تلم. له خپل بابا سره به هم هرځای ته تلم.

ارګ دننه تیار ښار ګوتې و خوشاندارې ماڼۍ پکې نه وې. اوډیر بې ترتیبه اوبې نظمه جوړ و

پاچا تاج نه پرسرکاوه، نه به په موټر کې سپریده، بیا هم حمیرا د پخوانیومنظرو اوانځورګریو په منځ کې پالل شوې ده، په ښارکې به یې دبابا " رولس رایسز" اویا دکاکا " تندر برډ" ماډل موټرهر وخت زغلول، او دسلګونو خدمتګارانوپه بدرګه به کله کله دغرڅه اوزرکانو په ښکارېسې وتله بالاخره یوه ورځ دغه ټو له کورنۍ په یوه اپارتمان کې په ژوند تیرولو مجبوره شوه او له دوی سره چې څه ووهغه ټول په کابل کې ترې پاتې شول. یوازې دحمیرا یو دماشومتوب تصویر دوی ورسره

راوړی و چې اوس هغه په روم کې ددې :پلار او مور په اپارتمان کې راځړیدلی دی، شاهي کورنۍ هیڅ شتمني اوجایداد نه درلودل اونه یې په بهرکې په بانکونو کې پیسې درلودې، په لومړیو ورځو کې پاچا څه مرستې هم نه اخیستې، هغه خپل د کارولو شیان لکه لاسي ګړۍ ، کامره اوهغه قالینه چې خپلو ډاکترانو ته یې سوغات راوړې وه

هغه ټول یې وپلورل ، له پلورلو وروسته یې دهغې وړوکې " ولا" کرایه اداکړه چې له روم څخه بهرپه " کوارتمګلیا" کې وه.

حمیرا خپل یادونه راکړول... مور په هغه کورکې چې څلورکوټې پکې وې ۲۴ یا۲۵ کسان اوسیدو. زموږ سره دځان له جامو پرته هیڅ نه وو ، دورځې به مو په یوه هګۍ ګوزاره کوله که څه هم له ډیرو لوریو مرستې راغلې خوظاهرشاه اراده کړې وه چې دکوم سړي او یاهیواد په تکیه ژوند نشو تیرولی ، خو وروسته بیا دسعودي عرب دشاه فهد، دایران دپاچا او د مصر دانورالسادات له لوري مرستې راغلې چې دیو ه کور اودمیاشتني لګښت بندوبست پرې وشو. له بده مرغه په راتلونکیو کلونو کې دایران شاه عزل شو اوانور السادات ووژل شوچې بیا ټول لګښت دشاه فهمد پرغاړه و.

په روم کې د ژوند څخه مطلب داو چې له نوي ژوندانه سره ځانونه روږدي کړو چې په هغو کې ناڅاپي ډیرې آزادۍ تر لاسه کول هم شامل وو. په لومړي کال حمیرا یوه لور "مریم"وزیږوله اوله دووکلونوڅخه لږه موده وروسته دې خپل کور حیران کړ چې داپریکړه یې دهغوی تر غوږه ورسوله چې خپل میړه یې پریږدي. په داسې حال کې ،چې دا واده ددې په خوښه و.

ماترې وپوښتل چې دغه میړه تاپه خوښه کړی و؟

دې په خواب کې په غمجنه لهجه راته وويل: نه! دازما غلطي وه ، په شاهي کورنۍ کې دالومړی طلاق و، دحميرا خسرګني مريم ورسره بوتله اوويې ويل چې په دې شرط به يې راپريږدي چې حميرا بيرته خپل خاوند ته راشي، خوداکار مانشو کولی زه محکمې ته هم ولاړم خوزما په لوري پريکړه ونه شوه.

مادجيب خرڅ اوتفريح لپاره پيسو ته اړتيا درلوده ځکه خو ديوه کار په لټه کې شوم، مايوازې دآسونو پالنه کولی شواى، ځکه خو دروم په طويلوکې کار راته پيدا شو يعنې دهغو طبيلو پاکول اونور.

له څه مودې وروسته دسکاټلنډله يوه تن سره بلده شوم هغه دانګلينډ تلوته وهڅولم. هلته د اسونو دټوپ وهلو اوځغاستې داتل " کيرولين بيډلي" په طويلو کې کار راته پيدا شو.

څوك خبر نه وو چې زه شهزادګۍ يم چې تقدير دغه ورځې هم راوليدې . څو کاله وروسته بريډلي مړ شو او ما په انګلينډ کې ديوه عکاس دمرستيال په توګه په کار پيل وکړ ،بيا ډيره وګرځيدم اويوځل بيا روم ته راغلم ،اوس مې لور ۱۳ کلنه شوې وه او اوس يې ماته دپاللو اوساتنې حق هم راکړل شوى و.

ته پوهيږې چې زه څه ډول ښځه يم ! په يو ډول طنزيه موسکايي خبره پاى ته ورسوله، د هغې سګرټ دانې د سګرټوله پاتې شونو څخه ډکه شوې وه،موږتوله ورځ چکرې ووهلې او خبرې موکولې ، تقريباً دښار په هره برخه کې مو موټر وزغلاوه يوازې دغرمې د ډوډۍ لپاره يوه رستوران ته ولاړو، حميراماته وويل تا ته يوزيري لرم ته دې سترګې پټې کړه.

چې کله مې سترګې وغړولې ضياء مجددي مې مخې ته موسکې

ولاړ و دازمایښتوانی دوست و چې حامدکرزي راسره معرفي کړی و.
نن سبایې په سانتیاګوکې دجلاوطنۍ شپې ورځې تیرولې ضیادراډیو
خبریال و.مایې په پښتو رکې په کورکې ډیر ساعتونه تیرکړي وو.

هغه دخپل هیواد دسیاست لوړې ژورې راته ویلې .په منځ منځ کې
به کرزي هم په څه خبرو رڼا اچوله .دوی دواړو په پښتوانیو قومي شخړو
هم تودبحث اوخبرې کولې،یوولس کاله وروسته نن مابیا ورسره ولیدل.

حمیرا چې خپله کیسه پای ته ورسوله نومونږ دیوي ګرمې قهوې
دڅښلو لپاره یوې کړکې. لرونکې کیفي "چای خوري" ته ورغلو لږ څنډه
وروسته دماښام هنګامې دشپې په رڼا ګانو بدلې شوې او له دې سره
خلك هم بدل شول. دمنځني عمر بیك په لاس کې ښځو اوخلکو ځای
ځوانو هلکانو اوپه چسپو پتلونوکې دسرو شونډو نجونو ونیو.

دقهوې له غوړپونو سره دکرسندو اوموزیك غږ مخ پرجګیدو شو.
دغه"کیفي" دښار شمال څنډې ته داپارتمانونو په لړ کې وه دسرك پورې
غاړې ته فلمینګ هوټل و چې د ۱۹۷۰ یمي لسیزي درواجي ودانیو په
ډول جوړ شوی و او تل به له جاپانې سیلانیانو ډك و چې کامرې یې په
غاړو کې ځړیدې اونومونه یې پرتیتر لیکلي وي.

دهغو بسونه لږ څنډه وروسته راتلل تشیدل اوډکیدل . له انګړڅخه
بهر شپږیا اوه ته ایټالوي پولیس ظاهراً بې پروا ولاړ وو. او دموټر و له
کړکیو نه یې د سګریټو ایره بهر ټکوله، دفلمینګ هوټل شاوخوا
دشاهي دربار دپلویانو لپاره دراټولیدو ځای و. دلته یې غونډې رواني
وي . لږڅنډه زه اوحمیرا هم ورغلو اوهلته مو دتورو عینکو خاوندان
لیدل چې سره ناست وو اوپرڅه خبره یې غورکاوه.

هغوي سګریټ هم څکول چې لوخړې یې په فضا کې خوشې کولې

. دحميرا دکاکازوی مصطفی هم په دې غونډه کې ناست و.

۳۸ کلن غوښن مخ، ګنجی سر شهزاده مصطفی ظاهر ډیر مهم سړی و، دغه خلك ټول دده په انتظار ناست وو، دی دپخواني پاچا تر چمان اوویاند و.

۸۷ کلن کمزوري پاچاخو له هر چا سره نشوای لیدای ځکه خو مصطفی ظاهر خلکو ته تر ټولو نژدې داړیکو سبب کیدای شو، هغه دطاووس په څیر په تیاره دهلیزکې یو موبایل فون په لاس کې اوبل غوږ ته نیولی سرګردانه قدم واهه ، یوتلیفون دقوماندانانولپاره ځانګړی شوی و اوبل دعامو خلکو لپاره و . هغه ناڅاپه ودرید ویې ویل:

ماد اوه ویشت ولایتونو څخه دټیلفون پیغام تر لاسه کړ هغوی راته وویل چې طالبان په چټکې سره په شاروان دي او ټول داعلیحضرت اطاعت کوي.

هغه په لړ ځند له کوم ګروپ سره کیناست ، بیا به جګ شو له کوم بل سره به کیناست، په منځ کې به چې دټیلفون زنګ اوچت شو نوجګ اوروان به شو.چې بیا به له کوم ګروپ سره کیناست نو خلکو به خپل دکار بار په باب کار تونه اونور دپیژند ګلوپانې ورته مخې ته کړې او غوښتل به یې دده پام ورواړوي.

خودده دننه کوم بل توپان را الوتی و ، نه یې دچا خبره اوریدای شوه اونه یې چا ته تر ژبې لاندې ځواب ورکولی شوای. په دې ځند کې به بل زنګ راغی موږ دده ناسته اوولاړه هم څارله او دخلکو په ناکراری هم پوهیدو.

دشهزاده مصطفی دپاملرنې جلبولو په لړ کې د دوبی څخه راغلی دتیلو دیوه شرکت استازی هم شامل و. دغه کمپنی غوښتل

دترکمنستان څخه دافغانستان اوپاکستان له لاري اروپا ته دګازو نل لیکه وغځوي. په هغوی کې په جینوا کې هستوګن یو مهاجر هم شامل و چې دزده کړې اوتعلیم متخصص و . هغه غوښتل چې د یوه هنري ښوونځي دجوړیدو امر واخلي.

دسانفرانسسکو یو تن وکیل هم و. چې پلار یې" کابل ټایمز" ایډیټ کاوه اوس دنوي افغانستان لپاره داساسي قانون دتدوین دخدمت لپاره راغلی و.

له هغوی ځینو سره چې ماخبرې وکړې دتیرو وختونو د درباري دسیسو اوغداریو کیسې مې سترګوته ودریدې، ټن دیرش کاله وروسته دهغوی یو څرك بیا ښکاره شو چې دجلا وطن پاچا اود هغه ملګریو لاسونو ته دواك دبیا ورتلو یو نامعلوم امید اوتمه راپیدا شوې ده. دغه ډلې څنګه ناڅاپي راپیدا شوې مشاورینو اودپاچا دکورنی. خپلوانو دوزارتونو . سفارتونو اونورو کرسیولپاره څرنګه لاسونه وغځول ، یوه تن چې زه دپاچا ددفتر له یوه مسؤول سره په خبرو ولیدم ماته یې په غوږ کې پټ وویل:

دده پرخبرو باور مه کوه، دده تره زما تره وژلی دی.

جنرال عبدالولي په کابل کې دخپل خسر دربار د اروپا دمځنیو پیړیو له دربار سره یو شان باله، په فلمنګ هوټل کې هم هغو عصري دریشیو ته له پامه پرته همدغسې ښکاریدل لکه هغه چې ویلي وو.

حمیرا دې ننداري ته په اندیښنه اوشك کتل ویې ویل: زما دبابا دغه وضعه نه خوښیږي. هغه دلته په روم کې خوشاله ژوند کوي. ساده ژوندیې دی، هره ورځ چکرته ځي، د" ویني تو" په لاره دې پیرس رستوران ته ځي اویوه پیاله قهوه څښي. " لي فګارو" او " پیرس میچ

" لولي اودسیګار اوږده اوږده کشونه کاږي. کله کله خپل فرانسوي ماډل موټر راوباسي اوچلوي يې ،باور وکړئ چې هغه دپاچهي دبیرته راګرځيدو هيڅ خبره هم نه ده کړې ، تل داوايي چې تر ماغوره سړئ را ولي چې هيواد اداره کړي، خوهيڅوك هم رامخکي نه شول.

موږ " په همدي بحثونو کې ووچې ميري هوټل ته ولاړ شواوکه دلته يوه نژدي ايراني رستوران ته ،دشپي ناوخته ډوډۍ وخورو ، چې په دې کې دحميرا دټيلفون زنګ اوچت شو. پاچا ويل چې موږ دواړه که بده نه منوهلته ورشو،ځکه چې امکان لري هغه په عادي جامو کې وي.

ماپه حيراني وپوښتل:

آيا همدا اوس؟ دهغه کورته يو ساعت لاره وه ترهغه وخته خو به نيمه شپه شي.

حميرا وويل:

هيڅ پروا نه لري . نن سبا هغه ډير نه ويده کيږي. کري شپه دسي ان ان خپروني ګوري . هغه پربمباري ډير انديښمن دي.

موږ په لوي سړك شمال لوري ته روان شو و. بيا اولګياتا لوري ته وروګرځيدو ،چې دا يوځانګړی اومستقل ځای دی چې ډير کوروڼه پکې دي له څلورو لوريودوحشي زيتون په ونوکې پټ دی، دغه کليوالي ځای دفلمي لوبغاړو دفټ بال دلوبغاړو اودسيسو لينا په څير دفحشا اوبد کاری دملکې غونډې کسب ګرو په سلګونو کوروڼه دلته دي دايي له نورې آبادی سره دومره امتيازي او ځانګړی ساتلي ده چې دبرېښنا پای يې هم شنې رنګ کړې چې دصنوبر دونو په څيرو ښکاري. دپاچا تر کوره پورې دري ځايه موږ له تالا شي او پلټنې تير شوو. په

وروستۍ کې یې په کانکریټي دیوال سرك ټړلی و. موږ موټر همالته پریښود.

حمیرا وویل:

دسپتمبرله ۱۱ مې وروسته زما دبابا په ژوند کې ډرامایي بدلون راغلی دی، بیا یې سرته جټکه ورکړه ویې ویل:

هغه له دې وضعې څخه ډیره کرکه کوي.

ایټالیوي پولیسو چې دوتلیو کسانو دساتنې لپاره کوم بندوبست کړی و بلکل مناسب و، هغوی په ځانګړې توګه خبریالان تر کلکې څارنې لاندې نیولي وو.

پرنړیوال سوداګري مرکز له حملې څخه دوې ورځې وړاندې دشمال ټلوالې قوماندان دپنجشیر احمد شاه مسعود دشمالي افریقا دوو ژورنالستانو وژلی و.

هغوی ځانونه دمراکش خبریالان بلل او له هغه سره دمرکې لپاره دننه تللي وو، دهغوی په کامره کې دننه یو بم ځای پرځای شوی و، چې کله کامره فلم اخیستو لپاره چمتو کړای شوه نویم خپل کاروکړ. په ۱۹۹۰ کال پخپله پاچا هم دوژنې له یوې هڅې څخه په ګرانه وژغورل شو. دا حمله هم یوه داسې چا کړې وه چې دخبریال په نامه یې له هغه سره وکتل.

خبره داسې وه چې یو پرتګالي مسلمان چې نوم یې " جوزې پالوسانتوس ډي المیډا" بېودل شوی له هغه سره اوږده مرکه وکړه چې له مرکې نه وزګار شو یو کندهاری خنجر یې راویوست چې دسوغات په توګه یې له کومه راوړی و اوویې ویل: زه اوس تاوژنم. هغه فکر کاوه چې دتې پرسر ګوزار به مرګونی وي خودپاچا په جیب کې چې

دسګرېټوډبۍ وو دهغو يو پوښ اوسپنيز وو . هغو دخنجر څوکه ونيوه اوپرې يې نښوده چې زړه ته يې ورسيږي . هغه په کرسۍ کې پروت وو وينې ترې بهيدې خوژوندی وو حميرا وويل: خندني خبره خوداده چې ډاکترانو مې بابا له سګرېټ څکلو څخه ايسار اوه خوده نه منله. لومړی به هغه دغې سايز " روميو جوليا تا هواناز" ډول سګرېټ څکول بيا يې دهغو پرځا ی وړوکې" سګاريلوز" څکول، دې دسګرېټوله پرېښودو څخه ځکه انکار کوي چې دده ژونديې ژغورلی دې.

دغه تورن وروسته بيادايټاليا دجيل چارواکو په دې دليل پرېښود چې هلته يې چلن ډير نيک وو.چې بياافريقا ته چيرته ولاړ اوبيې درکه شو. له هغه سره دقرانکريم له ټوکو څخه يو بکس ډک وو. ده له يوې پرتګالی اونيزې "ايکسپزيسو"سره په مرکه کې ويلي ووچې افغانستان ته دجهاد لپاره تللی وو.هلته اسامه بن لادن دی دشاه دوژلو لپاره وګوماره.

وروسته تردې يې دظاهر شاه امنيتي چارې ډيرې کلکې کړې. خودايې ددې لپاره وکړل چې د ترهه ګرۍ پرخلاف جګړه پيل شوې وه. دده کوريې د جيل په څير ساتلوځکه چې پاچا د القاعده لومړني نخښه وو. ځکه خوېې ۲۴ ساعته تر سختي پهرې لاندې ساته دې يې اوس د" ډي پيرس" رستوران ته دقهوې لپاره له تلوڅخه هم منعه کړی وو. اوشاوخوا يې دقدم وهلو بنديز هم پرې لګولی وو. شاوخوا په کورکې دننه اوبهر دايټالوي پوليسو پهرې ولاړې وې تر دې چې زه کورته ننوتم نوجامې يې راته ويلټلې.

دکورڅخه بهر اودننه په انګړ کې چراغونه بل وي اوبهر ونې کرې شپه رڼا وي هر ساعت يوځل دکور دپاسه هليکوپټر راګرځي.

شاوخوا ته چې کوم خلك اوسيدل هغوی به ډیر ویریدل يوه جاپاني کورنۍ له دې وضعې نه دومره په تنګ شوه چې له هغه ځا یه ولاړل.

موږ چې دننه ورغلو یو ډنګر دګنو سپينو بریتو خاوند چې د دوو کریمي رنګو جوړه کرسیو څخه پریوې ناست و. زموږ هرکلي ته راځګ شو دا پښتانۍ پاچا و. دی په عادي جامه پرتوګ اوکمیس کي نه و چې موږ ته یې ګوان کړي و بلکې نفیسه اوبې داغه دریشي یې پرغاړه کې وه اویوه وریښمینه نیکټا یې یې اچولې وه.

تور اوځلیدونکي بوټان یې په پښو وو. هغه په موسکا تو دهرکلي راته ووایه ،خپل دروند او با وقاره لاس یې راکړ او دپولیسو لخوا د درول شویو خندونو په اړه یې بخښنه وغوښته ویې ویل:

زه پخپله په کور کې بندي يم ده داخبري په فرانسوي ژبه وکړې چې په کابل کې درباري ژبه وه.

یوه فلیپیني پخوونکي په چیني پیالو کې شین چای راوړ. له هغو سره دکوچویسکټ اوچاکلیټ هم وو ما پر خونه یو نظر واچاوه . دا يو دځلورو دخوب کوټو درلودونکی " ولا" وه چې شانداره ماڼۍ هیځکله هم نشوه بلل کیدای، له یوه پخوانې تور،سور اوزرغون رنګي بیرغ پرته چې په یوه لویه ستنه را ځړیدلی و . دا دسرپټولو لپاره یو ساده کوروړ لکه کوم چا چې دسمدستې اړتیا لپاره کوم کور په کرایه نیولي وي اوخپل کور یې نه بولي غولې یې دلرګي و . څوبوټي هم لګیدلي وو. یو نوي سي ډي ږغوونکی هلته ایښی و . او څودقهوې سرمیزي بکسونه وو. په دې کې شخصي په شاه پورې اړوند څو تصویرونه وو چې په چوکاټونو کې پرمیز ایښي وو. په هغو کې دلویو

پګړیو خاوندان دپاچا دکورنۍ پخوانۍ مشران هم ووچې یو پکې د احمد شاه ابدالي تصویرو.

ظاهر شاه داحمد شاه په څیر حریص نه دی. هغه ته پاچاهي په ۱۹ کلنۍ کې ورسیده یعنې پرې وتپل شوه. دی یې له پاچا هي نه څلور کاله پخوا داتکل پرخلاف د ولي عهد "جانشین" په توګه وټاکه.

پاچا په ۱۹۱۴ م کال کې د دراني کورنۍ دیوه اړخ په قبیله کې وزیږیده هغه مهال یو، افغانستان کي دفتنو زمانه وه چې د راوروسته ډیرو پیښو اصلي سببونه یي برابر کړل دده پلار جنرال نادر خان دپاچا حبیب الله خان د پوځونو ستر سالار و. ویل کیږي چې پاچا د هرې سیمې څخه یو ه یوه ښځه کړې وه،چې چیرته یي دواده امکان نه و له هغه ځایه یي کومه ښځه دوینځې په څیر په زور ورسره راوستې وه چې ټولې قومي ډلې په دې ډول تر خپل کنترول لاندې وساتي.

دده دزامنو شمیر تر ۳۵ تنو زیات و. لوراني یې پردې سربیره وې. ظاهر شاه پنځه کلن و چې حبیب الله خان ووژل شو. هغه په هغو ورځو کې جلال آباد ته دښکارلپاره تللی و، دشپې په تیاره کې چاپه خوب ویده وواژه . نادر شاه یې په لومړنیو نیونو او پلټنو کې بندي کړ، خوځه موده وروسته یې بیرته خوشې کړ او بیا یې دپوځ مشري وروسپارله.

دا کار دده لرې خپلوان اوناسکه دکاکا زوی پاچا امان الله خان وکړچې دحبیب اله خان له زامنو څخه یو و. داسې ویل کیدل چې پلار یې پخپله ده په یوه دسیسه کې وژلی دي. اودې دې کارته خپلې مور لمسولی و.

پاچا امان الله خان دهیواد په مختلفو برخو کې قومي پاڅونونه په

کلکه وځپل ، اود ۱۹۱۹ په مې کې يې پربر تانوي هند ناڅاپي حمله وکړه.چې بيا د افغان - انګليس دريمه جګړه ونښته

ددي جګړې هدف دا وچې افغانستان خپله بشپړه خپلواکي واخلي او دډيورنډ کرښې اودسنددسيند شاخوا سيمې بيرته تر لاسه کړي. چې داتولې يو وخت دافغانستان سيمې وې.

دناڅاپي حملې يوه ګټه داوه چې دنادر خان پوځونو په پيل کې کاميابي ترلاسه کړې، په تيره داچې د خيبر اوسرحد په مليشو کې شامل زيات پښتانه له افغان پوځ سره ملګري شول خوبيا برتانوي هند دجګړې دايره پراخه کړه، " رايل هوايي ځواکونه" يې را وغوښتل چې په لومړۍ نړيواله جګړه کې يې برخه اخيستې وه اوډير شهرت يې ګټلی و. ځکه خودې الوتکو دختيځ افغانستان په لوړو غرونو د پاسه الوتنې وکړې اوپرجلال آباد او کابل يې سختې بمبارۍ وکړې چې افغانانو يې هيڅ اټکل نه و کړی.

داپر افغانستان لومړنۍ هوايي بمباري وه. يو بم دامان الله خان دبابا امير عبدالرحمن پرمزار راپريوت چې پاچا ډير پرې خپه شو.

ځکه يې دهند واسرای لارډ چيمفورد" ته دټلګرام په واسطه کلك احتجاج وکړ. په هغو کې يې وليکل: دادافسوس ځای دی چې پر لندن دمتحدينو بمباري وحشيانه عمل بلل کيږي اوپرعبادتځايونو بمباري دير کرغيړن عمل ګڼل شوي اوغندنه يې کيږي. په داسې حال کې چې موږ دسر په سترګو ګورو چې دغسې عمليات دلويديځ دمهذبو خلکو عادت شوي دي.

طالبان ډير کلونه وروسته وپوهيدل چې لکه څنګه چې امان الله خان د وژونکيو وسلو ځواب نه درلود همدغسې دوی هم دامريکا يي

اوانګلیسي هوایي ځواکونو په وړاندې بې وسه وو. برتانیې داشوق نه درلود چې په دې جنګیالي اولس پسې دنګو غرونو ته ورشي اوویې وژني ،هغوی په لومړۍ نړیوالې جګړې پسې سمدستي وروسته داسې پوځې عملیاتو ته چمتو نه وو ځکه چې په هندوستان کې هستوګن انګریزي پوځ خپل ډیر ماهر پوځیان له لاسه ورکړي وو اوددوي پوځونه تر اوسه پوري ستومانه وو. بالاخره دواړه لوري خبرو اترو ته تیار شول چې بیا دراولپنډۍ تړون وشو دهغو له مخې برتانیه دافغانستان دبهرني سیاست له کنترول څخه لاس پرسر شوه . هلته یو افغان پلاوی له آموڅخه پورې ووت اومسکو ته ورسید او له بلشویکانو سره یې ددو اړخیزو همکاریوتړون لاسلیك کړ.

دغه تړون دافغانستان اوروسیې ددوستۍ پیلامه شوه. وروسته بیا روسیې افغانستان ته الوتکې په تحفه کې راواستولې اودغه دوستي یې تازه کړه.

له دې سره یې پیلوټان او تیلیګراف ماهرین راواستول چې په راتلونکیو څو کلونو کې روسانو دکابل- کندهار، هرات اومزار شریف ترمنځ دتلیفون مزي وغځول.

امان الله خان ډیر ه مینه درلوده چې " انقلابي پاچا" وبلل شي اوهغه دتر کیې دکمال اتاترك سخت پلوی اوستایونکی و . نوموړي په کلکه دا هیله درلوده چې داتاترك په پیروي له افغانستان څخه دقومي اختلافاتو اوجګړه مارۍ پرځای یو پرمختللی اونوی قوم جوړکړي دی لوري ته یې لومړی ګام دملي اردو جوړ ول وو.

چې دهغو لپاره یې له تر کیې څخه پوځي مشاورین راوغوښتل .

دهغو په راتلونادر شاه ډیر په غوسه شو ځکه چې دمشاورینو یوه

مشوره داوه چې دپوځ تنخواه کمه کړي. پردې سربېره يې نورهم داسې اصلاحات پیشنهاد کړل چې دسپاهیانو په منځ کې يې مايوسي خپره کړه امان الله دنيوکې زغملو توان نه درلود هغه په ۱۹۲۴ م کال له نادر شاه څخه دپوځ قومانده بيرته واخيسته او هغه يې پاريس ته دسفير په توګه واستاوه. لږ ه موده وروسته دهغه صحت خراب شو او دفرانسې جنوب ته دعلاج لپاره ولاړ.

افغان واکمن له وخت سره يوځای تلو سره عادت نه دي دهغو يو ثبوت نن طالبان وو.چې غوښتل يې هيواد يې بيرته دمنځنيو پيړيو لورته بوزي په داسې حال کې چې امان الله خان غوښتل افغانستان له خپل وخت نه وړاندې بوزې

چې کله روغ شو دخپلو اصلاحاتو لړۍ يې پيل کړه د ۱۹۲۷ م په دسمبر کې تهران اواستانبول ته ولاړ . بيا يې يو اته مياشتنی اوږده سفر پيل کړ چې په هغو کې روم . پاريس . لندن. بروکسلز اوبرلن ته ولاړ. کور بانو دده اودده د هوسی سترکې ملکې ثريا دومره عزت اوقدر وکړ چې تر اغيزې لاندې راغی اوغوښتل يې افغانستان دلويديځ په رنګ کې رنګ کړي: چې هيواد ته راستون شو دزده کړې مخلوط نظام، دواده لپاره دکم عمر اودپردې لرې کولو اعلان يې وکړ.

ملکې ثريا پرده لرې کړه اوعام حضور ته راووته دا امريې وکړچې دکابل په هره رسمي غونډه کې بايد خلك پتلون اوکورتی واغوندي اوشپوخولی پرسر کړي.

دده رقيبانو په مخالفت لاس پوري کړ دده اسلام دښمنه کارونه يې کلك وغندل دا آوازې يې هم خپرې کړې چې امان الله خان له لويديځ څخه داسې ماشينونه راوړي دي چې د مړيو څخه غوړي

وباسي اوصابون ترې جوړوي.

دجلال اباد قبايلو په ۱۹۲۹ م کال کې بغاوت وکړ، هغوی پردې ډير په غوسه نه وو چې هيواد عصري کوي دنوي ماليې په باب په غوسه وو.چې دبغاوت سپرغۍ بله شوه نوبيا بير ته ګرندۍ خپره شوه. امان الله خان دهغوی دخپلو لپاره پوځ واستاوه، خوزيات پوځيان له پاڅون کوونکيو سره ملګري شول چې دکابل حکومت ته دالوی ګواښ شو، له ختيځ څخه قومي لښکر چې دکابل په لور راوخوځيدنو امان الله خان دخپل مشر ورور سردار عنايت الله خان لپاره له پاچا هي څخه لاس پرسر شو او په خپل موټر کې دکندهار په لور وتښتيد. هغه مهال دی پردې نه پوهيده چې په خام سرك په هسکو ټيټو لارو کې دغه موټر مناسب نه دی ځکه خودوی په واورو کې ونښتل.

دعنايت الله پاچهي يواز درې ورځې دوام درلود.

دغلو يوه تاجك مشر دسقاو زوی چې په هيواد کې اړدوړ وليد سمدستي يې تخت ونيو. امان الله خان قومونه راټول کړل اوغوښتل يې چې بيرته واك لاس ته راوړي خو ناکام شو اوبيرته وتښتيد. داخل يي په برتانوي هندکې پناه واخيسته. چې له هغه ځايه په بيړۍ کې ايټاليې ته ولاړ، هلته ځکه ولاړ چې تير کال يې چې اروپا ته توپاني سفر کړي وُ روم ته په وررسيدو دايټالي پاچا وکتور امانويل بيړه وکړه اوده ته يې دهغه هيواد تر ټولو ستر وياړ" آرډر آف هولي اي نن سي ايشن" ورکړي وُ چې له هغو سره ډير امتيازونه تړلي دي.

له هغو جملي څخه ددې وياړ خاوندان د"پاچا دعمه زوی" بللی کيږي ) نوچې کله دغه دعمه زوی دايټاليې پرساحل پلی شو پاچا له دې پرته بله لاره نه درلوده چې سياسي پناه ورکړي ځکه خوهغه تر

۱۹۶۰ م پورې تر خپل وفات پورې هلته پاتې شو.
نادر خان ته چې دوضعې خبر ورسید سمدستي هندوستان ته راغی ، په پیښور کې یې دخپلو ورونو ځواك یوځای کړ اوپه ډینز هوټل کې یې مرکز جوړ کړ. پښتنو دتاجکو د واکمنې څخه ډېره کرکه درلوده ، هغوی نو دسقاو دزوي حکومت چیرته زغملی شوای چې په حکومت کې یې یوازې خپل تاجك ملګري ټاکلې وو.
هغوی زیاتره نالوستي وو چې په وژلو او لوټ اوتالان به بوخت وو. ددوي بدو کړو وړو دنادر شاه کار آسانه کړ ، هغو په لږه موده کې دپښتني قومونو لوی لښکر تیار کړ. پرکابل یې دوه ځلې حملې ناکامې شوي د هغې سبب داؤ چې قبایلو خپل انتقام اخستل پیل کړل. نادر شاه نور پوځ تیا رکړ اویو پټ اخبار "اصلاح" یې خپور کړ په پلازمینه کې یې هم ډېر خلك دخان ملګري کړل. دغه اخبار وروسته درسمي دولتي اخبار بڼه خپله کړه په ۱۹۲۹ کال داکتوبر په لسمه د سقاو دزوي تخت رانسکورکړای شو. په دې ډول هغه یوازې ۹ میاشتې واکمني وکړه.
زیاترو افغانانو له نادر شاه څخه داهیله درلوده چې خپل عزل شوی تره دامان الله خان" به بیرته راو غواړي اوپاچهي به وروسپاري ، خو نادر خان خپله پاچهي اعلان کړه اودسقاوزوی یې له ملګریو سره په ګولیو وویشتل اوویې وژل.
چې واك یې په لاس کې واخیست وپوهیده چې خزانه تاجکانو تشته کړې ده اوډیر ی لږ پیسې پکې پاتې و. تر اوسه پورې دامان الله خان دپلویانو وفاداري لاسته راوړل لاپاتي وو.
څکه خوده خپل قبایلي پوځ ته اجازه وکړه چې په کابل کې

لوټماري وکړي. دي کسانو ته چې ډيرې پيسې په لاس ورغلي جيبونه يې ډک کړل او په خپله مخه ولاړل.

چې کله پوځ هم پاتې نشو پيسې هم نه وې نود واکمنۍ لپاره به يې له چا نه دملاتړتمه کړې وای.

ځکه خوبلکل خپلسری واکمن ترې جوړ شو چې څه يې په ذهن کې ورغلل همغسې يې وکړل. د ۱۹۳۱ م کال په جنوري کې په کابل کې دبرتانيې سفير" رچرد ميکوناشي" لندن ته په خپل يوه استولي ليک کې ليکلي:

په هيواد کې دخپرې ګډوډۍ ګټې تر زيانونو څخه ډيرې خوښول کيږي قومونه اوس دا فکر کوي چې په تير کال کې لاسته راوړې آزادې ولې له لاسه ورکړو اومرکزي حکومت ته تسليم شو؟

حکومت خوجبري ماليه، ګمرکي محصول اوخپلو افسرانو ته درشوت غوښتنې هم پيل کړي دي ، داهم امکان لري چې موږ له سرکاري وسله تونونو او پوځي چونيو څخه کومې وسلې تر لاسه کړې وې هغه بيرته حکومت رانه ټولې کړي

رډيا رکپلنګ ليکلي دي:

تر ښځنې" فاحشې" پرمار ډير اعتماد وکړه، خوتر افغان پرښځنې زيات اعتماد کوه.

دافغانانو انساني تاريخ دوژنو اودوکه بازيو له کيسو څخه ډک دی،ځکه خو هغه حياناك او زيارکښ زده کوونکی " ظاهر شاه" چې ناخاپي ولي عهد غوره کړای شو خوښ نه و.

ده دځواني زيات کلونه په فرانسه کې تير کړل ، هلته دی دفرانس دشوري chamber of Deputies ديوه غړي له کورنۍ سره اوسيده،

چې په "لانسي پاسچر" اوډي مانتې پلاير کالج کې يې زده کړې کولې هلته ده د موليرا اوډوماز آثارو لوستل . دپارلماني جمهوريت په باب يې مطالعه وکړه اودعلمي بحثونوداوريدو لپاره دکلتوري ټولنې غوندو ته ورتلو چې پلار يې پاچا شو بيرته کابل ته راغی اوپه حربي پوهنتون کې شامل شو.

د۱۹۳۳ کال نومبر په اتمه ددلکشا ماڼۍ په مراسمو کې يې ګډون وکړ ددلکشا ماڼۍ يوه انګريزي دودانيو ماهردحبيب الله خان لپاره ډيزاين اوجوړه کړې وه .نادر شاه په هغو ورځو کې نوي ښوونځي بيرته پرانيستي وو چې تکړه زده کوونکيو ته به يې انعامونه ورکول نادر شاه يې خپل زوی وروغوښت:

ظاهره بچيه دلته راشه!

شهزاده دپلار په دې غږ حيران شو . پلار يې زوی دومره ځان ته ورنژدې کړ چې دهغه دخوښې عطرو "تبا ك" وږمې پرې ولګيدې هغه په خوښۍ وويل:بچيه زه درباندې وياړم ته زما ښه زوی يې بيا نو پلار اوزوی غاړه غړۍ هلته ولاړل چې پوځي موزيك غږيده .چې څنګه دوی پر کرسيو کيناستل درې ډزې وشوې په پيل کې زوی پوه نه شو چې داڅه وشول؟

بيا يې دپلار پرسترګيو " عينکو" سرې وينې وليدې چې له دې سره هغه په کرسۍ کې ړنګ شو ظاهرخان دپلار په پښو کې ورغوځاوه په دې کې دده له ترونو څخه کشري شاه محمود دې په څيره وواهه اوورته ويې ويل:

ظاهر ه ! دا دژړانه دهيواد دژغورنې وخت دی

دهمدې ورځې مازدېګر په څلور نيمو بجو دتوپ ډزې وشوې

اواعلان شو چې دنوي پاچا پرسرتاج کیښودل شو.

په کابل کې دځای ناستي مساله کله کله سوله ییزه حل شوې ده ،دشهزاده دترونو په زړونو کې به خامخا دواکمنۍ تمې اوحرص غزونې کړي وي ځکه چې له تیرو دوو لسیزو راسې ټولې معاملې دهمدوي په لاس کې وې.

دځوان پاچا لپاره دا ډیر له ستونزو ډك وخت وځکه چې هغه په فرانسه کې په انځورګرۍ اوفرانسوي کلاسیك ادب لوستووخت تیر کړی و.

هغه پردې خبر نه و، چې تل له یو بل سره په جګړو بوختوقومونه به پاچا هې څنګه کوي؟ هغه خبرې پیل کړې وې ویل:

ماهیڅکله نه غوښتل چې پاچا شم" دده دځلوېښت کلنې پاچهي دوره هیڅکله هم دافغان تاریخ کوم زرین تاریخ نه دي".

په افغانستان کې ستونزمنه خبره دقومونو ترمنځ دتوازن ساتل هغوی له یو بل سره همغږې اومتحد ساتل او له مصیبتوڅخه ژغورل دي.

په دومهم ګام کې دسیمې په سطحه دقدروتونو ترمنځ دتوازن ساتل دي، زموږ شمال لوري ته شوروي اتحاد یا اوس دمنځنی اسیا ریاستونه دي ،ختیځ ته چین . جنوب ته پاکستان اولویدیځ ته ایران پراته دي .افغانستان ډ یر وړوکی خومغرورهیواد دی ، ځکه خوټول ګاونډیان هلته په لاسوهنه کې هڅه کوي ، دساري په توګه طالبان وګورئ هغوی اصلاً افغانان نه وو بلکې پاکستاني اوعربان دې ځکه دابهرنی لاس دی چې په موږ پسې دي په داسې حال کې چې موږ ته آزادي تر هرڅه زیات ارځښت لري.

داسمه ده چې چې زموږ دخپلواکي په ساتلو کې زموږ دهیواد جغرافیا وي موقعیت هم لوي لاس لري، دا له غرونو ډکه سیمه ده چې تاسو برتانویان تر هر چا پرته ښه پوهیږي.

پردې خبره موږ ټولو په کرس کرس وخندل، ځکه چې دواړو ته دخپلو سل کلنو اوږدوجګړو داستان رایاد شو.

موږ داسي خلك یوچي خاوري ته موځوك دننوتو لاره نشي کولي. موږ داسي ځایونه لروچي کلونه کلونه پکي پټیداي شو اوله نوي ګروپ سره یې برته راوتلي شو لږ خوته دغه اسامه بن لادن ته وګوره، څومره دآشنا ځیري خاوند دي، هغه دومره مشهور شوي دې چې ښایې دبل چا په برخه دومره شهرت نه وي بیا هم دنړۍ تر ټولو ځواکمن پوځ خپل ټول زور ولګاوه خوویې نه موندلو زموږ په غرونو اودروکې دهغه لټول داسي دي لکه دوښویه خره کې چې ستن لټوي.

•••

پاچا د۱۸۴۲ کال پیښې حواله ورکړه چې شپاړس زره برتانوي پوځیان اودهغوی دکورنۍ غړي له کابل څخه دشاتګ په وخت کې وژل شوي وو اوخپلوخبروته یې دوام ورکړ.

زموږ وطن دومره سختې لاري لرې چې کله تاسو انګریزانو خپل پوځ له توپونو او وسلو سره دغرونو په سرونو اوکمرو کې ناستو افغانانو سره دجګړې لپاره واستاوه نوهغوی ډیر په اسانه دوي نخښه کړل. ځکه چې هغوی په دې غرونو ،ترو او کندوونو کې پل پریل بلدوو. لکه ښکار چې په خپله دام ته راغلی وي،چې هر وخت له بهرڅخه زموږ دهیواد دنیولو په نیت څوك راغلي دي همدغه یې برخلیك شوی دي.

موږ تل توازن ساتلی و ، چې که یوځواک حمله کړې ده بل دمرستې لاس راکړی دی همدغه سبب و ، چې ماته په دوهمه نړیواله جګړه کې تر ټولو ګرانه پریکړه داوه چې اتحادي ځواکونو ۴۸ساعتونه افغانستان ته التیماتوم ورکړ چې موږ خپله بې طرفي پرېږدو او ددوی ملاتړ وکړو اودجرمني دسفارت غړي دوی ته وسپارو یادې دایران په څیر دحملې انتظار وکړو ، موږ دخپلې بې طرفی تل دزړه په وینو ساتنه کړې ده، لکه موږ چې په لومړی نړیواله جګړه کې وښوده.ځکه خو مالویه جرګه راوبلله چې اولس پخپله پریکړه وکړي.

جرګې پریکړه وکړه چې هرڅومره خطر وي موږ باید خپله بې طرفي وساتو. دا دافغانانو لپاره د اصولو معامله ده،چې زموږ کره کوم میلمه وي باید کلکه ساتنه یې وشي. موږ جرمنیان دوي ته نشواي سپارلي. اونه دهغوي اسناد ورکولاي شواي، خوموږ په درناوي ورته وویل چې دپلوماتان او پروګرامونه یې محدود کړي.

البته کله چې ظاهر شاه بوډا شو دخپل هیواد دادارہ کولو لپاره یې څه پریکړې وکړې ، هغه په ۶۴-۱۹۶۳ م کال یوه بله لویه جرګه راوبلله اوبه هغو کې یې داسې پاچاهي نظام اعلان کړ چې دبیا ن آزادي ، دسیاسي ګوندونو جوړولوحق اود نجونو اوهلکانو لپاره تر منځنیو زده کړو پورې زده کړه وړیا اوضروري بلله اوښځو ته یې دراییې حق ورکاوه.

هغه ویل:

موږ دبشري حقوقو مراعات کاوه، دښځو او نارینه وو حقوق برابر وو. هغوی په حکومت کې هم دکار حق درلود، هغه ټول شیان ووچي نن یې ډیري ډنډورې دي.

هغه راته وویل:

په آریانا هوایي شرکت کې موږ لوڅمځې ښځې میلمه پالې اوخدمتګارې درلودې. په کابل رادیو کې ښځې نطاقانې اوپه نورو برخو کې شاملې وې اوملګروملتونو ته موهم په استازیوکې ښځې استولې وې. دا بیابیله خبره ده چې مذهبي کړی پردې کارونو ډیرې پاریدلې وې.

پاچا ډیر محتاط سړی و، اوډیر شمیرلي ګامونه یې اخیستل خو امریکا یانو بیا دي داصلاحاتو په راوستو کې پرغفلت اوبها نو لټولو تورن کړی و، تردې چې دې یې یومکر جن سړی باله. دامریکا دبهرنیو چارو وزارت سیاسي آتشه "چارلس ډنبر" دده داعلان کړي اساسي قانوني په اړه چې کوم پیغام مخابره کړ ی و، دی یې په هغو کې دي اقتصادي اصلاحاتو په مخه کې ستر خنډ بللی و.

هلته په ۱۹۶۵ کال څوترقي خوښو محصلینو اولیکوالانو دغه اصلاحات کافي نه بلل اوپه هیواد کې یې لومړنی کمونست ګوند "دخلکو دیموکراتیك ګوند" بنسټ کیښود. چې ډیر زر په خلق اوپرچم دوو ډلو وویشل شول.

دلومړي ګوند مشر نورمحمد تره کي اوددوهم ببرك کارمل و.

څومره چې اقتصادي وضعه خرابیده د محصلینو مظاهرې او احتجاجونه زیاتیدل. دمذهبي اوکمونستي ګوند ونو ترمنځ څوځلې ټکر ونه راغلل. چې دهغو په نتیجه کې پلازمینه عملاً فلج غونډې شو. پردې برسیره درې کاله پرلپسې وچکالي راغله اوپه ۱۹۷۱ م کال سخته کاختي راغله. په دې ډول وضعه لا پسې خرابه شوه ، ددې پیښوپه اړه ظاهرشاه وویل:

زه چې کله شاته گورم نوداسې گڼم چې اصلاً خرابي له دي نه راغله چې افغاني زلميان مو روسيې ته دزده کړو لپاره واستول، دغه بې تجربې اودخام ذهن هلکان په اسانۍ دکمونيستي تبليغاتو تر اغيزې لاندې راغلل ،چې بيرته راستانه شول دخپلو نظرياتو تبليغ اوخپراوی يې پيل کړ خوافغان اولس هغوی ورټل هغوی پخپلو کې هم له يو بل نه مخ واړاوه دغسې دوی چې هرڅه ردول دوی پخپله رد اوورټل شول.

پردې سربيره دظاهر شاه دنوي اساسي قانون يوې مادې شهزاده داود دده دکاکازوي دده په لوی دښمن بدل کړ دا ۲۴ مه ماده وه چې دهغې له مخې دشاهي کورنۍ هيڅ غړي حق نه درلودر چې وزارت واخلي چې ددي مطلب داوچې دشاهي کورنيوغړيو ته داقتدار يوازينی لاره داوه چې تخت ونيسي، کله چې داود په افغانستان کې داحتمالي انقلاب دخبر ورکولو لپاره خپل استازی امريکا ته واستاوه هغه ته يې ځواب ورکړ چې موږ ته دا ارځښت نه لري چې په کابل کې دچاواکمني وي؟

د۱۹۷۳ کال دجولاي په ۱۷ مه داود په کابل کې دظاهر شاه له غير حاضری څخه گټه اوچته کړه اود څو سوه تنه پوځيانو په ملاتړ يې ارگ ونيو، پخوانې پاچا چې روم ته دسترگو دعلاج لپاره راغلي و دحميرا دپلار سردار عبدالولي په شمول ځينو مشاورينو دانظر وه چې پاچا دپاچهي نه دلاس اخستو پرځاي بايد خپل ځانگړي گارد ته دمقاومت قومانده ورکړې واي، خوهغه چې په ټول ژوند کې په يوه سوله خوښی اوامن ناك سړي مشهور و، هغه مهال وويل:

ماغوښتل چې دوينو تويو لو مخه ونيسم.

دې سړني هغه مهال اقتدار په لاس کې واخیست چې پرجرمن دهتلر واکمني وه اوموسي ليني دايتاليا ديكتاتور وء. غالباً اوس هغه دا احساس کړي وه چې زه په يوه بیل دوران کې ژوند کوم.

په روم کې هغه تقریباً دنوموړکی ژوند تیر وي زیاتره په کورکې دننه په قطعو اوشطرنج لوبو ځان بوخت ساتي.

حمیرا وايي: په لوبوکې هغه ډیره دوکه بازي کوي، هلته چې څومره وخت تیریدو له کابل څخه دشاهي مانۍ د فاتحانو یو پربل پسې په بي رحمۍ دوژنو خبرو نه راتلل.

لومړی په ۱۹۷۹ م کال انقلاب راغی چې په هغو کې له داود سره دهغه دکورنۍ نو رغړي ووژل شول. دغه انقلاب پخپله دده پوځ راوست چې دده هوايي ځواکونو پرارګ حملې وکړې او دوی يې ووژل ،پرځای يې نورمحمد تره کي راغي چې دخلق ديموكراتيك ګوند دبنسټ ايښودونكيو څخه وء. هغه غوښتل دکمونست ګوند پرځای داسلام بیرغ وریوي (امکان لري دغه جمله برعکس وي ځکه چې واقعيت همدغسي وء "ژباړن ) خوډير زيات مذهبي مشران اوعلمي اومسلكي خلك يي دځرخي پله جيل ته اچول، هغه اصلاً خپل اقتدار تينګاوه، په نوي حكومت کې ده ته " ستر لارښود" لقب ورکړ شوی وء.

ډير افغانان وويريدل خولومړی ستر غبرګون له هراته راپورته شو چې هلته يې نژدې سل تنه روسي مشاورين دخپلو کورنيو له نوروغړيو سره ښار په منځ کې راوايستل اوویې وژل.

پردې دمسکوچارواکوسمدستي غبرګون وښوداوټانکونه او الوتکې يې ورواستولې ښار يې پربل مخ واړاوه چې په زرګونو کسان پکې ووژل شول د ۱۹۷۹ په اکتوبر کې تره کي پخپل کورکې مړوموندل

شو د هغه پرخوله بالښت ورایښودل شوي اووژل شوی و.

دده پرځای حفیظ الله امین شاهي مانۍ ته راغی چې پرهغه هم غلچکي برید وشو خوبچ شو. تردې وړاندې هم کاجي بې دوه ځلې پرهغه حملې کړې وې چې ناکامې شوې وې په ۱۹۷۹ کال دکرسمس په جشن کې روسي کوماندو دخپلو پوځونو دحمایې لپاره دکابل هوایي ډګر کلابند کړ ، امین فکر کاوه چې دادده دملاتړ لپاره راغلي دي ، خو ددسمبر په ۲۷ مه په زرګونو نور روسي پوځونه له آمو څخه را تیر شول اوکوماندویي ګروپ لومړنۍ ډزې دامین پر مرکز وکړې تر دې وړاندې یې پرده دزهرو خوړلو هڅې هم وکړې ،خوناکامې شوي بالاخره یې امین تري تم کړ اودکمونست ګوند دویم بنسټ ایښودونکي د۸۵ زره روسي پوځونو سره کابل ته راغې اوجمهور رئیس شو. دروسانو دغه دعوه چې ددوې پوځونه دکابل دچارواکو په غوښتنه هلته تللي دي په ټوله نړۍ کې په ملنډو اومسخرو استقبال شوه اوپه کلکه وغندل شول کار مل تر ۱۹۸۵ پورې همدغسې واکمن و بیا یې دعلاج په پلمه شوروي اتحاد ته یوړ.چې بیا هیڅکله بیرته رانغی.

دهغه پرځای یې نجیب الله واکمن کړ هغه دخپلسري .ضدي طبعې اوغټ بدن له امله په سنډا " غوایه" مشهور و.

خوداټکل پرخلاف چې ویل کیدل دا دڅو شپو میلمه دی ډاکتر نجیب په ۱۹۸۹ مې کې دروسي پوځونو له وتلو وروسته هم لامقاومت کاوه په ارګ کې چې څومره وژنې اومرګونه وشول په هغو کې د ډاکتر نجیب دواکمنۍ دوره تر ټولو زیاته ویروونکې وه دی په ۱۹۹۲ کې هغه وخت له اقتداره لرې کړای شو چې مجاهدینو کابل ونیو.

نجیب دطالبانو په لاس دکابل ترنیولو پورې دملګرو ملتو په دفتر کې پناه اخیستي وه. دی یې دعبرتناك مرګ لپاره لومړي ارګ ته یووړ. چې یو وخت هلته واکمن و. هلته یې لومړی یوې پخوانۍ دخوب خونې ته بوتلواوخصي یې کړو. وروسته یې په یوه لندکروزرموټر پسې وتاړه اوپه کوڅو یې راوګرځاوه اوبیا یې د ترافیکو دغرفی په یوه پایه راوځړاوه چې عام خلك یې ینندارہ وکړي اوعبرت ترې واخلي.

په افغانستان کې چې هر وخت څه ګډوډي راغلې او یا بحران سخت شویدی لکه دروسي پوځونو له بیرته وتلو وروسته چې مجاهدین پخپلوکې سره ونښتل یو چا به دظاهر شاه دبیرته راتلو غوښتنه کوله. خو ددې غوښتنې په مقابل کې دهیواد دننه اوبهر مخالفتونه هم وو چې دپاچاهی دبیرته راتلو خبره به ورته کیدله دوي به غوږونو ته لاسونه یوړل.

ایران چې په خپل هیواد کې یې دپهلوي کورنۍ پاچهي له منځه وړې وه په خپل ګاونډي هیواد کې یې دپاچهي نظام بیا راتلل نه خو ښول، په داسي حال کې چې پاکستان چې اوس هم په افغانستان کې ددوست حکومت دراتلو خوبونهویني ویره یې درلوده چې د دراني کورنۍ په بیا راتلو به دپښتونستان اوستر افغانستان خبري بیا را پیدا شي ډیر افغانان په تیره شمال تلوالې افغانستان ته دپاچا دبیا راتلو دغوښتنې په اوریدو غوسه کوله. ددغه اتحاد یو فعال غړي ډاکتر عبدالله چې په اوسني حکومت کې دبهر نیو چارو وزیر دی په غوسه کې پوښتنه کوله:

ظاهر شاه په جهاد کې کوم رول درلود؟

مایوه ورځ له هغه سره پردې مساله خبرې کولې . هغه راته

وویل:

ظاهر شاه یې کورته راتلای اوبیرته تلای شي دهغه په راتلو به غوغا پورته شي خوهیڅ به ونه

پاچا پخپله هم بیرته وطن ته دستنیدو هیلې پرینبې وې

که څه هم ده ماته وویل چې دخپل لمسي په څیریي دخپل وطن خاوره په یوه بوتل کې ساتلې چې له خپلې بسترې سره یې وي هغه راته وویل:

داله کندهار څخه راوړل شوی ریگ دی چې هلته دپاچهی ریښې اوس هم شته.

خوچي د ۲۰۰۱ م کال په نومبر کې دطالبانو دواکمنۍ ورځ وکرځیده اوزیات خلك په ۱۹۹۲ کال دمجاهدینو دواکمنۍ دوختونو د له بد مرغیودبیا تکراریدو په ویره کې وو.

دافغانستان لپاره دمتبادل نظام فرصت په توندی سره پای ته رسیدو نویوځل بیا دظاهر شاه بیرته راتلوخبرې تودې شوې کوموخلکو چې دوینو تویولو او مرګونو وختونه لیدلي وو هغوی ته د ظاهر شاه دواکمني وخت دافغانستان دتاریخ زرین باب ښکاریدو. په داسې حال کې چې په افغانستان کې منځنی عمر ۴۲ کاله وي پخواني ډیر لږ کسان پاتې دي مایه کویټه کې دستلایټ ټاون په سیمه کې هغه پوسترونه پخپله لیدلي دي چې دپاچا دبیرته راتلو غوښتنې پکې شوې وې.افغانان چې هر چیرته وي دخپلو ځانګړیو روایاتو له مخې یو له بل سره په جګړو اوجنجال کې وې دکویټې په مختلفو کوڅو کې دپاچا دمخالفینو دفترونه هم شته. هغوی په دې مساله سره لاس اوګریوان هم وي. په افغانستان کې دملګرو ملتو نوځانګړي استازي فرانسس

ویندرل دظاهر شاه دبیرته ستیندو په وضاحت کې ویل:
پاچادتیر څواکمن او په امن کې افغانستان یو خوب دی هغه یو ازيني مشر دی چې افغانانو ته یې هیڅ زیان نه دی رسولی.
له دې څخه دامعلومیدل چې دفلمینګ هوټل نه بهر د اعلیحضرت دملاقات لپاره دخلکو ګڼه ګوڼه ولې زیاته ده؟
دامریکا دجمهوري ریاست اوبرتانیې د بهرنیوچارو وزارت استازي" اولګیاتا" ته استولي وو اودملګرو ملتونو سلاکار اخضر ابراهیمي همدغه شیبه چایو ته رارسیدلی تردې چې شمال تلوالې هم یو پلاوی رااستولی و. دامریکا کانګریس دنوي دفتر دجوړولولپاره دڅلور سوه زره ډالرو بودجه منظوره کړې وه.
داعلی پوځي زده کړو خاوند جنرال عبدالولي اودده امنیتي چاروسنبالوونکي په افغانستان کې دطالبانو او القاعده پرخلاف بمباریوکې دامریکا یي الوتکو مرسته کو له. ددې کار لپاره یې یوه ځانګړې کمپوټر پانه پرانیستې وه.
حمیرا ویل چې پاچا یوځل بیا دکابل دتصویرونو دالبومونو پاڼې اړول پیل کړي دي په داسې حال کې چې ډیر کلونه یې پرهغو لاس نه و، لیګیدلی ، هغه دستر و ودانیو پرویجاړتیا کله کله ډیر خپه شي په ځانګړي توګه دکابل موزیم . دارلامان ماڼی اوخپل تجربوي فارم ډیر یادوي چې ده یې دبنسټ ډبره ایښې وه.
په هغه فارم کې ۷۶ ډوله انګور او۳۵ ډوله سنګترې وې ، هغې ویل چې که طالبان ماته وخوري نوټوله کورنۍ به بیرته ولاړه شې داسې پروګرام دوی هغه مهال هم جوړ کړی و چې کله طالبان لومړی راپورته شول اوځانونه یې دپاچا پوځ بلل.دحمیرا په قول پاچا دومره

ناکراره شو چې دسامان په ترلو یې لاس پورې کړ اودنوبې دریشي دجوړولو امریې کړی ؤ، ځکه چې پخوانۍ یې ډیرې زړې شوې وې دغه دنرم طبعیت خاوند سړی چې ډیر لږ یې په لوړ غږ خبرې کولې دطالبانو په دوکه ډیر پاریدلی ؤ،چې هغوی دده په نامه واك تر لاسه کړ اوبیایې هیواد له نورې ګډوډۍ اوتباهی سره مخ کړ . حمیرا ویل چې مادلومړي ځل لپاره هغه ولیدچې دومره په سختو الفاظویې خلك ملامتول اولعنت یې پرې ویلو کله چې مادبامیانو دبودادمجسمې دویجاړیدو دده دغبرګون په باب پوښتنه وکړه نودې ډیر سخت غمجن اوپه غوسه ؤ ویل یې :

له لوي سکندرڅخه تر نازیانو پورې وګوره چې خلکو داقتدار لپاره څه څه لوبې وکړې. پردې کار موږ وړاندې نه بیلکې شاته تللي یو باور مې نه راځي چې دوی ولي داسي وکړل؟

بیایې شاته تکیه وکړه اوهڅه یې کو له چې خپل مزاج بیرته نور مال کړي ما له ده نه دده دوطن دغوره یادونو په باب پوښتنه وکړه هغه وویل: زما هرڅه په یاد دي ... غرونه، ډنډونه، دري ، اوهر څه خودا وړوکي یادونه دي که نه! زما ډیرې ګرانې خاطرې یوه دجنوبي افغانستان په وروستۍ ګوښه پورې اړه لري چې هلته ډیر لږ خلك تلوته زړه ښه کوي ، ښایي هلته تګ دځان کسر شان بولي،زه هلته په یوه ځنګل کې ګرځیدم یو وړوکی هلك مې مخې ته راغئ خپل کوټ یې وکیښ ویې غوړاوه او راته ویې ویل: پلارجانه! راشه پردې کشېنه! لږ دمه وکړه بیا یې دغونډۍ پرسر یوه کورته چې له انګړ څخه یې دودونه اوچتیدل اشاره وکړه ویې ویل:

پلار جانه! زموږ په کورکې ساده ډوډۍ شته، اور هم بلیږي !

راځه نن شپه زموږ کره ډوډۍ وخوره!

ما ورته وویل:

مننه بچیه ! افسوس چې وخت اجازه نه راکوي.

دخپلو په زړه پورې سترونولـه جملې څخه یې په ۱۹۷۱ م کال دبرتانیې دسفر یادونه وکړه:

داپر خپل ځای چې دافغانستان اوبرتانې ترمنځ په تیرو وختونو کې ناوړه تجربې پیښې شوي وې ډیرې جګړې پیښې شوې ، زما باور نه و چې هلته به زما دومره تود هرکلی وشي . لکه چې ومې لیدو.

دبرتانیې ملکې چې زه په زړه کې ورته درناوی لرم دخپل میلمه لپاره هر کار اسانه کوي.

هغې په پیل کې وویل" اعلیحضرته ! ډیر افغانان ستاسو هرکلي ته انتظار ولاړدي . چې کله تاکلي ځای ته ولاړو نوهلته افغاني ښکاري سپیان وو.

" لارډ میر" زما په ویاړ په ګلډتالارکې دمیلمستیا بندوبست وکړ، دایو نمونه محفل و. څکه چې تورم پرلپسې غړیده . زه نه پوهیدم چې څه باید وکړم اوڅه وخت یې وکړم، خو دا یوه ښه موقع وه چې تر ډیره حده ددواړو لوریو ترمنځ دسړو اړیکو کنګل ویلې شو.

دوه کاله وروسته دپاچا سترګې په لندن کې عملیات شوې چې دروغتیا دبیرته تر لاسه کولو لپاره ایتالیې ته راغی، پاچا ویل:

دایتالیا دبهرنیو چارو وزارت یو مامور وارخطا راغي ، هغه دومره ویریدلي و چې د"تخت" کلمه یې له خولې نه راوتله په

ت....ت.... به ونښته، هغه مهال زما احساسات هم ويده غونډې وو نه پوهيدم چې داځه وايې ،چې کله يې زما دکاکاډروی داود خان نوم واخيست. نووپوهيدم چې ښايي دی زما دتخت دچپه کيدو خبر راکوي. مافکروکړ چې ورځه هغه لايق سړی دی لږ تر لږه خوبه هيواد ودان کړي ،زه ډير ستومانه شوی وم ته پوهيږي چې کله يوڅوك په يوه کورکې ډيره موده اوسيدلی؛ وي په پريښودويې ځومره خپه کيږي په هر صورت زه له تخته تير شوم

ماترې وپوښتل چې آيا ته دې په خپله پريکړه وروسته پښيمانه شوې؟

دي لږ چوپ شو بيا يې راته وويل چې که زه پوهيداي چې زما هيواد سره به داسې ويرووونکې وضعه کيږي نوما به خامخا ددې پرخلاف پريکړه کړې واي.

بيا يې سترګې چيرته لرې ميخ شوې اوځيره يې دغم تصوير شوه. ځکه چې پرضميريې دخپلو لس لکه وژل شويو ځلويښت لکه مهاجرشويو اوپنځلس لکه معيوبو شويوهيوادوالو بوج پروت و. هغه دبې شميره ماشومانو درلودونکې قوم يادژړاوه چې له جګړې پرته يې هيڅ نه دې ليدلي.

زما په زړه کې راوګرځيدل چې کاشکې داپوښتنه مې نه وای کړې.

که ظاهر شاه بيرته پاچا شوی وای نودفلمنګ هوټل ترځنګ نندارو داسې ګواهي ويله چې دده دځای ناستې پرمساله به هم ويني توييدلې. دده ميرمن حميرا چې دده داکالور ده اته اولادونه درلودل دواده په وخت کې هغه ۱۴ کلنه وه ،دوه زامن يې پخوا وفات شوي وو

ولي عهد شهزاده احمد شاه یوه بیله اروا ده چې په واشنګټن کې اوسیږي. اوشپه ورځ په پښتوشا عری لیکلوکې بوخت وي. دهغه له واکمنی سره هیڅ مینه نشته نور زا من یې میرویس، شاه محمود، شاه ولي اونادرشاه دي هغوی هم بې پروا اولاوبالي غوندې دې ولي یې ویل: زه تر پادشاهي خطرناك شئ نه پیژنم دایو ډنګرسړی دی داوسپنیز چوکاټ واله عینکو اونورې بڼی څخه دانځور ګر اوهنر منی په څیر ښکاري"

دایوه چوپه کورنۍ ده. دابايد شاهي کورنۍ نه واي. دابس له ځان سره اموخته خلك دي اوبس.

امکان لري دظاهر شاه له زامنو سره دتخت د بیا ترلاسه کولو مینه نه وي خود هغه حریص لمسی په ډیره ناکرارۍ دفرصت تر لاسه کولو انتظار باسي.

مصطفی په افغانستان کې ډیر لږ اوسیدلی دی هغه له روم نه انګلستان ته ولاړ هلته یې دهارورډي په ښوونځي اوایلنګ کالج کې زده کړې وکړې بیا دیوهنتون دزده کړو لپاره کاناډاته ولاړ ټول داوایي چې دی په څه خبردی چې هیواد څه شي ته وایي؟

ظاهر شاه په" اولیګاتا" کې په خپله " ویلا" کې ناست دی په سي ان ان تلویزیوني چینل کې دبمباریو ننداره کوي دخپلو فرانسوي ناولو نو دتړلو لپاره داشارې انتظار کوي دهغه په خپلو نویو دریشیو کې"هرمیز" نیکټایي ګانې اواستراخاني خولۍ ایښې دي.

اوشاوخوا ته دغوړیدلو جالو نو څخه بې پروا دی واي:

په دي عمر کې ماته خطر نشته زه یوازي داهیله لرم چې افغانستان خوشاله ووینم په دې کې دپولیسو ګارد دننه راغې چې

دشپې په تیاره کې ماخوندي ځای ورسوي. ده خدای پاماني راسره وکړه ويې ویل:

" که زما خلك ما غواړي نوبیا به پاچاشم" دی ډیر کمزوري اوناتوانه ښکاریدو ماته ناڅاپه دجنرال ولي خبره رایاده شوه چې دافغانستان دراتلونکي په اړه یې کړې وه:

تاریخ کله کله تکراریږي که ته دپخوا په څیر کارونه وکړې پایلې به یې هم هماغسې دپخوا په څیر وي.

## د فاطمه ماري یو بل لیک

- کابل دنومبر۱۳ مه ۲۰۰۲ م کال

کرستینا سلام!

کابل آزاد شوی دی . آیا ته پردې باور کولی شې؟

شمال تلواله سهار وختي د شمال سرك له لوري راورسیدل. اوموږ یې هرکلي ته بهر ور ووتو موږ دوی ته شیریني اوکلچې ورکړې اوپوقانې موپه فضا کې خوشې کړې . هغوی پرخپلو ټانګونو او لاریوکې سپاره راغلل. خینې کسان یې پلي هم وو

زما ورور په سرتیریو پسې ورغلی و.

مورمې غوښتل چې را ایساریې کړي ځکه چې چیرته جګړه ونشي. ښخه کیدل خوډیر له ستونزو سره مل دي زما اوزما خور هم ډیره هیله وه چې کاشکي موږ هم دهغوی لیدو ته ورتلای شوای زموږ یوه ګاونډي ویل چې څوتنه طالبان یې په سرك مړه لیدلي دي ،دهغوی پرتوګونه ترې ایستل شوي وو داخوډیره بده خبره ده که نه موږ خپلې پټې کړې راديو ګانې راوایستلې.

اوکری ورځ موغږولې موږ دنوي حکومت د جوړیدو په باب دځه اوریدوپه انتظار یو. هیله ده چې دوستانه مزاج ولري ،په تیره له ښځو سره ښه سلوك وکړي . موږ ته خپلې دندې بیرته وسپاري او ښوونځي پرانیزي . افغانستان راديو شمال تلوالې نیولې ده لومړی

خل ښځه ویانده تاکل شویده دفرهاد ریا سندرې خپرېږي هغه ډیر ښه سندرغاړئ دی.

طالبانو پرهغه بندیز لګولی و، ته خوخبره یې چې هغوی رادیوګانې پرستنوراخړولې وې زه اوس دعا کوم چې هغه خلك بیا رانشي.

زما ورور چې بیرته کورته راستون شو نوږیره یې ورکه شوې وه اوس تول ږیرې خریيي.

زموږ دګاونډیانو وړوکي ماشومان دي چې ډیر خاندي دهغوی پلار ګلابي اوشنه کاغذپرانونه ورته راوړي دي چې دوی یې ډیر لوړ الوزوي، ډیره موده پس موږ داسي په کړس کړس خنداګانې واوریدې نن یې چې بیا اوروخوښ یو لدې نه تصور وکړه چې پرخندا هم بندیز لګیدلي و! زه ډیره خوښه یم زما په ګومان ښایي هرکال دغه ورخ جشن ونمانځو. مایه کلیزه کې پردې تاریخ اوورځ سورنشان لګولی دی زه اوس هندي سندرې اورم چې له کوځې دکوم چا لاروي له تیپ څخه راځي نن ډیره ښه شپه ده فاطمه ماري.

## د هرات سفر

هرات ښار ته له ننوتو څخه مخکې موږ له ډېر لرې څخه هغه منار لیدو خوداصلیت په باب هیڅ اټکل موږ نشواې کولی ځکه خوزما دسفر اندیوال دسنډي ټیلګراف عکاس جستین له لرې واتن څخه لیدل کیدونکې دغه مات مات منار ته په ډېره حیرانی اشاره وکړه راته ویې ویل:

په غور ورته وګوره ماته خودا دکومې کار خانې منار ښکاري!

جستین رښتیا ویل ، ددښتې له منځه را وتلې لوړ لوړ دخښتو انبارونه دانګلستان دوکتوریا دوخت په کار خانو کې لګیدلې هغه لوړ دود کش رایاد کړل چې یو وخت یې دشمالي انګلستان دصنعتي ښارونو پیژندګلوي کوله دهغو دود کشو پاسنې برخې به غاښ لرونکې وې او سرونه به یې مختلفو لوریو ته لږ خم وو چې له شمال سره به یې د نیشه یانو په څیرتالونه خوړل

دلته موږ ته سمدستي یو شین فصل اودسمسورې ځمکې ټوټه مخې ته راغله چې په اصل کې دصنو برله ونو ډکه دیوه لوي بڼ یوه برخه ښکاریده تردې وړاندې دغرونو اوږده لړۍ پیلیده وپوهیدو چې موږ یوه افسانوي اوله اسرارو ډک ښار ته دننوتلو پر درشل ولاړیو هغه ښار چې اوسیدونکې یې فارسي وایي موږ دفارسي ویونکو ښار- هرات ته نژدې وو. مادموټر دښیښې ښکته کولو هڅه وکړه چې دصنو بر پروړ موخوشبو په هوا کې ساه ګانې وکاږو ،خوپه هواکې دومره

ګردونه او دوړې وې چې ساه یې رابنده کړه څکه مې بیرته هنداري پورته کړي ډیر څند پخوا موږ یوه کلیوال افغان ته سل ریاله ورکړي وو چې په یوه لاسي کراچي کې یې زموږ سامانونه دایران له سرحدنه تردې ځایه پورې رارسولي وو. دسرحد په بل لوري کې یو له رعبه ډك سړی زموږ په انتظار و چې داونو چپنه یې اغوستې وه اوپرسر دروسي خوګ دپوستکي خولۍ ایښي وه، هغه ځان د ایوبی په نامه راوپيژاند بیا پرځمکه ورتیټ شو موټې یې له خاورو ډك کړ هغه یې مچې کړ او هسې دځان ښکارولو په انداز یې موږ ته وویل: په خپل افغانستان کې تاسو ته ښه راغلاست وایم.،

هغه پر"خپل" کلمه دومره زور راووړ چې موږ دواړو له ویرې په حیرانۍ هغه ته وکتل. دکین لاس په یوه ګوته یې یوه لویه نقره یي ګوتیي وه چې پرهغو یې خپل نوم کیندلي و چې په تور غمي کې فیروزه هم کاریدلي وه .مادهغه په سترګو کې دژوندانه او اورونو له لمبو سره دژورغم اواندیښني سیوري هم لیدل خودهغه درعب اودبدبې وضعه داسې وه چې هغه تول وسله وال کسان چې پرموږ راتول وو اوسامان ته مو یې له تمي په ډکو نظرونو کتل دایوبي په یوه کاږه نظر تول په یوه اوبله تیت شول هغه په فارسي لهجه راته وویل:

تورن اسماعیل ماته امر کړي دي چې تاسو خوندي هرات ته ورسوم ،دري دپښتنو له ژبې "پښتو" سره هیڅ تړاو نه لري ،"

ایوبي راسره ملګری شو او یوه پیکپ تیوټاته ورغلو چې په وچو ختو لړل شوي و تورن اسماعیل خان اصلاً داسماعیل خان شهر ت و چې یو تاجك قوماندان دی اودلویدیځ افغانستان یومهم جهادي

قوماندان یادیږي هغه تیره اوني هرات ته راستون شوی و یعني له هغه ځایه دطالبانو له وتلو څخه یوازې یوه ورځ وروسته.

ایوبي داسماعیل خان داکمالاتو اوآذوقي رسولو مسئوول و، زه په زړه کې پردې ډیره خوښه وم چې نه یوازې اغیزمن شخصیت یې درلود بلکې هرڅوك یې درناوی اوعزت هم کوي ،ماته ځان دهغې لويې لوبې د انګریزي استازیو په بڼه کې ښکاره شو چې دافغاني پاچاهانو اوسردارانو حضور ته به یې خپل اسناد راوړل چې له هغوی څخه ځیني وروسته په ډیره بې رحمي وژل شوي هم وو.

دوې ورځې وړاندې دتهران په هوایي ډګر کې رانه پوښتلي وو:

آیا تاسو دزیارت لپاره راغلي یې؟

هغه مهال داپوښتنه رانه وشوه چې دټکټ دترلاسه کوونکیو په کتار کې مې غوښتل له تولو څخه مخکې شم. تر څو دایران په ختیځ کې دمشهد سپیڅلي ښار ته دالوتکې ټکټ واخلم. ځکه چې له هغه ځایه زه په اساني له سرحده رانیریدلی شوم.

ماپه خوښۍ هغه ته سروښوراوه او هومې ورته وویل: ځکه چې په یوه ډول زه رښتیا هم دزیارت لپاره راغلې وم دخراسان پرخمکه چې ماپښه ایښې وه ۱۲ کلونه کیدل اولومړي ځل چې هرات ته دیارلس کاله پخوا راغلي وم.

ځکه خو اوس دغو دوارو ځایونو ته دراتلو لپاره ماډیر زحمت ویوست.

کله چې زه اوعکاس جستین ډیکې په شاتني سیټونوکیناستلو دوه وسله وال ساتونکي ددریور تر څنګ په مخه کې کیناستل اوخپل

کلا شینکیفونه یي یي پرزنگنو کیښودل ایوبي ویل چې دا ورته یو احساساتي سفرو اوده موږ ته په مشهد کې دخپل کور پته هم راکړه.

د۱۹۹۵ له سپتمبر راسي یي خپل پلرني کور ته و لیدلي.

ځکه چې طالبانو نیولي و اسماعیل خان اودهغه په لسګونو قوماندانان ایران ته وتښتیدل، خو ایوبي تروروستیو شیبو پورې له طالبانو سره جنګیدلي و چې وروسته یي هغه نیولي و هغه دخپل هیبتناك بدن سره سره ترډیره حده شاعرانه روغبړ کاوه دده په لیدو اوخبرو اوریدو سړي ته دپخوا نیو زمانو هغه شاعران وریادیدل چې په جګړو کې به یي برخه اخیسته ایوبي راته ویل:

طالبانو ځوارلس ځله ډیر سخت عذابونه راکړل خوبالاخره له د نه په تیښته بریالي شوم اومشهد ته ولاړم زما بدن ټپي ټپي و تر دوو میاشتو پورې په روغتون کې وم کورني مي زه مړبللي وم.

خواوس زما زړه دکوم مرغه دوزرو په څیر رپیږي اوغواړي چې زرترزره خپلي ځالي ته ورسیږي.

هغه په شاعرانه انداز وویل:

که څه هم له سرحده تر هراته واټن ۱۲۳ کیلومتره ښودل شوي خوموږ ته ډیره معلومیده ځکه چې دپرلپسي بمباري اوټانکونو تیریدو له امله سرك کنډکپر اوکندي کندي شوي دي چې دجوړیدو اوساتني څه بندوبست یي هم نه کیږي.

په لاره کې موږ یو سوځیدلي ټانګ دکو کاکولا تش بوتل اویو ګیلاس ولیدل داسې را ته ښکاریدل لکه چې موږ په شاړو ویرانو کې سفر کوو بالاخره له یوه ساعت مزله وروسته موږ پنځه کیلو متره اوږده پاخه سرك ته رسیدلي وو چې دهغو په لیدو ماډامنه ساه

واخیسته او فکر مي کاوه چې دخداي شکر دي په هواره ځمکه مو مزل په برخه شو خوله هغو وروسته بیا هماغه کنډ اوکړي اوکندي وي اوله ډېرو اوشکو ډکه لاره چې دایوبي په خیال ډیره خندوونکي وه هغه راته وویل چې ښاغلي کرستینا! چې بل ځل هرات ته راځي نووعده درسره کوم چې ټول سرکونه به پاخه شوي وي اوتر لوړو لوړیرخو به جوړشوي وي.

لږ ځنډ وروسته زموږ دموټر مخي ته دجاپاني تلویزیونوڅخه ډکه لاري لیده چې روانه وه طالبان په تیره اوني کې تښتیدلي وو یعني شمالي اتحاد ته دکابل دښار له سپارلو نه دوي ورځي وروسته اودکومي ګولي له چلولو پرته ولاړل په داسې حال کې چې دافغانستان په جنوب اوخپل مزبوت مورچل کند هار کې یې تر اوسه پورې ښېي خیرلي وې اوله هغوڅخه یې تر ممکن حده پورې ددفاع هڅه کوله بل ،لوري ته هراتیان په ډاډه زړه په پیرلو اوپلورلو بوخت وو.

زموږ نه مخکي دتلویزیونو دلارې په څیر زموږ موټر هم هماغسې روان و لکه کومه سمندري بیړۍ چې دسمندر بې رحمه څپې پر تندي خوري او زنګیدلې سفر کوي. کله مو چې دهرات هغه مات منار صاف ولیده ترهغو پورې دډېرو جمپونو اودوړو له امله ډیر کنګس شوي وو.

زموږ سره دخوراك لپاره په هغو آبي پاکټونو کې له کلکو بسکټونو پرته دخوراك هیڅ هم نه وو. دموټرونو دتلو راتلو په بهیر کې دراپورته شویو دوړو او ګردونو له منځه موکله کله څو اوښان لیدل ، یابه مو پرکوم یوازي ټوپکوال سترګې لګیدې چې په پټو کې ځان نغښتي ټوپك پراوږه به ښکاریدو دغسې انځورونه به دویکتوریاپه کتابونو کې دقبایلي افغانانو په نامه ډیر لیدل کیدل.

جستن اوايوبي څودغه ستومانوونکي مزله ووهل اوخوب يووړل اوچي کله به موټر په جمپونوکي ورغي نو ددواړو سرونه به دموټر له هندارو سره ولګيدل په لاره کې مي دکومې پخوانۍ کلا کنډوالې هم ترسترګو شوې چې دسرك بلې غاړي ته وه ما غوښتل دهغو په باب خبرشم اوويي وينم څوډريور مي چې خبره واوريده ويي خندل ، راته ويي ويل چې په دي ټوله سيمه کې ماينونه غوړيدلي دي که موږ ودريدو امکان لري چې يا غله اولوټماران راباندې راشي او ياطالبان راباندې بريد وکړي کوم نامناسب ګام موږ ټول دمرګ کومي ته ورټيل وهلی شي.

دورځې رڼا ډيره لږه شوه اوبه يو ډول تارنجي رنګ بدله شوه څلورو خواو ته ګردونه اوچت وو په دې وضعه کې دټولو ځيرې پيريانو اوشيشکوته ورته شوې وې اودغه ټول مزل يوخلايي سفر ته ورته کيدو ماته بې اختياره راپه ياد شول چې څه موده پخوا په يوه افريقا يي هيواد کې چې زه ديوې نقشي دپيرلولپاره يوه دفتر ته ولاړم هلته يي له مانه وپوښتل چې ته دلته دڅه لپاره راغلې يې اوڅه کوې؟

هغو ته دبهر نيو ژورناليستانو په باب هيڅ معلومات نه و څکه يي راته وويل چې ته دلته دڅه شي په اړه تحقيق اوپلټنه کوي ؟ ماهغه افريقا يي چارواکي ته وويل چې زما هڅه داده چې دداسې خلکو اوځايونو په باب نړۍ خبره کړم ،او دهغوي په باب ليکنې وکړم چې تراوسه زموږ نړې ترې خبره نه ده ،تر لږ ځنډ ه هغه بلکل وارخطا شو بيا يي سرپه تائيد وخوځاوه ويي ويل اوس وپوهيدم ته دپخواني فيشن يوه سمندري سيلانې يې. په يوه جټکه چې د خپلو خيالونو له نړۍ نه راووتم نو فکرمې کاوه چې ربښتيا هم ځان داسې راته ښکاري

لکه دپخوانی زماني سمندري سيلاني چې اوس د افغانستان پرخاوره سفرکوي په داسې حال کې چې زما پردي شك و چې هرات ته تلونکي دغه سرك به سل کاله پخوا هم همدغسې کنډوکپر اوله لوړو ، ژورو اوگردونو ډك و.

هغه ټول انګریزي ليكوالان چې افغانستان ته راغلي دي ددې هیواد په ستاینو نه مړیږي اوددې ځای درنا ګانو قصیدې وايي، هغو ليكوالو په افغانستان کې سفر دپسرلي په تازه هوا کې له سفر سره تشبيه کړي دي اوپردي ځمکو چلیدونکي نسیم يې دشامپاین په څير سپك،ملايم اويخ بللي دي چې په رښتيا سره همداسې و ،انګریزي اديب اوليکوال رابرت بايرن په خپل مشهور اثر

THE ROAD TO OXIANA کې ليکي چې په دې سیمه کې به تاسو په رښتيني مانا هغه آسیا وګورئ چې دهر ډول کمترئ له احساسه پاکه ده رابرت با يرن په ۱۹۳۳ کال کې هغه مهال افغانستان ته راغلي و چې دظاهر شاه پلار نادر خان وژل شوی و دغه هیواد دنن په څير هغه مهال هم له ګډوډیو سره مخ و.

بيا هم زه په څه خوشباورۍ کې راښکیل نه وم ،نه مې په فضا کې دشامپاین په څير نرمي اولطاقت احساساوه ددې پرځای یوډول عجيبې بې پروايي زور راباندې راووړ لکه زه چې ددې ننداري برخه نه وم.

بلکې داهر څه دفلم پرپرده ګورم زه تردې مخکې هغه وخت افغانستان ته راغلی وم چې دروسي پوځونو پرخلاف دلته چريکي جګړې روانې وې اوزما همدا هیله وه چې اوس به هم دګنشپ هليکوپترو شور اوزوږ او دانګوري بمونو درزهار زما هرکلې کوي.

چې دناڅاپي حملو لپاره به ډېرې زياتې يوځل راښکاره شوې اوچې خلکو به وليدې سخته وارخطا يې اوګډوډې به پکې ګډه شوه اوبيا به زموږ په لورې په منډو را وتښتېدل په تيرو يادونو پسې تلل يوه جنجالي بوختيدنه ده چې ډېره خطرناکه هم ثابتيدای شي.

ځکه خوزه ډېره ويريدلې اواندېښمنه هم وم چې افغانستان مې تر اړتيازيات په خپلو يادونو اوحافظه کې ساتلې و ځکه خودافغانستان په اړه زما ټول يادونه دهغو وختونو په اړه وو چې هغه دڅپا خبره دځوانۍ په اورنيو احساساتو کې وم ، هغه مهال زه له هرډول ويرې څخه بې غمه وم اوهره شيبه دا احساس راسره و چې په ژوندکې بايد ډېر څه وکړم اوډېر څه ووينم. خوپه تيرو ټولو وختونو کې ماچې له ذهن څخه د مرګونو اوتباهيو يادونه وګرول . په واوروډك غرونه له ميوو ډك باغونه اوښکلي غرني چيني ترځنګ مې دوحشي سترکو خاوندان جنګيالي د ذهن پر هنداره پاتې وو، چې دخپلوتوپکوپرميلو کې به يې غرني ګلان ټومبلي وو .دحيواناتو په څرمنو به له اوبوپورې وتل اودستوريو په سيورې کې به ويده کيدل... بس همدغه شيان مې په ماغزو کې پاتې وو خوداسې مې ګنله لکه ماضي مې چې انتظار کوي زه په همدغه خاوره يوځل بيا ولاړه وم ، کرې ورځ په ګردونو او توپان کې مزله چې څو مره ځورولي وو تر اوسه يې زما پر زړه اومغزونو اغيزه پاتې وه.

ويښتان مې دجارو په څير شخ پخ اوجړشوې وو. خوله مې له ريګونو ډکه وه اوپرمخ مې دګردونو پنډه پرده غوړيدلې وه، دسپيرو دښتو .د ويجاړو لارو اوکنډ کپرسرك اوږده مزله .د ډوډې اواوبو

دنشتوالي اودتوندي موسیقي شور او زوږ مې سرله درده چاودون ته راوستې و.

کله چې له سرحده راو اوښتو دپیکپ ډریور پرلپسي دخپلي خوښي پښتو سندري په لوړ غږ غږولي ، څرنګه چې طالبانو له اوږدې مودې راسې دموسیقي او سندرو په اوریدو بندیز لګولی و او اوس یې له هغوي نه نجات موندلي و ځکه مې داجرئت ونه کړ چې ډریور ته ووایم تیپ بند کړه.

چې موږ هرات ښار ته نژدې شو و دماښام تیارې راخپرې شوې وې داسماعیل خان کسانو چې ولیدو په خوشالي یې هرکلئ راته ووایه خوما چې ددوی پرشوندو خپرې موسکا وې لیدلې داسې مې احساسوله چې مصنوعي دي اوس موږ ښارته ننوتلي وو اودګردونو تویان هم دریدلي و، او موږ هغه منارونه ښه لیدای شوای چې تر سلو فټو هم زیات لوړووځکه له دومره لرې واټن څخه لیدل کیدل.

هغه ټول پنځه منارونه وو چې څلور یې دمربع په څیر یو بل ته مخامخ وو اوپنځم یې لږ ترې لرې ولاړ و. په هغوکې دایو په پریږوالې کې تر نورو زیات و اوداسې ښکاریده لکه له یوه لورې چې غوځ شوي وي داټول منارونه دښار په پخوانی برخه کې دي اوموږ بیا دښارنوې برخي ته روان وو او هلته یوازینی هوټل چې " موافق " نومیده زموږ وروستي پړاو و،چې دنامه سره سم تلفظ یې ډیر پام غواړي، هوټل ته مخامخ یوه له کنې ګونې ډکه څلور لارې ده چې دترافیکو یوه غرفه هم پکې وه ، هلته به طالبانو مجرمان په دارځړول اود موټر دډریور په قول چې تر دوو اونیو مخکي پورې دلته همداسي کیدل. دڅلور لاري نوم " ګل " و چې په پښتو اودري دواړو یوه معنی

لري. چې کله موږ دموټر دروازې پرانستې اوبهر ته را ووتو په زړو نیلي چادریو کې ښځو دخیرات لپاره منډې راواخیستې خوزموږ سره راغلیوساتونکیو هغو ورتلې او بیرته یې وشړلې زه ښه پوهیدم چې دا په افغان جګړه کې دوژل شویو کونډې دي ځکه مې غوښتل چې دساتونکیو پرچلن سخت احتجاج وکړم خوایوبي په تړوله وضعه ډیر ښه پوهیده ځکه یې ماته سترګه ووهله اوله جیبه یې څه پیسې راوایستلې هغو ښځو ته یې ورکړې بیا هغه لږ خم شو له موږ سره یې خداي پاماني وکړه ویې ویل : زه باید دخپل بریالي ماموریت راپور تورن اسماعیل خان ته ورکړم تاسو اوس آرام وکړي وروسته به بیا درته راشم اوتاسو به هغه ته ورولم.

ماپه خالصه انګریزي ترې وپوښتل چې هغه به څوبجې راشي ؟ خوده مې خبره وانه وریده خپله اوني چپنه یې واغوسته اوله هغه ځایه ولاړ خلك يې له مخې نه لري شول اولاره يې ورکړه.

کله چې موږ دهوټل پرزینو وختو نویوځوان چې یوه ډیره لویه لیکداره دریشي یي اغوستې وه له مانه په خاص انګریزي وپوښتل:

وبخښې ! آیا تاسو برتانوي یاست؟

زه په زینوکې راتم شوم ځواب مې ورکړ:

هوکې!

ځوان دومره رانږدې شو چې بدن یې زما پر بدن ولګید ویې ویل:

تاسو په رښتیني مانالومړی انګریزه ښځه یاست چې زما درسره لیده وشول زه غواړم څو پوښتنې درنه وکړم هیله کوم چې بده ونه منې!

هیڅ بده نه منم څه پوښتې؟

آیارانه ویلي شي چې په انګریزي کې مثبت صفتي نومونه ADJECTIVES ټول څومره دي؟

زه په چورتونو کې ډوبه شوم له نن نه شپږ کاله پخوا چې کله طالبان دتورو هندارو لرونکیو موټر و سره دې ښار ته راننوتلي وي او اخلاقي پولیس " امر بالمعروف اونهي عن المنکر" یې چې دښار په واټونو اوکوڅوکې ګرځیدل.

نوهغه مهال به دې ځوان ته له یوې غربي نجلۍ نه داسې پوښتنه څومره ګرانه وه ، اوس دطالبانو له تلو وروسته داموقع په لاس ورغله هغه چې لومړي پوښتنه وکړه دانګریزي ژبې دقاعدوپه اړه ده ، خوزه ډیره شرمنده وم چې دهغې مناسب ځواب راسره نه و. موږ دواړه هلته څو شیبې چوپ ولاړ وو اوپه دې ناڅاپي مخامخ کیدو ترډیره حده ناآرامه وم.

زما سره یو بکس و چې په هغوکې مې دماشومانو لپاره ډیر قلمونه راوړي وو فکر مې وکړ چې هغه همدې ځوان ته ورکړم خوبیا راته نامناسب ښکاره نشول هغه ماته بیا وویل:خیر دې هیڅ خبره نه ده زه ستالیدل یو لوی ویاړګنم اوبیا له هغه ځایه روان شو.

د"موافق" هوټل په دهلیز کې عجیبه غوندې تیاره اووحشت خپور و، دهوټل دهرکلي غرفه اوښیښې پرګردونو پټې وې اوهلته دیوه له کاره لویدلي ټلیفون پرته هیڅ نه وو. خودهوټل په زینو کې غوړیدلې سره غالۍ اوشاته د لامبو پاك سوتره حوض پردې ګواه وو چې دا به یو وخت ډیر شاندار هوټل و.

دغه مهال یو دټیټ قدخاوند چې په سپین کمیس یې توره نیکټایي راځوړنده وه په څیره کې یې دحیرانۍ او تعجب له نښو سره

له شانه را ښکاره شو اوپه زینو کې پاس وخوت مورږ ته یې لارښوونه وکړه او درستوران لورته یې بوتلو ترڅو دراجستر په لوي کتاب کې زمورږ نومونه ولیکل شي. رستوران له پګړیو سرافغانانو نه ښه ډك و چې په لاسونو یې وریجې خوړې، دهغوي مخې ته پلاستیکي وړوکي میزونه د دوي دلویو جثو په نسبت نورهم وړوکي ښکاریدل.

په رستوران کې وړوکي وړوکي ګلابي اوژیړ څراغونه په واروار بلیدل اومړه کیدل ، دروژې میاشت وه اودا دروژه ماتي وخت و ، خلکو روژه ماته کړي وه اواوس په خوراك بوخت وو چې په همدي سبب ډیر شور اوزوږ جوړ و. په رستوران کې یو دمینو چاپ شوي کارت هم و چې دمختلفو خوراکونو نومونه پکي لیکلي وو ، مورږ دواړه دیوه میز مخې ته کیناستو له هغه خایه دترافیکو غرفه له ورایه ښکاریده دواړو مینو کارت رااوچت کړ اودخپلي خوښي خوراك مو ورته په نخښه کړ. ماپه دري ژبه هلته ولاړ خوان نوکر ته وویل:

کابلي پلواوکباب راوړه.

هلك په حیرانۍ ماته سرترپښو وکتل اوبیا په خندا شو. مافکر کاوه چې په لهجه پورې مې خاندي څکه مې په مینو کې خپلې غوښتني ته ګوته ونیوه اووروميې ښود:

دلته ګوره ! کابلي پلو اوکباب راوړه.

هلك وویل: داخو نشته یوازې هګۍ شته.

ماشاوخوا نورو خلکو ته اشاره وکړه ومې ویل:

داشاوخوا خلك څه شی خوري؟

ځواب يي راکړچې داهر څه ختم شوي دي اوس يوازې هګي شته.
پخواني يو ناني مورخ هيرودوټس هرات دمنځني آسيا دډوډۍ شکور بللي و خواوس داسې نه وه ځکه چې وضعه ډيره بدله شوي ده.

درستوران په بنيبنه يي يخچال کې دګلابي رنګي مربا، اوروسي لوبيا دځو زنګ هليو ډبليونه پرته نورهيڅ نه وو دبازا په دوکانوکي د ايراني امونو اوبه پيدا کيدي .په هر صورت په دې ورځ زمونږ حيراني له اټکله ووتي چې يوهلك مو وليد چې لاسي کراچي يي د امريکا يي غذايي موادو له ترلو بنډلونو څخه ډکه کړي وه اوپلورل يي .دغه غذايي بنډلونه يي دبمباري په وخت کې راغورځول چې په زيړو پلاستيکي کځوړو کې به بندوو اوپرې ليکلي به وو چې دامريکا يي اولس لخوا يو سوغات.

په دې بنډلونو کې دمونګ پليو له دانو نه دجوړو شويوغوړو کوچ .مربا، نيني شوي وريجي اوجوا ر هرڅه وو.بيا هم دا تصور کړان و چې کوم افغان به دهغو دپلورلو فکروکړي دغه لومړي شپه چې يوازې هګي راته تياري شوې چې په غوړيو کې يي لامبو وهله اوپه سپينو کې يي يوه مچي هم نښتي وه شاوخوا ته دېکړ يو خاوندانو دچرګانو هډوکي شپيلل اوپه پيالو کې يي يخني شړپوله.

.... هغوي ټول له خپلو کرسيو جګ شول پرخپلو ملاوو او غاړو کې يي ټوپکونه واچول او ولاړل ځکه چې د شپې د نهه بجونه وروسته بايد خپلو کورونو ته ځانونه ورسوي. د بنديز وخت ناڅاپه اعلانيده ځکه چې په پهرو له دريدليو مجاهدينو سره لاسي ګړې نه وې خو مونږ پوهېدو چې د بنديز وخت را رسېدلی دی ځکه چې زمونږ هوټل ته مخامخ يوه د پهرې پوسته پرته وه چې کله به هغه ته کوم بايسکل او يا

موټر را ورسید یو تن به ورته راووت او توپك ب یې ورته ونیو او ډېره ویروونکې کرېږه به یې وکړه: دریش، دریش درستوران رنګین څراغ هم ګول شوی و اوس موږ په بشپړه تیاره کې وو، له دې پرته مویل کار نه درلود چې پاس ولاړ شو او په خپله کوټو کې ویده شو. د برنډې لوري ته دروازه نیمه بیرته وه.

د سپوږمۍ رڼا د هوټل دهلیز ته را لوېدلې وه او رڼا کړې یې و د هوټل بوډا جارو کوونکي موږ ته په اشاره برنډه ته دوتلو بلنه راکړه د شپې مهال دتباهۍ ننداري نه ښکاریدلې خو د شنه آسمان په روښانه سپوږمۍ کې منارونه ډېر له اسرارو ډك ښکاریدل زه تر ډېره په برنډه کې وم او دې په زړه پورې منظرې ته مې کتل بیا بیرته راغلم په خپلو کوټه کې پر بستره پرېوتم اوس ما د دې پروا نه درلوده چې په بمبارۍ کې زما د خوب د کوټې هنداري ماتې وې او د هغې پر ځای چې پلاستیکونه پکې لګیدلې وو له هغو نه د یخنۍ څپې دننه راتلې او وینې یې کنګل کولې.

خوب هم داسې تښتیدلی و چې د راتلو نوم یې نه اخیست پلاستیکونو د شمال څپو سره یو عجیب غونډې شر شر کاوه دکوڅه ډبو سپیانو غپیدو هم د شپې د بندیزونو چوپتیا ماتوله. کرۍ شپه د دریش، دریش چیغې پر هغو د پاسه وې په هر صورت تیوله شپه دغسې په وینښه او ویدو تیره شوه. سهار وختي مې چې د پیشلمي لپاره د خلکو د پاڅیدو غږونه واوریدل زه هم را پاڅیدم د شپې څلور نیمې بجې وې زه له کټ نه جګه شوم او یو ځل بیا برنډې لوري ته ولاړم د لمر راپور ته کیدونکیو وړانګو د هرات منارونه ځلول او روښانول دا منارونه یو وخت ۲۵- ۳۰ مترو ته رسیدل له لرې څخه داسې

ښکارېدل لکه له ساده خښتو چې جوړ شوي وي خو چې نژدې ورشې وبه ګورې چې فیروزه یکې کارول شوې وه او په نیلي. انګوري او تکو سپینو ځلیدونکیو تختو په ډېر ښکلي ډیزاین جوړشوي دي دا منارونه د جومات او یا دیني مدرسې یوه برخه وه چې دومره ښکلي او زړه وړونکي وو چې رابرټ بایرن د هغو کندوالو له لیدو وروسته لیکلي وو چې د ځمکې پر مخ تردې د ښکلي جومات تصور هم څوک نشي کولی.

اوس د دغو منارونو په پاسنیو برخو کې د چیني څه توټې پاتې دي چې د لمر او سپوږمۍ په رڼا کې ځلېږي او پردې خبره ګواهي ورکوي چې کله په پنځلسمه پېړۍ کې اروپا دوهم ځلې د"عروج له دوران څخه تېرېدله هغه مهال د افغانستان دغه ښار" هرات" د خپلو حیرانوونکیو پر مختګونو او شتمنۍ له امله پر ټوله نړۍ مشهور و. زه د رابرټ بایرن له نظر سره پشپړ توافق لرم چې هغه احساس کړې وه چې دغه پخواني د ختیځ د علم او تمدن نه ډک ښایې له سره کشف کړی دي بل لوري ته ما د یوې لویې کلا نخښې لېدلې چې له خښتو جوړو مزبوتو دیوالونو او برجونو یې ټول ښار په خپلو غیږوکې رانیکیل کړي و. ویل کیږي چې دا د لوی سکندر د جوړې کړې کلا نخښې او آثار دي چې تر اوسه پورې هیڅ کیندنې یکې نه دي. شوې اوس د کلا له څلورو خواو څخه خندقونه را تاو شوي دي له لرې دکلا کندوالی د پیریانو او ښاپیریو دکیسو کلاګانو ته پاتې کیږي چې تصویر یې دماشومانو په ذهن کې عموماً کښلې وې خو د دومره پیریو په اوږدو کې د دې کلا برجونه د دښمنانو دغو څو شویو سرونو د ننداري او ښودنې لپاره کارېدلې دې ځکه خو د هرات نه پرته. په منځنۍ آسیا

کې به داسې لږ ځایونه وي چې دومره ډیرې د وینو توئیدو منظرې یې لیدلې وي.

چنګیز خان او وروسته ګوډ تیمور د ټولې نړۍ د نیولو خوب د همدې کلا د شاندارو دیوالونو تر سیوري لاندې د جګړې پر مهال لیدلي و د چنګیز خان په باب خو دا مشهوره ده چې هغه د هرات د یو سل او شپیته زره تنو اوسیدونکیو څخه یوازې "۴۰" تنه ژوندي پریښودل.

هرات په داسې ځای کې پروت دی چې تل یې بهرنیو حمله را ورونکو ته راښکون درلودلی دی، ځکه چې پردې سربېره چې له پیړیو پیړیو را په دې خوا هرات د سوداګرۍ ستر مرکز و د هند لوري ته تر ټولو د مناسبې لارې پر سر پروت دی ځکه خو په نولسمه پیړۍ کې انګریزانو خپل ځوان جاسوسان دې ښار ته استول ځکه چې انګلیسانو اندیښنه درلوده چې روسان د لویدیځ له لوري د دغه ' ښار له لارې پر هند یرغل ونه کړي. کپتان چارلس کرستي هغه لومړنی پوځي افسر و چې د دې هدف لپاره دلته را استول شوی و. هغه وایې چې دی دوهم اروپایي دی چې پر هرات یې پل ایښی دی.

په هر صورت دوه کاله وروسته کرستي د روسانو په یوه حمله کې هغه مهال ووژل شو چې هغه د ایران د شهزاده عباس میرزا د پوځي مشاور په توګه دنده تر سره کوله کپتان چارلس کرستي په ۱۸۱۰ م کال د ختیځ هند کمپنۍ دا جنټ په حیث د اسونو د پلورلو او پېرلو په جامه کې دغې لویو برجونو لرونکي کلا ته ننوت او اصلي هدف یې دا و چې د روس د زار نکولس ارادې معلومې کړي.

دلته له یوې میاشتې تېرولو وروسته د دې پراخو او پلنو دښتو په غېږ کې سمسورې درې ډېره اغیزه پرې وکړه.

خو د هرات د دې کلا پر پوځي او نظامي ارځښت قایل نه شو او وېې لیکل:

او په ټولیزه توګه دې کلا ته د یوې دفاعي کلا او حصار تعبیر ډېر خندوونکی دی."

کله چې روسي پوځونه بالاخره په آسانۍ د هرات په نیولو بریالي شول له یوه نیم سل کلونو وروسته د چارلس کرسټي دغه رایه سل په سلو کې رښتیا شوه چې دا کلا او د فاعي برجونه به یې د هیڅ یوه نوي اروپا یي پوځ حملې ته تاب نه وړي، د شوروي اتحاد د پوځونو د اشغال پر مهال د هرات ښار د افغانستان د ټولو ښارونو څخه زیات مصیبتونه او زیانونه وګالل ځکه چې د روسي پوځونو د یرغل او دکمونستي حکومت په مقابل کې د جهاد او مقاوت په دوران په ۱۹۷۹ کې اسماعیل خان په افغان پوځ کې د " تورن" په رتبه شامل و، روسي پوځونو او د هغوي مرستندویو د اسماعیل خان د بغاوت په بدل کې د ښار له خلکو څخه سخت بدل واخیست تردې چې هغوي یې ووژل بیا یې سرونه په سیخونو کې وټومبل او پرټول ښایي را وګرځول کریملین د خپلو هیواد والو روسي اوسیدونکیو په وژنه دومره را پاریدلي او په غوسه شوي چې ډېر زیات شمیر ټانکونه او ګنشپ هلیکوپټرې یې هرات ته واستول. او بیا درې ورځې او شپې پرلپسې د هرات پرښار، کوڅو واټونو، کورونو او هغو ښکلیو منارونو پرلپسې داسې سختې بمبارۍ روانې وې چې د هغو په نتیجه کې یو منار له بیخه ونړید د

روسي پوځونو د دې وحشيانه انتقامي يرغل په نتيجه کې ۲۴ زره ښاريان ووژل شول.

که د هرات اوسېدونکيو له روسانو څخه کرکه کوله همدومره يې له طالبانو څخه هم په زړونو کې د کرکې او نفرت احساسات وو، ځکه خو کله چې په ۱۹۹۵ کال طالبانو هرات ونيو نو په اداره کې يې يو تن هم د هرات څخه شامل نه کړ، د هرات خلك لږ بيل او آزاد خياله دي د دوی آزادي غوښتونکی طبیعت د هرات کلتوري ميراث چې د يوې ښځې "گوهر شاد بېگم" په همت را منځته شوی و د طالبانو په لاس له بشپړې تباهی څخه وژغورلو، چې د هرات د يوه لوی او مهم لړه کې شيعه گروپ په اند د طالبانو دغوکليوالو او بې سواده ملايانو يې د بربادۍ نيت درلود. ځکه خو طالبانو د هراتيانو پر عنعنوي آزاد خيالي او نسبتاً عصري ژوند په دې نامه بنديز ولگاوه چې دا د پرديو او بيگانه و ميراث دي. په فارسي ژبې خبروهم بنديز ولگيد.

د ښار تاريخي او پخوانی د ښځو حمام وتړل شو چې هر وخت به تودې اوبه پکې وي د صوفيانو زيارت او مزار د خلکو په ورتلو بنديز ولگيد پردې سربيره د هرات د والي په دفتر کې يې د ديوال پر هغه لوی انځور سپين رنگ وواهه چې په هغو کې د هرات پنځه سوه کلن کلتور او تهذيب انځور شوی و دا د ښار ښکلی تصوير د هراتي انځورگر محمد سعيد د ژوندانه ډير لوی شهکار و چې هغه خپل خواږه ښار ته ډالي کړی و، درد وونکي داده چې د دې غموونکي پيښې نه څو ورځې وروسته دغه نازك زړي انځورگر هم مړ شو په رسمي توگه د هغه د مرگ سبب د سږيو خرابي وښودل شوه خو زياتره هراتيان

پوهیږي چې د انځورګر محمد سعید د ناڅاپي مړینې اصل سبب د هغه د زړه ماتیدو له امله وو.

هغه د طالبانو په لاس د خپلې سترې هنري تابلو بربادي ونه زغملی شوه او له نړۍ نه یې سترګې پټې کړې اوس چې طالبان له دې ځایه د تل لپاره تللي دي زه د موافق هوټل په برنده کې ولاړ یم او د مني په زیړ لمر کې د افغانستان او هرات د ځګرو تولې ننداړې یو پربل پسې د ذهن پر پرده ګورم او پر همدې خیالونو کې بوخته یم چې ناڅاپه مې د صنوبر له ونو څخه هغه راغلی وږمې را یادې شوې چې ما د هرات په وروستي سفر کې هغه وخت ډېرې تیزې احساس کړي چې کله دغه ښار د روسانو زه د موافق په منګولو کې و. هوټل په برنده کې ولاړه یم زما نظر ته مخامخ لاندې د لمر راختونکې وړانګې هرات ښار ته د ورځې د راتلو پیغام راوړي داسې ښکاري لکه چې کوم سویچ ووهي او هرڅوك ناڅاپي بهر ته را ووزي. هرات له خوبه راویښ شویدي د سرو تسمو څخه جوړېشوی قیضي په یوه خانګړي سر او تال آسونه مخ په په وړاندې خغلي په وړوکیو وړوکیو بایسکلونو لوی لوی خلك سپاره او یو نیم پك اپ موټرونه چې وسله وال کسان پکې ناست وي زما له مخې تیریږي د سرك په یوه ګرځندي کې یو سړي د هغې پخوانی صندوق داره کامرې سره ولاړ دي. او څوك چې تصویرونه اخلي هغو ته د کرسۍ پر برابرلو بوخت دي چې هغوی د تیزوسرو، ګلابي او زیړو ګلانو لرونکي پر دې مخې ته خپل تصویرونه واخلي.

یو سپین کوټ اغوستی د ترافیکو هغه ځانګړې خولۍ پر سر پولیس د ترافیکو د غرفې مخې ته را ښکاره شو چې په لاس کې یې هغه تخته نیولې ده چې "ستاپ" پرې لیکلي دي. یوې او بلې خواته

تیریدونکی موټر یو هم د ده د اشارې هیڅ پروانه کوي او د ترافیکو دغه پولیس پرلپسې په کړس کړس خاندي، په کوم هوټل کې چې موږ اوسیږو هغه دوو لوریو ته د ولاړو و نو په منځ کورونو په یوه کونج کې دي یعني د وینې د بانک د سرک او د سینما د سرک پر سر ما فکر وکړ چې د سینما سرک یوځل باید وګورم ، په داسې حال کې چې سینما پخوا طالبانو ورانه کړې وه، چې کله له هوټل څخه را ووتم او د سینما د سرک په لوري روانه شوم د سوالګرو ښځو او ماشومانو پوځ راباندې راغی او زما د جامو د ګشولو سیالي یې پیل کړه ، ځکه زه له دې وضعې څخه د خان ژغورنې په خاطر د هوټل ترڅنګ پر یوه دروازه ورننوتم.

هلته یوه لاره، یوې سپینې نوې جوړې شوې ودانۍ ته تللې وه، پر هغو پر فارسي او انګریزي لیکلي وو" هرات لټریري سرکل".

لومړی زه دوه زړې شوم او دې لوحې ته مې تر ډېره ځنډه کتل له نن څخه پنځه زره کاله پخوا جوړ شوی د هرات ښار د افغاني کلتور، او تمدن د مرکز په حیث دې ښار چې څومره لوی شهرت او ارځښت ګټلی و، د هغو اتکل د امیر علي شیر نوایي چې په پخپله هم په علم او هنرمین و، له دې خبرې نه ښه کیدای شي چې ویلی یې وو:

د هرات په ښار کې چې مشاعرې کیږې په هغو کې دومره زیات شاعران برخه اخلي چې چا ته د لږ پښې غځولو لپاره ځای نه وي ځکه چې که لږ پښه وغځوې نوله مخکې بل شاعر سره به ولګیږي.

د هند لومړني مغلي پاچا ظهیرالدین بابر دپلار له لوري دنسب لړي امیر تیمور اودمور یې چنګیزخان ته رسیږي، بابرپرهرات دازبکانوله واکمنۍ یوکال مخکې په ۱۵۰۶ م کې دخپلو وروڼو دلیدولپاره دلته

راغئ هغه خپل یادښتونه" بابر نامه" په ترکي ژبه لیکلي دي چې دچغتایي اوتیموري نسل ژبه وه او داپه منځنۍ آسیا کې تر ټولو دزیاتو خلکو ژبه وه.

"بابرنامه" دراتلونکیو مغلي شاهانو لپاره یو د تقلید وړ مثال شو او دهغو ډیر نقلو نه واخستل شول چې وروستی اصلي نقل یې دشاهجهان پاچا په زمانه کې لیدل شوي وه بابرنامه دهغه دژوند دپیښو داستان دي او دده په قول دده دهغو شپو ورځو داستان دي چې په منځنۍ آسیا کې یې دپاچهۍ او واکمنۍ دلاسته راوستولپاره کولې او له فرغانې نه دبیلیدوکیسه هم پکې راغلې، بابر دهرات ځانګړې یادونه کړې او لیکي چې : دغه ښار دعالمانو اوبې ساري خلکو څخه ډک دي.

# د هرات د جامو کنډلو مرکزونه

دتیمور دکشر. زوی شاهرخ دملکې ګوهر شاد زما نه دهرات "طلایي دوره" ګڼل کیږي.

دهرات دغه نومیالی ملکه "ګوهرشاد" په لویدیځ کې خلك نه پیژني خودې دیوه داسې واکمن دښځې په توګه خپل واك په کار واچاوه چې دپاچهۍ بریدونه یې له ترکیې تر چین پورې غځیدلي وو.

دې داسې دمعمارۍ ماهران راټول کړل چې دخپل وخت تر ټولو غوره معماران ګڼل کیدل هغوي د" مصلي " په څیر ستره ودانۍ بشپړه کړه چې کنډوالي یې اوس هم شته اودهغې د ذوق اوجمال دخاوندې یادونه تازه کوي.

ګوهر شاد د" مصلي " له جوړ ولو پرته دخطا طانو انځور ګرانو اوشاعرانو سرپرستي کوله اوهغوي یي ډیر نازول په تیره یي فارسي غوندي مینه ناکي ژبي ته ډیره پراختیا ورکړه.

په داسې حال کې چې دتیموریانو خپله ژبه فارسي نه بلکي ترکي وه دفارسي ژبې دنړیوال شهرت خاوند شاعر عبدالرحمن جامي هم دهغو له ډلي څخه دی چې دګوهر شاد نازونه اوهڅونې یې په برخه وي، بهزاد هم دملکي ګوهر شاد د دربار انځورګر و چې دایراني سبك د انځور ګرې استاذ ګڼل کیږي. په ځانګړې ډول دسیل اوښکار دمنظرو په انځور ګرې کې بهزاد دانځور ګرې په اداري کې له ۱۴۶۸

- ۱۵۰۶ م پورې مشر و چې دومره شهرت يې وګاټه چې په دغه ډول انځور ګري کې نورو دده تقليد اوپيروي پيل کړه.

بابر په خپله بابر نامه کې دبهزاد دانځورګري پرفن دتبصري په ترڅ کې ليکلي دي:

هغه دډيرونزاکتونو انځور ګرو خو دډيري خريلو خلکو څيري يې داسې په بد ډول انځورولي چې دهغو چاك زني به ډيري لويې ښکاريدلي.

دتيرو څو کلونو په اوږدو کې دهرات ښار چې دطالبانو په لاس څه ډول برباد شوی دی هغوته په پام سره زما داګومان نه وچې ددغه تاريخي اوفرهنګي ښار هنري روح به تراوسه ژوندی وي. دهنري ننداړو دودانې دروازه خلاصه وه ځکه زه دننه ورغلم خوله دي بې باوري سره چې زه به دلته هيڅ هم ونه ويتم زما اندېښنه رښتيا شوه په ټوله ودانۍ کې هيڅ نه وو.

اوشمال يکې شپيلۍ واهه تابه ويل چې دپاس تيټو امريکا يې الوتکو په تيريدو احتجاج کوي چې دکندهار شمال لوري ته دطالبانو ددې دعوي نه وروسته چې تر وروستيو سلګيو پورې به جنګيږو پرلپسې ورتللي، ځکه چې ملاعمر طالبان پردي باوري کړي وو چې ده په خوب وليدل چې اقتدار اوحکومت به يې بالاخره دوام وکړي.

ټولې کوټې تشې اوويجاړې پرتې دي ناڅاپه مې کيڼ لوري ته ديوې کوټې په دهليز کې تور رنګې څپلۍ وليدې . هلته مې دننه وروکتل يوځوان مې وليد چې تور بنيان يې اغوستی و اوديوه ميز مخې ته په کرسۍ ناست و، په فضا کې يې څه شی لټول زما په ليدو

يې ټکان وخوړ، ځان يې را وپيژاند چې احمد سعيد حقيقي نوميږي بيا يې پرغوړيدلي فرش دکيناستلو ست راته وکړ دغه سړي دهرات دهنري ټولني مشر و ماتري وپوښتل چې دطالبانو په وخت کې دکلتوري قتل عام نه ستاسو دا کلتوري مرکز څنګه خوندي پاتې شويدی؟

هغه په موسکاځواب راکړ:

يوازې دطالبانو په وخت کې نه بلکې موږ له ټېرو څو پېړيو راهيسې دخپل فرهنګ دساتنې اوبقا په جګړه بوخت يو په ځانګړي توګه دملکې ګوهر شا د له وفات وروسته.

ستا سو دغه کلتوري مرکز څومره پخوا ني دي؟

دا د هرات شاعرانو په ۱۹۲۰م کې جوړ کړی چې دهرات لرغونی فرهنګي اوکلتوري ميراث عام کړاي شي ددې هدف لپاره دادبي ماښامونو په نامه غونډې جوړيدې چې شاعرانو اواديبانو به خپلې فنپارې لوستې خوچې څومره حکومتونه راغلي دي هغوی ټولو زموږ دشعر اوهنر د خاوندانو مخالفت کړي دي کله به دغه هنرکدې ته کولپونه واچول شول اوکله به کمونستانو ترې جېل جوړ کړ او زموږ دعلم خاوندان يې پکې اچول په ۱۹۸۰ کال چې کله روسي پوځونه افغانستان ته راننوتل نوهغوي هڅه وکړه چې دغه دهنر او کلتور مرکز دتبليغاتو اوپروپاګند په مرکز بدل کړي چې له دې امله زموږ زيات کسان ايران ته وتښتيدل، خوبيا هم دطالبانو دواکمنۍ دوره تر ټولو بده دوره وه لومړي هغوي هڅه وکړه چې زموږ دغه هنري مرکز د خپلو ځانګړيو نظرياتو دتبليغ په مرکز بدل کړي، خوچې پردې بريالي نه شول نو داني يې کلپ کړه او زموږ غړي يې په عامه ګڼه ګونه کې په

درو ووهل، څکه خو مورِ پټ شوو اوترڅمکه لاندې موخپلوابتکاري اوهنري چارو ته دوام ورکړ.

مورِ به په پټه دخپل دې هنري مرکز دکوم غړي په کور کې راټول شو و اوله هغوي څخه پټ به مو یوبل ته خپل شعرونه اوکیسې اورولې ماځلورو خواوته سترګې واړولې په یوه الماري کې مي ګنډل شوېې پاڼې ولیدې چې دکومې میاشتنی مجلې په څېر ښکارېدل له احمد سعید حقیقي څخه مي پوښتنه وکړه چې داڅه شی دي؟

هوکي! دا ادبي مجله ده چې " هفت اورنګ"نومېږي یعني " اووه تختونه" ددې نوم دمولانا جامي دمشهور نظم "هفت اورنګ" څخه اخیستل شوی دی جامي دتیمور یانو دبحراني وختونو سترشاعر تیر شویدي، مورِ فکر وکړ چې که جامي داسې دظلم اوجبر په دوران کې دغسې شاهکار ادبي آثار تخلیق کولای شي نومورِ هم په داسې ستونزمنو شرایطو کې دهغه په تقلید دهغه روایت ښه ژوندی ساتلی شو.

زه حیرانه وم چې دطالبانو په وخت کې دغه مجله له سانسور څخه څه ډول پاتې شوې ده؟

احمد سعید ځواب راکړ:

طالبان ډیر احمقان وو هغوي ددې توان نه درلود چې زمورِ دلیکنو پرحقیقي معني اوروح وپوهیږي.

مورِ دکنایو اوتشبیهاتو په ژبه خپل نظمونه او کیسې لیکلې اودطالبانو دظلم اوستم سره سره مویه پوره بري خپل پیغام خلکو ته رساوه، ځیني شاعرانو اوادیبانو په خپلو اشعارو کې مرغان اوحیوانات کارول اوخپل خیالات یې ځرګندول دایې وویل اوبیا چوپ شو.

ماهم فکر کاوه چې نور باید له دي ځایه ولاړه شم ځکه چې په کوټه کې دتودوخې درجه تر صفر هم ټیټه وه خوېخارۍ اودتودولو بل بندوست نه و اوپه دې یخنۍ کې پرفرش له ناستي سره مې پښې دواورې په څېر یخې شوې خوناڅاپه احمد سعید حقیقي خپله چوپتیا ماته کړه اوبیله دې چې ماته راوګوري ویې ویل:

دافغانستان په هغو ټولو ښارونو او ولایتونو کې چې مختلفې ډلې یوله بل سره لاس اوګریوان وې اوهر ډول جرمونه عام شوي وو چې هیڅوك هم تري په امن نه وو هلته دطالبانو په راتلوخلکو دآرام ساه واخیسته خوپه هرات کې داسې وضعه نه وه، زما په اند طالبان دمذهبي لیونیانو یوه ډله وه اوبس چې نه یوازې زموږ په ژبه نه پوهېدل بلکې ددوي په سبب زموږ ژوند له ډول ډول ستونزو اوجنجالونو سره مخ شو طالبان خوهغه وحشیان وو چې خلك به یې دبریښنا په ستنو پورې راځړول اوپه عامه ګڼه ګونه کې به یې په څلور لارې کې پانسي ورکړه، په یوه ورځ کې به یې اتلس تنه راوځړول اوغرغره به یې کړل، داننداره ماپخپلو سترګو لیدلې ده آیا ته به دداسې زړه پرېښوونکې ننداري لیدو تاب راورې؟

احمد سعید حقیقي داحساساتو له جوشه پرله پسې خبرې کولې.

په ځانګړې ډول زموږ پرښځو دا ډیر سخت مهال و، طالبانو دنجونو ټول ښوونځي وتړل، په پیل کې دوي داویل چې داهر څه دلنډې مودې لپاره دي ځکه چې دوي دمناسبو او متبادلو اقداماتو په فکر کې دي خوچې کابل یې ونیو دنجونو له ښوونځیو څخه یې دجوماتونو پرجوړ ولو پیل وکړ، زموږ په ژبه یې بندیز ولګاوه دښځینه ښوونکیو تنخوا وي یې بندي کړې، دلته موږ وپوهیدو چې دطالبانو

اصلي ارادي څه شي دي؟ موږ تر څه ځنډه انتظار وکړ چې ښايي دوي له ماتي سره مخ شي اوموږ به تري بې غمه شو خوچې داحقيقت روښانه شو چې هغوي به ډير زر هرات هم ونيسي نوموږ ټول سره جرګه شو و اوپردي مومشوري وکړي چې موږ دخپل ښار کلتور څه ډول ژغورلی شو او له خپلو اولادونو سره څه ډول مرسته کولی شو؟

په دغسي وضعه کې زموږ يوې خبرې ته ډير پاملرنه وه ما د تلوسې نه په ډکه لهجه ترې وپوښتل:

څه خبري ته؟

احمد سعيد ترڅه ځنډه ماته په ځير کتل لکه خپل ذهن يې چې څه خبري ته جوړاوه په دي ځنډکې ماهم پرخپل ځای اړخ بدل کړ له ويښتانو څخه راښوئيدلی دسمال مې بېرته برابر کړ اوويښتان مې پکې پټ کړل دهغه دداسې کتوڅخه زه پخوا ښه وارخطا شوی وم ځکه چې په دي خاوره کې ښځې ته داسې دژور کتلو تجربه ماپخوا نه وه ليدلې هغه دميز مخې ته ايښې کرسۍ شاته ټېل وهله او ودريد وېې ويل:

په ماپسې راځه!

هغه دادومره په آمرانه اوپريکنده انداز وويل چې ماته ددې مجال هم نه و چې تري وپوښتم چېرته مې بيا يې، ځکه خوديوه بې روحه بت په څير په هغه پسې روانه شوم.

دهوټل دشاتني سرك نه را واوښتو اوبيا په څلور لاري کې دترافيکو له غرفې څخه تېر شوو هلته دترافيکو پوليسانو پخپلو کې په کړس کړس خندل، په لاره کې دعزيز سلماني دوکان هم مخې ته راغی چې هلته دخلکو يوزيات شمير دخپلو ږيرو خرېيلوته راغلي وو.

له هغه نه چې تیرشو و موږ د یوه ختین کور دروازې ته ودرید و چې پرسریې په یوه آبي لوحه لیکلي وو:" سوزن طلایي وآموزشگاه زنانه دوزي" یعني ظاهراً دادښځو لپاره د ګنډلو اوګلدوزي دزده کړې ځاي و چې دچارشنبې اوهفتې په ورځ ښځو ګنډل پکې زده کول٬ احمد سعید راته وویل:

موږ داکار وکړ، زه حیرانه شوم اودده خبرې مي اوریدې ، ګنډل او اوبدل رښتیا هم داسې کارونه وو چې ښځو په آزادانه ډول زده کولای شوای، په دې کې دتلوراتلو آزادي هم وه احمد سعي زیاته کړه چې دطالبانو دبندیزونو په نتیجه کې دادیبانو ،شاعرانو او هنرمندانو پټ نظام جوړ شو، چې دهرات په څیر تاریخي ، کلتوري اوفرهنګي ښار ئي دمقاومت دغورځنګ یومهم مرکز و، چې دخپل کلتور د ساتني اودښځو دزده کړې په خاطر یې دخپل ژوند پرو اهم نه کوله اوپه خطر کې یې غورځولو.

څکه خو چې کله دنجونو ښوونځي وتړل شول او پوهنتون هغوی ته شجر ممنوعه شو نو موږ دګنډلو اواوبدلو په نامه ښځو ته دزده کړې لړۍ پیل کړه، په تیرو پینځو کلونو کې ځوانې نجونې دطالبانو لخوا په تپل شوي جامه دساده رنګ جامې چادري اوکلکو بوټونو کې دلته داسې راتلي چې په لاسي بکس کې به ورسره دتار، ستن، ټوکر او بیا تې لاندي کتابچې اوکتابونه پټ وو، که به دطالبانو چارواکو دوې تالاشي کولې نو دا به ورته څرګنده شوي واي چې د ګنډلو اواوبدلوتر روزنې لاندې دې نجونو تر ننه پورې یوه جوړه جامې هم نه دي تیارې کړې. دغه کور چې نجونو اوښځو ته دزده کړې بندوبست پکې شوی و دمحمد ناصر رهیاب ملکیت و چې دهرات

پرپوهنتون کې دادب استاذ و، دلته به چې نجوني راننوتې چا دري به يې لرې وغورځولې او دتورې تختې شاوخواته به په سطرنجې کيناستلې او د محمد ناصر رهياب ليکچر ته به يې غوږ کيښود. چې زياتره به د ادبي تنقيد، ښکلا اوفارسي شاعري غوندې "منعه شوي" موضوعات وو.

پردې سربيره به دلته دزده کړې لپاره راغليو نجونو ته دنورو ژبو دکلاسيك ادب زده کړه هم کيده او د وليم شکسپير، جمس جوايس اودنيبو خوف په باب معلومات ورکول کيدو.

احمد سعيد دکور دروازه وټکوله يو وړوکي ماشوم دروازه خلاصه کړه اوموږ يې يوې اوږدې کوټې ته بوتلو چې کومه کړکۍ يې نه درلوده اوپر فرش هر لوري ته تکيې ايښې وې، يوه لوري ته توره تخته وه پرميز دچا يو په روغني رنګ جوړ شوي انځور ايښي و، په ديوالي وړوکي شيشه يي الماري کې کتابونه ايښي وو، په هغو کې فارسي انګريزي لغتونه دفارسي شاعري ټولګې او دزهرو په باب په انګليسي ژبه هم يوکتاب و، په دي وخت کې پروفيسر رهياب هم هلته راغي او ترخپل تصوير لاندې چې هلته پرديوال راځړيدلی و پرغولي له موږ سره کيناست.

يو تر موز شين چاى اوقندهم راغلل، په داسې حال کې چې داد رمضان مياشت وه.

هغه اوږي پورته وغورځولې وي ويل: زه هيڅکله جومات ته نه ځم هغه په نرمه او شرميدلي لهجه په خبرو عادت وخو چې کله به دده د خوښې روسي شاعرانو په اړه خبرې راغلې دده په لهجه کې به هم يو څه جوش او احساسات ځلېدل هغه د روسي مشهور شاعر الکساندر

پوشکین یوه وړوکي مجسمه هم له ځانه سره ساتلي وه چې پټه یې ساتله.

اویوازي د درس په وخت کې یې خپلو زده کوونکیو ته ورښودله؛ دپوشکین دغه وړوکي مجسمه هغه ماته هم راوښودله.

چې کله به پروفیسر رهیاب دننه نجونو ته درس ورکاوه نواولادونه به یې بهر ظاهراً په لوبو بوخت وو، خوچي کوم طالب اویا ناپیژندوي به یې ولیدل نو ددوي څخه به یو سمدستي کور ته راغي اوپروفیسر به یې خبراوه چې بیا به ده خپل کتابونه ورسره واخیستل اودخپلي مطالعي کوټي ته به ولاړ اودده پرځای به یې میرمن ودریده چې په لاس کې به یې کومه نیمه ګنډلي جامه وه او دي به داسي ښوده چې ګواکي دغو نجونو ته دګنډلو او اوبدلو چل ورښيي ، یوازي یوځل داسي وشول چې دوي نژدې وو دطالبانو منګولوته ولو یږي، کیسه داسي وه چې دپروفیسر لور ناروغه شوه اوپر بستره پریوته زوي یې د ډوډۍ راوړلوو لپاره بهر ته وتلي و هیڅوك نه وو چې دوي ته خبر ورکړي په دي وخت کې یود توري پګړۍ خاوند طالب ددوي دکور دروازه وټکوله اوناڅاپه دکور انګړ ته ورننوت.

پروفیسر پروخت دنجونو دزده کړې له کوټې نه راووت اومیرمن یې په منډه هلته ورغله نجونو خپل کتابونه تر تکیو لاندي پټ کړل خوپرفیسر صاحب وپوهیده چې پرتوره تخته یې چې په تباشیرڅه لیکلي وو هغه یې نه دي پاك کړي.

همداسي د الکساندر پوشکین وړوکي مجسمه هم بهر پاتي وه، دی دخپلي مطالعي په کوټه کې دشنه چاي په څښلو بوخت و، لاس یې له ویري داسي لړزیدل چې دچایو پیاله په قاب کې کړنګیدله ، له

بده مرغه طالبان دومره جاهل اوبي سوادهٔ وو چې نه پوهيدل چې داڅه ويني اوپه توره تخته څه ليکلي دي؟

په يوه داسې تولنه کې چې خپلې لور ته زده کړې ګناه بلل کيږي هلته پرديو نجونو ته دګنډلو او بدلو په پلمه زده کړه ډيره خطرناکه وه چې دهرات په څلور لاريو کې دبريښنا پرستنو ډير نور کسان هم راځړيداي شواي ما چې پرهمدي فکر وکړ بيا مې له پروفيسر رهياب نه وپوښتل چې دومره لوي خطر دې دڅه لپاره قبول کړی و؟

هغه زما په ځواب کې وويل:

که دطالبانو چا رواکي پردې خبر شوي وای چې موږ دې نجونو ته يوازې زده کړې نه بلکي دادب لوړې زده کړې ورښيو نو خامخا به واجب القتل بلل کېدو خوپه تېرو کلونو کې دښار دآزادۍ لپاره زموږ خلکو دخپل ګران ژوند قرباني ورکړي نوآيا يو اديب اوپروفيسر داسې قرباني نشي ورکولای؟

رهياب په ځواب کې له مانه دا پوښتنه وکړه هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

زموږ ورځنی ژوند له بې وسۍ اوتش لاسۍ سره و.خو دکلتوري تش لاسۍ اوفقر زغملو ته چمتونه وو.

که موږ داسې نه وای کړي چې دخپل ښار دعلمي اوادبي تخليقي روح دژوندي ساتلو لپاره موتر اوسه پورې کړي دي نو زموږ غميزه به نوره هم ژوره وای.

دطالبانو له شك اوبدګوماني څخه دځان ساتلو په غرض پروفيسر رهياب دهرات په پوهنتون کې دتدريس پروخت هيڅکله هم دطالبانو برالا مخالفت نه دي کړي اوپه چوپه چوپتيا يې خپلو زده

کوونکيو ته درس ورکاوه په داسې حال کې چې طالبانو دده دتدريس له نصاب څخه ډير شيان ايستلي وو اوپرهغه يې زور راوړي و چې د ادب او شاعرۍ په باب دتدريس پرځای داسلامي کلتور اوشريعت په باب درس ورکړي.

په دي برخه کې يي هم پرهغه توند فشار راووړ چې هغه کتابونه پرې ولولي چې په جوماتونوکې يې طالبان وايې. د ادبي تيوري مضامين يې په اونۍ کې دوو ساعتونو ته راکم کړل اروپايي ادب يې بلکل ترې ويوست، بل لوري ته يې د اسلامي کلتور مضمون له څلورو ساعتونو څخه ۱۴ ته زيات کړيه دې دوران کې پروفيسر رهياب اوږده ګڼه ږيره پريښې وه چې دطالبانو له تلو وروسته يې اوس بيرته پاکه خريلي وه.

په دي ډول داوبدلواوګنډلو دزده کړي په پلمه دنجونو دزده کړې چارې ورو ورو په ښار کې پراخې شوې په تېره دښار په مرکزي برخو کې چې دتلو راتلوآسانتياوې دهنري اوکلتوري ټولنې اړوند و شاعرانو اوادیبانو هم په چا دريو کې دنجونو دزده کړو مرکزونو ته ځانونه رسول چې هغوی ته تعليم ورکړي.

ديو نيسيف اداري يوه مامور ماته وويل چې نژدي ۲۹ زره نجونو اوښځودهرات په ولايت کې دطالبانو دواکمني پرمهال په دي ډول په پټه دزده کړو اوتعليم پندوبست کړي و چې کله موږ دبيرته تلو په نيت راپاڅيدو نوپروفيسر رهياب وويل:

هره ټولنه او اولس شاعرانو، اديبانو اوداستان ليکونکيو ته اړتيا لري، چې دهغه ټولني دخوښيو او غمونو انځورګري وکړي له ادب پرته يوه ټولنه بې روحه وي چې دهغو هيڅ مضبوط بنسټ نه وي که په

افغانستان کې په دومره پراخه پیمانه دسواد اوکلتور خلاته وای نویاور وکړي چې دترهه ګری دغه بوټې به هیڅکله هم دلته ریښې نه واي کړي.

دګنډلود زده کړې په دي مرکز" سوزن طلایی" کې دپرفیسر رهیاب یوه شاګرده زینا کرم زادي هم ماولیده چې ۲۳ کلنه وه احمد سعید حقیقي دهرات د هنري مرکز تر څنګ دعامه کتابتون په ودانۍ کې له هغې سره زما دلیدو زمینه برابره کړه، هغه له خپلې خورلنې لیلا رازقي سره هلته زما لیدو ته راغله ما داسې ګڼله چې په چادرۍ کې دوی بدصورته ښیري هلته راغلې خوچې هغوي دواړو نجونو خپلې خپلې چادري له سره لرې کړي نوومې لیدل چې دواړه ډېرې زړه راښکونکې اوښکلې دي.

هغوي تکې سپینې اوډېر نظروړونکي وي، ما په ډېره حیرانۍ دا! فکر کاوه چې یا الهي په دې چادرۍ کې به ښځې یو بل څه ډول سره پیژنې؟

دعامه کتابتون وضعه د هنري مرکز .... ) څخه هم خرابه وه نیم روښانه ویجاړه او ویرانه اوله دي سره ډیره وچه اوسړه ! دلته هم بخاري او نغري درك نه و یوه اوږده سپینه کوټه چې یو میز اوڅو کرسۍ درلودې دکوټې له لوړو شین رنګو کړکیو نه دژمي دموسم دونو لغړې څانګې ښکارېدلې.

زینا کرم زادې په خندا له مانه وپوښتل :

زموږ کتابتون څنګه درولګید؟

بیا یې پخپله وویل:

موږ ورته دکتابونو هدیره وایو.

دعامه کتابتون دالماریوخانې ټولې تشې پرتې وې یوازې دکوټې په یوه کونج کې ایښې صندوق کې پنډ پنډ مذهبي کتابونه ایښي وو چې پرېو ستنیوبې په طلایي رنګ عنوانونه لیکل شوي وو مادغسې کتابونه پخوا په حقانیه دارالعلوم کې لیدلي وو، پردې سربېره مې په عام کاغذ چاپ شوي څو انګریزي کتابونه هم ولیدل چې په هغو کې موبي، بك آف دې اسکیمو اوځو نورکتابونه وو.

ماله زینا څخه وپوښتل داهرڅه څنګه پېښ شول؟

پخوا له دې چې داځواب راکړي سپین ږیري بوډا چې دکتابتون مامور و او ځان یې ډېر زرحسیني په نامه راوپېژاند ځواب راکړ.

داهر څه دطالبانو له لاسه!

زه شپېته کلن یم او دلته له ۴۱ کالو راهیسې کار کوم بوډا راته ویل:

دا یو ډېر غوره کتابتون و، دېنځه ویشت زره ټوکو په شاوخوا کې غوره کتابونه پکې وو له ټولې نړۍ څخه دلته مجلې راتلې اوډېر زیات شمیر کسان یې دلوستلو لپاره راتلل خوتېر کال طالبان راغلل اوټول کتابونه یې ورسره یوړل، هغوی یو ماسپښین په یوه لارۍ او پیکپ کې راغلل له دوی سره دهرات والي چې دسانسور مشر هم و راغی، دیرش تنه وسله وال کسان ورسره وو ماته یې وویل چې هغه ټول کتابونه به چې د سنیانودعقیدې اومسلك خلاف وې ضبط کړای شي پردې سربېره هغه کتابونه چې تصویرونه لري یا داسې کتابونه چې په ایران کې چاپ شوي وي یا په کوم لویدیځ هیواد کې اویا سیاسي کتاب وي، په تېره هغه کتابونه چې دپخواني کمونست حکومت له دوران سره اړوند وي هغه به ټول ضبط کړای شي نو اوس به کوم کتابونه پاتي کیدل؟

هغوي ټول کتابونه ورسره ټول کړل اويويې وړل. زه ددې کتابتون سرپرست اونګران وم خوزه هم مجبور وم اوهیڅ مي نشو کولي ما لا دا کتابونو د بنډلونو په تړلو کې ورسره مرسته هم وکړه ځکه چې که مې مرسته ورسره نه کولي دکلاشینکوف پرکنداغ به یې وهلم بوډا حسیني چې داوویل بې اختیاره یې په سترګوکې اوښکې ډنډې شوې اوبیا یې سر وخوځاوه ویې ویل:"

بیا موږ اوریدل چې دښار په یوه څنډه کې یې هغه ټول کتابونه وسوځول، دمذهبي کتابونو صندوق ته یې اشاره وکړه اوماته یې وویل، د هغو کتابونو په بدل کې یې داکتابونه موږ ته راوړل چې هیڅوک یې هم نه لولي ځکه چې داټول کتابونه په عربي ژبه لیکل شوي دي چې هیڅوک هم دلته نه پرې پوهیږي بیا ددې کتابونو موضوع هم اسلامي فقه اوشرعي قوانین دي چې سوچه عقیدوي مسایل دي چې عام خلك ورسره دلچسپي نه لري.

دهرات موزیم هم طالبانو نه دی بخښلي او له هغو څخه یې هغه ټولې مجسمې ګلدانی، اوبوتلونه لري کړي دي چې دلوي سکندر دوخت وو پردې سربېره یې له هغو ځایه پخوانی اولرغونې قیمتې او ارزښتناکې خطي نسخې هم ټولې کړې.

په هر صورت دغیر دیني اوغیر مذهبي کتابونو څو صندوقونه له طالبانوڅخه خوندي پاتې شوي وو.چې دهرات کلتوري ټولنې دطالبانو د راتلو له خبر اوريد و سره له هغه ځایه لري کړي وو، هغه صندوقونه یې د موزیم دځنګ په بن کې دیوه پخواني تیاتر په کنډوالو کې خښ کړي وو پردې برسېره یې دخوانانو دیوه مرکز په تاکاوۍکې هم ددې کتابونو صندوقونه ښخ کړې وو، ځکه خو مو بې ډك اوڅو نور انګریزي

کتابونه چې مخکې يې پادونه وشوه په دې ډول خوندي پاتې شوي وو دهرات دموزيم تاريخي او نادري خطي نموني يې پاکستان ته يوړې او ويې پلورلې دطالبانودحکومت داطلاعات اوکلتوروزارت يواستازي د پاکستان په سرحد ايالت کې ګومارل شوي و چې هغه افغانستان ته دنويوکتابونوبهير ودروي خود احمد سعيدحقيقي په وينا طالبان دومره هوښيارنه وو اوموږ موټرو په مختلفو برخو کې پټ ډېر کتابونه راوړل.

زينا د هرات پوهنتون د طب پوهنځي په دوهم کال کې وه چې طالبان راغلل د دې زده کړې نيمګړې پاتې شوې هغې ويل چې مابه تل د ډاکټرې خوبونه ليدل، که طالبان نه وای راغلي نو زه به اوس له پوهنځي څخه فارغه شوې وم او د خلکو په خدمت به بوخته وم، په هر صورت که زه خپله ټوله کيسه درته وکړم نوځو ورځې به دوام وکړي خودابه درته ووايم چې موږ هيڅکله هم دطالبانو تر اغيزې لاندې نه وو بلکې په خپلو خپلو کورونو کې بنديانې او بې کاره پاتې شوو لکه غواګې په مړوې وتړې.

له نورې نړۍ سره زموږ هېڅ علاقه اواړيکې نه وې بلکې له خپل کور څخه بهر موهم هيڅکله له چا سره څه اړيکې اوارتباط نشوای نيولی نه موراديو اوريدای شوې نه موتلويزيون ليدای شوای او نه موله دوستانو سره ليدای شوای، ډاکټرته د تلو لپاره هم زموږ سره دميړه يا پلارتګ ضروري شوي و چې ډاکتر ته زموږ دناروغي کيفيت ووايي که يوازې تلای نو په درو به يې وهلو، په هرات کې دغاښونو يوازې يوډاکټر و چې دښځوعلاج يې کاوه چې طالبان پرې خبر شول هغوی نه يوازې ډاکتر بندي کړ بلکې ناروغې ښځې يې هم ووهلې.

مونږ دغسې کتابتون ته هم نشوای راتلای، ځکه چې طالبانو راڅخه پوښتلې شوای چې ستاسو نجونو له دې کتابونو سره څه دي، موږ بازارته د سودا پېرلو لپاره هم نشوای تلای ځکه چې داکار یوازې نارینه و باید سرته رسولی وای ، له ښځو سره دطالبانو چلن داسې و لکه دوي چې انسانان نه بلکي هسې ځناور او حیوانات وي.

څومره چې زینا ګرځېده هومره یي له سترګو دبي رحمي اوبي انصافي پرخلاف اورونه بادیدل اوله تودو آهونو څخه یي په سرو هوا کې تاوونه جګیدل، بهر په ونو کې مرغانو غاړي وهلي، دخزان موسم وروستي ژېړې پاڼې دشمال له څپو سره دلته او هلته الوتلې ښکاریدلې ، د ریکشاګانو هارنونو په کوڅوکې یوعجیب شورګډ کړی و زه په حیرانی اوتعجب کې په دې چورتونو کې ډوب وم چې داسې ژوند به په واقعي معني څنګه وي؟ چې هرڅه په وړوکو وړو کو ټوټو وویشل شي اوته دیوي وړي جالی له سوریو څخه د هغو په لیدو مجبوره کړای شي. په همدي چورتونو ډوبه وم چې یوه بله پوښتنه را سره پیدا شوه چې دپردې اوچادری په اړه وه.

چادري خو د طالبانو له راتلو نه پخوا هم وه خو یو ځو ښځو پرسرکوله تریوه کاله طالبانو په دي اړه هیڅ نه ویل خو وروسته بیا د هغې پرسرولو ډېر ټینګار وکړ چې خامخا دځورېدنې سبب و.

دلته د زینا خور لنې لیلې ددې په خبرو کې ور ولوېده وې وېل: داسې ښکارېده لکه موږ یې چې کپس کې بندي کړي وو.

لیلي په عمرکې تر زینا کشره وه هغه ګردی مردی نجلی چې ژورو تورو سترګو یې ډېر څه ویل او تر اوسه پورې یې هرڅه په چوپه خوله اورېدل اوکله کله به یې په یوه نیمه خبره کې ځان راوغورځاوه.

زينا دليلي خبره ورغوڅه کړه.

نه داتر کپس هم بد تره ژوند و مورږ د ساه ګانو له لارې کاربن داي اکسايد ايستلو خو د پوره اکسيجن دتنفس کولو توان مو په چادرۍ کې نه درلود، ځکه چې چادري بلکل بنده وي او په تازه هوا کې څوك ساه نشي اخيستی، ځکه خو به لږ ځنډ وروسته داسې احساسېدل لکه سږي دي چې چوي اوساه به دي بنده شي، په داسې وخت کې چې لمر ورته مخامخ وي او چادري دې اغوستې وې هيڅ هم نشي ليدای ، سترګې دې نشي ليدای چې پرسر ك څې نوکېدای شي چې چېرته وغورځېږې.

مورږ خوهسې ديوه امېد په تکيه ژوندي وو چې دا ښوونځی به يو وخت پرانستل شي او يوه ورځ خو به له دې طالبانو نه بې غمه شو ځکه به د خپل ذهن د بېدار او فعال ساتلو لپاره کله کله دشپې په درې بجو را پاڅېدم او د رياضي فورمولونه به مې حلول. دا هر څه له هر چانه پټ په پټه زما همېشنی عادت وګرځېد. داسې مې ګڼله چې که درياضي د مسايلو او فورمولونو حل کول پرېږدم نومړه به وم.

ځکه مې تل ځان پردې بوخت وساته او دا وېره به را سره پيدا شوه چې که د رياضي دغه فورمولونه ختم شي نو ځان به څه ډول بوخت وساتم دګنډلو په کورس کې زمورږ تېرېدونکی وخت داسې و چې دا احساس يې را کاوه چې مورږ انسانان يو که په پېل کې پردې خبره واى چې طالبان به تر اووکلونو پورې زمورږ پرسرسپاره وي نو همغه وخت بې مې ځان وژلي و او مړه به شم.

دګنډلود زده کړې دهغو مرکزونو په باب ليلي لومړی ځل اورېدلي وو. دا هم يوه نوې راټوکېدلي اديبه وه زه دکلتوري مرکز په

معرفت د استاذ رهیاب نه ښه خبره وم، ځکه خوبهر موږ دابندوبست کړي و، چې هغه زموږ کره راشي او موږ پنځو خورلڼو ته سبق ووايي، که به چا را نه وپوښتل چې دا ځوك دی موږ به ځواب ورکړ چې زموږ کاکا دی. هغه موږ ته د نړۍ د لويو اديبانو او ليکوالانو په باب معلومات راکول چې په هغو کې ويليم شکسپير، داستا يوسکي، کافکا ، جيمس جوائس او الکساندر شامل وو.

پردې برسېره يې موږ ته د جمالياتو د "ښکلا وو"، د فلسفې په باب هم درس را کاوه په هغو څو ساعتونو کې به موږ ځانونه په يوه بله دنيا کې احساسول.

په دې کې هېڅ شك نشته چې که طالبانو موږ د هغه سبق په جريان کې ليدلي وای نو يوه به هم ژوندۍ نه وه پاتې شوې.

د پروفيسور رهياب د لارښوونې اوتشويق له امله دې ۲۴ کلنې نجلۍ ليلې دوه ناولو نه کښلي وو چې د يوې موضوع يې د جبري ودونو په باب ده چې عنوان يې "سراب" دي. د بل ناول نوم يې د"تظر له بريده ها خوا" دی په دې ناول کې يې ديوې داسې نجلۍ کيسه کړې ده چې پلار يې په جګړه کې وژل شوېدی او اوس د ټولې کورنۍ د ژوند بار د دې پراوږو لوېدلې دي. دغه ناولونه په فارسي ژبه په ډېره پاملرنه او د کاغذ سپماته په پام سره ليکل شوي دي.

ددې ناولونو متن په ډېر نري کاغذ ليکل شوی او په ډېرنري ليك ځکه خو چې دطالبانو په وخت کې دډېر کاغذ ترلاسه کول هم يوه شکمنه مساله وه، ځکه چې کوم کاغذ په لاس کې و په همغو ليکل شوېدی. ليلې تردېرشو پورې کيسې هم ليکلې دي چې اووه يې

دکلتوري ټولنې لخوا دکوم نارینه په مستعار نامه خپرې شوې دي چې ددې ریښتیني نوم راڅرګند نه شي.

ددې ټولو کیسو موضوعات دطالبانو په وخت کې دښځو د بدې وضعې په باب دي لیلي په خپلو کیسو کې ډول ډول کنایې او استعارې کارولې دي او د طالبانو پرواکمنۍ یې سخت ټکونه کړیدي.

... ما د" زیري" په نامه یوه کیسه لیکلې وه چې په هغو کې د روسا په نامه یوه ښځه له ځانه سره د خبرو په حال کې ښودل شوې ده چې ډېره غمجنه او د محرومیت احساس کوي دا د خپل یوه نژدې ناروغ خپلوان په خدمت او پالنه کې د زده کړې او تعلیم نه پاتې شویده دا خپل وروڼه ویني چې پوهنتون ته درومي په داسې حال کې چې دا په خونه کې د ناروغ خدمت ته بندۍ ناسته ده.

دغو دواوو نجونو یوازیګ پردیګ خپله غوسه او خپګګان نه خګرګګندولو چیګ پر دوي ولیګ بندیز لګګیدلی و بلکیګ زینا ویل:

هرات د تصوف، علم او ادب د یوه مهم مرکز حیثیت ترلاسه کړی و ، تاسو به زموږ د سترې ملکې ګوهر شاد نوم خامخا اوریدلی وي، دا زموږ اساسي مسئولیت دی چې دخپلې ادب پالې او علم دوستې ملکې معنوي میراث ژوندی وساتو بلکې لا یې وپالو او پراختیا ورکړو خو افسوس چې طالبانو زموږ تهذیب او کلتور ته زیات زیان ورساوه.

زینا خپلو خبرو ته دوام ورکړ ویې ویل:

زه یو مثال درته راوړم. څرنګه چې طالبانو ښځې په کورونو کې بندي کړې وې چې هلته یې هیڅ کار نه درلود ځکه خو د سینګاراو ډول سامان ډېرمقبول شو. په داسې حال کې چې طالبانو پردې شیانو کلک بندیز لګولی و. نو زما خورلڼې به کره ورځ په سینګاراو ځان

جوړولو بوختې وې. خپلو پلرونو او یا میړونو ته به یې هره ورځ دا فرمایش ورکاوه چې د جامو دګنډلو سامان ورته راوړي چې خان ته نوې جامې وګنډي، ورو ورو دا لړوننوب دومره عام شو چې له ایران او پاکستان څخه په قاچاق راوړل شوي نوي د سینګار سامان به ورځ په ورځ قیمته کیدل او د هغو د ترلاسه کولو لپاره یوه سیالي پیل شوه. له بلې خوا نجونو په کم عمرۍ کې ودونه غوره وبلل. ځکه چې هغوي نورکارنه درلود چې پرې بوختې شي. ځینو نجونو په دیارلس کلنۍ ودونو ته تیاری وښود. زینا په ډېرتعجب دغه خبرې کولې او موږ ته یې د طالبانو د وخت د پابندیو او بندیزونو کیسې کولې...

څرنګه چې په هر ډول غونډو او لوبو بندیز لګیدلی و پرځای تلویزیون بندیز لګیدلی و. نو ډیرو خلکو ستلایټ ډش آنتنونه او یا وي سي آر راونیول چې بهرني پروګرامونه پرې وویني، زموږ په چم ګاونډ کې سره له دې چې له هرو پنځو کورنیو څخه دوې ډیرې زیاتې بېوزله دي بیا هم ډش آنتنونه وو، دغو خلکو د ډش او وي سي آر، د ترلاسه کولو لپاره کله کله لوږې هم تېرې کړې دي، ځکه چې د تفریح ټول وسایل بند شوي وو او د وخت تېرولو بله هیڅ لاره نه وه.

په دې کې شك نشته چې پردې ټولو شیانو هم طالبانو ډیر سخت بندیزونه لګولي وو او که کله طالبانو دغه خلك دوې سي آر او یا ډش آنتن د پروګرام پرلیدو لیدلي وای نو نه یوازې دا چې هغوی ته به یې بدني سزا ورکوله بلکې تلویزیون به یې پر غاړه کې ور اچولی و او په ټول ښار کې به یې راګرځول. خو بیا هم دغه لړۍ خلکو په یوه ډول جاري ساتله زینا دې ته اړم وه چې هرڅه په تفصیل سره راته ووایي ما

هم ددې دغه په زړه پورې او عجیبي کیسې ډیرې په مینه او تلوسه اوریدې...

ویډیو فلمونه ډیر په پټه او غلي راوړل کیدل. چې شمیر یې ډیر لږ و. کله کله به په هغو امریکایي فلمونه مثلاً ټا یټانیک هم راغلي وو چې په ټولو کورونو کې خلکو ولیدل چې د هغو د لیدو نه وروسته خلکو د هغو د جامو او ویښتانو د موډ تقلید پیل کړ همدارنګه په پټه دټایټانیک د فلم سندري هم خلکو اوریدلي. او د ښار ډیرو ځوانانو نجونو د فلم پرځوان اتل" لیونارډو ډي کیپریو" زړونه بایللي وو.

تارینه و سره له دې چې د طالبانو له ویرې اوږدې ږیرې پریښې وې خو هیله یې درلوده چې ورسره ویښتان د هغه په څیر جوړکړي په هرصورت ډیرو خلکو دا خوښول چې هندي فلمونه وګوري. ځکه چې زیاتره امریکا یي فلمونه د ظلم او وژنو له ننداړو ډك دی څرنګه چې بدني ځورول او وژل ترل دلته ورځني معمول و او داسي ننداري په ښار کې هره ورځ په عامه توګه لیدل کیدای شوای ځکه خو د خلکو له داسي فلمونو سره مینه پاتې نه شوه او ترې ستړي شول د دې پرخلاف د هندي فلمونو پاي ډیر په زړه پورې اوخوشا لوونکي وي.

چې په هغوکې بالاخره مظلوم اوځپل شوی خلك بریالي او سرلوړي ښکار وي. د دې فلمونو په لیدو به موږ ډیره خوښي احساسوله ته د هغو خلکو پر وضعه ډیره ښه پوهیداي شي چې په کور کې بندیان وي او په وار وار د یو ډول فلمونو په لیدو مجبور شوي وي. زموږ تنکیو ځوانانو او آن وړوکو وړوکو هلکانو هندي ژبه زده کړې ده. او په آساني پرې غږیدای شي. د ټولو هندي فلمي لوبغاړو او نجونو نومونه یې یاد دي، خو افسوس چې له خپل تاریخ او اتلانو څخه هیڅ خبر نه دی.

زما په نظر خو زموږ نوي نسل کله په ناپامی د بهزاد اوملکې ګوهر شاد نوم نه دی اوریدلی. زینا دا په ډیره غمجنه لهجه راته وویل.

ماته دا ډیره د حیرانۍ وړ وه چې په هرات کې زیاتو خلکو څه ډول د طالبانو له قانون څخه سرغړونه کوله.

لیلي زما دحیراني لري کولو لپاره په وضاحت کې وویل: که یو ډول وګوري د افغانستان د نورو برخو په پرتله دلته داسې کول ډیر ګران نه وو ځکه چې دلته له طالبانو څخه کرکه دومره زیاته وه چې هیڅوك هم په هیڅ قیمت دی ته چمتو نه وو چې له هغوي سره همکاري وکړي.

ځکه خو زموږ دغه له قانون څخه سرغړونه وکړه وړه دوي ته افشا نه شول نه په موږ کې څوك داسې وو چې زموږ په باره کې طالبانو ته خبر ورکړي همدغسې طالبان سمدستې پېژندل کېدل ځکه چې ژبه او جامې یې له موږ سره بیل وو لیلي زما حیراني تر ډیره حده لرې کړه د هرات د نوي والي اسماعیل خان په باب دا ذهنیت عام و چې غواړي زر تر زره د ښځو د زده کړي لرې بیا پیل کړي.

ځکه خو ما له زینا نه وپوښتل چې که پوهنتون پیل شي نو دا به د طب په پوهنځي کې خپل تعلیم ته دوام ورکړي که څنګه زینا سر وخوځاوه او ویې ویل، نه! طالبانو د پوهنتون ټول اسناد له منځه وړي دي .زما د زده کړي له لاسه وتلي وخت بیرته نه را ګرځي اوس به موږ هر څه له سره پیلوو پردې سر بیره زما عمر اوس ۲۴ کاله ته رسیدلی دی نوزه به څنګه ډاکتره شم او د خپلو خلکو علاج به کوم؟ چې په دې تیرو

کلونو کین حس اروا ډېره پتې شوې ده،

یو تپ خوړلي ډاکتر به خپل ناروغان څه ډول روغ کړي؟

ما چې له هغو دوو زړورو او با همته نجونو څخه خدای پاماني اخیسته ډیره خپه شوم، هغوي په یوه نژدې هوټل کې د شپې د ډوډۍ بلنه راکړه چې په هغو کې د هرات دکلتوري ټولنې لومړي پرانستې غونډه هم شوې وه چې یوازې ښځو پکې ګډون کړی و. هغوي دواړو له مانه بخښنه غوښتله چې ډېرې له ماسره نشي ایساریدای او مایې په کورونو کې میلمنه کولی هم نشي.

زینا ډېر په خپګان سر وخوځاوه ویې ویل:

طالبانو تر دې حده زموږ رواجونه اوکلتور بدل کړی دي. یو وخت و چې موږ به په خپل کور کې دبهرنیانو په میلمه کولو ویاړ کاوه.

خو اوس وضعه داسې ده چې که زما پلار خبر شي چې زه دلته ستا د لیدو لپاره راغلی وم نو ډېر به خپه شي. ډیره موده نه کیږي چې طالبان له دې ځایه تللي دي ځوک خبر دي چې سبا ته به دلته څه کیږي!

هغوی دواړو خپلې چادرۍ ورسره واخیستې او له سر تر پښو پکې پټې شوې او له کتابتون څخه ووتلې ماته یې چې خدای پامان ویل د دواړو په غږونو کې د ژور خپګان نښې وې ما ایراني نجونې هم لیدلې وې چې چست کوټونه اغوستي او ویښتان یې په دسمال کې پټ کړی وې بیا هم ډېرې په سترګو ښې لګیږي، بلکې خاص جنسي راښکون هم پکې وي خو دغه د عجیبې او غریبې ټوپې دارې چادرۍ چې هغو نجونو واغوستې ماته دکوم داسې چا د ذهن اختراع ښکاره شوه چې دهغې په اند ښځه له یوه ذلیل او ټیټ مخلوق پرته بل څه نه ده، زه

دکتابتون په دروازه کې ودریدم او لیلي او زینا ته مې کتل چې روانې وې د هغوي دواړو اوږې لږ خمې راته ښکاره شوې او داسې مې ګڼله چې د دوی دواړو شخصیت د تیارو په تل کې ورك شوي دي لږ څنډ وروسته دوي د نورو چادریو په ګڼه ګوڼه ور ننوتی چې نوریې ماته پیژندل ګران شول.

ناصر خفاش چې دطالبانوپرخلاف یې شعرونه لیکلي وو ما لومړی ځل هماغه دکلتوري ټولنې د شپې په ډوډې کې د هغه نوم واورید چې په هغو کې زینا او لیلي د ګډون بلنه راکړې وه.

هغه هلته نه و خو هر چا له مانه پوښتنه کوله چې تا لیدلی دی که نه؟ هغه یو شاعر و خو ما یې چې په هغه غونډه کې د خلکو لخوا یادونه ولیده داسې مې ګڼله چې د طالبانو په مقابل کې د مقاومت د تحریك د یوه اتل حیثیت لري. د هغه د کور پته هم عجیبه اوله اسرارو ډکه وه:

تاسو داوښانو د طبیلې کوڅې ته ورشی هلته چې د هغه د کور پوښتنه له هر چا نه وکړئ درته وبه یې ښیي بله ورځ ما د اوښانو د طبیلې دکوڅې پوښتنه کوله او یوه داسې ځاي ته ورسېدم چې پوځي هډې ته د تللې لارې شاته د خامو ختو کورونه او وچ لښتي وو، تر دې مخکې له ښایسته مزله څخه وروسته چې کله د منی لمر په لویدیځ افق کې ډوبیدو ته چمتو کیدو ما له خلکو څخه د ناصر خفاش دکور پوښتنې پیل کړې. یوسړي چې دخپل کور پ پربام د ډش آنتن پرتینګولو بوخت و ماته یې یوه لوري ته د تلو اشاره وکړه خو یوه بل تن بیله پوښتنې یوه بل لوري ته د تلو اشاره راته وکړه ، وروسته وپوهیدم چې زه په یوه دایره کې راګرځیدم هغه سړی پرخپل خره د وښو دومره

لوي بارترلي و چې د خره يوازې سر او لکۍ د بار نه راوتلي وو، ناڅاپه په ماپسې را روانو ماشومانو د يوې سرې رنګې دروازې مخې ته په لوړ غږ چيغې پيل کړې.

دکور له پاسني پوړ څخه دکوم چا دګوابښ او غوسې ډك غږ راغی او ټول ماشومان وتښتيدل.

يو وړوکی ماشوم راغی دروازه يې خلاصه کړه او ماته يې په زينو کې د پاس ختلو اشاره وکړه پاس يې زه يوې اوږدې کوټې ته بوتلم چې دکړکۍ له هندارو نه يې د هرات مشهور منار ښکاريدو. دکوټې په بل اړخ کې پر ديوال يو طلايي رنګه ښکلی ساعت را ځړېده چې معمولاً په چينايي رستورانونو کې رواج وي. دکوټې دننه له ديوالونو څخه تر چت پورې دکتابونو الماري وې چې زياتره يې د فارسي ژبې وو.

په هغو کې د سعدي بوستان او ګلستان د فردوسي رزميه شهکار (شاهنامه) د مولانا يي روم او حافظ شيرازي د اشعارو مجموعې وې دکوټې په منځ کې بخارۍ بله وه چې دودونه ترې ختل او نژدې پلتې وهلې ناست کس ناصر خفاش و، ما چې وليد لومړي ډيره مايوسه شوم، هغه د ټيټ قد ګردی مردی سړی و چې د ډيرې رنګ يې نصواري و، ګنجی سريې د بدن په نسبت ډېر لوی و او په هيڅ ډول ماته اتل نه ښکاريدو.

د دې پرخلاف ماته دې يو فقير مشر به مجذوب غوندې سړی ښکاره شو چې عموماً د صوفيانو په زيارتونو او خانقاو کې ښکاري.

وروسته راته معلومه شوه چې د ده عمر ايله" **۵۵**" کاله دی په داسې حال کې چې ماته ډير عمر خوړلی ښکاريدو، د غسې له مخکينی خبر پر ته يې زما معذرت ته هيڅ پروا ونه کړه او ماته يې

پرخپل خای دکیناستلو ست وکړ، په کینې لاس یې چې زما د ویزت کارت واخیست او پر لوستلو یې پیل وکړ نو دده پر پراخ تندي مې کرښې لیکې ښې لیدې چې جوړیدلې. په ښي لاس کې یې تسبیح وې چې په خوله یې له څه زمزمه کولو سره یوه یوه دانه شاته اړوله.

ناڅاپه یې وویل: نهه نوي!

دالله تعالي نهه نوي مبارکو نومونو لپاره!

دا یې وویل اوتسبیح یې کینبودې ګوا کې دا یوه اشاره وه چې دی نور زما خبرو اوریدو ته چمتو دی څکه ما ترې وپوښتل:

د طالبانو په وخت کې د یوه شاعر په حیث ژوند به خامخا تاسو ته له ستونزو ډك و.

د هغه ځواب د هرات، د کلتوري مرکز د رئیس احمد سعید حقیقي له ځواب سره ډیر ورته و خو داسې مې احساس کړه چې د دواړو تر منځ څه خپګان راغلی وي، یوازې ترطالبانو پورې اړونده نه ده پردې ښار له طالبانو څخه پخوا هم دغسې عذابونه راغلي دي.

یوازې د تیموریانو دوران داسې و چې زموږ شعر او ادب تر دوونیمو سوو کلونو پورې په امن او سکون کې زما نه لیدلي او د ښکلا او مینې سندرې یې ویلې دي، له هغه زمانې څخه وروسته بس زموږ شعر اوادب د غم او ویر ترجمان پاتې شوی دی، بیا هم د روسې پوځونو له یرغل څخه پخوا دلته تیاتر کتابتونونه او زیات شاعران وو، چې د یوې محتاطې اندازې له مخې د هرات په ښار کې تر زرو تنو پورې پوهان، ادیبان او شاعران وو، چې له هغو څخه یې زیاتو ښار پر یښود او ولاړل د روسیې پوځونو له اشغال نه وروسته له شلو کلونو راهیسې د فارسي شاعرۍ موضوع یوازي پر جګړې او جنجال پورې

محدوده پاتې ده چې شپږ اووه کاله پخوا د طالبانو د واکمنۍ پر وخت د شعري او ادبي هڅې په پټو حرکتونو بدلې شوې اوکه طالبانو د دغه وخت کوم شعر او نظم لوستی وای نو شاعر او لیکوال به یې خامخا په دار ځړولی وای د هماغې چلن پایله ده چې زموږ ډېرو شاعرانو وطن پرېښود او ولاړل چې څوك پاتې دي هغوی ډېر وویرېدل.

ما ترې وپوښتل.

تا ولې هیواد پرېښود او ونه وتلې؟

زما پلار عراق ته تللی و او زما ماشومتوب همالته تېر شوی دی بیا له ۱۹۷۹- ۱۹۸۶ پورې په ایران کې وم. ځکه خو نور د هجرت او پردیسۍ له ژوند څخه بیزار یم. کوم خلك چې دلته دي د دوي سره مرسته زه خپله دنده بولم دغه وخت چا دکوټې دروازه وټکوله چې ناصرخفاش ښه ورسره اندیښمن شو خو چې د خپل زوي غږ یې واورید بحر ته ډاډه شو راته ویې ویل:

زما زوي چې بهرنیان ووینې ډېر ورته خوښېږي هلك پښې لوڅې کوټې ته را ننوت او ډېر په احتیاط یې یو طلایي رنګه پتنوس پر قالینه کېښود په پتنوس کې له شیدو پرته د چایو دوې پیالې او پهیوه قنداني کې بوره وه د دروازې له ټك ټك سره د ناصراندیښمن کیدل بلکل پر ځای وو ځکه چې هغه یې په هرات کې د دایمي اوسیدو له پریکړې وروسته اووه ځله بندي کړی و.

دخپل اتل او د شاهنامې د لیکوال فردوسي په څېر دی هم یو شاعر او په هرات کې د هستوګنو شیعه مذهبو یو غوره غړی و چې د شیعه ګانو په یوه ښوونځي کې یې د ښو ونکي دنده درلود. چې د فرودوسي یادونه راغله نو دا کیسه به مو هم اوریدلي وي چې د ده

تخليقي شاهكار د ايراني قوم پالو په منځ کي د" انجيل" په نامه يادېږي. د دغه اثر په بشپړولو کې فردوسي د خپل عمر ۳۵ کلونه ولګول په ۱۰۱۰ م. کې چې فردوسي بيا د غزنوي سلطان محمود حضور ته وړاندې کړه چې هغه وخت يې پر خراسان حکومت کاوه.

د فردوسي زياته تمه وه چې سلطان محمود به د دې په بدل کي ډير ستر انعام ورکړي د فردوسي د تمې پر خلاف سلطان محمود هغه ته دومره لږ انعام ورکړ چې فردوسي هغه سپك وګاڼه او يوه مقامي حمام خدمتګار ته يې حواله کړ او پخپله يې غلي ژوند غوره کړ د سلطان محمود پرخلاف او غندنه کې يې نظمونه ليکل پېل کړل د ډېرو کلونو نه وروسته سلطان له فردوسي سره خپل بد سلوك احساس کړ او پرې پيښيمانه شو د دې په جبيره کې يې د شپيته زره اشعارو په بدل کي شپېته زره د يناره پراوښانو بار کړل او د فردوسي کلي ته يې ور واستول چې دغه اوښان له يوې دروازې څخه د دوي کلي ته ورننوتل له بلې دروازې څخه د هغه جنازه راووته.

د طالبانو پرخلاف د ناصرخفاش اصلي وسله شاعري وه. د هغه په قول چې اوس په بدني لحاظ هغه مزبوت سړی نه يم بلکې يو وړوکي سړی يم چې زړه مې هم سم کار نه کوي، ځکه خو ما په دې جګړه کې يوازې د خپلو نظمونو په واسطه ګډون کولای شوای د ماسپښين تردرې بجو پورې به زه دښوونځي له سبقونو او درسونو څخه وزګارشوم.

او دې کوټې ته به راغلم او تر ماښام پورې به مې دغسې شعرونه ليکل، چې کله کله به د خاورو تيل په لاس راغلل نو څراغ به مې بل کړ او خپل کار ته به مې دوام ورکړ.

ناصر خفاش نېکمرغه و چې خپله کوټه يې درلوده چې په هغو کې به آرام ناست و او د طالبانو پر خلاف به يې شعرونه ليکل د ده دکور نور غړي په لاندېني پوړ کې اوسېدل او د افغانانو د رواج سره سم زياتره کورنۍ د ډوډۍ ، سات تيرۍ او د خوب لپاره له يوې خونې کار اخلي کله به چې ما کوم نظم وليکه دوستانو به مې سمدستي له هغه نه نور وليکل بيا به يې د هغو فوتوکاپي ايستلې او په دې ډول به يې په خلکو کې خپرول. په هغو نظمونو او اشعارو کې تر ټولو زيات مشهور هغه نظم و چې ما د طالبانو د امر با لمعروف او نهي عن المنکر وزارت په اړوند ليکلی و چې د هغو د جوړولو هدف د افغان اولس د اخلاقو او عادتونو اصلاح ښودل شوي و. د دې وزارت اړوند کسان به ونمانځه پر وخت سرکونو اوکوڅو ته را ووتل دوکانداران به يې پر زوره مجبورول چې خپل دوکانونه ونړي او د ښارويو په څېر به يې ډله ډله د جومات په لور ورسره په ټېل وهلو بېول.

دکوم چا به چې ږيره تر موټې لنډه وه هغه به يې وهلو.

هغه تنکيو ځوانانو ته چې د سر ويښتان به يې لږ اوږده وو سختې سزاګانې ورکولې. زما په ناقص نظر خو دا هغه اسلام نه و چې زموږ خواږه او درانه پيغمبر اکرم صلي الله عليه وسلم يې تلقين کړی و.

ځکه خو ما د طالبانو د هغه غير اسلامي اقداماتو په باب يو طنزيه د غندني شعر ووايه چي په هغو کي دغه لاندي بيتونه هم شامل

وو، دکتاب ليکوالي کرستيناليمب دشاعرفارسي شعر په انګريزي اړولي و چي دهغو مطلب ژباړه داسي وه:

" دښاريه کوڅو اوواټونو کي

ګرځي راګرځي... ستاسو د پوليسو کسان، او موږ ته د نيکي لاره ښيي!

دوي به زموږ اخلاق څنګه اصلاح کړي ؟؟! دوي خو پخپله په کومه ورشو کي تر ډيره ځريدونکو د اوړدو ليکو در لودونکو خرو په څير... د حرص او تمي ګوډي دي."

د ښار وړو وړو هلکانو زما د نظم دغه بندونه ياد کړي وو.

څکه خو به چي دوي د هغه وزارت کسان وليدل نو د شانه به يې د نظم دغه بندونه په زوره زوره ويل او بيا به وتښتيدل، پوليس به پردې چورتونو کي سر ګر دانه وو چي دا دوي ته چا ورښودلي دي.

خو اصلي سړی يې هيڅ ونه موندلو، داسې وبوله چې زما دې نظم د طالبانو پر خلاف د يوې ملي تراني حيثيت درلود. ناصر خفاش د طالبانو پرخلاف خپل احساسات ځرګندول:

زياتره وختونه به دوي پرما شك کاوه خو لاس يې ځکه را باندي اوچت نه کړ چې هيڅ ثبوت يې لاس کې نه و.

دا يي وويل او په خندا له ځايه جګ شو دکوټي بل کونج ته ولاړ د لرګيو ظاهري ديوال يې لرې کړ چې تر شايې دکتابونو په الماري کې د خپلو نظمونو پاڼې او يو لوی د تلويزيون سيټ ايښی و.

هغه راته وويل:

کوم شعرونه چي د ډيرو حساسو موضوعاتو په باب ليکل شوي وو هغه به مې د دې چراغ د بالتيو نه لاندې ايښودل بيا يې د څراغ

بالتی په بل مخ واړولي له منځه يې ځو غونج اومروړلي کاغذونه راوایستل.

طالبان دلته راغلي وو خو هیڅ يې لاسته ورنغلل. چې کله به دلته راغلل ما به ورته وویل چې زه په دې ورځو کي خپل زیات وخت په خپل کتاب "خطاب" مصروف یم چې دامام سجاد د دعاګانو ټولګه ده او زه یې په ژباړه بوخت یم.

چې له تیرو پنځلس کلونو راسې پرې کار کوم له بده مرغه زموږ زیاتره خلك د لیك لوست څخه بې برخې دي ځکه خوما په ډول ډول لارو هڅه کړې چې خپل اشعار اونظمونه دوي ته ورسوم.

د ملا عمر امیر المومنین د دعوې په اړه مې یو ډېر توند طنزیه شعر لیکلی پر هغو برسیره مې د ملا عمر څلور مجسمې جوړې کړې او د دې نظم یو یو بیت مې د هرې مجسمې لاندې ولیکله او د ګرزبندیز په وخت کې مې د ښار په څلورو څلور لاروکې کیښودي.

په هغه شپه طالبانو د ښار ټولو شاعرانو په شمول ټول د غاښو نو ډاکټران هم ونیول ځکه چې د ملا عمر د مجسمې په جوړولو کې چې له کوم فن اوکمال نه کار اخیستل شوی و طالبان په دې کي پر غاښو جوړوونکو بدګومانه وو، ځکه چې هغوي له داسې ځانګړې خمیرې او پلاستر څخه زیات کار اخلي د شپې په دوو بجو هغوي زما کورته راغلل ما سوګندونه وخوړل چې مجسمو لاندې لیکل شوي شعرونه په ماپورې هیڅ اړه نه لري که مې له دروغو څخه کار نه وای اخیستی او رښتیا رښتیا مي ورته ویلی نو نن به تاته د دې داستان د اورولو لپاره زه ژوندی نه وای پر دې سربیره هغو ظالمانو تر پنځو میاشتو پورې زه په خپل کور کې نظر بند کړم.

چې په دې موده کې يې د لاس په ګوتو په لښتو وهلم. چې د ليکلو توان له لاسه ورکړم ناصر خفاش بيا ماته خپلې د لاسونو ګوتې راوښودې چې ډېرې کلکې ښکاريدې او پرسيدلې هم وې هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ ويې ويل:

زه اصلاً ډير ډارن او بې همته سړی يم تير شپږ کاله مې يوه شپه هم آرام او آسوده خوب نه دی کړی.

چې کله به مې پر سرك دکوم موټر د تيريدو غږ واوريد خولې به راباندې ماتې شوې اوله دې ويرې به لړزېدم چې طالبان مې د نيولو لپاره راغلل.

د ناصرخفاش په تندي او څيره کې د ويرې او انديښنې نښې ښکاريدې... له ناصر خفاش سره د دې اوږدو خبرو اترو په ترڅ کې چې د ماښام تياري څه وخت خپرې شوې پرې ونه پوهيدم شپه ورو ورو راتله او د تيارو له امله مې له ناصر سره د خبرو اترو په پام د يادښتونو ليکل راته ګران شول خفاش په زوره خپل زوي ته چيغه وکړه چې سمدستي هغه د خاورو تېلو څراغ راوړ او ماته يې نژدې پر غولي کېښود. له څراغ څخه يو تت مخصوص غږ ختلو او د هغو په تته رڼا کې شاوخوا ماحول ډېر له اسرارو ډك او هيبتناك شو، د چراغ په رپيدونکې رڼا کې د ناصر خفاش لوی سر د داسې کونګ په څېر ښکاريدو چې د خپل ښکار په لټه کې وي، د نړۍ په زياترو هيوادونو او تمدنونوکې " کونګ" دحکمت او پوهې سمبول ګڼل کېږي په لوېديځه نړۍ کې هغه ډېر هوښيار مرغه بلل کېږي خو په افغانستان کې معامله معکوسه ده چې دلته له خپل ډير بد دښمن سره د دښمنۍ د څرګندولو په نامه د بوم غوښه پرې خوړل کېږي، ناڅاپه له يوې نژدې

کوڅې څخه د اتومات وسلې ډزې پیل شوې، ما فکر وکړ چې په دې تپه تیاره کې بېرته د هوټل لور ته تلل هوښیاري ده که نه؟ زه لا په همدې مساله کې په چورت کې وم چې د خفاش غږ اوچت شو: زه ډېر خوښ شوم چې د طالبانو شوم دوران تېر شو.

چې هغه دا خبره وکړه زه د بېرته تلو لپاره چمتو شوم.

هغه راته وویل:

ما دا نظم د طالبانو د بېرته تلو په خوښۍ کې ویلی دی چې سر لیک یې و " خدایي توره" چې یو بیت یې څه داسې و:

ظالمان وشړئ ... او پتنګان له بنده خوشي کړئ.

د هرات ښار د هغو لوړو فشارونو تر سیورې او واک لاندې ښکاري چې زه یې د لیدو لپاره یوه اونۍ پخوا ورغلی وم هغه سهار مهال چې هلته هیڅ ګردونه اودوړې نه وې، یوه اونۍ وروسته بیا یو داسې سهار راغئ څکه زه د هغو منارونو د لیدو لپاره ولاړم چې له ښاره ووتم څان مې په یوه پراخه اواره سیمه کې وموند، دغه لوړ لوړ منارونه مې مخې ته ولاړ وو.

چې کله د هغو په لور ورغلم ګامونه مې ډېر ګړندي وو. زه وپوهېدم چې درابرت بایرن د دې خبرې مطلب څه و چې لیکلی یې وو:

د هغو منارونو په لور پر سرک چې تلم ناڅاپي دا احساس را سره پیدا شو چې کومې تجربې چې را باندې تېرې شوې په الفاظو نورو خلکو ته د دې رسول هیڅ امکان نه لري.

ماته هم داسې ښکاریدله چې ګواکې د امازون د سیند په مختلفو برخو کې تیندکونه او ټکرې خورم او ګرځم، چې هلته یې د ډیرو پیړیو پخوانۍ ونې او څنګلونه خدای خبر دی دکوم هدف لپاره سوځولی دی

چې اوس د هغو سوځېدلیو ونو خنډونه او تنې پرځمکه پاتې دي دغه پنځه منارونه هم ماته همدغسې ښکارېدل چې له لرې واټن څخه معلومېدل.

له مختلفو اړخونو څخه ځوړند ځوړند! د تیموري دوران د عروج د وختونو نښانې چې د مدرسو، جوماتونو، مزارونو او منارونو په بڼه وې چې په شاوخوا کې یې شل دیرش منارونه ډېر ښکلي نقشونه پکې کینل شوي وو، او د دیوالونو، محرابونو او پلونو په واسطه چې برونزي دروازې یې درلودې یو له بل سره نښلول شوې وو، دا هر څه په ۱۴۱۷ م کې ملکې ګوهر شاد جوړ کړي وو.

افسوس او سل خله افسوس چې اوس د هغو سترو منارونو څخه یوازې څو د هغه مهال پر شان او شوکت د ګواهۍ لپاره پاتې وو. او بس چې د مغلي پاچا ظهیرالدین بابر څخه د انګریزانو د لویې لویې تر لویغاړو پورې چې هر چا دا منارونه لیدلي دي ټولویې د غیر معمولي ښکلا ستاینې کړې دي خو د عبادتخانو، مدرسو، کتابتونونو نخښې له منځه تللې دي چې اوس یې د کنډوالو نخښې هم نشته اوس هلته یوه خښته هم نشته چې چا ته هغه ځایونه ور په یاد کړي یوازې دغه پینځه منارونه د هغه تیر شوي دوران د شان او دبدبې د یادونو تازه کولو لپاره پاتې دي چې د دې ستړې غمیزې د سترګو لیدلي شاهدان بللی شي.

د هغو منارونو شاوخوا ته په ځمکه کې د ونو ایښودلو هڅې شوې دي خو ناکامې شوې، اوس د دغې لارې دواړو غاړو ته د خطر څخه د خبر دارۍ لپاره ډا تختې لګیدلې چې پر لیکل شوي دي چې د باروتي مینونو څخه هوښیار اوسي.

خو لکه رابرټ بایرن چې په خپل کتاب کې کښلي دي چې د هغه شاندار مهال تولې نخښې په هیڅکله هم له نظره پناه نشي. د تیموریانو د واکمنۍ او دبدبه او جلال چې مخ پر زوال شو د هغو اساسي سبب دا و چې ۱۴۴۷ کال د شاهرخ له وفات څخه وروسته د هغه زامنو او لمسیانو یوازې دا زده کړي وو، چې د حسن او ښکلا او بې مخې قدر باید تر هر څه زیات کړل و، ټول په عیش او عشرت کې ډوب شول د ښځو او شرابو په خوندونو کې ورك شول د پاچهۍ او واکمنۍ څخه یې پروا او بې نیازه شول.

د ازبکانو څخه بې پروا شول او شپه او ورځ په مستۍ او عیاشۍ کې ډوب وو، ځکه خو په ۱۵۰۶ م کال چې کله ظهیر الدین بابر له خپلو ورونو او عزیزانو سره د لیدو لپاره هرات ته ورغی له خپلو ورونو څخه یې ګیله وکړه چې:

تاسو کرۍ شپه په شرابو څښلو بوخت وی ځکه زما لیدو ته هم رانغلې! نو د دې وضعې هماغه نتیجه شوه چې اټکل یې کیده یو کال وروسته ازبکانو د هرات پرکلا ډیره توند حمله وکړه. خو ډیر زر ایرانیانو له هغوي نه کلا بیرته ونیوله او تر ۱۷۴۹ م پورې یې دلته واکمني درلوده تر دې وروسته تر ټولو لومړی پښتانه پاچا احمد شاه ابدالي تر نهو میاشتو پورې ښار کلابند کړی و. بالاخره یې ایرانیانو ته ماتې ورکړه، ازبکانو او ایرانیانو د تیموري دورې هغه آثار او ودانې لوټ کړل خو د دغو اثارو او ودانیو د بر بادۍ او له منځه وړو اصلي پړه د انګریزانو پر اوږو ده په ۱۸۸۵ م کال روسانو پر افغانستان یرغل وکړ او شمالي افغانستان یې ونیو چې له هغو وروسته هره شیبه پر هرات د روسانو د یرغل او حملې امکان و. چې پر هند د حملې لپاره

خپله لاره پرانیزي برتانوي افسرانو چې د افغان پاچا عبدالرحمن خان د مشاورینو دنده درلوده پرې ټینګار کاوه چې د ښار شمال لوري ته ټولې ودانۍ چې امکان لري روسي یرغلګرانو ته د ډال حیثیت ولري، باید ویجاړې کړای شي.

په دې اړه رابرت بایرن پخپل کتاب کې لیکي:

دا په پینځلسمه پیړۍ کې د اسلامي طریقې د معماري هغه ستر یادګارونه وو، چې په تیرو څلورو پیړیو کې د وحشي یرغلګرو څخه خوندي پاتې وو، انګریزي کمشنرانو په مخکې د ټولو په وړاندې رانسکوراو ویجاړ کړل، خو روسانو پر هرات هیڅ حمله ونه کړه یوازې نه منارونه او یو زیارت له انګریزانو څخه روغ پاتې شول چې دوه په ۱۹۳۳ کال کې درابر ت بایرن له راتلو مخکې زلزلې وران کړي وو. په اوو پاتې ګوډو ماتو منارونو چې د ګلانو د پاڼو او نورو شیانو کومې مینا کارۍ او انځورګرۍ شویدي د هغو په ستاینه رابرت بایرن د خپل قلم ټول زور لګولی دی، هغه یې د چایو پر پیالو د چیني لوښو د جوړ وونکیو ماهرو نقاشانو سره یو شان بللي دي. یو وخت داسې و، چې د هرات اوسیدونکي به د سیل او تفریح لپاره دلته راتلل او په لاسونو کې به یې د خوږ آوازه مرغانو کیسو نه نیولي وو، او د دې منارونو تر سیوري لاندې به په چکر وهلو بوخت وو. خو اوس هرڅه ویجاړ شوي دي کښتونه شاړ دي هلته یو کوټې په خاورو او ریګونو کې رغړي او ګردونه یې اوچت کړي دي، د لمر وړانګو او د توند شمال پرڅپو برسیره د ډزو او ګولیو اوریدو له امله دغه پاتې منارونه هم د رالویدو حالت ته نژدې شوي دي، شاوخوا ته په ریګونو او خاورو کې

ژېړې نيلې او شنې د چينې توتې او د خليدونکې فېروزې پر خچې د دغو ميناتوري منارونو د تللي عظمت داستانونه وايي.

د دې پاتې منارونو څخه لومړی او تر ټولو يوازې منار مزار لوري ته د لارې په مخه کې دی.

دا د هغو غبرګو منارونو څخه يو دی چې د نورو په پرتله سورور او لوی دی، په هغو کې دوی دريځې او برنډې هم دي چې د کلکو ډېرو څخه جوړې شويدي منار د هغو له بيخه پيل شوی دی، او ماته يو لوی سوری هم پکې ښکاره شو چې د کوترو يوې جوړې خاله پکې کړې وه، چې نژدې ورغلم ومې ليدل چې د منار په خښتو کې شوي کيندنې داسې وې لکه غمې چې پکې لګيدلي وي، خو چې کله رابر ت بايرن هغه منارونه ليدل د هغو د غميو رنګ اسماني و. چې د ګلونو د پاڼو انځورونه هم په کې کښل شوي وو. د منارونو ښکتنۍ برخه د سپينو مرمرو نه جوړه وه. پر تندي يې د رنګو شويو ليکنو نخښې پاتې دي چې اوس هلته د يوې انساني کوپړۍ سپين تصوير دی چې د ماين پاکۍ کومې موسسې لګولې دي. او د خطر نښان دی.

خود رابرت بايرن په نظر دغه منار د نورو منارونو په پرتله ښکلې نه و، هغه پر دې ځاي دوه نور منارونه هم ليدلي وو، چې د دغه لومړنی منار نه ډير ښکلی او ښايسته وو چې يو يې په ۱۹۵۱ کال په زلزله کې رانسکور شوې و، او بل يې په ۱۹۷۹ م کال کې د روسي بمبارۍ په نتيجه کې ويجاړ شو په ميدان کې د وړوکې ګنبزې لرونکې ودانۍ د ملکې ګوهر شاد مزار دی" چې يو وخت دا هلته د مدرسو په منځکې و نور څلور منارونه د يوې بلې مدرسې برخه وو، چې وروستي تيموري واکمن سلطان حسين با يقرا جوړ کړی وو.

هغو منارونه باید پر یوه وچه ویاله جوړ شوي پله ورتیره شوې وای هلته د پله پر سر په یوه وړوکې تبنګ کې مالتې پلورلې نژدې مې هلته یو زنګ وهلی کانتینر ولید چې هتې ترې جوړه شوې وه یو وخت په دې کې وسله ذخیره شوې وه، چې بیا طالبانو جنګي بندیان پکې ساتل له یوه ډالر څخه په لږ بیه ماله هغه تبنګ واله نه یوه ډکه کڅوړه مالتې واخستې چې له خوراك سره د هغو مزه هم وکورو.

له هرات نه درابرت بایرن له راستنیدو څخه وروسته چې دغه منارونه روغ پاتې وو، د شوروي پوځونو له یرغل څخه هم روغ پاتې شوي وو، د ښار دغه برخه به کله د روس پوځونو په لاس کې وه، اوکله بیا د مجاهدینو روسي پوځیانو دلته څو ځایه ماینونه هم ښخ کړي وو. چې د اسماعیل خان پرکسانو ښار ته د تلو لاره بنده کړې زه چې کله په ۱۹۸۹ کال کې تر دې پخوا هرات ته راغلی وم. په هغه وخت کې د جومات کنډوالې د جګړې ډکر وي او زه هغو ته نژدې هم نشوای ورتللی په داسې حال کې چې روسانو په ۱۹۷۹ کال یوازې یو منار له منځه وړی و. خو پر دې منارونو د پرلپسې ډزو له امله د هغو د نقاشي شوي وړې وړې توتې د اوبشکو په څیر پر ځمکه توئیدلې. د وچې ویالې پر سرله پله چې تیره شوم هغه جګ میدان ته ورسیدم چې د ملکې ګوهر شاد مدرسه پکې وه، دغسې مدرسې به خامخا د حقانیه مدرسې څخه توپیر درلود په دې اړه یو روایت دی وایي چې ملکې ګوهر شاد له خپلو دوو سوو پیغلو خورلڼو سره د مدرسې دکلتو لپاره تشریف را ووړاو ټولو زده کوونکیو ته امر وشو چې له مدرسې نه راووزي، ټول زده کوونکي ولاړل یوازې یو تن په خپله کوټه کې په درانه خوب ویده پاتې شو. کله چې هغه سترکې وغړولې وې لیدل چې

يوه ډېره ښکلې پيغله يې په کوټه کې ده کله چې دغه پيغله خپلو نورو خورلڼو ته ورغله د هغې د جامو او وضعې حالت ټوله کيسه رسوا کړه ملکې چې دا وليدل حکم يې وکړ چې دا ټولي دوه سوه پيغلي د مدرسې له زده کوونکيو سره نکاح وکړي، چې بيا ملکې خپلې هرې خورلڼې ته دکوټې، بسترې او نورو اړتياو بندوبست وکړ.

په تيرو وختونو کې د هرات خلك د نثر پر ځای پر شعر غږېدل دا ما ته د مزار سپين ږيري منجور وويل چې ناڅاپي را پيدا شو او نيغ سې مخې ته ودريد.

د هغه په لاس کې ډيرې کيلۍ ګانې وې هغه راته ويل:

په دي مدرسي کې د علم حاصلولو لپاره له ترکيې ،ايران او هندوستان نه شاګردان راتلل په دغه مزار کې ځلور قبرونه وو. چې ټول يې د عجيب تيز شنه رنګي مرمر ډېرو ځخه جوړ شوي وو. زه حېرانه شوم چې دغه شنه مرمر به د کومه شوی وي؟

په منځ کې يې د ملکې لوی مزار دی چې د خپل مېړه له وفات وروسته يې د ځو کلونو خواريو نه وروسته خپل ګران لمسیٔ پر تخت کيناوه ملکه ګوهر شاد تر اتيا کلونو ډير عمر تېر کړی دی. چې بيا د تيمور کوم کړوسی هغه ووژله د دې د قبر پر تخته ليکلي دي" بلقيس زما ن!" چې هدف ترې ملکه سبا ده درې نور قبرونه د ملکې د زامنو دي په د وي کې يو هغه نازولی شهزاده دی چې د ملکې مدرسه يې په يوه لوی کتابتون ښکلې کړه او چراغونه او قنديلونه يې پکې وځړول نومورې د خپلې مور له مړينې ځخه ډېر پخوا د ډيرو شراب ځښلو له امله مړ شو د مزار د ديوال له کړکۍ نه پاس يو لوی سوري و . د زيارت

بوډا منجور راته وویل چې دا د روسي پوځونو د بمبارۍ له امله شوي دي بیا یې د زیارت دننه قبرونو ته اشاره وکړه ویې ویل:

دغه خلك له مرګه وروسته آرام او راحت ته اړتیا لري خو زما په وطن کې د مړو قدر نور څوك نه کوي.

دا یې وویل او په نا امیدۍ یې سر وخوځاوه او زه وپوهیدم چې دا د هغو ګوتو په شمیر افغانانو څخه یو دی چې ما ورسره لیدلي دي، له هغوی سره ټوپك او وسله نشته هغه په ډیره نا امیدی ماته وویل:

دلته اوس د حسن او ښکلا درناوی هم څوك نه کوي.

د زیارت د یوه بل دېوال سره د موزایك ډول ډول رنګونو وړوکې توتې خورې ورې پرتې وې چې په هغو کې د هر رنګ ګرانبیه ډېرو توتې هم وې. زه دا هره ورځ را ټولوم او ساتم یې چې یوه ورځ به دا بیرته په دغو منارونو کې ولګول شي او د هر ات ورك شوی تاریخ به بیرته راوګرځي....

ور پسې یې زیاته کړه:

بیا هم ویریږم چې زه د ژوند وروستیو پوړیو ته رسیدلی یم. خو دا کار به لاوخت وغواړي:

له منارونو څخه ماتې شوې او را لویدلې رنګارنګ توتې زما دګوتو له نوکانو څخه لوییې نه وې ځکه خو د هغو بیرته را ټولولو او موزایك ترې جوړولو سوال نه پیدا کیده.

بهرنیان د ملکې ګوهر شاد مقبرې ته ډیر لږ راځي ځکه خو بوډا منجور هڅه کوله چې ماته ډیر څه ووایي له زیارت نه چې را ووتو یوې نیغې او هوارې لار ته برابر شوو چې د مقبرې ګنبزه له هغه ځایه ښه صفا لیدل کیده له دې ځایه لیدونکي منظره ډیره په زړه پورې او

ښکلی وه مخامخ د کلا وداني هم ښکاریدله زړه مې غوښتل چې تر څه ځنډه همدلته کښینم او پر دې زړه وړونکې ننداره سترګې خوږې کړم خو بوډا منجور ناڅا په ورك شو او پر بام د یوه سوري له لارې د زیارت د ګنبزي دننه ورننوتلی و هغه غوښتل چې ماته د ګنبزي دننه برخه را وښیي، د ګنبزې دننه او بهر چتونو تر منځ ډیره لږ فاصله پریښوډل شوې وه ځکه خو زه د ګنبزي دننه په خاپوړو وګرځیدم او لاسونه مې لګول.

# د ګیلاسونو راز

په افغانستان یا انګلستان کې کوم یو غوره دی؟

دغه پوښتنه هغه مهال زما په ذهن کې را وګرځېده چې زه د هرات د کلا په هغه لویه مناره دریدلې وم چې پراخه هواره سیمه ترې ښکاریدله چې یو وخت د چنګیزخان خنګلي اسونه پکې زغلیدلي وو، د کلا لوړو او دنګو دیوا لونو به په تیرو اوو پیړیو کې خدای خبر دي څو ځله د سمندر د یاغي څپو په څیر یرغلګر پوځونه لیدلي وي. چې د آسونو له پښو به یې ګردونه پورته کیدل او کله به یې کلابنده کړه ما د تصور پر پرده هغه سارایي مغل لیدل چې پر نیزیې د ایراني حمله راوړونکیو سرونه تومبلي وو. د حیرانتیا ځای دا دی چې ما په خپل ژوند کې لومړی ځل مړی چې چیرته ولید نو هغه په افغانستان کې و دا د روسي پوځونو درې په وینو لمبیدلی مړي وو. چې جلال آباد ته نژدې پرمخې پراته وو. د هغوي پښې داسې ور غونجې شوې وې. لکه په خمکه کې چې ښخې شوي وي دغه منظره مې چې ولیده ډیره وارخطا شوم ځکه چې زه په انګلستان کې زیږیدلی او لویه شوې وم او د مرګ له ویروونکیو ننداړو څخه یې تل لرې ساتلم خو افغانستان یو داسې هیواد دی چې هلته مرګ له پامه نشي غورځیدای ما هلته داسې مړي هم ولیدل چې کولمې یې راوتلې وې یا د ټانک د ګولی لګیدو سره سخت تیپیان شوي او مړه شوي وو. داسې مړي مې هم

وليدل چې په ماينونو الوتي وو، بيا مې داسې کسان هم ليدل چې د ملاريا له تبې څخه په لړزيدل يا سل د مرگ غېږې ته رسولي وو.

بلکې دوې ورځې پخوا مې له هرات څخه بهر په يوه کمپ کې وليدل چې ورکوکي ماشومان يې ښخول چې له لوږې او يخني څخه مړه شوي وو، د هغوی وړوکي او معصوم بدنونه د لرگيو په څېر وچ او کلك شوي وو، ځکه خو زه د يونيسف ددې راپور په لوستلو هيڅ حيرانه نه شوم چې د افغان ماشومانو له دريو نه دوو د خپلو دوستانو او خپلوانو مرگونه او مړي ليدلي دي د دغه راپور په يوه مخ کې د يوه افغان ماشوم په لاس په پنسل کښل شوي د يوې نجلۍ تصوير چاپ دی چې ويښتان يې گډوډ او يو لاس يې له بدن څخه بيل لرې پروت دی پر تصوير دا کرښې ليکلې دي چې:

" زه له توغنديو څخه ډيره کرکه کوم ځکه چې پرهغو د افغان ماشومانو لاسونه او پښې غوڅې شوې دي".

لکه پخوا چې ما ويلي افغانستان د مرگونو هيواد دي خو دا هم واقعيت دئ. چې د پيريانو په دې هيواد کې ښايي داسې ځايونه لږ وي چې د هرات د کلا په څير د مرگونو شاهد وي. موږ دکلا پهره دار ته يوه جعلي ليك ور ووړ چې دکلا دننه جيل ووينو، موږ ويلي پهره دار به هغه ونه لوستی شي کلا د اسماعيل خان د کسانو په واك کې ده چې هغو د فلسطينيانو په څير له برگو د سمالونو نه پيژندل کيږي چې پر سرونو يې تړلي وي اسماعيل خان هم پر سرهمدغسې دسمال تړلی وي، هغوی موږ ته دننه ورتلو اجازه راکړه خو شپږو تنو وسله والو زموږ ځارنه کوله ځکه چې دوی پر موږ شك کاوه چې د برتانوي پټو ايجنسی کسان يو او دلته د معلوماتو ټولولو لپاره راغلي يو.

موږ د یوه لوي ماشیندار تر څنګ ودریدو چې پر میل یې سپین او ګلابي پلاستیکي کلان په یوه مزي تړل شوي وو.

دا پوښتنه مې یو ځل بیا په ذهن کې را وګرځیده چې په انګلستان او افغانستان کې کوم یو غوره دی؟ دا ځل دا پوښتنه یوه پهره دار له مانه وکړه ما سر ښکته اچولی هغه مې ځواب ته انتظار کاوه ما ورته وویل: افغانستان ډېر ښکلی هیواد دی دلته ډیر ښکلي غرونه دي خلک یې ډیر میلمه پال او د ښه چلن خاوندان دي ښکلی موسم لري، خو انګلستان یوپرمختللی هېواددی، هلته پاخه سرکونه بریښنا، مکتبونه، روغتونونه، کتابتونونه ریل ګاډي، د څښلو پاکې اوبه او ډیر د خوراك شیان شته ما لیدل چې پر دغه افغان مجاهد زما خبرو هیڅ اغیزه ونکړه رانه وې پوښتل:

په انګلستان کې جګړې هم شته؟

زموږ خلك معمولاً جګړه نه کوي زما مطلب دا دی چې موږ له یوې خپلمنځي جګړې څخه تېر شوي یو. خو د هغو هم درې نیم سوه کلونه کیږي. له هغې وروسته د برتانیې خلك له یو بل سره ډېر په مینه، خوښی او امن کې اوسېږي هغه راته وویل: که څوك ستا د میړه تېوپك ترې پټ کړي په و الله چې ستا میړه به خامخا له هغه سره جګړه وکړي.

د ده اشاره اصلاً جستن لورې ته وه چې د کلا په ښکتنۍ برخه کې ولاړ و او تصویرونه یې اخستل چې هلته دوی منعه کړی وو. زه ښه پوهیدم چې د دې دلیل راوړل راته ګران دي چې جستن زما یو عکاس ملګری دی. زما میړه نه دی ځکه مې ځواب ورکړ.

زما له مېړه سره تېوپك نشته، زما خواب یې چې واورید هغوی تېول هك پك شول.

بیا یې سرونه خوځول یو بل ته یې ویل:
د دوی له میره سره توپك نشته.

د دوی ټولو سره نوي کلا شینکوفونه وو، چې پر اوږو یې راځړېدل پر ټټر یې د څرمني کمر بندونه وو چې له کارتوسو ډك وو په هغوی کې یوازې له یو تن سره کلا شینکوف نه و، د هغه یوه روسي خولې پر سر وه، او راکټ لانچر یې په لاس کې نیولی و، چې په وار وار به یې پر غولې وواهه زما له ویرې ساه خولې ته راغلې وه. لانچر واله له مانه پوښتنه وکړه چې میره دې توپك نه لري نو بیا ستا ساتنه څنګه کوي؟ ما بې ویرې په جرئت ځواب ورکړ:

زه مې ځان ساتلو ته اړتیا نه لرم. زما میره، ښه پوهېږي چې زه د تورن اسماعیل په پناه کې یم. تر یوه حده دا خبره سمه هم وه، موږ چې چا هرات ته را وستلو هغه هم د اسماعیل خان سړی و، د توغندي خاوند زما پر دې ځواب ډېر ډاډه شو او لږ شاته شو چې زه د کلا له منار څخه ښکته سیل وکړم او تصویرونه واخلم.

د هرات کلا هم ډېره عجیبه جوړه شوې ده دننه ډېره پراخه او سوروره ده دننه یې د د یوالونو پلنوالی ښه لیدای شي چې له بهر څخه یې اټکل ګران دی موږ ناڅاپي او ناخبره د دې کلا دروازې ته رسیدلي وو، تر دې مخکې موږ د هرات په زاړه ښار کې په کوڅو کې سرګردانه وو، او هسې به ګرځیدو را ګرځیدو د زاړه ښار دوکانونه د بریښنا د قاچاقي سامان څخه ډك دی، چې هلته په ناپیرندل شویو نومونو د هغو پلورل او پیرل دوام لري له دوکانونو پرته خلك پر خرو او باسیکلونو سپاره ښکاري چې په هغه بازار کې ګرځي راګرځي.

د کلا تر دیوال لاندې د یوه وړوکي خندق پر غاړه چې کنده او بوټې اوبه پکې راتوئیږي یوه تن پښې ځړولي وې او ناست و. د هغه ځلورو خواو ته د استعمال شویو جامو انبارونه وو او ما ته یې وویل چې تاته به په هرات کې د ایټالیې جوړ شوي ښکلي بالاپوښونه او روسي له پرو جوړه شوې خولۍ. او د سره اردو له کمر بندونو سره هر څه پیدا شي خو اوس ما هلته د پاکستاني تکې څخه جوړ کمیس، پرتوګ او پلاستیکي چپلکې لیدې له یوه دوکانداره سره د مختلفو پایزارونو انبارو چې جوړه نه وې، یوه یوه وې ما ترې وپوښتل چې تادا یوه ولې یوازې ایښي ده هغه ځواب راکړ چې دا د هغوکسانو لپاره دي چې یوه پښه یې له منځه تللې وي.

چې دهرات کلا ته ورننوزې دهغو د دیوالونو پر پلنوالي او غټوالي سړي ښه پوهیدای شي.

څکه خو ما په تصور کې د دې ننداره کوله چې څرنګه به شاهرخ میرزا به ۱۴۰۵ م کال کې په اوو زرو تنو مزدورانو دغه کلا بیا جوړوله. پر دې سر بیره دې کلا او د کلا لویو او پراخو برجونو د تیموریانو امپراتوري له ایرانیانو او ازبکو له یرغل څخه ونه ساتلای شوه په ۱۸۱۳۷ م کال د نګو- افغان د تاریخ نمونه پیښه هم دلته وشوه.

د لویې لوبې یو ځوان انګریزي کردار ۲۶ کلن بریدمن ایلډریډ پوټینګر چې د بنګال له غونډ سره یې تړاو درلود د هرات د دې کلا پر دفاعي چارو وګومارل شو پوټیزګر د خپل مخ ویښتانو پوستکي رنګ بدل کړ. او د یوه دیندار سړي په بڼه یې چې هرات ښار ته د ننوتلو هڅه وکړه ویې لیدل چې د ماتو او لویدلیو مورچلونو د بیرته رغونې.

کار ډیر چټك روان دی او په ښار کې دا آوازه توده وه چې ایراني پوځ پخپله د شاه په قومانده د حملې په نیت راخوځیدلي دي. پوتیزګر چې دغه وضعه ولیده افغان واکمن یار محمد ته یې وړاندیز وکړ چې څه خدمت ورته وکړي نوموړی ده ته د دې کلا د دفاع مسوولیت وسپاره ترڅو له خپلو نویو پوځي حربو څخه کار واخلي ایراني پوځ او د هغو د روسي مشاورینو چې مشر یې یو روسی جنرال کاونټ سیمونچ و، په کله مقابله وکړي.

ایراني پوځ او د هغوی روسي سلاکارانو تر څو میاشتو پورې هرات کلابند کړی و، تر دې چې ۱۸۳۸ کال تر سپتمبر پورې په ښار کې خوراکي شیان ډیر کم شول تر دې چې د هرات اوسیدونکیو خپل اسونه حلال کړل چې غوښې یې وخوري او د خپلو کوړونو ورونه یې مات کړل چې اور پرې بل کړي دا یوازي پوټنګر و چې افغانانو ته یې حوصله ورکوله او له تسلیمیدو یې ایسارول بالاخره ایرانیانو چې کله واوریدل چې انګریزي پوځونه هرات ته د ننوتلو په حال کي دي د ښار او کلا کلابندي یې پریښوده اوبیرته ولاړل وایي چې دایراني پوځونو له تلو وروسته په کلا کي دهغو مړیو له امله چې ښخ شوي نه وو تر لس میلوپورې دشړیدلیو مړیو بو یو نه احساسیدل اوس هم هلته هغه بد بوي احساسیږي خوبیا هم دا کلا له دومره جګړو او مرګ ژوبلې لیدو وروسته هم دافغانستان دنورو دغسي کلا ګانو څخه ډیره روغه پاتي ده هوکي ! دکلا په منځ کي کنډوالي شته چې دهغو په لیدو داسي ښکاري لکه دچار کور چې کیندل شوي وي.

روح ډیر تپونه خوړلي دي.

خواوس وضعه داسي ده چي كه زما پلارخبر شي چي زه دلته ستا دليدو لپاره راغلي وم نو ډير به خپه شي. ډيره موده نه كيږي چي طالبان له دي ځايه تللي دي څوك خبردي چي سبا ته به دلته څه كيږي!

يوه ساتونكي راته وويل چې دا د ماينونو له امله دی زه اوس په هغه كوټه كې روانه وم چې يوه لوري ته يې محرابي تاخچې جوړې وې چې د وسلو صندوقونه پكې ايښودل شوي وو.

د هغو په ليدو په اسانۍ دا اټكل كيداى شواى چې طالبان څومره په وار خطايي له هغه ځايه تښتيدلي وو، زه چې له دې كوټې نه ووتم په يوه برج كې جوړ مورچل ته ورسيدم له هغه ځايه مې لاندې په يوه څلور لارې كې څو كسان را ټول وليدل چې ښه شور او زوږ يې پورته كيدو.

ما له ساتونكي څخه وپوښتل:

دا خلك څه كوي؟

دغه خلك هګۍ جنګوي پر دې پخوا طالبانو بنديز لګولی و.

دا ته څه وايې؟ هګۍ څرنګه جنګوي ؟ ما خو تر اوسه دانه وو اوريدلي.

لومړی هګۍ جوش كوي بيا دوه كسان خپلې خپلې هګۍ له يو بل سره جنګوي چې د كوم يوه هګۍ به زر ما ته شي خلك په روغه پاتې كيدونكي هګۍ شرطونه لګوي. دا ډير مزه داره لوبه ده وسله وال ساتونكي په تفصيل راته وويل زه وپوهيدم چې دا لوبه په يو داسې ښار كې د غذا د ضايع كولو سبب ده چې له پخوا نه د غذا د كمبود سره مخ دي.

وسله وال ساتونكي په معصوميت رانه وپوښتل:

آیا په انګلستان کې پر دې لویه بندیز لګیدلی دی؟
ما په خواب کې ورته وویل:
بندیز خو نه دی پرې لګیدلی خو هلته چا ته داسې لویه په خیال کې نه ده ورتېره شوې.
هغه سړي چې راکټ لانچر یې په لاس کې و، تر اوسه پورې په چوپه خوله زموږ خبرو ته غوږ ایښی و، بیا یې په ډېره تلوسه راته وویل:
نو د دې مطلب دا دی چې د انګلستان خلك یوازې د سات تیرۍ لپاره هم یو له بل سره جګړه نه کوي!
د هغه سړي له پوښتنې سره مې ناڅا په هغه بلوا وې او وهل او ماتول سترګو ته ودریدل چې د فوټبال د لوبو په وخت کې کېږي له دې سره مې هغه شرابیان هم په سترګو کې را وګرځېدل چې په ځانګړي ډول د هفتې په شپه تېریدلي زنګیدلي په جګړو او کړېږو له شرابخانو نه راووزي او د خلکو خوبونه نا آراموي ما فکر کاوه چې آیا دغه خلك هم یوازې د سات تیرۍ لپاره له خلکو سره جګړې کوي؟
په افغانستان کې جګړه او جنجال د هغوي د ژوند یوه ضروري برخه ده ځکه خو که پردې هېواد کوم بهرنۍ یرغل ونه کړي هم هلته د وژلو او جګړو لړې دوام لري. په ځانګړې توګه دا د پښتنو ځانګړتیا ده د یوه پښتو متل سره سم په ښار کې په امن اوسه خو په غرونو کې یاغي ژوند کوه.
په ۱۹۶۲ م کال کې د افغانستان د تاریخ یوه ماهر لویې دوېري د افغانستان د جنوب ختیځ ولایت پکتیا د یوه کلي د وضعې په باب لیکلي چې د یوه افغان قبیله لیدلي ده چې د یوې بلې قبیلې ونې یې

غلا کړې وي کوي، پر دې د دوارو قبیلو تر منځ خونړۍ جګړه ونښته چې په یوه اونۍ کې د دې کلي په سلګونو کسان ووژل شول.
د ساتونکیو نه یوه تن وویل:
زموږ بنیادي مساله جګړه ده.ځکه خو په هر څه جګړه کوو."افغانان د جګړي نړیوال اتلان دي" معلومه ده چې له دې سره نه موافق کېدل ګران دي په داسې حال کې چې هغه ټول افغانان چې ما ورسره لیدلي دي ماته یې همدغه ویلي دي چې دوی له جګړي څخه بېزار شوي دي خو زما په فکر دغه خلك د یوه قوم په حیث کله کله د لوبو او ساعت تیرۍ لپاره هم سره جنګیږي همدغه سبب دی چې د دوي ټول تاریخي او لرغوني داستانونه پر جګړو او مقابلو راڅرخي. بلکې د دوي د شغل او ارام فرصتونه هم په جګړو کې ضایع کیږي ځکه خو دغه د جګړو او جنګونو فطري جذبه یوازې تر چرګانو جنګولو مارغانو جنګولو غیږ بازي او بزکشي پورې محدوده نه ده" بزکشي چې د افغانانو پولو هم ورته ویلی شي د یوې وزې او یا په یو وخت کې د روسي بندیانو سر پکي د توپ پر ځاي کار یدلو."
بلکې ظاهر بې ضرره هګۍ جنګول" هم اصلاً د دې جذبې یو بې ضرره مثال دی همدغسې کاغذ پران الوزول هم اتفاقاً داسې یو شغل دی. طالبانو پر هغو هم بندیز لګولی و، له دې څخه تاسو د طالبانو د ذهني حالت او رواني کیفیت اټکل کولی شی. ځکه خو چې که کومې ورځې د طالبانو دوران پای ته رسیدلی و، ټول آسمان له رنګارنګ کاغذ پرانونو څخه ډك و چې له کاغذونو یا پلاستیك څخه به جوړ شوي وو.
دا ټول ورو ورو هلکانو د خپلو کورونو له بامونو څخه الوزول.

په هر صورت ما به چې دغه کاغذ پرانونو ليدل چې لکی. نه لري او الوزي نو ډيره به حيرانه شوم، او ډير زيات به مې ليدل چې د برېښنا په مزيو او پاونو کې نښتې دي زما د پوښتنې په ځواب کې يې راته وويل چې د کاغذ پرانونو الوزول څخه دا هدف نه دی چې هسې يې والوزوه او په هوا کې غوتې ورکوه او بيا يې بېرته پورته کړه بلکې دا هم په خپلو کې د جنګولو لپاره الوزول کېږي ګوا کې کاغذ پران الوزول هم په افغانستان کې د جګړې يو ډول دی.

دکاغذ پران د الوزولو او له بل سره يې د جنګولو لپاره داسې تار جوړېږي چې د ښيښو له پرخچو او د وريژو له اوړو څخه يو مرکب تيارېږي او تارونه پرې لړي چې د کوم لوري دغه تار ډير کلك جوړ شوی وي د مقابل لوري له کاغذ پران مزي غوڅوي او راغورځوي يې.

هغه ماشومان چې په افغانستان کې لوی شوي دي. او يا هغه ځلوېښت لکه ماشومان چې د مهاجرت په کمپونو کې زېږېدلي دي هغوي ټولو ته جګړه يو تش نوم او يا نافهمه خيال نه دی، بلکې د ورځني ژوند يوه نه بېلېدونکې برخه ده ان تر دې چې د لومړنيو ښوونځيو د زده کړې په نصاب کې د يوه پنځه کلن ماشوم لپاره د حساب د ورزده کولو لپاره د منې او مالتې د تصوير پر ځای د لاسي بم او ټوپك دکار توس له تصوير څخه کار اخيستل کيږي که وګورو نو دغه جنګي حالت د ماشوم د زېږيدو له ورځې پيل کيږي ځکه خو چې کوم ماشوم زېږېږي نو د ماشوم خپلوان ټوپك را واخلي او د هغوي کور ته ورځي او د ماشوم له زېږيدو سره د ټوپکو ډزونه کوي که زېږيدلې ماشوم نجلۍ وي نو پر هغې له پينځو څخه تر اوو ډزې کيږي که ماشوم هلك و، نو د هغه لپاره بيا ۱۴ يا تر هغو زياتې ډزې کېږي د پښتنې

رسم او رواج سره سم تر ټولو لومړی د زیږیدلي ماشوم پر زانګو د هغه پلار ټوپك راځړوي څکه خو ما افغاني ماشومان هیڅکله هم دکاوباي، سرو هندوانو او یا د پولیس او غله په لوبو بوخت نه دي لیدلي چې معمولاً په لویدیځ کې ماشومان دغه لوبې کوي په فلسطین او افریقا یې کمپونو کې هم ماشومان په همدغو لوبو بوخت لیدلي دي چې په عمومي ډول یې د لویدیځ ماشومان خوښوي د دین سبب دا دی چې په کوم عمر هغو ماشومانو ته د لوبو لپاره پلاستیکي تومانچې او ټوپك ورکوي په همغه عمر افغاني ماشومان اصلي ټوپك غاړې ته اچوي او لوبې پرې کوي. او پلرونه یې د نښې ویشتل ور زده کوي.

په افغانستان کې تل د وسلو او مرمیو ډیرې پرېمانه ذخیرې وي، خو مجاهدینو ته د امریکا یې مرستو له رسیدو سره چې افغان حکومت ته هماغه مهال روسانو وسلې برابرولې د وسلو او کارتوسو شمیر په اتیا یمه لسیزه کې ډیر زیات شوي کومو خلکو ته چې وسلې نه رسیدې هغوی له مچلو غزي او غولکې نه کار اخیست.

د کلا دننه په ګرځیدو را ګرځیدو کې ناڅاپه له ما سره د مړګونو او وینو تویدو احساس پیدا شو له کلا څخه د ښار د منظرې له لیدو څخه دا ښکاریدله چې د روسي الوتکو له لورې د درنې بمبارۍ له امله ښار سخت زیانمن شوي دي او هر لوري ته کندې کندې سرکونه او کنډواله ودانۍ پرتې لیدل کېدې لومړی روسانو په کسات کې ښار تباه کړ وروسته یې ښار ته د مجاهدینو د مخنیوی لپاره سختې بمبارۍ وکړې.

د ښار د ځینو ودانیو په بیا رغونه کې یې د ملکې ګوهر شاد د جومات پخوانۍ ځښتې هم کار ولې دي.

پر دې سر بېره بيا هم د ښار زياته برخه د هيرو شيما غونډې تصوير ښکاري پر هغوی برسېره د امريکايانو له نويو بمباريو سره د نظامي مرکزونو تر څنګ نوې کنډوالې هم زياتې شوې وې له ښاره بهر په هوارو سيمو کې خوټول کلي د روسي بمباريو له امله په ځمکه برابر شويدي چې د هغوی په باب تر اوسه پورې څوك خبر نه دی له دې هوارې سيمې او رنګوکليو نه وړاندې هغه رنګ رنګ غرونه دي چې د اسماعيل خان زړورکسان به ور وختل او د روسي پوځونو پر خلاف يې د پيشو او موږك خونړې لوبه توده ساتلې وه.

د کلا څخه موږ لاندې د زاړه ښار وړوکې وړوکې کورونه او په ديوالونو کې را ايسار غولي ليدل پر دې ښار چې کوم عذاب را نازل شوی و، هغو ته په نظر سره د عادي ژوندانه بهير دلته ډېر ختدني ښکارېدو چيرته به وړوکي هلکان له کوم ځاه نه په اوبو را ايستلو بوخت وو، او چېرته بيا بوډاګان د کوم کور پر بام د غاليو په سولولو او ګونځې ايستلو بوخت ښکارېدل تر څو هغه غالۍ ګرانبيه او پخوانۍ ثابتې کړای شي هلته يوه ماشوم سپی پر ډبرو ويشتلو او ويې ځغلاوه يو شمير کسان هسې بې هدفه په لاره کې ولاړ وو.

چې دا د منځنۍ آسيا يو معمول دی چې د هغو په ليدو سړی دا ګومان کوي چې هغوی لکه چې د چا انتظار کوي خو حقيقت دا دئ چې هغوي هسې ولاړ وي.

د سلطان حميدي د مشهورې کارخانې د پيژندګلو پر تخته ليکل شوي وو، چې دلته لاسي صنايع او د تاريخي نادرو شيانو غونې پيدا کيږي. د لوحې سره په آبي رنګ يوه نقشه هم کښل شوې ده چې د هغو

ACKU

له مخې دغه شيان د جامع جومات د شمالي کونج له دوکان څخه ترلاسه کېدای شي هغه دوکان ته رسېدل ګران نه وو.

جامع جومات د هرات د مشهورو مذهبي مرکزونو له جملې څخه يو دی چې هلته د جمعې د لمانځه لپاره ټول ښار راځي ځکه خو غالباً دا د "جمعې جومات" په نامه يادېږي د هرات خلك له ډېرو اتو پيړيو را په دې خوا په دې جومات کې را ټولېږي پر دې سربېره په ښارکې د مهمو پېښو د اعلان لپاره مثلاً د نوې واکمنۍ د اعلان لپاره او يا جګړې ته د پوځ د استولو او د هغوی د حوصلو او مورال د لوړولو لپاره هم همدغه جومات غوره کېږي د دغه جومات ټول ديوالونه په نيلي رنګ کاشيو پوښل شوي دي چې پر هغو په طلايي او سپين رنګ ګلونه انځور شوي دي جومات ته د ننوتلو لپاره يوه ښکلي محرابي دروازه لګېدلې ده موږ بوټونه هغه بوډا ته پرېښودل چې د جومات په دروازه کې د بوټونه مخې انبار او د سکويو ډبلې يې مخې ته ايښې وو. يوه پراخ او سورور غولي ته ورننوتو چې پاس شين آسمان ترې ښکاري د جومات د مرمر ډبرو غولي د واورې په څېر يخ و. په داسې حال کې چې ما تودې جرابې په پښو کړې وې، په افغانستان کې يوازې شتمن کسان جرابې په پښو کوي، ځکه خو ما چې د جومات دننه پر يخ غولي خلکو لوڅې پښې ليدل ډېره خپه شوم.

د جومات دننه دروازې ته نژدې په يوه پلاستيکي چوکاټ کې يوه درې قټه سورروره او اوږده اوسپنيزه تخته ټينګه وه چې تور الفاظ پکې کيندل شوي وو، ويل کيږي چې دا امير تيمور دلته لګولې وه بيدو کنيڼ لوري ته په يوه لويه خونه کې د سلطان غياث الدين قبر دی چې په ۱۲۰۰ م کال يې دغه جومات جوړ کړی و، د مرمر ډبرو يوه تخته تر

زنګنو د لویدیځ لوري دیوال سره سمه غځیدلې ده پر هغو یو تن خپله مصنوعي پښه لرې کړې وه. او کلاشینکوف یې تر څنګ و، او پړمخې پروت و استراحت یې کاوه زه پر دې حیرانه شوم چې جومات ته دننه د پایزار راوړل منعه وو، خود وسلې په راوړو هېڅ اعتراض نه و، دغه مهال ډېره یخني وه او نور په جومات کې پاته کیدل راته نا شوني وو، ځکه ډېره زر تر سرك راتېره شوم چې د سلطان حمیدي دوکان ته ورشم او لږ له یخنۍ څخه ځان وژغورم.

د دوکان هنداري ډېرې بدې خیرنې وې تر دې چې دننه په دوکان کې ایښي شیان هیڅ نه ښکاریدل زه ښایي لومړنۍ بهرنۍ سیلانۍ وم چې له ډېرې مودې وروسته دلته راغلی وم.

خو چې په دوکان کې مې سترګې ورو ورو له تتې رڼا سره بلدې شوې او شاوخوا ته مې وکتل دوکان په رښتیا چې د اله دین غار راته ښکاره شو چې هر شی پکې وو. پخوانی ماډل انګریزی لاسي ټوپك د لرګي څخه جوړه شوې د سیتار په څېرد موسیقۍ آله د طنبورې تر څنګ را ځړېده پر طنبوره د پیل دغاښ منظمې نقاشۍ شوې وې اوږدې ازبکۍ چپنې، خلېدونکې وریښمینه چادرۍ او زمرد... دا هر څه د اله دین په دغه غار کې وو، پر دې سر بېره د هندارې په یوه لوی کابین کې منځنۍ آسیاد سیمې په باختر کې د پیدا کیدونکیو زمریانو سرونه له ګچو څخه جوړ شوي کتوۍ چې عجیبې لیکنې پرې شوې وې چیتې، پیتې او کړې وړې سکې چې د یوناني یا رومي دوران وې د بدمت په طریقه دغوزانو له لرګي څخه د پیلانو د غاښ په واسطه ښاماران دیزاین شوي وو، دکندهار جوړ شوې شپېلۍ غړوونکي د دوی ایراني مهرونه او وړوکي لاس انځورونه، د سپینو زرو په قاب کې

روسي جيبي ساعتونه .... چې دي دا له دين غار ته د افغاني فاتحانو د مالونو ګودام ويل ډير مناسب دي.

د دوکان له کړکيو سره د تختو يو صندوق ايښودل شوي و چې په هغو کې د مومو شمعې، ګلداني قابونه، د مرغانو دکپس لپاره پيالې عجيبې رنګارنګ پيالې، ګيلاسونه پيمانې او جامونه! ما غوښتل چې د شپږو پيالو درجن واخلم چې ټولې يو له بل سره ورته نه وې يو له بله يې په جګوالي او پنډوالي کې ډير توپير درلود. پيالې په ګردونو کې پټې وې، ځکه خو چې ما راواخيستې او له دروازې سره مې د لمر په رڼا کې په خپل لستوڼي پاکې کړې داسې ښکارېده لکه د ذرې يې چې پکې ايساري کړي وي ما يو خوښ کړي ګيلاس په لاس کې نيولي و، چې له شانه په نري غږ را باندي وشو:

آيا ته د دې ګيلاس له رازه خبره يې؟

چې شاته مې مخ ور واړاوه يو کمزوري بوډا سړی ولاړ و، چې سپينې جامې يې اغوستې وې او ږيره يې هم سپينه و د هغه مخ ګونځې نه درلودې.

خو کمزوريو شنو سترګو يې د تيرو شويو وختونو داستانونه ويل همدغه سلطان حميدي وددې مغازې خاوند،ما په حيرانی ترې وپوښتل: ګيلاس راز! څه راز دي؟

يو وخت مونږ د ټول افغانستان لپاره ګيلاسونه تيارول تر ايرانه زمونږ د ګيلاسونو شهرت ورسيد، پاچاهانو او ملکو ټولو د حميدي په ګيلاسونو کې اوبه څښلي دي. په دې ټوله سيمه کې د ګيلاسونو تر ټولو لويه فابريکه زمونږ وه سلطان حميدي دا وويل او بيا يې ديوال ته اشاره وکړه چې پرهغو هغه مډالونه اوسندونه په چوکاټونوکې

راځېدلي وو، چې په تهران، استنبول او کراچۍ کې په جوړو شويو ننداړتونونو کې دوي ته ورکړل شوي وو.

ما ترې وپوښتل:

نو بيا څه وشول؟

جګړې او لوټمار هرڅه برباد کړل چې ستا څلورو لوريو ته د جګړې ديوان په اتڼ ګډ وي نو ګيلاسونه به څوك جوړ کړاي شي؟ څوك به يې وپيري؟

چې د خلکو سر پناه ترې واخستل شي او د هغوي ماشومان د خوړلو لپاره ډوډۍ نه لري په داسې وضعه کې څوك د ګيلاسونو د پېرلو په فکر کې کېداى شي؟

سلطان حميدي سر وخوځاوه او د دروازې په لورروان شو خو ډېر زر بيرته را وګرځيد لکه بهر د لمر رڼا يې چې سترګې سوځولې وي، بيا يې خبري پېل کړي:

زما په بد نصيبه وطن کې هر ښکلي او ښايسته شي برباد شوي دي څلورو لوريو ته وګرځه را وګرځه وې ګوره دا يو ډېر ښکلى ښار و چې په شاعرۍ، انځورګرۍ او صنوبر ونو له امله يې په ټوله نړۍ کې شهرت درلود، دغه ښار بهرنيو سيلانيانو ته د جنت په څېر و، هر لوري ته شنه کښتونه او سمسور باغونه وو، دوکانونه د انارو، انګورو او زردالو له ډول ډول ميوو څخه ډك وو، خو اوس فصلونه وچ او باغونه مړاوي شوي دي اوس دا ښار د ژوند نه بلکې د مرګ ښار دى سلطان حميدي دا وويل او بيرته يې مخ واړاوه ما فکر کاوه چې له دوکان څخه بهر ته درومي خو هغه د دوکان دننه برخې ته ولاړ يوه د ميز پله يې خلاصه کړه په هغو کې يې د اخبار په کاغذ کې د لرګيو څخه جوړيو د

پنسلونو ډبلي را ویوست او ماته یې ونیو هغو ته د تیز لاجوردي رنګ آب ورکړ شوي و، د هغو په منځ کې د هرات د کلا انځور و، او څلورو لوریو ته یې سره ګلابونه د ستوریو په څیر انځور شوي وو؛ چې د وړوکیوحاشیو طلایي نقشو نه پرې کښل شوي وو او د تیموریانو د دورې د انځور ګري او... یادې تازه کاوه پر دغه پنسل بکس چې څومره بیه لیکل شوې وه هغه په افغانستان کې لږ تر لږه د شپږو تنخوا وو، برابره وه او خامخا دا زما له اټکل څخه ډېر لوړ و، خو ماته د هغو رانیول هیڅ ګران نه وو، ځکه خو د داسې نمونه او ښکلې شی په لاس ته راوړو کې مې چنې وهل هم مناسب ونه بلل ځکه مې د هغه پنسل بکس سره سره هغه شپږ ګیلاسونه هم راونیول چې سلطان حمیدي په یوه قطي کې د وچو وښو په منځ کې داسې په احتیاط کیښودل لکه دا چې د ښیښې ګیلاسونه نه بلکې د پیشو پیشنګوري وي. ما چې د افغاني نوټونو لوي لوي بنډلونه شمیرل له حمیدي نه مې وپوښتل:

تا د څه راز خبره کوله

موږ دهر ګیلاس جوړولو ته ځانګړې پاملرنه کوله او د هر ګیلاس د جوړولو پر وخت به مو یوه خاصه مصري ویله او د هغه په اروا به مو ورپوکړه.

تا ولیدل چې په الماری کې دننه هغه ګیلاسونه دي چې د ګردونو ذرې ډېرې پکې را ټولې شوې دي کله چې زما مشر زوي رحیم په ۱۹۷۹ کال کې د روسي پوځونو لخوا شهید شو نویو ګیلاس مې د خپل ارواښاد زوی په اروا جوړ کړ.

وروسته چې لکه د چا ورور ، زوی او یا ګاونډی د روسي پوځونو په لاس شهید کیدو نو د هغو په نامه به مویو ګیلاس جوړاوه خو تر ډېره

موږ ته ممکنه نه وه چې دغه لړۍ ته دوام ورکړو، ودې لیدل چې موږ څومره زیات ګیلاسونه د شهیدانو په نامه جوړ کړل، خو څرنګه چې د شهیدانو شمیر له سلګونو څخه زرګونو ته ورسید نو موږ خپل دغه روایت ته دوام ورنکړای شو.

لومړی د دې ګیلاس هیڅ خریدار نه و.

وروسته بیا ورو ورو د خلکو راتګ هم بند شو موږ غمي میده کړل او د دې ګیلاسونو په رنګولو کې موکار ترې واخست ته یې لیدای شي د غمیو ذرې په دې ګیلاسونو کې کاریدلې دي .... خو اوس د دې ګیلاسونو د پېرلو لپاره هیڅوك هم نه راځي دوي د خپل خریدار انتظار باسي د سلطان حمیدي د ګیلاسونو راز همدغه دي.

چې کله موږ موافق هوټل ته ورسیدو نوایوبي د هوټل په رستوران کې زموږ په انتظار و هغه سپین رنګي کمیس او پرتوګ اغوستي وو چې خامك ګلان پرې جوړ شوي وو یو د اونو واسکټ هم اغوستي و.

له حامد کرزي نه وروسته ما دغه ځانګړتیا په ایوبي کې لیده چې هر څومره ګردونه او دوړې به وي، د دوي ښه جامه یې نښوای خرابولی په هر صورت چې زه وپوهیدم چې دی څو ساعته همدلته زموږ په انتظار کې ناست دي نو په لړزه شوم ما ورته وویل چې لږ تر لږه خو به دې موږ ته احوال راکړي و چې ته راغلی یې.

هغه د پخوا په څېر زما د الفاظو په ادا کولو وموسکل. څکه چې ما په دري ژبه د پخوا په څیر ترې وپوښتل:

حالت چطور است!

ایوبي په شاعرانه لهجه ویل:

نه نه، هیڅ خبره نه ده زه خو دلته ستاسو په خدمت کې یم که زه یوه ورځ هم دلته تاسو ته انتظار وکړم نو ماته به د یوې شیبې نه زیات نه وي .بلکې که تر یوې اونۍ پورې درته انتظار وکړم هم دا به راته ... وياړ وي که تاسو وغواړئ، نو تر یوې میاشتې پورې به هم انتظار در... وکړم.

بیا یو ځل جدي غوندي شو ویې ویل:

خو اوس باید د تورن اسماعیل خان د لیدو لپاره ورشو هغه به زموږ انتظار کوي.

موږ سمدستي له رستوران څخه راووتو او په یوه تکسي کې د ونو په منځ کې یوه کورته ورسیدو... له وسله والو ساتونکیو سره تر لږځنډه خبرو اترو وروسته یوه لوی دوه پوړه کورته په زینو د ورختلو اجازه را کړل شوه، له تکسي نه چې را ووتم ما دا کور وپیژانده دا د افغان بهر نیو چارو وزارت ودانې وه چې د ملیمستون کار یې ترې اخیست.

په ۱۹۸۹ کال کې چې د ډاکتر نجیب الله د حکومت په دوران کې لومړی ځل زه هرات ته راغلم همدلته اوسیدلی وم زما ښه یادیږي د دې مانۍ د مخې د انارو په بڼ کې هر ماښام د قمري غاړې اوریدل کیدی هغه ونه لکه څنګه چې وه پرخپل ځای ولاړه وه، نجیب الله د حکومت په وخت کې هغه لومړي ځل و، چې ژورنالستانو ته یې له مجاهدینو سره د سفرونو نه وروسته د جګړې د بل لوري د واقعیتونو د معلوملو لپاره اجازه ورکړې وه چې دوي ته ورشي په هغه سفر کې زه د کاناډا له ... داسې ژورنالست سره مخ شوم چې د ده په قول "دریمې نړۍ" ته ... د سفر فرصت نه و موندلی چې کله به هغه دریمه نړۍ یادوله نو د ...ملت په توریو به یې زور را ووړ او ډیر به یې کش کول.

چې د دې الفاظو له یادونې سره به یې سترګې هم ډېرې رڼې شوې د هغه سره یوه لویه کڅوړه وه چې په هغو کې د اوبو د صفا کولو فلترونه او د ویټامین ګولۍ وې، د افغانستان له محلي خوړو څخه یې توره تیښته وه څکه یې یو ځل د غوښې د قورمې په یوه کاسه کې ماته څو وړوکې چینجې را وښودل چې ما قورمه ترې را اخیستې او خوړلې وه.

دکاناډا دغه ژورنالیست به چې افغاني ماشومان په چټلو اوبو کې په لامبو ولیدل نو ډېر به ووېرېدو دې به هغه شنې پټې ته په نژدې ورتلو ډېر ویریده چې د حکومت او افغان مجاهدینو ترمنځ بیلوونکې بریدوو او ما به تل هیله درلوده چې هلته ورشم.

د دې پایلې دا شوې چې پوره یوه اونۍ موږ دواړه یو له بل څخه مرور او سره په جنجال کې وو، څکه خو د دې ښار په باب ما ډېر لږ معلومات تر لاسه کړای شول. ما یوازې د غالیو په بازار کې له ځایي اوسیدونکیو سره چې خبرې اترې وکړې هغه مهال دومره وپوهیدم چې دا ښار په ویره او ترهه کې ډوب دی په ۱۹۸۹ م کال د افغان حکومت او مجاهدینو تر منځ جګړه دومره تونده وه چې موږ په هرات کې بند پاتې شوو او تر ډېرو ورځو پورې وضعه همدغسې وه چې وروسته یې موږ په یوه ټانګ کې تر هوایي ډګره ورسولو، په دې ترځ کې موږ ښه څنډ د صنوبر په ونو کې پټ شوې وو څکه چې یو توغندې زموږ ټانګ ته ډېر نژدې تیر شو په داسې حال کې چې هوایي ډګر ته په تللې لاره په بله برخه کې تونده جګړه روانه وه د هرات یوه پخوانې والي په ښار کې د صنوبر ۳۲ زره نیالګي ایښې وو.

دا د ۱۹۴۰ کلونو خبره ده هغه فکر کاوه چې کله مسافر له هرات څخه وزي نو د صنوبر ونې به د ښار تر څنډو ورسره وي په دې ډول به هغه هرات تل يادوي.

اوس يې د هغو ونو څخه ډيرې وهلې دې خو زما باور دی چې د صنوبر ونې به هغه ورځې بيا راولي.

بالاخره هغه مهال موږ پر دې بريالي شوو چې خپلې الوتکې ته ورسيږو دا يوه پخوانۍ الوتکه وه، چې د هوا سړولو بندوبست پکې نه و، ځکه خو چې ورننوتو داسې مو احساسوله لکه کوم تنور ته چې ورننوتي وو د الوتکې پر زياترو کرسيو د لرګو تابوتونه ايښودل شوي وو.

په هغوکې د افغاني پوځيانو مړي هم وو. چې کابل ته يې وړل ځکه خو ډير مسافر مجبور وو. چې په الوتکه کې ولاړ سفر وکړي، تر الوتو مخکې موږ په الوتکه کې دننه څو ساعته بنديان وو ځکه چې څلورو خواو ته مو درنه جګړه روانه وه په الوتکه کې دننه په خپ او توده هوا کې چې د مړيو ډډوزې پورته شوې نو د زغم نه ووتې...

يوه لوري ته زما په ذهن کې د تيرو پيښو فلم چليده له بله پلوه مې فکر کاوه چې آيا ريښتيا اسماعيل خان په هرات کې شته او يا به موږ په دې ودانۍ کې کرۍ شپه د ده د راتلو انتظار کوو، ځکه چې دا په افغانستان کې ډېره معمولي خبره ده. نا څاپه ايوبي په تيټ غږ راته وويل:

تورن اسماعيل را ورسيد.

يو پيکپ ډاټسن چې توري هنداري يې وې او په مخه کې يې لوی اوسپنيز پمپر لګېدلی و په غرمباله دروازې را تير شو په دې پسې دوه

نور پیکپونه له مجاهدینوڅخه ډك وو،چې پرسرونو یې برګ دسمالونه تړلي وو او خپل ټوپکونه یې د سرك دواړو لوریو ته اړولي وو. چې تر درشل راننوتل بهرنۍ دروازه وتړل شوه او له لومړنۍ ډاټسن څخه اسماعیل خان راووت.

د افغان مجاهدینو هغه قوماندان چې افسانوي شهرت یې ګټلې دي او داسې یې وګڼه چې د ده کسانو په هغه ورځ چې مخکې مې یاده کړه په هوایي میدان کې موږ نژدې وژلي وو.

هغه چې له موټر څخه را ووت ما سمدستي وپیژانده ځکه چې د ده یو پوستر چې دی پر اس سپور دی د هرات پر ښار برسیره په دوبۍ کې پر هغو جیپانو هم ډېر ښلول شوي دي چې مجاهدینو له طالبانو څخه نیولي دي په هغه پوستر کې دې د چارلس ولسن سینما یې لوبغاړي په څیر ښکاري په شخصي ژوند کې هم چې اوس د ده ږیره ډېره سپینه شوې ده او په سترګوکې یې پخوانۍ ځلا او راښکون نه دی، پاتې د یوه فلمي لوبغاړي د شخصیت پوښ یې په شاوخوا کې وي هغه له ایوبي سره ډېر تاوده ستړي مشي وکړه.

او بیا یې په خندا ماته ښه راغلاست ووایه او ګړندی وړاندي تیر شو.

موږ په هغه پسې ورغلو او ودانۍ ته دننه ننوتو موږ یې د څنګ یوې کوټې ته بوتلو او هلته کیناستلو لږ څنډ وروسته یوه تن په پتنوس کې د هیل داره خوږ بوږه چای او په قابونو کې بادام راوړل لږ څنډ وروسته همغه سړي د چاي نورې پیالې راوړې دغسې ما څلور پیالې چاي وڅښلو او په فکر کې راغلل چې اسماعیل خان به را سره وګوري که نه همدغسې په چاي څښلو به مو ځواب کړي .خو لږ څنډه وروسته

اسماعیل خان پخپله کوټې ته تشریف راوړ لومړی یې بخښنه وغوښته چې موږ یې دومره زیات انتظار وکړ بیا یې بلنه راکړه چې پاس پوړته ولاړ شو او له ده سره د شپې ډوډی یو ځای وخورو.

د ډوډی د میزونو لورې ته چې روان شو اسماعیل خان راته وویل:
ته به د أوآة په وخت کیگ له مانه پوشگتنیگ نه کوي.

د ډوډي میز په یوه ښکلي ګلدار ټوکر پوښلی و، پر هغو د چرګ د غوښې سرې شوې ټوټې، پلو او د مرزانو کباب په بیلا بیلو قابونو کې ایښی وو.

د تېرې یوې اونۍ په بهیر کې موږ د خوراك دومره ډېر شیان نه وو لیدلي.

اسماعیل خان د ډوډی د میز په یوه سرکې پرکرسۍ ناست و. تر څنګ یې حاجي میر و چې په جنوب لویدیځ کې د ده پوځي قوماندان دی او اسماعیل خان ته به یې د طالبانو په باب تازه راپورونه ورکول چې په کندهار کې پردې خبرې اترې ورسره روانې وې چې وسلې کیږدي.

کندهارد طالبانو وروستی مرکز پاتې و، او دوی ویریدل چې طالبان هلته له وسلو غورځولو وروسته د هرات په لور مخه نه کړي.

د اسماعیل خان ښي لاس ته نوي تاکل شوي د مدرسو مشر ناست و. چې د ښځو د زده کړې پر موضوع بحث روان و، او پر دې هم بحث روان و، چې نجونې او هلکان باید بیل بیل زده کړې ته دوام ورکړي که څنګه؟

په افغانستان کې چې د مقاومت څومره مشران را پورته شوي دي اسماعیل خان په هغوی کې یو بیل او ځانګړی شخصیت لري. د هغه په

باب یوه مشهوره او په زړه پورې کیسه ویل کېږي چې یوه روسي جنرال ده ته لیك را واستاوه چې په هغو کې ده ته ګواښ شوي و چې له منځه به یې یوسي، په لیك کې راغلي چې موږ پخوا هم ډېر لوټماران له منځه وړي دي څکه خو پر دې باید پوره باور ولري چې ستا پای به هم د هغوی په څېر وي لکه د ازبك لوټمار ابراهیم بیك چې و هغه چې د شلمې پیړۍ په لومړیو کې د روسانو سره مقاومت کړي و خو ماته یې خوړه.

روسي جنرال اندشکن ته چې اسماعیل خان کوم ځواب ورکړ هغه هم واورئ:

روسانو! واورئ چې تاسو له اویا کاله تېرېدو وروسته هم ابراهیم بیك هېر نه کړ او د دوو سوو کلونو په تېرېدو وروسته هم د اسماعیل خان نوم هېر نکړي.

د چرګ د ورون دخوړلو په وخت کې د هغه ښوروا را څڅېدله او د اسماعیل خان په ږیره کې جذبیدله او ما د خیال په نظر هغه ډاډ او خوند لیده چې اسماعیل خان به روسي جنرال ته د خپل قاصد په لاس ورلیږلی وي او ده به په خپل زړه کې احساساوه.

په افغانستان کې هغه ټول جنګ سالاران چې د دې جګړې په دوران کې یې ډېرې شتمنې پیدا کړې په دوي کې د مرحوم قوماندان احمد شاه مسعود نه پرته اسماعیل خان یوازینی سړی دی چې پر لمن یې کوم داغ او تور نشته، آن چې د ځینو ژورنالستانو په وینا په **۵۴** کلنۍ کې هم د هغه په څېره کې د ماشوم په څېر معصومه موسکا لیدای شي.

خو د هغه مرموزي سترګې وايې چې حقيقت داسې نه دي!! د صفا او پاك مذهبي ژوندانه تيروونکی اسماعيل خان د خپلو پيروانو په قول يو اور ژبی خطيب هم دی د خپلې ظاهري څيرې ځانګړتياوو او بڼې له نظره هغه ديوه بل مشهور جنګي سالار، ازبك مشر جنرال دوستم سره ډير ورته والی لري.

د هراتيانو او ازبکو ترمنځ هسې هم د مينې او نږدې توب اړيکې شته او اسماعيل خان له جنرال دوستم سره په شمالي اتحاد کې شامل شو او له طالبانو سره جنګيدلی هم دی خو دوی دواړه بيا يو بل هيڅ نه خوښوي. اسماعيل خان وايي چې د طالبانو په لاس د ده په نيولو کې جنرال دوستم لاس درلود، جنرال دوستم پخوانی پهلوان و.

هغه د نڅاګرو او شرابو تږی او مينه وال دی. د هغه قدتر شپږو فټو زيات دی او ورمير يې په نشت شمير دی. د هغه په څېره کې د غوسې کرښې وې او داسې ښکاري چې د ډوډۍ له خوړلو وروسته څو تنه وژل د دغه سړي شغل او عادت دی. د هغه په باب دا خبره مشهوره ده چې خپل دښمنان به يې تر ټانکونو لاندې کول ازبکان وايې چې د هغه کړسنده خندا دومره هيبتناکه او ويروونکې ده چې سړی له ويرې وژلی هم شي. د مزار شريف د والي په حيث هغه په خپل کورکې ډيرطاووسان پاللي دي هغه به ځانته د "شمالي افغانستان پاچا" وايه او د بلخ هوايي شرکت په نامه يې خپله هوايي کرښه پېل کړي وه، اسماعيل خان بيا دومره د نامه او ځان ښودلو شوق نه لري. تاسو هغه ظالم او بې رحمه بللی شئ خو په ۱۹۹۲ کال کې د کمونستي حکومت له رانسکوريدو وروسته د هرات د والي په حيث په دريوکلونو کې ده له دښمنانو څخه د بدل اوکسات اخستو پرځای هڅه کړې چې د

تفاهم او جوړ جاړي له لارې ستونزې حل کړي، ځکه خو د ده له ذات سره د داسې وحشيانه وژنو او چور تالان کيسې نه دي تړلې چې جنرال دوستم ته منسوبې دي.

د ځواك او اقتدار پالنه په هر حال د ده يوه لويه کمزورې ده همدغه سبب دی. چې دې ځانته د "جنوب لويديځ افغانستان امير" نوم خوښوي هلته چې د ده په پنځو ولايتونو واکمني وه.

د ده دا هم ډير خوښېږي چې خپل پيروان يې دې په لوړو القابو ياد کړي تر دې چې د ده د رسمي تصوير څخه لاندي دغه الفاظ ليکلي دي:

"د زړورتيا، شجاعت او تقوي اعلي نمونه" هرکال يې د يوه پوځي رسم ګذشت بندوبست کاوه چې په هغو کې به د ده مجاهدين پراوښانو سپاره او په ستنګر او نورو توغنديو مسلح تيريدل او لانچرونه به يې ښودل. د خاصو الوتکو څخه به په پاراشوټ کې پوځيان د خلکو په منځ کې را کوزيدل او د ژوندی مار د سر ژوولو ننداره به يې ښودله.

جنرال دوستم چې د ډاکتر نجيب الله د واکمنی په وخت کې د روسانو سره اوږه پراوږه د مجاهدينو پرخلاف جنګيدلی و، او له خپلو شلو زرو تنو ازبك مليشو سره يې په جلال آباد، ګرديز او خوست کې په ډيره بې رحمی د مجاهدينو له عامې وژنې وروسته له ځينو ډلو سره تفاهم او له ځينو نورو سره يې خيانت کړی دی.

پر اسماعيل خان د دې پر خلاف داسې د وفادارۍ بدلولو تورونه نشته، اسماعيل خان د افغان پوځ د يوه تورن په حيث هغه مهال را څرګند شو چې د پوځي مشاورينو پر خلاف يې په ۱۹۷۹ کال کې د هغه پوځ پر خلاف د پاڅون مشر شو،

چې ښار ته راوتلي وو، او دوکاندارانو ته يې دا امرکاوه چې پر دوکانونو يې بايد سره بيرغونه او د نور محمد تره کي تصويرونه ټينګ کړي، هماغه و، چې د دې پر خلاف د هرات اوسيدونکيو پاڅون وکړ او يوه پاريدلې ډله دمظاهري په بڼه په ښارکې را وګرځېده او د کمونستي ګوند د مرکزي دفتر وداني ته ورسيده روسي مشاورين او د هغوي د کورنۍ غړي يې را وايستل او ويې ډبول.

روسانو افغان پوځ ته د ډزو امر ورکړ خو اسماعيل خان او د هغه کسانو پرګڼه ګوڼه له ډزونه انکار وکړ او دغرونو په لور وتښتيدل هلته يې خپل ملګري را ټول او تنظيم کړل او د مقاومت تيارۍ يې پيل کړې، له دې سره يې له برهان الدين رباني سره هم اړيکې ټينګې کړې، چې په پيښور کې د اوو لويو مشرانو څخه يو و، او د اسماعيل خان په څير تاجك او دري ژبی و پر دې سر بيره يې د وسلو او پوځي اړتياو لپاره د هغه مهال له ايراني حکومت سره هم سر وخوځاوه.

ورو ورو دغه د ديرش تنو ډله په پنځو زرو بدله شوه. چې د امير حمزه فرقي نوم يې ورباندي کېښود.

دا په سوچه پوځي شکل روزل کيدل دغه فرقه په پنځو غونډونو ويشل شوې وه چې په هريوه کې دوه سوه تنه تنظيم وو.

چې بياغونډو نه هم په پنځه ويشت کسيزو ټولګيوويشل شوې وو.

ترکومه چې په افغانستان کې د روسانو واکمني وه تقريباً دواړه لوري له يو ډول خنډ سره مخ وو.

د هرات کلا د روسانو په لاس کې وه، خو د شني پټۍ د موجوديت له امله د ښار زياتره برخې روسانو ته منعه شوې سيمې وې روسانو له دې سره هيڅ دلچسپي نه درلوده چې ځکه چې هغوی هر افغان خپل

دښمن باله دورځي به دغو روسي پوځیانو په کلیواو فصلونو کې ماینونه ایښودل او بمباري به یې کولې او د شپې به بیرته خپلو بارکونو ته را ستنیدل او سرکونه به د اسماعیل خان دکسانو په واك کې وو، دغه وضعه دومره خطرناکه او له زغمه وتلې وه چې نژدې پنځلس لکه تنه چې د هرات د ټول نفوس لس فیصده وو له لویدیځ افغانستان څخه ایران ته په تیښته او پناه وړو مجبور شول.

په ۱۹۹۲ کال د روسانو له وتلو نه دوه کاله وروسته اسماعیل خان هرات ښار ونیو، او لوموړی ځل یې ځان د لویدیځ افغانستان ( د افغانستان جنوب لویدیځي حوزې) امیر وباله زده کړه د ده په اساسي پروګرامونو کې شامله ده، هغه د هرات د اوسیدونکیو د بې وسلې کولو لړه هم پیل کړه، چې هرات د نور افغانستان د فساد خپلیو سیمو څخه په امن او آرامی کې ثابت کړی خو د ده په باب دا نظر عام شو چې یوکمزوری واکمن دی او حکومت یې په خپلوان پالنی او رشوتونو غوندې اداري فسادونو ککړ شو چې په ټولو مهمو کرسیو یې د خپلې کورنی غړي ټاکلي وو، د دې پایلې دا شوې چې له هراته به هره لارې چې تیریده نو دري سوه ډالره ګمرکي محصول یې باید ادا کړي وای.

چې دا په افغانستان غوندې وروسته پاتې هېواد کې د یوه مامور د کلنی معاش سره برابر دی.

د ۱۹۹۵ تر مارچ پورې طالبانو د جنوب لویدیځو دوو ولایتونو " فراه او نیمروز" پر نیولو بریالي شول. له هغه ځایه یې د هرات په جنوب کې د روسي پوځونو د هوایي ډګر او پوځي هډې "شینډنډ" په لور پرمختګ پیل کړ، خو د اسماعیل خان جنګیالیي د هغه وخت د دفاع وزیر احمد شاه مسعود په ملاتړ د طالبانو د بریدونو په شنډولو کې

بریالي شول، ځکه چې د احمد شاه مسعود له لوري د طالبانو د لومړیو جنګي کربنو د بمبارد لپاره له کابل څخه الوتکې ورغلې، د طالبانو د شاتګ یو اساسي سبب دا هم و، چې له هغوی سره د خوراك څښاك او دواو کمبود و، چې له هغو پرته یې د افغانستان په دښتو کې جګړې ته دوام نشو ورکولی د طالبانو ماتې اسماعیل خان ډېر پر ځان باوري کړ.

تر دې چې څو میاشتې وروسته یې د جنوب لوري ته د طالبانو د مهم مرکز کندهار په لور پرمختګ پیل کړ، هلته طالبان هم له ماتې وروسته لاس تر زنین نه وو ناست، او د اوړي د تودوخې په ټول موسم کې یې د پاکستان پوځي استخباراتو د آي اس آي ، په مرسته پر بیا تنظیم او روزنه بوخت وو.

د دوی شمیر هم تر پخوا څو چنده زیات شوي و. او د پاکستان د دیني مدرسو څخه په زرګونو تنه د خپلې خوښې سرتیري د دوي سره یو ځاي شول.

جنرال دوستم هم په دې وخت کې یو ځل بیا خپل لوري واړاوه او پر هرات یې بمباري پېل کړې وې ځکه خونه یوازې دا چې د اسماعیل خان کسانو ماته وخوړه بلکې طالبانو هغوی په بشپړ ډول تېښتې ته اړکړل، چې بالاخره هغوي له ښاره وتښتیدل او غرونو ته یې پناه یووړه او یا ایران ته واوښتل.

په جنوبي افغانستان کې د اسماعیل خان پوځي قوماندان یو اوږد اسویلي وکیښ او له خپلې کرسۍ څخه جګ شو په عذرمنه لهجه یې وویل چې زه په یوه پټ ماموریت چیرته روان یم.

ما فکر کاوه چې دغه خلك خو یو ځل بیا پر کندهار د حملې په فکر کې نه وي؟

اسماعیل خان په چوپه خوله یوه منه را واخسته او په خوړلو یې پیل وکړ، د منې له خوړلو وروسته یې قاب وړاندې کړ او ټول پام یې ماته را واړاوه ما ترې وپوښتل.

ستا په نظر طالبانو پر هرات څه اغیزې پریښې دي؟

زما د پوښتنې په ځواب کې اسماعیل خان ډیر په خپګان سر وخوځاوه او ویې ویل:

دطالبانو په وخت کې د دې ځای د خلکو ژوند له یوې غمیزې څخه کم نه و ته به د لوږې بې وسۍ او کاختې او نورې دې ته ورته ستونزو یوه چاره وکړې، خو له یوه نا لوستي او جاهل سره ګوزاره ډېره ګرانه ده.

موږ د داسې جاهلانو او بې سوادو په لاس اسیران شوي وو، او د هرات د اوسیدونکیو لپاره تر دې لوي عذاب نشته.

اسماعیل خان نور پوره په خبرو راغی.... هرات د نور افغانستان څخه ډېرتوپیر لري.

د دې ځای تاریخي آثار او یادګارونه پر دې ګواه دي چې دغه ښار د علم، ساینس اوکلتور له درکه ډیر بډای دی.

په همدې خاطر د دې ځای خلك ډېر با شعوره او پوه دي طالبان پر دې، حقیقت ښه پوه وو چې د هرات اوسېدونکي د دوي څخه ډېره کرکه کوي او د لیونتوب تر حده یې مخالفت کوي.

طالبان پر دې هم پوهیدل چې دهرات اولس تر ټولو ړومبی د روسانو پر خلاف پاڅون وکړ او راپورته شول، ځکه خودطالبانو پرخلاف هم پاڅون کولې شي هغوي هره شیبه له همدې وېره درلوده چې دهمدې وېرې د قابو کولو لپاره یې د هراتي اولس په ویرولو او ځورولو لاس

پورې کړ ترڅو هغوي وويروي چې د دوي پر خلاف پاڅون ونه کړي خو دا د طالبانو اشتباه وه.

طالبانو ګومان کاوه چې د خلکو په وژلو او په عامه څلوړ لارې کې يې د مړيو په را ځړولو خلك وويروي، ښايي لږ کومه اونۍ داسې تېره شوې وي چې په هغو کې به د بريښنا پر پايو د کوم هراتي مړی نه و راځړول شوی. پردې سربېره به هره ورځ پر ديوالونو نوي شعارونه ليکل شوي وو چې په هغو کې به" مرګ بر طالبان" او" زموږ نجوني پرېږدئ چې ښوونځيو ته ولاړې شي" او دې ته ورته شعارونه ليکل شوي وو پر دې سر بېره په هره شپه د نويو شعرونو او نظمونو د ويشلو لړې به هم دوام درلود. د نورو ولايتونو پرخلاف چې ډېر خلك يې په پټه کې له طالبانو سره ملګري شوي وو. دهرات خلکو له هغوي څخه لمن را نغښتې وه.

اسماعيل خان په تفصيل سره د هرات د خلکو د ستونزو په باب معلومات را کړل. د طالبانو پر خلاف به د خلکو د تنظيم په چاره به يو کال لګېدلی چې په دوکه يې اسماعيل خان ونيوه. د ده په وينا د جنرال دوستم مرستيال جنرال عبدالملك ده ته دوکه ورکړه، د ده لهجه ډېره ترخه شوه ويل يې:

د دوستم په څير جنرال عبدالملك هم لومړی د ډاکتر نجيب الله سره و، چې بيا د ډېرو پيسو په تمه له مجاهدينو سره ملګری شو ويل کېږي چې هغه ته يې دوولس مليون ډالره ورکړي وو، زه مزار شريف ته تللی وم چې له جنرال دوستم سره يو ځاي د طالبانو پر خلاف کوم شريك مورچل پرانيزو جنرال ملك هم دغه مهال هرات ته را ورسيد او ماته يې احوال را کړ چې له تاسو سره د يوه سبا ناري پرسر د ليدو هيله لرم، زه

ورسره موافق وم خو له جنرال مالك سره چې کوم کسان راغلي وو، هغه ټول طالبان وو، هغوي پر ما وسلې را واړولې ویې نیولم. او بیا یې په کندهار کې جېل ته واچولم.

وروسته یې بیا جنرال ملك هم ونیوه خوهغه ترې وتښتېد او ترکیې ته یې پناه یووړه ما چې دا واورېدل سمدستي مې ملا احمد حسیني را یاد شو چې د کوټې د یوه هوټل په بڼ کې مې ورسره لیده کاته شوي وو، او ما ته یې په کندهار کې د طالبانو د ظلمونو او خلکو ربړولو زړه بوږنوونکې کیسې کړې وې ما له اسماعیل خان څخه د کندهار د جېل پوښتنه وکړه هغه راته وویل:

په بدني لحاظ یې ماته لاس هم نه دی راوړي او هیڅ یې پوړولې نه یم. خو په لاسونو او پښو کې یې زنځیرونه را اچولي وو. کله کله به یې په غاړه کې هم زنځیرونه را واچول. همدغسې یې درې کاله زه په یوه ځانګړې کوټه کې اچولی وم. هلته هیڅ ډول اسانتیاوې نه وې. همدارنګه ما نه کوم کتاب لوستی شوای او نه مې رادیو اورېدای شوای نه مې څوك ملاقات او لیدو ته راتلای شوای. هره ورځ به یې ماته یوه ټوټه ډوډۍ د خوراك لپاره راکوله چې مړ نه شم، په کومه کوټه کې یې چې زه بندي کړی وم، دومره وړوکې وه چې کله به یې زنځیرونه رانه لرې کړل یوازې درې ګامه مې پکې اخیستی شوای. له هیچا سره مې د خبرو کولو اجازه نه درلوده آن تر دې چې له هغو کسانو سره مو هم دا اجازه نه درلوده چې زموږ پر څارنې ګومارل شوي وو.

اسماعیل خان د طالبانو د ظلم او ستم کیسې را ته کولې زیاته یې کړه:

ما دوه ځله هڅه وکړه چې د هغې کوټې په غولي کې سوري وکړم تر څو د تېښتې لاره پیدا کړم خو ناکام شوم. دځارونکیو له ډلې څخه دوه تنه پخواني مجاهدین وو. هغوي له ما سره د مرستې وړاندیز وکړ، ځکه چې هغوي هم د روسانو پر خلاف په جهاد کې برخه اخیستې وه.

هغوي دواړه د کندهار او پښتانه وو زه پر دې زړه نا زړه وم، چې پر دوي اعتماد وکړم که نه خو هغوي ډېرد اخلاص خاوندان وو، د هغوي څخه یو تن چې حکمت الله نومېده د یوه نومیالي افغان مجاهد زوي و. هغه په ایران کې زما له زوي میر واعظ " ښایي میرویس وي ژباړن" سره ارتباط ونیو او ورته ویې ویل چې د یوه لنډکروزر بندوبست وکړي تر څو میاشتو پورې دوي زما او دوو تنو نورو قوماندانانو د تښتولو پلان جوړاوه.

بالاخره هغه ورځ راغله. د ۱۹۹۹ کال د مارچ په دوهمه لومړۍ هغو ساتونکیو زما زنځیرونه پرانستل او سهار وختي په څلورو بجو چې تول په درانه خوب ویده وو. هغوي راغلل زموږ د کوټې زنځیر یې خلاص کړ او پر غولي یې د جامو یوه غوټه کېښوده چې داسې وښیي چې ګواکې موږ په بسترو کې. ویده یو بیا دوي موږ له کوټو څخه را وویستو او هغه لنډکروزر ته یې را وستو چې د موټرونو درولو په پارک کې دریدلي و دا هر څه دیوه فلم په څېر ښکاریدل موږ ګام پرګام په دې ویره کې وو چې څوك موونه ویني اوبیرته جیل ته ولاړ نشو په موټر کې دحکمت الله پلار زموږ انتظار کاوه.

هغه موږ ته توري غټې غټې پګړي راکړي چې پرسریې وتړو او دطالبانو په څېر ښکاره شو. په لنډ کروزر کې موږ تر ډېره وخته پورې

همدلته انتظار کاوه ترڅو لمر راوخیژي او د رحمت الله ماموریت او دنده تر سره شي.

هغه یې خپلو ملګرو ته وویل چې په تازه هوا کې د قدم وهلو لپاره ځم او بیا راغی له موږ سره په موټر کې کیناست، د موټر مخې ته سپین بیرغ ټینګ شوی و، چې ګواکي دا د طالبانو موټر دی، په دې ډول موږ له ټولو پهرو څخه په آسانی را تیر شوو خو دوی ناڅاپه د موټر مخه د مارکو دښتې په لور وګرځوله چې له هغې څخه تر تیریدو وروسته موږ ایران ته اوښتی شوای خو سرحد ته مو سمه لاره هیره کړې وه او په دښته کې ګرد را څرخیدو تر دې چې په مزله کې را باندې ماښام شو، بالاخره مو په دښته کې یو شپون ولید هغه را ته وویل چې سرحد ته تللې سمه لاره ورته معلومه ده خو په دې وخت کې زموږ موټر پر یوه ټانک ضد مین ور برابر شو موټر ټوټه شو خو له نیکه مرغه موږ ټول له مرګه بچ شوو خو د مین د چاودني له امله زما او حکمت الله پښې ماتې شوې، موټر بشپړ له منځه تللی و او موږ بله چاره نه درلوده او په مارکو دښته کې پراته وو زګیروي او اسویلې مو اوچت وو په هر صورت د حکمت الله پلار یوې او بلې خوا ته وګرځید او داسې کسان یې را پیدا کړل چې زموږ مرسته یې کولای شوای، ناڅاپه هغه زما کسان ولیدل، هغوي راغلل او زموږ سره یې مرسته وکړه په دې ډول موږ دوهمه ورځ د شپې په لسو بجو ایران ته ورسیدو یعنې د جبل له خونې څخه تر ایران پورې پوره دوې ورځې پر موږ تېرې شوې. •

حکمت الله چې لوي خطر پر سر واخیست د هغوي د کورنی نورو ځینو غړیو یې قیمت ادا کړ د دوي ډیر خپلوان طالبانو ونیول چې په هغو کې یې د یوه نوکان وویستل او د بل یې سترګې ړندې کړې.

تقريباً له يوه کال پلان جوړولو وروسته اسماعيل خان د طالبانو پر خلاف د نوېو حملو لپاره افغانستان ته بيرته راغی، خو ډېرې برياوې يې ونه ګټلې چې د هغو يو سبب دا و چې دا کمالاتو په برابرولو کې له ستونزو سره مخ وو، د ده په وينا هيچا هم زموږ مرستې ته زړه نه کاوه د يوې يوې ګولۍ د تر لاسه کولو لپاره هم له ستونزو سره مخ وو.

خو په نړيوال سوداګري مرکز له ترهه ګرۍ حملې وروسته هر څه بدل شول، د امريکا يي الوتکو د پرلپسې بمباريو له امله طالبان له هراته په وتلو مجبور شول او د دوی ډېر پوځي موټر او ټانکونه له منځه ولاړل بالاخره طالبان بېله دې چې يو ډز وکړي له هراته وتښتيدل دوهمه ورځ اسماعيل خان له خپلو کسانو سره هرات ته ننوت خو دا ښکاره وه چې هغه غوښتل له طالبانو سره وجنګيږي او هغوي د تل لپاره له منځه يوسي.

خو د ده په وينا طالبانو ماته نه ده خوړلې بلکې د مجاهدينو په څېر ټول خپلو خپلو کورونو او سيمو ته ستانه شول، خو د زړه له تله به طالبان وي او سبا ته به بيا په کوم بل نامه راشي.

اسماعيل خان له شپږ کاله بند او جلا وطنۍ تېرولو وروسته په دې، چورتونو کې ډوب و چې که يو ځل بيا د هرات والي شو، نو کوم کوم کارونه به کوي ما ترې وپوښتل چې څه اراده لري؟

هغه په خواب کې راته وويل:

لکه چې ودي ليده زما ښار په کنډوالو بدل شوي دي، خو موږ يوازې له داسې مسايلو سره لاس او ګريوان نه يو چې ظاهراً ښکاري يا مو تر سترګو کېږي.

زمونږ ماشومانو او ځوانانو له جګړې پرته بل هیڅ نه دي لیدلي، ځکه خو زما د ښار یو دیرش کلن ځوان د دیرش کلنۍ اوږدې جګړې له امله نا لوستي او بې سواده پاتې شو او له جګړې او جنجال پر ته په هیڅ نه پوهیږي د روسانو او طالبانو په راتلو کرکه او ظلم زمونږ د ورځنۍ محاورې او ژبې برخه وګرځیده مونږ باید د مینې، دوستۍ او خواخوږۍ الفاظ بیا په ژبه کې را شامل کړو.د دغو الفاظو در ناوې باید را ژوندي کړو په نرم غږ اود ځوا خوږي په لهجه د اسماعیل خان دغو خبرو ډیره اغیزه درلوده خو ده د افغانستان له نوي حکومت څخه نا خوښي پټه نه کړه ځو ورځې وروسته د هرات په جامع جوماتو کې د ده د ملګرو او پلویانو یوه لویه غونډه جوړه شوه چې اسماعیل خان ته یې د لویدیځ افغانستان امیر " د جنوب لویدیزې حوزې امیر ژبارن" لقب ورکړ. په تیرو وختونو کې هم د نولسمې پیړۍ په دوران کې په هرات او کابل کې د یوې کورنۍ د دوو غړیو واکمني وه چې دواړه یو د بل سخت دښمنان وو. دلته ما فکر کاوه چې آیا تاریخ بیا تکراریږي؟

اسماعیل خان خپل زوي میر واعظ (میرویس) د استخباراتو رئیس ټاکلی و. او په موافق هوټل کې یوه زیرور سړي ویل چې یو رومی بانجانو پلورونکی یې د پولیسو قوماندان او یو بې تجربې سړی یې د روغتون رئیس ټاکلی دی. یوازې پر دې چې دغه دواړه ښه مجاهدین وو.

د یوه صوفي (خواجه غلتان) پر زیارت چې د هرات په ښار کې به ګرځیدو را ګرځیدو یو ړوند سړی ناست و او څه سندره یې زمزمه کوله، هلته ما دوه کوچني هلکان ولیدل چې د مارانو د نیولو هڅې

يې كولې او ما د ذهن پر پرده د اسماعيل خان كسان ليدل چې پر خپلو غاښونو د ژونديو مارانو پوست وباسي.

څو شپې وروسته زه په موافق رستوران كې ناسته وم چې ناڅاپه ډزې وشوې، وروسته بيا توپونه هم وغورېيدل، چراغونه هم مړه شول هر چا بام ته منډه واخيسته، اسمان په سرو ګوليو روښانه شو او په داشكو ډزې پيل شوې، يوه بوډا جارو كش ماته وويل دننه ولاړه شه، دننه ولاړه شه!.

په هرات كې امن هره شيبه كډوډېداى شواى موږ فكركاوه چې ښايي طالبان بيا راغلي وي خو بيا معلومه شوه چې دا دې خوښۍ ډزې دي، خو پر دې هيڅوك هم نه پوهيدل چې د كومې خوښۍ؟

اوازې وې چې اسماعيل خان ملا عمر نيولى دى او هرات ته يې راوستى، اسامه بن لادن په توره بوره كې وژل شوى دى. اسماعيل كندهار نيولى دى.

سبا ته ايوبي راغى هغه راته وويل چې طالبانو په كندهاركې وسلې كېښودې او هغه ډزې له كندهار څخه د را خوشي كيدو په خوشالۍ كې وې. ايوبي نن تر پخوا ډېر جدي وه زه يې يوې ګوهې ته بوتلم او راته ويې ويل:

ميرمن كريستينا زه غواړم ستا پر ستلايت تليفون په مشهد كې د ټيلې ميرمنې احوال واخلم چې ماشوم يې زږېدلى كه نه. -

ما په حيرانۍ ورته وكتل هغه ماته داسې يادونه نه وه كړې چې د ميرمنې يې د زيږون وخت دى، ترې ومې پوښتل:

د زيږېدو وخت يې كوم وْ؟

- په كومه ورځ چې موږ له ښاره را روانېشو.

دا د دوولسو ورځو مخکې خبره ده، ما ورته وویل چې ولې د مخکې نه ویل چې زه خپره وایي هرات ته به مې نه وای راوستی وروسته راته معلومه شوه چې د هغه دوې میرمنې او اووه بچیان یې لري، ځکه یې د بل ماشوم زیږیدل ورته په زړه پورې نه وه، که یې چې مشهد ته تلیفون وکړ معلومه شوه چې لور یې زیږیدلې هغه راته وویل زه به ستا دا نیکي هیره نکړم چې ستا په تلیفون مې دا زیری واورید، بیا یې راته وویل چې نوم به ستا پرې کیږدم خو لومړی برخه نه ځکه دا ډیر نا اشنا دی.

ایوبي راته وویل چې زه له خپل قومندان سره ډیره مینه لرم هغه یو ښه انسان او انډیوال دی، خو په کال کې شپږ لکه افغانۍ چې ایله .سلشل ډالره کیږي زما د دوه میرمنو او اتو بچیانو لپاره کافي نه دي، هغه راته وویل یو ځل مې له اسماعیل خان نه وغوښتل چې د لبانو څخه د نیول شویو موټرو څخه یو راکړي هغه ځواب راکړ چې د ځکله پر دې فکر مه کوه که زه تاته یو موټر درکړم نو نورو ته هم .ید یو یو موټر ورکړم.

ایوبي راته وویل چې نور بوډا شوی یم اوس هیڅ راسره پاتې نه دي، خو زموږ کورنۍ غریبه نه وه ځو کاله پخوا زما پلار چې یو عالم و ماته یې یو موټر سایکل اخ...ی وه خو چې اسماعیل خان خبر شو ور وې غوښتم او راته وېې ویل پر دې موټر سایکل زما د دوه زرو کسانو لپاره تیاریږي او هغه یې بیا رانه واخیست.

ایوبي بیا خپله کیسه راته وکړه چې څه ډول یې په اویایمه لسیزه کې چې ایله شپاړلس کلن و د شرعیاتو پوهنځی لوست او د جمعیت اسلامي سره یې اړیکې پیل شوې او بیا په ۱۹۷۸ کې د اسماعیل خان

تر قوماندې لاندې په چيريکي ګروپونو کې شامل شو سبا ته زه کابل ته د تلو لپاره روادیدم چې ایوبي راغی او کړو وړو کرښو یو لیك راکړ په هغه کې يې لیکي وو:

د روحاني څواکونوخاوندې زما د سفر انډیوالې میرمن کریستینا!

هیله کوم چې په پوره روغتیا او کامیابۍ سفرونه دوام وکړي خدای دې تا له خپلو دوستانو سره په امان کې وساتي که د کله په یاد شوم ماته پردې پته لیك راواستوه مشهد ریهایشګای الحاج شیخ محمد ایوب شریف نزد برف خانه زه به تا هیره نه کړم خو ته به ما هیر کړې که څه هم زه به خدای ته دعا کوم چې ستا په یاد پاتې شم که ته زر کاله زما په باب فکر ونکړې زه به په هر ساعت کې زر څله تا یادوم دغه لیك په فارسي لیکل شوی وه چې کله ماته وژباړل شو نو له سترګو مې اوښکې ورته تویې کړې زه به د ایوبي پر شونډو شریفانه موسکا او په څیره کې د خپګان نښې هیڅکله هیرې نه کړم.

زه له ایوبي سره د هوای ډګر ته په تیکسي کې سپره شوم په یوه کنډ او کپر سرك د ختیځ لور ته روان شو د یوولسمې پېړۍ مشهور صوفي شاعر خواجه عبدالله انصاري د مزار تر څنګ تیر شوو چې د غونډیو لارې ته ورسېدو موټر چلونکی لږ ناکراره غونډې شو اوبي ته يې څه وویل چې ما وانه وریدل بیا مې ناڅاپه په زرګونو واړه واړه بیراغونه رپیدل او د سترګو تر څاره غزځیدلي وه، زه وپوهیدم چې دا د هراتیانو ډله ایز قبرونه دي چې په ۱۹۷۹ م کال د روسانو په بمبارۍ کې شهیدان شوي دي، د ځینو کسانو په وینا د دوی شمیر ۲۰و، خو اسماعیل خان ۲۴ زره راته وویل.

# بد رنګه طاووس

له هرات څخه د آریانا هوایي شرکت د انتونوف الوتکې په واسطه کابل ته راورسیدو، چې کابل ته راغلم وپوهیدم چې دلته مې په راتلو کې بیړه وکړه، له ډیر زحمت او ځنډ وروسته الوتکه کیسناستلو ته چمتو شوه، چې ومې لیدل داسې راته ښکاریدله لکه چا چې د کابل ټول رنګونه ترې تراشلي او لوټلي وي،هر لوري ته د ټیټو بامونو وړوکي او خټین کورونه ښکاریدل.

او داسې ښکاریدل لکه په غرونو کې د کوترو ځالې چې یو له بل سره نښتې وي، ونې ډیرې پخوا د سونګ لپاره غوځې شوې وې، د دسمبر آسمان د خړې کوترې په څیر ښکاریدو، خړ پړ او غمجن لکه له اوږدې مودې چې د واورې اورولو په انتظار وي.

که کوم څوک پر خره او یا قاطره سپور په اوږدو غرنیو لارو دلته راغلی واي، او یا هم په دې سترېو او هسکو ټیټو لارو یا په کوم موټر کې راغلی وای نو زما په ګومان به یې دلته د آرام ساه ایستلې وه، او د کابل دغه رنګ الوتي مکعب ته ورته کورونه به هم ډیر ورته په زړه پورې وو، په الوتکه کې کابل ته راتلل یوه بیله تجربه ده پر زغل لیکه الوتکه ډیره ګړندۍ روانه وه او بیا په یوه خاص ځاي کې ناڅاپي له یوې جټکې سره ودریده ځکه چې د کابل پر هوایي ډګر ډیرې بمبارۍ

شوې وې او زغل ليکه او نور ميدان ډير کندې کندې شوې و، څلورو لوريو ته د ويجاړو شويو الوتکو او هليکوپترو تنې ښکاريدلې.

داسې ښکاريده لکه تاسو چې دکومې غمونکې ډرامې له پيل او مينځ ليدو پرته ناڅا پې د پاي ننداره وګورئ.

په تيرو درويشتوکلونو جګړو کې بې شميره افغانان له کليو څخه کابل ته راغلي او دلته ميشت شوي دي چې د دې ليږد له امله د دې ښار د خلکو شمير له پينځو لکو څخه تر شلو، يا ديرشو لکو پورې رسيدلې ده، که څه هم د دوي رښتيني شمير له هيچا سره نشته، د افغانستان له کليوالو سيمو څخه چې کابل ته کومې کورنۍ راغلې دي د خامو خښتو کورونه يې جوړ کړي چې د کابل د ښار ښکلا ته ډير زيان رسولی دی، اوس د هغه ښکلي او زړه وړونکي ښار هيڅ نښه نښته چې ښکلا او حسن يې د مغلي واکمن ظهير الدين بابر زړه وړی و، او د هغه تر ټولو خوښ ښار و، او د دې ښار پر غونډيو يې ۱۶ ډوله غاټول ګلان ليدلي وو، بابر وصيت کړی و، چې کله مړ شي نو په دې ښار کې دي ښخ شي او هغه کابل د "رڼا ګانو بڼ" دا وه چې ګواکې خدای يې خپل بخښلي پرښته صفته پاچا ته جوړ کړی و.

هوټل هم اوس ويجاړ او بې خونده شوي و. کابل هوټل چې په ۱۹۸۹ کال زه پکې اوسېدلی وم زما کوټه هم په هغه پوړکې وه، چې هلته لس کاله پخوا د امريکا سفير" اډولف ډبس" وژل شوی و.

د امريکا سفير په ۱۹۷۹ کال کې ماوويستانو دلته را تښتولی و، او په دې هوټل کې يې بندي کړی و، وروسته بيا چې روسي پوځي مشاورينو او د افغان پوځ ګروپونو پر هوټل حمله وکړه د امريکا د سفير په شمول د ماويستانو د ګروپ څلور تنه هم ووژل شول.

د دهليز په فرش کې د توغندي د لګيدو يو لوی نښان پاتې و، چې فرش يې سوری کړی و، او څومره چې زما يادېږي دغه دهليز هغه مهال تر ډېره حده تياره او وېروونکی و.

پر دې سر بېره زه چې اوس هم هغه مرموز تيلفو نچي را ياد کړم چې يو لاس يې نه و، نو هډونه مې زيږه شي دغه تليفونچي د کابل هوټل د تکسي چلوونکی دنده هم سرته رسوله او يو تور د څرمنې دستکش به يې په لاس و، او په ډير مهارت به يې تکسي چلاوه.

په هر صورت ما په کابل هوټل کې د او سيدو اراده پرېښوده او مصطفي هوټل ته ولاړم چې مالك يې (واعظ ) له يوويشت کلنی جلا وطنۍ څخه وروسته نوی له آمريکا نه راستون شوی و. دلته چې راغلی وپوهيده چې تر څو طالبان په واك کې وي کوم بهرني سيلانئي به په کلونو کلونو کې کابل ته نژدې رانشي، څکه خو هغه د خپل پلار او نيکه څخه ورپاتې مصطفي هوټل د اسعارو د بدلولو (صرافي) او قيمتي ګاڼو د پلورلو او پيرلو پرمرکز بدل کړ.

د هوټل په ودانۍ کې ځای ځای د مجاهدينو د توغنديو داغونه او خاپونه شته، مير واعظ د هغو له ترميمولو وروسته هوټل دننه خونو ټول دېوالونه وغورځول او د هغو پرځای يې ښيښې ولګولې هغه لا پرترميم بوخت و، چې په نيو يارك کې د سوداګرۍ مرکز پر برجونو د ترهه ګرۍ حملې وشوې چې د هغو په نتيجه کې امريکا پر افغانستان درنې هوايي حملې پيل کړې، او په دوو مياشتو کې دننه طالبانو د تېښتې لاره غوره کړه. له طالبانوڅخه وروسته کابل ته بهرني ژورنالستان او د مرستندويو ادارو ټيمونه را مات شول او د نړۍ له هر ګوټ څخه خلکو کابل ته مخه وکړه، څکه خو واعظ پر ښيښو سپين

رنګ راتیر کړ اوهلته یې کتونه او بسترې ولګول او د " مصطفي هوټل لوحه یې هم پرې نصب کړه په دې ډول هغه د ټولې نړۍ د خبري سر چینو له اړوندو ژورنالستانو څخه ښه ډالر وشکول.

واعظ پخپله هم دا خبره مني چې دغه هوټل یې هیڅکله هم پر نویو وسایلو سنبال او آرام نه دی، کابل د سمندر له سطحې څخه شپږ زره فټه جګ دی.

چې ښه یخني پکې وي دا یخني چې دهنداري دیوالونه یې د زغملو توان نه لري، کله کله چې په کابل کې بریښنا وي نو د یوه راډلرونکې بخارۍ کار ولی شي. خو پرهغو دي لاس او یا پښې لږ تودېدای شي د کوټو په منځ کې د هندارو دیو الونه دومره نري وي، چې تاسو د بلې کوټې د کوم کس ساه ایستل هم اسانه اورېدای شي، زما د کوټې ښي لوري ته یو د استرلیا یی و، چې په خوب کې ډېر خرېده کیڼ لوري ته مې بیا یو جاپاني و چې نیمه شپه به پاڅیدو او په تلیفون به یې د خپل دفتر له خلکو سره په ډېر لوړ غږ خبرې کولې.

په هر صورت د کابل له ټولو اوسیدونکیو څخه چې اوس یې هم د ونو لرګي د سونګ لپاره کارول او یا به یې کله کله د خاورو تیل پېرل زموږ ژوند باپاچانو ته ورته و.

مصطفي هوټل چرګانو کوڅې ته نژدې دی، چې د ۱۹۶۰ په لسیزه کې دا د هیپیا نو د جنت په نامه مشهوره وه.

هلته د مختلفو شیانو د دوکانونو په منځ کې یو تنګ سرك تېر شوی دی، په دوکانونو کې پخواني غالي د غرني پړانګ او لیوه پوستکي او له بدخشان څخه د راوتلیو لاجوردو ټوټې پلورل کیږي، هغه لاجورد چې د هرات انځور ګرانو به میده کول او تیز آبي رنګ به

يې ترې جوړاوه چې په خپلو انځورونوکې يې د حقيقي رنګ په څير وځلوي.

د دې سرك په يوه سركې ډ ري ماركيټ دی، چې اسامه بن لادن او د هغه عربو ملګريو به له دې ماركيټ څه سودا را نيوله. دلته تاسو د "جان ويست" تيار كړای شوي د كبانو غوښې او كيډبرن چاكليټو پورې هر څه تر لاسه كولی شي خو تر دې ځايه چې رارسېږي بايد د افغاني چادري پوښو ښځو او يتيمو ماشومانو د لاسونو څخه چې په سوال يې درته غځولي وي بايد را تېر شي، هغوي د خان تودولو لپاره په لاسونو كې واړه د سكرو نغري لري چې بهرنيان وويني چيغې كړي ډالري.... ډالري!!

په هر صورت د مصطفي هوټل يوه لويه ګټه پخپله د هوټل مالك واعظ و، چې د امريكا په نيو جرسي كې يې تر دوولسيزو ډېر وخت تېر كړي و. او اوس يې د نيو جرسي د اوسيدونكو لهجه انګليسي خبرې كولې ډير زر موږ هغه ته لقب وموندلو او د" كابل فونز" نوم مو ورياندې كېښود. هغه به ډير ګرندی رږغيدو. د لنډ قد خو مزبوتو متو خاوند ۳۱ كلن ځوان دئ، د تېرې زنې خاوند دغه زلمی د هاليوود له فلمونو سره ډيره مينه لري. او د اندامونو ښكلا پخواني اتل هم پاتې شوی. د كابل هر اوسيدونكي يې ډير ښه پيژني.

د خپل هوټل د ترميم او سنيګار په باب يې په ذهن كې ډير پلانونه دي غوښتل يې په هوټل كې رستوران، ګرم حمام او د ورزش لپاره جمنازيوم جوړ كړي او دې ته ډير تلولي انتظار كوي چې وضعه بېرته د پخوا په څير آرامه شي او دی يې پخپل هوټل كې د پخوا په څير د"شپې نڅا كلب د نايټ كلب، او د شرابو " بار" جوړ كړي.

له سهاره تر شپې به يې په دفترکې د خلکو بيرو بار و، چې هلته به د ده د سپينې ږيرې خاوند پلار سره چاي څښلو ته راتلل.

د واعظ بوډا پلار به قره قلي خولۍ پر سر او يو کوټ به يې اغوستي و، تل به داسې ښکاريدو لکه بهرته چې د وتلو په حالت کې وي خو عجيبه بيا دا وه چې پر خپل کوچ کې به ناست و، او هيڅ به نه ترې جګيدو هغه دومره لږ خبرې کولې لکه څومره يې چې زوي ډير ژبورو.

واعظ په يوه پراخ او لوي سپين کور کې زيږيدلی و، چې په هغو کې يوه وړکۍ سينما هم وه د دوي کور له دې هوټل څخه ډير لرې نه و. او ماته دا ډيره پټه معلومه شوه چې د دوي د کورني خلك د سوداګرۍ په مالونو وړو راوړو کې بوخت دي. د هغه د خولې خبره ده چې په کابل ښار کې د دوي پنځه شپږ لوي جايدادونه شته.

په ۱۹۷۹ کال کې افغانستان ته د روسي پوځونو له راتلو وروسته د دوي کورنۍ له افغانستان څخه امريکا ته ولاړه.

مير واعظ راته وويل چې روسانو زموږ د کورنۍ ډېر کسان ووژل چې هغوي زما د مور او نياله کورنيو سره اړيکې در لودې. هغوي زما ماما هم وواژه چې په مختلفو ولايتونو کې يې د والي دنده تر سره کړې وه. په هغوي کې يو په افغان پوځ کې د جنرال رتبې ته رسيدلی و.

په ۱۹۹۱ کال د مير واعظ پلار له امريکا څخه بيرته افغانستان ته راستون شو د وخت له اولسمشر ډاکتر نجيب الله سره يې وکتل، چې بيا يې د دوي د کورنۍ ټولې شتمنۍ بېرته ورته وسپارلې په هغو کې مصطفي هوټل هم شامل و، په هغوي پسې مجاهدين راغلل او هغوي هم ډېره تباهي راوسته، څکه د ده پلار بېرته امريکا ته ولاړ او بالاخره په

۲۰۰۱ کال کې د دوبي په موسم کې واعظ پريکړه وکړه چې په نيو جرسي کې له خپلو ورونو سره شريك كار وبار وپلوري او بيرته کابل ته راشي د کلتورونو ټکر دومره تونډ و چې هيڅ لوري ته دا معلومه نه شوه چې ده ته چا ډير زيان رسولي دي.

واعظ يوه ورځ راته وويل:

کرستينا! ته له ما سره په کابل کې چکرته تياره يې؟

مادشهزاده دموټر بندوبست کړی دی ، زه له دې سره ګراج ته ولاړم چې هلته يوه تن د ۱۹۶۸ م ماډل سپين شيورليټ صافي کاوه ماته دا ګرانه وه چې په افغانستان کې په سرلوځي موټر کې له چکر څخه ډډه وکړم، واعظ خوښ شو دموټر دروازه يې بيرته کړه ما ټيکرى پرسر راخپور کړ او توري عينکې مې پرسترګو کړې اوپه پيکه زيړرنګي څرمنه پوښل شوي سيټ کيناستم،دغه موټر دولې عهد نه بلکې دهغه دورور شهزاده نادر و چې دمصطفی پلار و چې په روم کې ماورسره ليدلي وو. هغه ډير غوره موټرونه راټول کړي وو چې داهم يو له هغو څخه و. له هغه سره يو "ټندربرډ" موټر هم و چې واعظ يې اوس د درك لګولو هڅه کوله.

واعظ دموټر دچالانولوليپاره کيلي تاوکړه ماته يې وويل: داښايې په شپږ- اوه زره ډالره راته تمام شي موټر پټ پټ کړل بيا وخوځيد، واعظ دموټر و دپيرلو اوپلورلو کاروبارې ؤ څکه يې همغه رګ رابيدار شو ماته يې وويل:

دا شپږسلنډره موټر دي ، څکه خو دماشوم په څير پرپرکوي چې کله دکابل په کنده ، کنده سرکونو روان شوو هرچا په موږ پسې راکتل، داسې کسانو چې پګړۍ يې تړلې وې اوزموږ دليدو هڅې يې کولې

له بایسکلونوڅخه وغورځیدل ماشومانو راپسې منډې وهلې ،دوکانداران راپسې راووتل اوزموږ په لوري یې اشارې کولې، آسمان شین و، یخني تر هډوکو تیریده موږ چې له کومو خلکو څخه تیریدو لاسونه موورته خوځول هغه مهال ماداسې ګڼله لکه زه چې دکابل ملکه وم.

واعظ له یوه ټوپکوال څخه چې دموټر مخې ته راغی، ځان بچ کړ ګیله یې وکړه:

دلته هیڅ قانون اواصول نشته هغه ټوپکوال دوزو اوپسونو یوه رمه تر سرك اړو له اوپه ختو اوخاورو کي لت پت و. ددې وضعې له زغملو پرته بله لاره نه وه زیړرنګی ټیکسیان، آبي رنګې ریکشاوې او تورودولتي موټرو د سوالګرو او ږګړیو واله خلکو په منځ کې لاره ایستله اووړاندې تلل چې واعظ یوځای په یوه څلورلارې کې غلط لوري ته وګرځید، نومامې خندا راقابو نکړای شوه، پردي دترافیکو سپاهي حیران اواندیښمن شو. هغه یو سپین کوټ اوپیك والا خو له پرسرکړې وه او ودریږه! اوولاړشه لوحې یې په لاس کې وې سپاهي چې شورلیټ ولید حیران شو بیا یې لاسونه تاوده تاوده راته پورته کړل واعظ وویل:

داټول ماپیژني، ټول زما تنخواه خوري.

چې موږ کله د کابل له سینده تیریدو دی چوپ شو اوخوله اوپزه یې په دسمال پټ کړل چې له بدبویې ځان وژغوري ، موږ دجنوبي اولویدیځ ښار له غرونو را وګرځیدو اود ښار منځ ته راغلو چې دلته باید له سینده تیر شوي واي،زړه موغوښتل چې کاشکي په سرخلاصي موټر کې نه وای ، له سینده ډیر بدبوی راجګیدو. ما مې دخپلې ساه

دایسارو لوهځه وکړه د سینداوبه وچې شوې وې اوخلکو خاورې خځلې هلته انبارولې ، یو وخت دلته شنې ځلیدونکې اوبه بهیدلې او دواړو لوریو ته یې باغونه وو.

تولواك با بر ته یې دلته یوه ډېرو چوتره جوړه کړې وه چې پرهغو به ناست وُ او شراب به یې څښل اودزړه وړونکیو منظرو سیل به یې کاوه،خواوس دغه حسن مړ اوی شوی دئ، دباغونو چمن وچ شویٔ دئ اوونې یې غوڅې شوې دي ، دسیند پرغاړه دکباړیانو دوکانونه جوړ دي، موږ چې له هغه ځایه تیریدو په کراچیو کې هلکانو رنګه رنګه شربتونه پلورل چې په ښیښه یې بوتلونوکې وو، چې پرسر به یې ډېرو تختې ایښې وې اواوبه به یې خړې وې ، یقیناً دا دسیند خړې اوبه وې ، ځینې کسان دزړوکالیو انباړونو ته ناست وو، په ځینو غرفو کې کمپلې ایښې وې، په یوه دوکان کې هګۍ خرڅیدې ددوی تولو په منځ کې سوالګرو شوټ لاسونه په سوال نیولې اوګرځیدل، دځینو لاسونه نه وو او دځینو به پښې ، ځینې یې داسې هم وو چې له دواړو محروم وو.

ننسې هیڅ دوپرې چې په ۱۹۷۶ م کال کې دکابل کومه نقشه انځور کړې ده، هغه زماد ورځنې یادښت په کتابچه کې وه، هغې لیکلې وو چې دایو داسې ښار دی چې ډیر ګرندی پراخیږي ، هلته له بازارونو سره دنګې ودانۍ دي. لارې یې پراخه دي چې خلك پرې تیر اوبیر ګرځي،ماشومان په ښکلیو جامو کې په لویو بوخت وي په لنډو جامو کې نجونې ښوونځیو ته ځي ، ښکلې ځیرې ډیرې ښکاري.

ترافیك پکې روان اوپه منډودي دهغه ستاینې په پرتله نن کابل ډیر بدل دی، په دې کې دنویو ښارونو هیڅ نښه نشته، ددې پرخلاف

دسلگونوکلونو پخوانی ښار ښکاري البته دژړو ټیکسیانو اونورو موټرونو څخه پرته چې یو څه نوي او یوه اوبل لوري ته په ځغاسته دي. په دغو موټرو کې دجنګي مشرانو ملیشې یوې اوبلې خواته ګرځي. په کابل کې داوسپنې په تمه دبریښنا پایې اود سرکونو لوحې وړل شوې دي، ښځې په چادریو کې یو مصیبت ښکاریدلې اودنجونو ښونځي تړلي وو.

زما په یاد دي چې کله ۱۲ کاله پخوازه کابل ښار ته راغلې وم نو په فضا کې خوښي خپره وه، په داسې حال کې چې هغه مهال هم کابل جګړې ځپلی ښاروؤ.

هغه وخت دجون میاشت وه چې دو دونومیاشت ګنل کیږي ، ګلان غوړیدلي وو او فضا دهغو پروړمو خوږ بویه وه، دکابل سیند دویلې شوي واورې پراوبو تر مورګو ډك بهیده.زه دپوهنتون په "چاي خوري" کې لمرته ناسته وم او" آئیس کریم" مې خوړ، دلوړو پوندولرونکي بوټونه په پښو مستې ښځې زما مخې ته ناستې وې،ځینو یې خپل ویښتان طلایي رنګ کړي وو. یوې نجلۍ پتلون اوکمیس اغوستي وو زه دیوه دولتي منصبدار په کور کې په یوه میلمستیا کې وهم نڅیدم، هلتهٔ مشهورې سندرغاړې وجیهې دسپګریټو د دو دونو په منځ کې ګیتار غږاوه، دجګړې آثار چې مالیدل هغه داوو چې زیات شمیر نارینه اوښځې مې په پوځې جاموکې لیدلې ، د الوتکو کړسهار به هم کله کله اوچت شو پردې سربیره هر سهار به ډوډۍ پخوونکیو ته اوږده اوږده کتارونه ولاړوو چې هرې کورنۍ ته به دورځې پنځه پنځه ډوډۍ ورکول کیدې ، په ښار کې هر لوري ته په ونو کې لوډ سپیکرونه لګیدلي وو چې په هغو کې به پرموسیقي اوسندرو برسیره

سیاسي تبصري هم خپریدې ، کله کله به دمیني اومحبت سندرې هم اوریدل کیدې.

اوس عصري اوفیشني ښځې اوګلان نه وو ، یوازې ښکلې څیرې پاتې وې چې ښار ته یې یو څه رنګیني وربخښله په کابل کې دټولو قومونو خلك اوسیږي ، دلته د عقابي پزو خاوندان پښتانه تر ستر ګو کیږي ، چې وربښمینې لونګۍ یې تړلې اویا یې په زر تارو ګنډلې کندهارۍ خولۍ پرسروي قره قولي پرسردشډلو څیرو خاوندان تا جکان ، تورنجن بلوڅان اودغټو غټو توروسترګو خاوندان تر کمنان، دیږې دپوست خولۍ پرسر ازبك ، او دشمال دغرنیوسیمو مزبوتو بدنونو رڼو سترګو خاوندان تر سترګو کیږي. چې دهغوی په باب ویل کیږي چې داد سکندر اولاده ده ، پردې سربیره په ښار کې خوسا اوشریدلې میوې اوزړې جامې پلورونکي خلك هم شته، زیاتره خلك داسې ښکاریدل لکه چې دچاانتظارکوي، هغوی خپل پرتوګونه تر ګونډو وربډوهلي وو اود سرك پر غاړو به ناست وو ، تقریباً ټولو خلکو په غاړو اویا ملا دڅرمنی کمر بندونه تړلي وو .چې په هغو کې به برچې اومرمۍ وې.

داسې ښکاریدل چې دوی څواکمن خلك وو. دافغانستان په ستونزمنه وضعه کې کمزوري په وړوکي عمر کې مري.

یعني دلته د زور دبقا اصول حاکم ښکاري یوې ډلې ددوه کسانو دلوبې ننداره کو له چې هغوي دکوك دبوتلونو دسرونو په واسطه کو له، یو ې بلې ډلې یو سړی را ایسار کړی ؤ چې دیوه جنګي چرګ مښوکه اوپنجې یې دوی ته وربښودلې اوغوښتل یې چې چرګ پرې وپلوري، دغه خلك یو له بله لږ لري وو.

دډیرو کلونو جګړو اودمختلفو قومونو عامې وژنې ددوی څیر:

مړاوي کړي وي او په شکونو اوبدګومانيوکې يې اچولې وو.

زموږ موټر د دار لامان مانۍ لوري ته ورغلې سړك پرېوه غوړېدلې قالينه تير شو چې زړه شي اوساده بهر نيان پرې وغوليږي اود لرغونو آثارو په نامه يې وپيري کوم وخت چې موږ پرقالينه تير شوو ديخنۍ دموسم لمرپه لويدو و، بايرن په خپل کتاب Road to Oxiona دآمولاره کې دارالامان سرك دنړۍ ډيرښکلی سرك بللی و.

چې څلور ميله اوږد اودلوېې لارې په څير سوروردی دسرك دواړو خواوته دسپيدارو ونې ولاړې وې.

اوس دهغو ونو اودهغو په مخکې دبهيدونکيو لښتيونوم اونښه نشته چې پرغاړو يې شنې مرغې وې، په دوهمه نړيواله جګړه کې چې دډريسډن دبربا ديو کوم تصوير ونه ماليدلی دي. ددې سيمې بربادۍ او کنډوالې ترهغو هم زياتې وې چې څومره سترګو ځارکاوه يوه داسې ودانۍ نه وه چې هغه د له لوټماراو جګړې نه خوندي پاتې وي ، هر لوري ته ويراني اوبربادي وه،

دځينو ودانيو مخکينۍ برخې اوس هم ولاړې وې .چې په هغوکې يوه ديونان هغه عبادتخاي ته ورته وه چې يوازې پرستنو ولاړ دی خوپه دې ودانۍ کې توغنديو اوتوپونو په سلګونو سوري جوړ کړي دي دکوم فلم دننداري په څير ددې ماڼيو شاته هيڅ شئ نشته.

مادافغانستان دبربادۍ اوخرابۍ په باب ډير څه اوريدلي وو، دهغو تصويرونه مې هم ليدلي وو، خو چې کله مې پخپله وليدل دماښام دغه تيارې ډيرې راته وېرونکې اووحشتناکې شوې ، تير ځل زه کابل ته داسې مهال راغلې وم چې دروسانو دوروستيو پوځونو له وتلو څخه څلور مياشتې تيرې شوې وې ،هغه وخت دښار هيڅ

شئ نه وو ویجاړشوي ځکه چې دکابل ښار طبیعي ساتونکي یعنې شاوخوا غرونه یې لا نه وو چیړلي، له دې څخه معلومیده چې دروسانو دتسلط په وخت کې مجاهدینو دې ښار ته زیان نشوای رسولی. له دې پرته چې هوایي ډګر ته نژدې یې یو ځوتوغندي راویشتلي وو. ددارلامان سرك په پیل کې یوه لوري ته یو لوی کانکریتي " سمنتي" ګیراج دی. مادروسي سفیر یوري وارنتسوف سره همدلته مرکه وکړه ، دی پخوا دبهرنیو چارو وزارت مرستیال وُ او ویل کیدل چې په کابل کې تر ټولو ځواکمن سړی دی.

اوس مې دهغو کانکریتي ودانۍ په لټه کې هر لوري ته سترګې واړولې ، خو دښوونځي کلتوري مرکز اوداورلګیتو کارخانې په څیر هغه څلور دیوالي اودننه کانکیتي ګیراج ته ورته ودانۍ هرڅه تباه شوي وو. داټولې بربادۍ مجاهدینو راوړې وې چې په ۱۹۹۲ م کال یې کابل ونیو، او بیا یو له بل سره په جګړو کیوتل، په پیل کې ټول دبدمرغو هزاره قومونو پرخلاف جنګیدل بیا دپخوانۍ دښمنۍ پراساس دحکمتیار اومسعود ترمنځ جګړې ونښتې.

دابربادۍ هغو وسلو راوړي وې چې امریکا ، برتانیې اوسعودې عربو دوي ته ورکړې وې

واعظ په چوپه خو له تر یو کیلو متر پورې موټر چلاوه. دالومړی ځل و چې ما هغه چوپ لیده هغه ټول پام موټر چلولوته اړولي وُ او یو څه پریشانه ښکاریده، په هغه پلن سرك موټرونه هم نه وو، خو ډیر اشتباهي کسان ګرځیدل راګرځیدل زه له یخنۍ څخه په لړ زیدو شوم د ماښام تیارې چې خپرې شوې یخني هم ورسره زیاته شوه.

هغه په بیړه موټر په یوه کږ لیچي کې راوګرځاوه ویې ویل:

زما گومان نه کیږي چې ځوانان به بیرته راشي.دلته له کنډوالو پرته نورڅه پاتې دي، دلته کار نشته په امریکا کې زما په څیر خلک خوښ دي هغه هلکان چې له شپږو کلونو راسي کار کوي اوس ښه ماموریتونه لري هغوی ولې هغه هرڅه پرېږدي اوبیرته راشي؟

دلته دماشومانو لپاره ښوونځي نشته، ته به دلته دمیاشتي چې ډیرې زیاتې وي نوسل ډالره به وګټې ، دماشومانو لپاره ښوونځي هم نشته. مابه په نیوجرسي کې دمالیي له ادا کولو وروسته هم څلویښت - پنځوس زره ډالر ګټل ، هلته چې تاسو کورته ستنیږی نوبرګر اویاپیزه درسره وړای شئ سینما ته یې هم درسره وړای شئ.

چې په تشناب کې ځان مینځې اونل پر انیزې نوتودې اوبه تیزې راووزي وطن ته بیرته راتلل ښه دي خودومره هم ښه نه دي.

ښاغلي دوپرې زما په لار ښوده کتابچه کې مشوره راکړې وه چې:

ښکلې کلاوې، شنه اوسمسور فصلونه اوسپینې وریځې ګوره خودلته چې ماڅه ولیدل کنډوالې وې اود دوو هډوکو سره ککرۍ " دخطر نښې" چې د ماینونو ځایونه ښیې.

له واعظ سره چې ماڅه ولیدل ډیره یې خپه او بیزاره کړم ځکه مې یوازې تکسي ونیو او بیرته د دارلامان دسرك په لور ولاړم، داخل مې غوښتل چې ټول سرك ووینم ، د دارلامان معنی د" امن ځای" ده،سرك د پاچا امان الله مانۍ ته ورغلی دي چې دادهغه خپله شاهي مانۍ وه اوخلك یې دلویدیځوالو دجامویه اغوستو مجبور ول .

له دریو نه دوې برخې سرك زه ځای ځای دریدم اوتصویرونه مې اخیستل . له هغه ځایه لرې دارلامان مانۍ ښکاریدله چې په هر کونج کې یې برجونه جوړوو.

اسمان سرمه یي اوبې روحه ښکاریدو اودمانۍ شاته رنګ غرونه توریدل اوویروونکي ښکاره کیدل دا ځل هم پردغه سرك ګڼه ګوڼه نه وه ،یوازې دیوې معیوبینو دکرسۍ دعرابو غړاتلو،چې یوه له دواړو پښو محروم سړي په خپلو لاسوچلوله، ناڅاپه یوښځه چې آبي چادري یې پرسروه اویو وړوکی ماشوم یې تر لاس نیولی و راپیدا شوه چې هغې زما په توروواوسپینو تصویرونو کې یوڅه رنګ واچاوه هغه زما مخې ته ودریده ،چا دري یې له سره لرې کړه دسپوږمۍ په څیر مخ یې ښکاره شو ،عمر به یې څلویښتو نه نژدې و.

هغې په انګریزي ماته دغرمې د ډوډۍ بلنه راکړه ویې ویل:

مهرباني وکړه کورته راسره ولاړه شه.زما کور دسرك پورې غاړې ته دی.

ماځواب ورکړ چې متاسفانه زه بل چیرته روانه یم، دا دانګریزانو د معذرت طریقه ده په داسې یوه ښار کې چې دټیلیفون اسانتیا هم نه وي داسې بلنه منل بې خطره نه وي.

هغې وویل:

په خیر راغلې ! موږ چې په خپل هیواد کې برتانوي خلك وینو خوښیږو ، په تیره ښځې چې وینو ، الله دې تاسو وساتي.

دټکسي چلوونکي هارن وواهه اوزه یې رابیداره کړم هغې پخوا راته ویلي وو چې په دې سرك زه لوټ اویا وژل کیدای هم شم، زه په ټیکسي کې کیناستم اوبیرته روان شووښځه اوماشوم پرسرك ولاړوو اوموږ ته یې راکتل.

خوچې کله مې وروکتل نوم اونښه یې نه وه.

زما دچلوونکي نوم یعقوب و اوهغه سوچه کابلی و.

څوکداره پزه او وړي ننوتلې سرترګې يې وې، ده ته به دې چې په ځيروکتل ددې عام نظر تصديق کوي چې افغانستان دبني اسرائيلو يوه ورکه شوې قبيله ده ،افغانستان دافغانانو وطن دی ،چا ته نه ده معلومه چې دغه نوم له کومه شو همدغسې دکابل دنومونې سبب هم معلوم نه دی ډيرې کيسې په دې اړه شته چې دډيرويې له انجيل سره تړاودی. بابرپه دې نظر و چې دکابل بنسټ دحضرت آدم "ع" زوی "قابيل" ايښئ دی . هغه په کابل کې دقابيل مزار هم ليدلی و.

ماونټ ستوارټ انفسټن په ۱۰- ۱۸۰۰ م پورې دې سيمې ته سفر کړی و ، هغه لومړنی انګريز دی چې ددې ځای احوال يې بيان کړی هغه ليکلي :

دافغانستان نوم څنګه راپيدا شو. په دې اړه په پوره باور څوك څه نشي ويلی ددې ځای خلك وايي چې دوی دساول پاچا دلمسي " افغاون" اولاده ده برتانوي سفير سرالکزاندر برنس ددې ښار سره مينه درلوده په ۱۸۴۱م کې پرافغانستان دبرتانوي واکمنۍ دمخالفينو لخوا هغه توټه کړای‌شو.

هغه ليکلي چې غالباً دنوح "ع" دوه زامن هابيل اوقابيل دافغان نسل نيکونه دي."( هابيل اوقابيل دحضرت آدم"ع" زامن وو. ژباړن" ) چې کله ددوی پرسترښار دنوم ايښودو وخت راغی نو په هيڅ نامه اتفاق ونه شو چې بيا ددوي دواړو د نومونو يوه يوه برخه راواخيستل شوه اوقا-بل نوم يې کيښود.

دپخواني کابل زياته برخه بابر جوړه کړې وه چې په ۱۵۰۴ م کې يې دغه ښارنيولئ و تر ۱۵۲۵ م پورې دکابل دسيند په جنوب کې ديوې غونډۍ پرسر جوړې کلا بالاحصار کې به هغه اوسيده په

دې موده کې هغه شاعري کوله.

باغونه يې کېښودل ، اوډېر کورني بغاوتونه يې وځپل چې په هغو کې دده دناسکه نيابغاوت هم شامل و چې وځپل شو ،تردې وروسته هغه پر ډيلي حمله وکړه اود ستري مغلي امپراتورۍ بنسټ يې کېښود،بابر کابل ډېر غوره سوداګري ښار وباله اوويل يې چې ددې ښار هوا او اوبه دنړۍ تر ټولو غوره اوبه اوهوا دي،چې دلته واوره نه اورېږي خودوه ساعته وروسته داسې ځای ته رسيږې چې واوره پکې نه ويلي کېږي.

هغه به ويل: دکابل هوا ډېره غوره ده.

کابل په ۱۷۷۶ م کې دتيمور شاه دپاچاهي په وخت کې پلازمينه شو، دی دافغانستان د لومړي پاچا احمد شاه ابدالي دوهم زوی و.

اودي يې پرخپل ځای ناستي ټاکلی و. تيمور دکندهاري قومونو څخه سخت خپه و ځکه چې هغوی دده له پاچاهۍ سره يې مخالفت کړی و، ځکه خوهغه له کندهار څخه کابل ته ولېږديد . دهغه پاچهي ټو له موده دبغاو تونو په ځپلو کې تيره شوه. داسې ښکاري چې هغه له خپلو تجربو څخه هيڅ سبق زده نکړ. ځکه چې ۲۳ زامن يې وزيږول اوده يو هم پرخپل ځای ونه ټاکلو، پايله يې داشوه چې دغه هلکان بيا يو له بل سره په جګړه شول اويو دبل ويني يې توېولې، دځينو يې سترګې وايستلې، ځيني يې د بالاحصار په کلاکې بنديان کړل ، تر دې چې دوی دخپل پلار پرقبر مزار هم جوړنکړ.

دالکزاندر برنس دوژل کيدو سره سم د برتانيې يوپوځ افغانستان ته ننوت چې ۱۸۴۲ م کې جلال آباد ته دتيښتې په وخت کې دهغو زرګونو برتانوي پوځيانو اوددوی دکورنيو دعامې وژنې بدل واخلي،

دغه افسران ددوست محمد دزوی اکبر په مشری په حمله کې ووژل شول ځکه چې برتانیې دوست محمد لرې کړ اوشاه شجاع یې دګوډاګي پاچاپه توګه پرتخت کیناوه په اپریل کې یې شاشجاع دخپلې ماڼۍ ددیوالونه بهر وواژه چې بیا په ښا رکې عامه وژنه پیل شوه.

دتیمورشاه نه وروسته دده دزامنو په کورنۍ جګړه کې شاشجاع هم شامل و ، چې لومړی ځل ۹-۱۸۰۳پوري پاچا و. برتانوي سفیر ماونت ستوارټ انفستن دده دژمي پلازمینې پېښور کې دده دربار ته ورغلی و، هغه یې وروسته د دربار په باب ویلي وو:

هغه په ګاڼو کي پټ و دومره ګاڼې اوطلاوي یې اچولې وې چې مونږ ګومان کاوه دده سره دغمیو خزانه ده.(۱)

د هغه په ملاپورې به د غمیو کڅوړه تړلې وه . دزمردو په یوه بازو بند کې د" کوه نور" غمۍ ځلیده، دهغه تاج ډیر ښکلی اوشاندارو چې ځلا او ښکلایې په الفاظو کې نشي بیا نیدای.

ددغه دبدبې اوشان سره بد مرغه شهزاده خپل ورور شامحمود له تخته محروم کړ چې وروسته بیا دشاه محمود تخت هم چپه کړای شو، شاه شجاع په هند کې دجلاوطنۍ ۳۰ کلونه تیرکړل .چې بیا دسکانواوبرتانیې په مرسته بیرته تخت په لاس

ورغۍ(۱)

هغه زرینې اوله غمیو ډکې جامې اغوستې او په یوه سپین اس سپور بیرته راستون شو خوداففان اولس دهغه بیرته راستنیدل خوښ نه شول ځکه خو دده دواکمنۍ دساتنې لپاره هندي پوځ په کابل کې میشت شو پوځ پردي پوهیده چې ډیره موده به دلته پاتې شي ځکه یې مورچلونه جوړکړل اوخپلې میرمني او اولادونه یې هم را

وغوښتل"،ویل کیږي چې له ځایي ښځو سره هم دهغوي اړیکی ټینګې شوې وې" هغو دښوشرابو اوخدمتګارانو بندوبست هم وکړ شوقي ډرامې به یې جوړولې، دواورې پرمخ سکې اودښکار شوق به یې هم پوره کول.

دشاشجاع وژل کیدو معنا داوه چې دبرتانیې وقار تر ګواښ لاندې شو دبرتانیې دتاریخ تر ټولوسترې عامې وژنې اولس ډیر په غوسه اوغمجن کړ څکه خوتر سپتمبر پورې په افغانستان پلازمینه کې بیرته دانګریزانو بیرغ ورپول شو برتانوي پوځ دخیبر له لارې کابل ته ورسید اوخپل بدن یې واخیست برتانوي پوځ د ۱۵ مې پیړۍ یادګار سرپټ بازار وسوځاوه. سیلانیانو ویل چې چارچته بازار ښکلی ځای و. دپراخ بازار سره څلور چته لارې وې په منځ کې یې یوه فواره وه، دا دمنځنۍ آسیا څلور لارې وه چې دلته له شمال څخه دچین وریښم اوکاغذ. له ختیځ څخه دهندوستان مصالې ، غمي اوخوربویه لرګي او له لویدیځ لوري څخه دایران اوترکیې ښیښې ، لوښي اوشراب او له هر لوري غلامان دلته راتلل پلورل اوپیرل کیدل ، برتانوي پوځیانو داهر څه تباه اوبر باد کړل اوښار ته یې اور واچاوه، دا دومره ویروونکی اوروء چې د برتانوي پوځونو دوتلو نه دوې ورځې وروسته هم بلیده اولمبې یې تر لرې لرې ځایونو لیدل کیدې ،دتیرې تجربې په رڼا کې داخل انګریزي پوځ هلته پاتې نه شو په راتلونکي کال ۱۸۴۳ م کې دوست محمد په چوپه چوپتیا تخت ونیو، او انګریزانو ته یې وویل چې زه دلرګي څمڅه یم چې هر لوري ته مې واړوي زه هیڅ نه په زحمت کیږم دوژنو او لوټمار اوله افغانانو سره له دلومړۍ جګړې نه وروسته چې دبې شمیره خلکو وینې پکې تویې شوې، برتانوي

پوځونو افغانستان هماغسې پرېښود په کوم ډول یې چې لیدلئ وء.

دبرتانیې اوافغانستان ترمنځ ددوهمې جګړي سبب دانګلستان ویکتور یا او دروس زار ترمنځ دښمني وه ځکه چې روسیې په خپلو پوځې نقشو کې دخپلو جنوبي بریدونو له ښودلو څخه ډډه کوله.

دغه جګړه په ۱۸۷۸ م کې پیښه شوه چې کله افغانانو دروس پرخلاف په جګړه کې له ګډون څخه ډډه وکړه اویا یې دروسي پلاوي په بدل کې دانګریزي پلاوي له منلو څخه ډډه وکړه ،پردې وضعه برتانیه په غوسه شوه او ۳۵ زره پوځونو یې خیبردره ، جلال آباد اوکندهار ونیول چې له همدې امله افغانستان خپل دریځ بدل کړ ، د ۱۸۷۹ م کال په جولای کې سرلویې کیوناري پرېیل سپور کابل ته ننو ت اودهغه دساتنې لپاره د" کایډز کیو لري" پنځه تنه هندي سرتیري وو.

. دی له برنس وروسته په کابل کې لومړی سفیر وء شپږ اونۍ وروسته یې دی هم وواژه ،دی هغه وخت ووژل شو چې په بالاحصار کې دننه پر برتانوي سفارتخانه باغي افغانانو حمله وکړه ،یوه ورځ وړاندې هغه تیلګرام استولی وء چې" هرڅه سم دي" دکابل والي په ویاړ دهغه سر په ټول ښار کې ګرځولی وء.

یوه میاشت وروسته دجنرال فرید رك را برټس په مشرۍ پوځ بالاحصار ته ننوت ، دجنرال په وینا پرغولي وینې وې ، او ډېرو سکرو په انبار کې دانسانانو هډوکي راووتل ، ده یو څېړندوی کمیسیون وټاکه اوهغه چا ته یې چې مخبري وکړي انعامونه هم اعلان کړل ، ددې فرصت څخه ډیرو افغانانو د خپلو دښمنیو په کټلو کې ګټه واخیسته چې ددې په نتیجه کې په سلګونو افغاني سردارانو

ته دښار وال په شمول دکلا دننه په میدان کې پانسي ورکړل شوه، دهمدې پسرلي په موسم کې انګریزانو کلا ورانه کړه اوجنرال رابرټسن وویل:

دابه زموږ دبدل اخیستودځواك همیشني یادګاروي.

بیا انګریزانو تخت اوتاج د دوست محمد خان لمسي عبدالرحمن خان ته وسپاره، خولا جګړه پای ته نه وه رسیدلې، دعبدالرحمن خان دتره زوي ایوب خان چې د هرات والي و، پریکړه وکړه چې افغانستان له انګریزي اجنټانو څخه پاك کړي اوتخت ونیسي. هغه پرکندهار حمله وکړه اوهلته یې یوه وړه پوځي چونۍ ونیوله، دکندهار په لویدیځ کې دمیوند په دښته کې برتانیې په اسیا کې تر ټولو بده ماته وخوړه چې په هغو کې یې زرتنه پوځیان ووژل شول.

پوځل بیا جنرال رابرټسن دبدل لپاره خپل پوځونه راټول کړل او له کابل څخه یې پرمختګ پیل کړ. دخپل مورال داوچتولو لپاره هغه په لاره کې دشمپاین شرابو غوړیونه کول او دده لس زره پوځ د ایوب خان پر پوځونو بری ومونده دده یوازې ۳۵ تنه پوځیان ووژل شول.

له افغانستان څخه دبرتانیې وروستي پوځونه د۱۸۸۱ م په اپریل کې له کندهار څخه ووتل.هیواد یې عبدالرحمن خان ته پریښود، هغه دې ته تیار و، چې بهرني سیاست انګریزانو ته وسپاري، ددې په بدل کې ده دبهرني تیري" په وړاندې له انګریزانوڅخه دپوځې مرستې غوښتنه وکړه هغه دبرتانیې ترسحر لاندې راغې اوله برتانوي سفیرانو څخه به یې تل دیوې ښځې د درلودو د سبب پوښتنې کولې بالاخره هغه دې نتیجې ته ورسیده چې په توده او نمجنه هوا کې برتانوې نارینه یوازې دیوې ښځې د ساتنې وړوي.

هغه په خپلو حیرانوونکیو دڒوندخاطر وکې کښلي دي:

دپاچا په خیر زما ژوند دګلونو په فرش نه دی تیر شوی.

زماډیر خونړي جنګونه له خپلوخپلوانو له خپلوخلکو سره او له خپل رعیت سره شوي دي ،ما په خپله یوویشت کلنه واکمنی کې دغیر پښتنو ترڅلویښتو زیات بغاوتونه ډیر په بې رحمې اوسخت زړي ځپلي دي اوښې عامې وژنې مې وکړي ځکه خوهغه ته" پولادي امیر" ویل کیدل ، دپاچا داسنادو مسوول ته ویلې وو چې که دې په حساب کتاب کې څه تېکي راووته نولاس به دې غوڅوم.

دده سزاګانې دومره سختې وې چې کله یو دواده خاوند سړی اویوه میړوښه ښځه وتښتیدل اوبیا یې راونیول اوده ته یې راوستل امیر سړی ته وویل چې داښځه دې ډیره خوښه ده نو ستاشوه اوتاته به یې درکوم ، بیا یې ښځه په جوش اوبوکې دومره وخوټو له چې ښوروا ترې جوړه شوه اودغه سړي یې په خوړلو مجبور کړ او وروسته یې بیا هغه غرغره کړ. ددې سزا هدف داوء چې دغه سړی نه یوازې په دې دنیا بلکې په آخر ت کې هم په عذاب کې وي ځکه چې انسان خوړونکی جنت ته نشي ننوتلی.

دعبدالرحمن خان لمسي امان الله خان ته دنوي پلازمینې جوړول په ذهن کې ورو ګرځیدل هغه ۱۹۱۹ م کې هغه مهال پاچا شو چې پلار یې جبیب الله خان په جلال آباد کې دښکار په وخت کې چا وواژه هغه په ۲۸-۱۹۲۷ مې کې ډیلي ، تهران اواروپا ته سفرونه وکړل. چې په هغو کې دخپل هیواد په وروسته پاتې والي پوه شو اوکلکه اراده یې وکړه چې هیواد یې پرمختګ وکړي.

ده دنوې پلازمینې دجوړولوکار دفرانسې اوجرمني دودانیو

جوړولو ماهر ينو ته وسپاره چې دغه پلازمينه دومره شانداره وي چې يو يادګار پاتې شي.
ده دوزيرانو او مخورو لپاره شانداري ماڼۍ داروپا په څير جوړې کړې دپارلمان لپاره يې په باغونو کې دارلامان جوړ کړ، جرمني انجنير انو له ښار سره د دارلامان دنښلو لو لپاره دوړوکي ريل پټلۍ وغځولې.
په دي شپړميله لنډه پټلۍ دوړخي درې ځلې ريل تلو راتلو، په افغانستان کې دايوازينۍ دريل کرښه وه. شاه امان الله دنوې پلازمينې پرجوړولو ډاډه نه وء.
ځکه يې دبابر دخوښو ځايونو له جملې څخه يو دپغمان دغره په لمنه کې د"شمله" په څير دتفريح ځاې لپاره وټاکه .هلته يې دسويس په څير ډنډونه اودالانونو اودايتاليې په څير ماڼۍ جوړې کړې په لارو کې يې دصنوبر ونې کښينولې.
دموزيك لپاره يې چوترې جوړې کړې يو بشپړ تياتر ، يو تك سور جومات، او دفتحې دياد ګار په توګه يې يوه محرابې دروازه " طاق ظفر" اودپيلانو کتار مجسمې جوړې کړې.
ډير کلونه وروسته روس افغانستان ونيو، په دې موده کې پغمان اودارلامان دجګړې ډګر شول. پغمان، دجهادي مشرانو له جملې څخه دسياف مرکز و .دغه ښار ګوټی له يوې مخې پربل مخ واوښت.
ځلوېښت زره اوسيدونکي يې ترې ولاړل يوازې پينځه کورنۍ هلته پاتې شوې، دارلامان هم کله ديو چا په واك کې وء او کله دبل ، که څه هم دارلامان وداني پاتې شوه خويوازې سوځيدلی چمبرېې .
کړکۍ يې ورانې شوې ديوالونه يې په توغنديو سوري سوري

شول او ګنبزه يې هم زيانمنه شوه.

ددې برباد شوي سرك بلې غاړې ته دكابل موزيم دى چې د دروازې پر سريې اوس هم دپرانيستل كيدو اوترل كيدو وختونه ليكل شوي وي، دهغو لويديځه برخه ويجاړه شويده، بام يې را لويدلى دى پرځمكه هر لوري ته دګوليو تشى تولى پرتې دي ، زه چې كله هلته ورغلم نو دروازه يې ترلې وه هغه مهال درې كسان راغلل ديوه سپينه ږيره وه له بنې ځخه نيك بنيادم ښكاريده چې خپه وه.

هغه يوكريمې شال اغوستى وه ويې ويل چې دى عرفان مسعودي ددې موزيم مسوول دى چې زما ورسره په دې خبره شوې وه چې موزيم را وښي.

هغه پرخپله ملاكې بنديوه زنځير ځخه يوه اوږده كلي راواخيسته او ويې ويل:

زموږ موزيم دنړۍ له لويو موزيمونو ځخه وه بيايې دروازه خلاصه كړه اوزياته يې كړه.

زموږ سره دمنځنۍ آسيا دلاسي كارونو نادرې نمونې وې خواوس يې ته پخپله ليداى شې چې دغه ستر موزيم په يوه ستره غميزه بدل شوى دى.

مسعودي چې دروازه خلاصه كړه ماته يې دننه ورتلو اشاره وكړه دا دننه تالار وه چې يوه زينه پكي وه چې پاس ختلې وه دزينې دواړو لوريو ته چوترې وې چې اوس تشې وې ،ښي لوري ته دِالماريو اسكليټونه پراته وو پريوې چوترې هم ځه كباړ پروت ښكاريدو په ديوال يو تور او سپين تصوير راځړيدلى وه چې دكنداهارا دوخت ديوه بوځي دمجسمې تصوير وه چې ډير اغيز منوونكى وه.

هغه یوه تصویر ته اشاره وکړه ویې ویل: دا ددوهمې پیړۍ دستر پاچا کنیشکا دمجسمې تصویردی.

هغه دیوې بلې تشې چوترې الماری ته اشاره وکړه ویې ویل: هغه کشن شهزادګۍ ده، په هغه الماری کې د ډېرو دوه لوی لوی مرغان وو چې تابه هیڅ نه وولیدلي هغه زما اوستا په اندازه لوی لوی وو دا هغه مهال تراشل شوي ووچې ژول سیزار په روم واکمني کو له او هون دچین امپراتورو؛

ماترې وپوښتل:

نوڅه وشول؟

هغه سوړ اسویلۍ وکیښ ویې ویل:

دطالبانو داطلاعات اوکلتور وزیر قدرت الله جمال دیوه پلاوي په مشری په فبروري کې دلته راغی له هغه سره د امرٌبا لمعروف او نهی عن المنکر دوزارت لیکلی اجازه لیك وء زه دلته نه وم.

هغه مهال دموزیم دریاست دمرستیالی له دندې څخه ګوښه شوش وم ځکه چې کله طالبان واکمن شول زه وپوهیدم چې داځنګه خلك دي ،ماپخپلو سترګو دخپل تاریخ ویجاړیدل نشواي لیدای ځکه خو په کور کې کیناستم مادرې پرواهم نه کو له چې دخوراك لپاره مې څه نه درلودل زموږ یو کارکوونکی خلیل الله دلته و ،هغوی هرڅه پخپلو سترګو ولیدل.

دتورجاکټ خاوند یوه تن وویل:

هغوي شپاړس کسان وو وسله وال ساتونکي به ورسره وو هغوی په څوټکانو او تبرونو د مجسمو په ماتولو لاس پورې کړ پردې ډیر خوښ وو اودماشومانو په څیر یې خندل.

هغه دکنیشکا پاچا دمجسمې تصویر ته اشاره وکړه او زیاته یې کړه:

داطلاعات اوکلتور وزیرچې په قام پوپلزي و،دکنیشکا مجسمه یې په خپله ماته کړه ، داډیره لویه وه اوماتول یې ګران وو هغه پرخپل پتهو مجسمه وتړ له اوراکش یې کړه پرځمکه یې راوغورځو له اوبیایې په تبرو نو ماته ماته کړه ،وروسته بیا تر درې میاشتو پورې هره ورځ هغوی راتلل اومجسمې یې ماتولې تر دې چې ټولې یې ماتې کړې ځینې مجسمې دمرمرو ډبرو څخه جوړې وې دهغوی دماتولو لپاره یې لوې لوی هغه ځتکونه راوړل چې په غرونوکې دډبروماتولو لپاره کارترې اخلي.

دلته دمجسمو ماتولو څخه څو اونۍ وروسته هغوی دبامیانو دبودامجسمې هم په بمونو والوزولې.

ماترې وپوښتل:

چې تاهغوي په دې ورانولو اوماتولو ولیدل څه دې ورته وویل؟

هغه وویل:

موږ مزدوران یو یوازې دماتولو سیل موکاوه.ځکه چې اعتراض کول ډیرې خطرناك وو دا امر ملاعمر کړی و، چې په رادیوکې یې اعلان هم وکړ هیچا اعتراض نشوای کولی په والله چې موږ یوازې دومره کولی شوای چې ټوټې راټولې کړو اوخوندي یې وساتو.

موږ پرزیټو وختو، دډبرې له یوه لوی بوتل څخه تیر شوو لاندې یوه اوږده کوڅه وه چې ټولې کړکۍ یې ماتې شوې وې او دډیرویې چتونه هم نه وو.

مسعودي وویل: یوازې طالبانو داتباه نه کړ، دغه سیمه دشمال

ټلوالي اوحکمتيار دکسانو ترمنځ دجګړې ميدان هم وء دلته اوسيدل ډير خطر ناك وو په ۱۹۹۳ کې دلته يو توغندی راپريووت چې ټو له سيمه يې وسوځوله موږ دډيرو شيانو په ژغورلو بريالي شوو ډير نه پيدا کيدونکي آثار موږه بکسونو کي ځای پرځای کړل دجګړه مارو قوماندانانو له لوټ څخه دساتنې په خاطر مودرانه کلپونه ور واچول.

بيا موداوسپنودروازې ورته کيښودې خوبيا هم هغوی راورسيدل اوډير لوی لوی شيان يې يوړل چې دانسان له قد څخه هم لوي وو.

موږ اوروچې دموزيم آثار په اسلام آباد، پاريس، لندن اوامريکا کې پلورل کيږي، زموږ دپخواني آثارو يوه ماهر دنيوپارك په موزيم (ميټروپوليټن) کې يولاسي صنعت ليدلی وء چې ننداری ته ايښودل شوی وء. خوموږ څه کولي شوای دطالبانو تر راتلو پورې موږ له ا ويا فيصده آثارو څخه محروم شوي وو. هغه راته وويل چې ۲۵ کاله يې په موزيم کې کار کړی دی ماترې وپوښتل چې ستا څه شی ډير خوښ وو.

هغه ماته دهغه پلار په څير وکتل چې ترې وپوښتل شي چې دخپلو بچيانو څخه دې تر ټولو دګران نوم واخله بيا يې وويل:

زموږ سره ډير شيان وو، دماقبل تاريخ ځينې سامانونه وو چې له بدخشان څخه لاسته راغلي وو، پنځلس زره کاله پخوانی تختې وې چې څه پرې ليکل شوي وو اوله غزني څخه لاسته راغلي وې، دنړۍ دسکوله ډيرې لويې زيرمې څخه يوه زموږ سره و چې په هغوکې ديونان دلومړی پيړۍ دسپينوزروسکې هم وې دهندوستان دپيلانودغاښونو په ټوټو ښکلی شوی زين، داسکندريې دښيښې لوښي، دګوتم بد مجسمې دوينس ديوی مجسمه اود"پکړيا" طلا،

داتول ډیر خاص اوځانګړي شیان وو.

په ۱۹۹۶ کې دطالبانو له راتګ سره سم انځور ګري او له ډېرو څخه دژوندي شیانو بوتان جوړول بت پرستي اوغیر اسلامي اعلان شول ددوی داپریکړه دموزیم لپاره ډیره بربادي راوړه مسعودي وویل:

داډیر بد وخت وء،ځنې شیان موږ دجګړه مارو قوماندانانو څخه وژغول اوداطلاعات اوکلتور وزارت په تاکاویو کې مو ایښي دي، خوچې طالبان راغلل دانساني څیرو اوځناورو پرخلاف نظر یه یې راوړه ځکه یې هغه ټول شیان له منځه یوړل راشه تاته یې دروښیم!

دموزیم په لیدو ترپنځه دقیقو هم کم وخت ولګید، دا شاه امان الله جوړ کړی وء یو وخت په دې کې یولك قلمه نادرې نمونې وې، چې له مختلفو دورو اوجګړه مارانو سره یې تړاو درلود اوپه پیړیو پیړیو دافغانستان په سیمه کې تیر شوي اواوسیدلي وو. دهغو ګرانبیه شیانوڅخه چې تر اوسه پورې څه شیان پاتې دی، په هغو کې دنولسمې پیړۍ دمرمرو ډېرو یوه دروازه، دهلمند پنډه اوني تکه، او یو کندهاری بوتل دی،چې پرهغو څه کرېږ وړېږ اوماتې لیکنې دي ،طالبانو ګومان کاوه چې دا اسلامي جملې دي ځکه یې له ماتولو تیر شول،ماتر ي ویوښتل چې دطالبانو له تیښتې وروسته چې کله تادابربادي ولیده نوڅه احساس دي کاوه، هغه په بې وسی راته وویل:

ماښې اوښکی راتم نکړای شوې. د اډیر ګرانبیه موزیم وء چې اوس هیڅ یکې پاتي نشول ، بیشکه هنرمن چې څه شی جوړوي هغه ډیر ګرانبیه وي، دهنرپخوانې شیان خو بیرته تر لاسه کولای نشو هغه زیاته کړه:

هغوی غوښتل چې زموږ هیواد هیڅ تاریخ اوښه ونه لري ددې ذمه وار پاکستان دي، پاکستان فکر کاوه چې موږ افغانستان نیولی دی هغوی د خپلو ګوډاګیانو ( طالبانو ) په لاس زموږ د تاریخ او کلتور دله منځه وړو هڅې وکړې، ځکه چې دوی نه کوم تاریخ لري او نه کلتور! طالبانو ته پاکستان دا حکم کړی ؤ، زما په نظرخو چې هغوی کومه بربادي راوسته دا یو نړیوال جرم دی، چې باید سزا یې ورکړای شي.

هغه د دروازې په لور چې نوې جوړه شوې، ولاړ زه وریسې وم. هغه د خپلې ملا څخه یوه بله کلی راوایسته او د زیر مې د خونې دروازه یې خلاصه کړه.

بیا یې وویل:

اوس اصل موزیم دلته دي؟په غولي او الماریو کې بې شمیره صندوقونه چې تابوتونو ته ورته وو. ښکاریدل په دې صندوقونو کې د مختلفو ماتو شویو مجسمو ټوټې وې، ځو ټوټې دومره نویې وې چې لاس او مخ یې ښکاره کیدل خو زیاتره ټوټې ډیرې وړوکې وې، داسې ښکاریدې لکه پر هغوی چې بلدوزر ګرځیدلی وي، په ځینو صندوقونو کې تور او سپین تصویرونه وو، په هغو کې د موزیم خپل کتاب هم و، په هغه کتاب کې په موزیم کې د ایښودل شویو لرغونو آثارو تصویرونه وو. د زرګونو کلونو تاریخ د ځو ړیرورو کسانو له لاسه په تبرونو ټوک ټوک شو.

د هغوی هدف کلتوري عام قتل ؤ.

خلیل الله په فخر راته وویل:

دا هغه تړتې دي چې موږ وژغورلای شوې، موږ دا له طالبانو څخه پټې وساتلې اوس به موږ هڅه وکړو چې دا بیرته سره ترمیم کړو.

د لاړښود کتاب په یوه مخ کې د مرمر ډبرو یوې بګی تصویر و، چې دوو اسونو کشوله هغه یوه ګاډي وال (کوچوان)، چلوله، پر هغو د لمر د رب النوع سوریا "تنبان جوړ شوی و، چې په پینځمه پیړۍ کې د برهمنانو د درمسال برخه و.

زه پر دې ونه پوهیدم چې تړتې به بیرته څرنګه سره ونښلوي خو چې د خلیل الله سترګو ته مې وکتل څه مې ونه ویلای شوای.

هغه زما په پوښتنه وپوهیده ویې ویل:

زموږ سره تصویرونه او اسناد شته او یو نسکو هم را سره د مرستې ژمنه کړې ده.

موږ بیرته د دروازې لوري ته روان شوو. ما د سعودي نرم لاس پر خپله اوږه احساس کړ زما له سترګو اوښکې بهیدلې فکر مې کاوه چې په دې هیواد کې چې ما کومې وژنې او لوټمار ولیده له هغو وروسته پر ماتو لوښو او مجسمو اوښکې تویول بې عقلي ده.

هغه وویل:

د موزیم په باب مایوسي مه کوه، موږ یې بیرته رغولای شو. ته پوهیږې چې ۲۳ کاله جګړې ډیره اوږده موده وه، یو څوك خامخا وژل شویدي، زما خپل ورور چې ډیر ښکلی او مزیوت ځوان و، د توغندیې په بریدکې فلج شو.

دایې یو معمولي مثال دي، کیدا شي چې موږ خپله ماضي ورکه کړې وي، خو اوس راتلونکې ارځښت لري.

ته پوهيږي چې موږ د څو شيانو په خوندي کولو کې بريالي شوي وو، اوس ويل کيږي چې امن ټينګ شوی دی.

خو موږ هر چاته آن تردې چې وزيرانو ته هم دا نښو ويلی چې هغه شيان موږ چيرته ايښي دي، که هغوی پوښتنه وکړي ورته وايو چې" تر آسمان لاندې" پخوا چې کومو کسانو توغندې توغول، په هغو کې ځينې کسان اوس حکومت چلوي.

په دروازه کې چې مسعودي ما ته خدای پاماني ويله يو لاس يې پر غوږ کيښود او ويې ويل:

تا څه واوريدل!

ما مې پخپلو غوږونو زور راوړ په غرونو کې مې د توپونو د ډزو غږ واوريد، بيا مې احساس کړه چې د سرك په پورې غاړه د مانۍ په باغونو کې کوم مرغه غاړې کوي.

مسعودي وموسکل:

له کلونو راسې په دې ښار کې کوم مرغه نه دی ليدل شوی. زه لا هلك وم دلته ډيرې ونې وې، د توتانو، اکاسي او ولوونې وې، سپيدا رونه وو، او ښار د دغو ونو په وړمو کې خوږ بويه و. لومړی روسانو هغه ونې غوڅې کړې چې مجاهدين پکې مورچل ونه نيسي، بيا عامو خلکو د خسو لپاره هغه ووهلې نو بيا به د مرغيو لپاره کوم ځای پيدا شوی و.

هغه د موزيم په کنډوالو کې ورك شو.

په دې سهار مې د السکاندر برنس د" کابل احوال" لوستلو چې هغه په ۱۸۳۲ م کال کې د کابل د لومړي سفر په وخت کې ليکلي و، هغه کابل له جنت سره تشبيه کړی دی، ليکلي يې دي:

هلته د زردالو، انګور، شاه توت، ناك، شفتالو آلو بخارا، مڼې، بهي، چارمغز او انارو ونې دي او دا ټول په يوه باغ کې دي، پر ونو بلبلې، قمري کوترې او نور مرغان غاړې کوي.

هغه د کابل د مرغانو په غاړو مين ؤ، وروسته بيا د ده يوه افغان دوست ده ته د کابل يوه بلبله تحفه را استولې وه، چې ده " بلبل هزار داستان" نوم پرې ايښی ؤ.

په ټيکسي کې چې بيرته راتلم په خيال کې راوګرځيدل چې ما د کابل د نومونې د سبب پوښتنه له مسعودې څخه ونه کړه، امکان لري ده سهي راته ښودلې وای داسې خاوره چې ماضي کې يې هر څه درلودل خو د دوی پلرونو او نيکونو په جګړوکې برباد کړي، اوس دلته يوازې راتلونکې پاتې ده.

راتلونکې هم زما په پخواني دوست حامد کرزی پورې اړه لري، دی يې د افغانستان د لنډ مهالي ادارې مشر غوره کړی دی، د بن په يوه هوټل کې افغاني جرګې د نړيوال فشار په نتيجه کې دی وټاکه، د هوټل ادارې هم پر دې ټينګار کاوه چې ژر ترژره پريکړه وکړي ځکه چې دوی دغه ځای د غاښونو جوړولو د کانفرانس لپاره ورکړی ؤ، حامد په راتلونکې اونۍ کې لوړه کوله، دی يې په الوتکه کې له کندهار څخه کابل ته راووست او په پخوانۍ ماڼۍ" ارګ کې به د لوړې مراسم وي، چې اوس د جمهور رئيس په دفتر بدل شوی دی. چې دلته ډير واکمنان وژل شوي هم دي، حامد زه همدلته ډوډۍ ته وربللې يم.

چې کله زه د جمهوري رياست د ماڼۍ دروازې ته ورسيدم نو ښار د ماشيندار و او الوتکه ويشتونکيود دافع هوا، ډزو په سر اخيستی ؤ،

ملایانو د اختر د میاشتې لیدو اعلان کړی ؤ، چې معنی یې دا وه چې د رمضان میاشت پای ته ورسیده، په دروازه کې ساتونکیو چې ټول پخواني مجاهدین وو، خپلې ځیرې بدلې کړې وې او چپلکې یې پښو وې، په داسې حال کې چې د تودوخې درجه له صفر څخه ټیټه وه، هغوی چې زه ولیدم ډزې یې بندې کړې او کلاشینکوفونه یې ښکته کړل، ماته یې په شك او بدګومانۍ وکتل، قوماندان یې رانه وپوښتل: ته څه غواړې؟

ورته ومې ویل:

له کرزي سره مې د لیدو پروګرام دی،

هغه وویل:

ته خبریاله یې، خبریالانو ته دننه د تلو اجازه نشته بیرته ولاړه شه او سبا سهار راشه، ما ټینګار وکړ:

نه زه د هغه دوسته یم، د شپې ډوډۍ ته زما انتظار کوي.

هغه وویل:

مورې ته د هغه په باب هیڅ معلومات نشته، ته خبریاله ښکارې، بیرته درومه! بیا یې په زوره په څمکه توکړل او ولاړ.

ما سخت ټکان وخوړ، دا لومړی ځل ؤ، چې په افغانستان کې له ما سره چا دومره د بداخلاقۍ چلن وکړ، خو زه ګړندۍ په هغه پسې ورغلم او ومې ویل:

که ما پرینږدې چې ننوزم نو ښاغلی کرزي به سخت خپه او غوسه شي له هغه سره همدا اوس په مخابره خبرې وکړه.

یوه مجاهد وویل:

زموږ سره مخابره نشته! د هغوی سترګې سرې سرې ګرځېدلې وې، ګومان کوم چې نصواریان وو.

هغه راته وویل:

په هر صورت تر اوسه کرزی هیڅ هم نه دی، موږ د ربانی ساتونکي یو.

د شمال تلوالي پوځیانو چې کابل ونیو نو برهان الدین رباني د اتحاد مشر په توګه اعلان وکړ، چې دی د افغانستان جمهور رئیس دي، هغه د بن غونډه او د حامدکرزی د ولس مشر ټاکل نه خوښول، دا د رباني د اقتدار هوس و، چې کابل په تیره د دارلامان د ماڼۍ د بربادۍ او ورانیدو لړۍ پیل شوه د ترونه له مخې ده باید په ۱۹۹۲ م کې واکمنی پریښې وای ځکه چې ترون شوی و، چې د مجاهدینو مشرانو به د شپږو شپږو میاشتو لپاره اقتدار اخلي.

اوس ماته دا معلومه نه وه چې د صدارتي ماڼۍ دوه تنه برخه وال دي.

موږ په دروازه کې ولاړ پاتې شو و او ساتونکیو دننه نه ور پریښودو، زما پردې تینګار یې خندل چې زه به بیرته ستنه نشم، دغا مهال د ننه د یوه موټر ځراغونه رابنکاره شول.

موټر د حامد یوه د تره زوی چلاوه چې ما په کوټه کې ورسره لیدلي وو، هغه ډیر په ښه مهال راورسید،

یو ساعت وروسته چې زه کله نیمې روښانه ماڼۍ ته ورسیدم او حامد مې چې کیسه واوریده وارخطا شو دی او ورور یې شاولي چې په الوتکه کې یې له امریکا نه راوستې و، ډیر پریشانه ښکاریدل د دوی سره یې تره عزیز هم و. موږ په یوه وړوکي او اوږده کوټه کې د بریښنا

يوې بخارۍ ته کيناستلو، د کوټې پر کړکيو او وره پردې راځړيدلې او پر ديوالونو منظرې راځوړندې وې، حامد يوه پيکه شنه او توره لونګۍ پر سرکړې وه چې څنډې يې په زر تارو جوړې وې، دی د څرمنې پوښ په يوه آرام کرسۍ ناست و، تيرې دوې مياشتې يې د ارزګان په غرونو کې له طالبانو سره په خبرو اترو تيرې کړې وې، چې هغوی وسلې کيښودې ډيره يې تقريباً سپينه شوې وه.

حامد غالباً د افغانستان لومړنی قبايلي سردار دی، چې خپله مليشه نه لري څو ورځې وروسته به ده ته داسې مليشه په لاس ورتله چې داسې جنګيالي مشران به پکې شامل وو، چې يو له بل سره جنګيدلي وو.

يو د بل کسان يې وژلي وو، او د هغوی پر ځمکو يې خيټې اچولې وې خو دې نه يريده له روايتي فخر څخه ډك و او د خپل هيواد لپاره تر سر تيريدو ته چمتو و.

زه چې کله کابل ته ورسيدم نوده د جنرال فهيم او يونس قانوني سره کتلي وو، راته ويل يې:

هغوی رانه وپوښتل چې ساتونکي دې چيرته دي؟

ما ورته وويل چې له نن وروسته تاسو زما ساتونکي ياست پر دې هغوی حيران شول.

زه د حامد پر خبرو حيرانه نه شوم دده اصول خوښول مې وستايل خو د افغانستان په خونړي سياست کې پر داسې خلکو يوه شيبه هم باور او اعتماد کول ليونتوب دی، چې د يوه پښتانه د بيا ولس مشر کيدو څخه کرکه کوي دغه خلك پخپله غواړي اقتدار تر لاسه کړي، زه

حیرانه شوم چې حامد له ځان سره له کندهار څخه د پوپلزیو وسله وال کسان ولې رانه وستل خو حامد دا اراده څرګنده کړه:

زه به په واك کې د پاتې کیدو لپاره یو میړی هم ونه وژنم.

د کابل د جمهوري ریاست په قصر کې د ده د صدارت د مراسمو لپاره ترتیبات نیول کیدل چې د هغو په مناسبت به له برتانیې څخه تر امریکا پورې جشن جوړیده او دغه مراسم به په تلویزیون هم ښکاره کیدل خو هغه خلکو ته په دې خوښو کې ګډون ګران وو، چې ډیر کلونه په پیښور او کویټه کې له خپل هیواده لرې او جلا وطن پراته وو، او هلته له مایوسۍ او خواشینۍ سره مخ وو، نه هغو خلکو ته څه د خوښۍ ځای و، چې د کندهار په ډنډونو کې یې اوبه څښلې او په خرچنګونو" کنی کبرونو" یې ګوزاره کوله، چې کله ما د حامد په څیره کې ګونځې ولیدې نو د خوښۍ پر ځای خپه شوم، داسې راته ښکاره شوه چې د ده د زړورتیا له الاپو سره د زړه احساساتو ملګرتیا نه کوله تر اوسه پورې موږ ډیرې خبرې اترې نه وې شوې، چې دې جګر او روان شو ځکه چې له رباني سره یې څه ستونزه پیدا شوی وه، عزیز کاکا د ظاهر شاه د تشریفاتو د قطعې مرستیال پاتې شوی و، ځکه خو هغه په مانۍ کې ښه بلد و، هغه ماته د مانۍ هغه برخه راوښودله چې دوی پکې اوسېدل ورسره جوخت یې تبصره هم کوله د افغاني شاهانو کیسې یې کولې، یوه کیسه دا وه چې رباني د یوې پخوانۍ قالینې د تر لاسه کولو ضد کاوه، هغه له دې څخه خبر نه و چې دغه نمونه غالۍ د برتانیې ملکې ویکتوریا امیر عبدالرحمن خان ته د سوغات په توګه را استولې وه.

لومړی یې زه د طاووس کوټې ته بوتلم، چې هلته دی او شاه ولي ویده کېدل، د کوټې پر دیوالونو کاغذي منظرې وې چې پر هغو په سلګونو طاووسان انځورشوي وو، خو طالبانو د طاوسانو پر سرونو سپین رنګونه وهلي وو، عزیز وپوښتل: ته اټکل کولی شې چې په دې لیونتوب به څومره وخت لګېدلی وي؟

د خوراك د کوټې وضعې هم له دې څخه توپیر نه درلود، پر دیوال خاپونو دا ښودل چې دلته یې هم د مرغانو سرونه رنګ کړي دي، ځینو یې پر چاقو روغني انځورونه غوڅ کړي وو، چې پاچاهانو په ډالۍ کې را استولي وو. چې په دې کې د ایټالیا د پاچا امانویل ډالۍ وه، ځینې تصویرونه ډېر مسخه شوي وو، مثلاً دنغري نه پاس یوه تابلو وه چې په هغو کې په چنګك له سینده د کبانو نیول ښودل شوي وو، خو د کب نیوونکي درك نه و، چې د چنګك لرګی یې نیولی وای پردې سر بېره په یوه بل انځور کې په کښتونو کې یوه غوا وه، چې سر یې نه و.

تر دې هم مسخره او خندوونکې دا وه چې د څمېنو سوریو د بندولو لپاره یې کاغذونه پرې نښلولي وو، او بیا یې پر هغو په تور رنګ ونې انځورکړې وې. بهر په دروازه کې یې د ډبرې زمریان د مانۍ په ساتلو ګومارلي ښودلي وو، چې هغوی یې اوس مسخه کړي وو، عزیز په خندا کې وویل:

دا داسې هیواد دی، چې نه یې بچیانو ته څه ورزده کولی شي او نه ډوډۍ ورکولی شي.

هلته چې د روغتیا لپاره هیڅ بندوبست نشته او خلك په څلوېښت کلنۍ کې مري هلته حکومت خپل ټول وخت د تصویرونو په ورانولو او د سرونو او مخونو په رنګولو تیروي.

چې کله حامد بیرته راغی د ګرځیدو د بندیز وخت نژدې شوی و، څکه خو موږ زر زر پردې خبرې وکړې چې دی به هیواد د جګړه مارو سردارانو څخه څه ډول ژغوري او اولس به څنګه بې وسلې کوي، زما ګومان ؤو چې دی اسماعیل خان او جنرال دوستم ته ووایې چې وسلې کیږدي خو ده وویل:

حکومت هم د جګړه مارو سردارانو نه جوړ دی.

خو نور به هیڅکله داسې ونشي.

د ده د واکمنۍ د دوام لپاره به په څو ورځو کې بهر نې پوځونه راشي چې په هغو کې به د برتانوی پوځ لویه برخه وي، کله برتانوي پوځ چې په نولسمه پیړۍ کې هم د افغاني شاهانو اقتدار ساتلی و.

د حامد دا دعوه وه، چې دی خپلواک دی او د چا اجنټ نه دی، خو پر دې سربیره به ایټالوي پوځیان د ماڼۍ په تیارو سرکونو ګزمې کوي او د هغو ټولو ودانیو پرکنډوالو به پهرې کوي چې طالبانو د ډاکتر نجیب الله مړی پکې په جیپ پسې تړلی کش کړی و.

چې کله حامد زما د رخصتولو لپاره تر دروازې راسره راغی نو د ډبرې د بې سره زمریانو په منځ کې ودرید او د رباني بې اعتباره ساتونکي په غوسه ورته کتل هغه مهال دی، ماته د نړۍ تر ټولو یوازې او بې کسه سړی ښکاره شو. فکر مې کاوه چې ایا زه به بیا دی ژوندی ووینم.

یو سهار مې د هوټل د کوټې د دروازې لاندې یو رنګین کارت پروت و، چې په هغو کې یې ماته په راتلونکې اونۍ کې د ملي آرشیف د پرانستلو په غونډه کې د ګډون بلنه راکړې وه. ما فکر وکړ چې د دې تیارۍ باید ووینم او په کابل کې یو دوې ورځې نورې هم پاتې شم.

د آرشیف یوه ساده او معمولي ودانۍ وه هغه ورځ د بریښنا د نه راتلو ورځ وه د ودانۍ دننه تیاره او غمجن سکوت خپور ؤ، د دروازې سره نژدې پر یوه میز تصویرونه انبار وو، چې خیرې یې ترې ګرولې وې.

یوه څلویښت کلن نري ډنګر سړي یو تصویر ډیرګړندی پر اسفنج پاکولو، یو بل څلیروښت کلن ډنګر سړي همدغې یو بل تصویر پاکاوه او تصویر یې په وار وار د اوبو په سطل کې ډوباوه.

ما له هغوی نه وپوښتل:

تاسو څه کوي؟

هغه پر تصویر ور ټیټ شو وېې ویل:

زه انځورګر یم، هغه یوه بسکتې رنګه درشي اغوستې وه او ږیره یې ډیره په سلیقه تراشلې وه.

له خیرې څخه هغه هنرمن نه ښکاریدو زیاته یې کړه:

زه یو ډاکټر هم یم، نوم مې ډاکتر محمد یوسف آصفی دی.

او زماهر تصویر په روغني رنګ جوړ دی، چې کله طالبانو وغوښتل چې زموږ تاریخي میراث او انځورونه له منځه یوسي پر کومو چې د ژوند یو حیواناتو تصویرونه وو، نو ما هغه په اوبړن رنګ کړل هره څیره او ځناور مې په غرونو ونو او ګلانو بدل کړ داسې مې ښکاروله چې زه دغه تصویرونه ترمیموم، خو هغه مې په آبی رنګ رنګول دلته وګوره!

هغه زما په مخکې په یوه ډنډکې سیوري وکراوه نو یوه بته د منی په موسم کې تر ونو لاندې په اوبوکې په لامبو را څرګنده شوه.

هغې د میز پر څنډه د ګلونو پر غنچه اسفنج راتیر کړ نو لاندې یوه کلیواله ښځه راپیدا شوه چې کتوه یې تر څنګ نیولې وه.

ماته دلته د خپلې خندا را قابو کول گران وو.

ترې ومې پوښتل چې تاسو له څومره تصویرونو سره داسې لوبه کړې ده؟

هغه راته وویل:

چې څومره مې په وس کې وو، دا ټول تصویرونه زما نه دي، په دې آرشیف کې پراتیا تصویرونو او د بهرنیو چارو په وزارت کې په ۴۲ تصویرونو ما او بړن رنګک وهلی دی، لومړی ما په بهرنیو چارو وزارت کې ۰کار وکړ خو چې دوی د موزیم له منځه وړل پیل کړل نو وپوهیدم چې دلته به هم راځي. ځکه مې دلته هم دا کار وکړ.

ما ترې وپوښتل:

دادې څنګه په خیال کې در وګرځیدل؟

هغه وویل:

په جمهوري ریاست ماڼۍ کې زما اته تصویرونه راځړیدلي وو.

چې ما پرې ویاړ کاوه طالبانو چې واك تر لاسه کړ، او ډاکتر نجیب یې غرغره کړ نو وامې وریدل چې هغه تصویرونه یې څیرې کړل، ځکه چې په هغو کې د انسانانو او حیواناتو تصویرونه وو. ما فکر وکړ چې پر هغو باید آبی رنګونه وهل شوي وای ما ورته وویل:

په دې کې خو لوی خطر و؛ ته څنګه وژغورل شوې ؟

هغه راته وویل:

طالبان پرې ونه پوهیدل چې زه څه کوم یوه ورځ وزرات ته ولاړم، هغوی ته مې وویل چې ماته یې احوال کړي چې دغه تصویرونه ترمیم کړم. په دې کار زما یو کال وخت ولګید. مابه تصویرونه مختلفو ځایونو ته وړل او ګرځیدم، طالبانو ته دا نه معلومیده چې زه څه کوم

مادومره په بیړه دا کار وکړ چې په کوټه کې موجود افسر دا نشوای احساسولای چې له یوه تصویر څخه ناڅاپې یو آس ولې ورك شو.

بې شکه په دې کې لوی خطر و، زه یې ډبولی او جیل ته استولی شوای خو زه له خپل هیواد سره مینه لرم او غوښتل مې خپل فرهنګي میراث وساتم.

ته یې وینې چې په یوه تصویر د آبي رنګونو وهل درې څلور ورځې غواړي خو اصلي تصویر بیا په څو دقیقو کې بیرته راوزي، دا بلکل د جادو په څیر دی.

زه هلته ولاړه وم او لیدلی مې چې دهغه له اسفنج څخه تصویرونو ساه اخیسته. په کلي کې پر آس سپور سړی په یوه لویه ونه بدل شوي و، د یوې کورنۍ کشتۍ چې په ډنډ کې ګرځیده د بوټونه ډکه وه چې چلوونکی یې نه درلود.

په دې کې بهر د ماشومانودخندا ګانو غږ اوچت شو، ما فکر کاوه چې په کابل کې مې دا لومړی ځل و، چې خندا مې اوریده موږ دواړه کرکۍ ته ورغلو واوره اوریدل پیل شوي وو.

هلکان له خوښیو پر سرکونو ګډیدل او په واوره یې لویې کولې ډاکتر آصفي وویل" ښایي وچکالي پای ته ورسیده اوس موږ بیا د ژوند سفر پیلولای شو.

# د عبدالله کیسه

اتل هغه دی چې د دښمن د شمیر پوښتنه نه کوي بلکې دا پوښتي چې دښمن چیرته دی؟ (لوي سکندر)

د کندهار د فوټبال سټدیوم په منځ کې چې د کانکریټو دوې چوترې وې، هغه سرې ولاړ وو، یوه یې یو پراخ کریمي رنګی کمیس او پرتوګ اغوستی وواو د پلاستیک د لوی فریم درلودونکې عینکې ئې پر سترګو وې، بل یې له برګ یخن سره پتلون اغوستی وو او دواړو په نوبت له یوه پایپ څخه یوه ځای ته اوبه ورکولې چې هلته اوبه ډند شوې وې، نور میدان وچ و.

د کمیس او پرتوګ خاوند سر راپورته کړ او ځان یې معرفي کړ، چې د سپورت د کمیټې مشر محمد ناصر دی.

هغه وویل:

موږ چې هر څومره اوبه پرې وپاشو دا نشو پاکولی، هغه خړو اوبو ته اشاره وکړه چې اوس یو تور خاپ پکې راښکاره شو، هغه زیاته کړه:

دغه ځای هغوی د پانسي لپاره ټاکلی و، چې خلک به یې غرغره کول، لومړی درې اونۍ به اوبه سرې شوې ځکه چې په خمکه کې جذب وینې به بهر ته راوتلې.

هغه کیڼ لوري ته اشاره وکړه وبې ویل:

هلته هم یو خاپ دی خو دومره خراب نه دی، هغه د ګول پایه ده چې ښځې به یې وریاندې ځړلې او سنګسار کولې به یې هغه بیا د اوبو پر

شیندلو بوخت شو زه پر یوه چوتره کیناستم ذهن مې هغه ګڼې ګوڼې ته ولاړ، چې د چا په پانسي کیدو یې د خوښۍ چیغې وهلې، لږ لرې مې د احمد شاه دراني د مقبرې فیروزه یې ګنبزه وینم چې د نوي افغانستان لومړی پاچا و، او چې څوك به یې په لاره کې خنډ شول نو له وژلو یې دریغ نه کاوه. لږ ځنډ وروسته مې داسې احساس کړه چې څوك راته ګوري یو تنکی هلك چې خو له یې ککړه وه او د زړ تارو خولۍ یې پر سر وه پر بایسکل راغی او زما په مخکې ودرید، ویې پوښتل:

ته له کوم ځایه راغلې یې؟

ما ورته وویل:

له انګلستان څخه، ته له کوم ځایه؟

هغه د ستویوم شاته یوې ویجاړې شوې ودانۍ ته اشاره وکړه او ویې ل: له هغه ځایه!

موږ تر څه وخته پخپلو کې خبرې کولې، هغه راته ویل چې ندا محمد نومیږي او ۱۴ کلن دی، هغه ښوونځي ته نه تلو ځکه چې پلار یې په جهاد کې ورك شو او د کور ذمه واري د ده پر اوږدو ده چې اوس په بازار کې جامې مینځي او یو څه پیسې ګټي.

ما ترې وپوښتل:

تا کوم وخت څوك په غرغره کیدو لیدلي دي؟

هغه په ویاړمنه لهجه راته وویل:

ما تر سلو زیات پانسي لیدلي دي، زه به زیاتره ورته راتلم، ځکه چې همدا مو ساعت تیری وه، له دې پرته نور څه نه وو چې ویې کړو څوك به چې پانسي کیدو د هغه غبرګون به هم ډیر په زړه پورې و.

ښه وخت د رمضان میاشت وه، ځکه چې په دې میاشت کې د ورځې لږ تر لږه یو تن غرغره کیده او یا به د چا لاس غوڅیده، کله کله به درې یا څلور تنه پانسي کیدل او یا به یې لاسونه غوڅیدل.

ته به په دې څه خبریدې چې نن کیږي؟

طالبانو به دوې ورځې وړاندې په رادیو کې اعلان کاوه چې پلانی د پلاني زوی چې پلانی د پلاني زوی یې وژلی دی، د دوشنبې په ورځ ماسپښین په دوو بجو پانسي ورکول کیږي پانسی معمولاً د ماسپښین له دووبجو وروسته ورکول کیدې، په زرګونو خلك یې د لیدو لپاره راتلل، زما به هلته خپلو دوستانو سره لید؛ کاته هم کیدل، چې که به څه پسیسې راسره وې نو پسته او یا مالتې به مو پیرلې او هغه به مو خوړې که به هغوی پریکړه کړې وه چې څوك په ګولۍ وولي بیا به د ستوبوم کین لوري ډك او ښی لوری به تش و.

دا پریکړه څوك کوي؟ ما دا اټکل نشو کولای چې داسې به هم کیږي.

دا د وژل شویو وارثانو پریکړه کوله چې څه ډول مرګ سزا ورکړي، کله کله به مونږ پردې شرطونه ترل چې قاتل به غرغره کړي، که به یې په ګولیو ووژني او یا به یې حلال کړي.

- حلال کړي؟

- - د پسه په څیر د قاتل لاس او پښې تړل کیږي او پر یوه تخته څملول کیږي، بیا یې په یوه اوږده چاړه مرۍ ورغوڅیږي ( په شریعت کې دا سزا نشته سرترې غوڅیږي ژباړن) ښځې به یې د ګول پر پایه وتړلې او پرګولۍ به یې وویشتلې، که په ښځې زنا کړې وه، نو سنګسار وله به یې، یو ځل مې ولیدل چې څو تنه لوطیان یې راوستل لاس او

پښې يې پرې وتړلې او ديوال يې پرې را وغورځول چې دا ډيره په زړه پورې طريقه وه.

هغه دا پيښې داسې بيانولې لکه په تلويزيون چې د کوم جريان ژوندي راپور ورکوي ما ورته وويل چې د يوې خاصې پانسۍ کيسه راته وکړه.

هغه وويل:

د غرغرې په وخت کې به يې لږ مخکې د طالبانو مشر افسر په خپل لنډ کروزر کې ستويوم ته راغی او اعلان به يې کاوه چې دغه سړی چې دپلانی زوی دی دا ګناه يې کړې ده، او د وژل شوي وارثانو دا پريکړه کړې ده چې قاتل ته په دې ډول سزا ورکړي. د ډزو او يا حلالولو په وخت کې به خلك چوپ وو.

بيا به د سزا ګالونکي خپلوان په ژړا سرشول.

دوی به يې خپلوان خامخا را غوښتل چې د مرګ سزا وګوري، بيا به يې مړی دوی ته وروسپاره، په دروازه کې به مخامخا يو امبولانس ولاړ و، چې که به د چا لاس او يا پښه غوڅېدل نو سمدستي به يې روغتون ته ورساوه.

آيا چا به څه ويل؟

وروسته به طالبانو ويل چې له دې نه عبرت واخلئ، که تاسو جرم وکړئ نو له تاسو سره به هم همداسې چلن وشي، دا څه مو چې وليدل په ياد يې ولرئ بيا به موږ ټول چوپه خوله کورونو ته ستانه شوو.

ندا محمد وويل چې پر ما ناوخته کيږي اوس بايد کورته ولاړ شم پخوا تر دې چې ولاړ شي ترې ومې پوښتل:

طالبانو وروستۍ پانسي څه وخت او چاته ورکړه؟

هغه وويل:

زه پخپله هلته نه وم وروستی پانسي يې د ښار په منځ کې د هرات په چوك کې ورکړه او د طالبانو له تيښتې يوه ورځ مخکې وه.

تا ته معلوم دي چې هغه څوك و؟

هغه عبدالله و هر چا ته معلومه ده، چې هغه يو اتل و،

د هغه تره د لرګيو په بازار کې کار کوي.

ښخوا له دې چې زه نور څه ترې وپوښتم هغه پر بايسکل پښه واړوله او روان شو.

چې شاته يې مخ راواړوه او لاس يې وخوځاوه نو بايسکل يې کوږ وروږ شو زه کيناستم او په چورتونو کې شوم چې له اتل څخه د ده هدف څه و؟

محمد ناصر تر اوسه پورې پر هغه ځای اوبه اچولې، هغه اوبه پريښودې او زما په لوري راغی ما ترې وپوښتل چې آيا له لاسونو غوڅولو او اعدامونو پرته د طالبانو په اوه کلنې واکمنی کې کله دلته فوټبال لوبه هم شويده؟

هغه وخندل بيا يې وويل:

لومړی هغوي پردې لوبه بنديز لګولی و، خو فوټبال زموږ ملي لوبه وه بالاخره يې اجازه ورکړه، خو دا شرط يې پرې کيښود چې له ماښام څخه به مخکې دا لوبه پای ته رسيږي او د لوبغاړو متې او پښې به لوڅ نه وي، ته اټکل کولای شې چې کله د تودوخې درجه ۴۰ سانتی ګراده وي، نو په هغه جامه کې به د لوبغاړو څه حالت وي، طالبان به راغلل او هغه لوبغاړی به يې هم ورسره بيول چې متې به يې ور بربنډې وې او يا به يې ږيره ډيره وړوکې وه، هغوی به يې په تيل وهلو وايستل

ACKU

او بهر به يې د کلاشنکوف پر کونداغونو وهل د ۲۰۰۰ کال په ګړميو کې د پاکستان د ځوانانو د فوټبال ټيم افغانستان ته تلل وُ، چې دا آمر با لمعروف... کسانو هغوی ونيول او سرونه يې پاك پرې وخرييل ځکه چې ږيرې تراشلې او نيکرونه يې اغوستي وو.

- آيا د ميچ ليدو ته به خلك راتلل؟

- هوکې! فوټبال دلته ډيره مقبوله لوبه ده، پخوا به موږ پر تلوّيزيون د بهرنيو هيوادونو لوبې ليدلې اوله هغوی نه به مو لوبه زده کوله، بيا پر تلويزيون او راديو بنديز ولګيد. او زموږ اړيکې له نړۍ سره غوڅې شوې زما د خوښې ټيمونه برازيل او مانچستر يونايټيد وو. طالبانو د چکچکو اجازه هم نه ورکوله، که به ګول وشونو يوازې د الله اکبر ناره به وهل کيده، اوس به موږ له سره پيل کوو، زه غواړم د فوټبال فدراسيون جوړ کړم.

تيره اونۍ يو ميچ وشو ټول خلك چوپ وو. يوازې مذهبي الفاظ ويل کيدل، ځکه چې د دې ګواښ وُ، چې اوس به هم دلته زيات طالبان وُ، موږ به اوس د لاسونو پړکول اوشپيلکې وهل هم زده کوو.

چې کله زه له ستوديوم څخه بهر ته راوتم نو پر ديوال مې يوه تخته وليده چې په انګريزي او پښتو پرې ليکلي وو:" دغه پروګرام د ۱۹۹۴ م کال د مې په ۲۱ مه د ملګرو ملتونو د مهاجرينو د کميسيون او ډبليو- ايف- پي په بودجه بشپړ شو" زما په ذهن کې راوګرځيدل چې د دې نيتې څخه اتلس مياشتې وروسته طالبانو کندهار نيولی وُ، نو آيا کله چې طالبان د خپلو وحشيانه کړو وړو لپاره د دې تختې لاندې تيريدل نو خندلي به يې نه وي، د دې ستديوم لګښت د لويديځ کفارو ورکړي وو، چې ګومان يې کاوه چې دوی به سپورت ته پراختيا ورکړي.

په کوم ځای کې چې اوسیدم هغه میلمستون نه و، بلکې یو تش کور و، چې طالبانو پرېښې و، او اوس د کرزي د کوم کاکا زوی په واک کې و، دلته زه او د امریکايي تلویزیون (سي، بي ، اس) ټیم اوسیدو دغه کور د سره جومات تر څنګ د ښار په نوې برخه کې و.

" دغه جومات اوس سور رنګ نه لري، ځکه طالبانو فیروزیي او کریمي رنګ ورکړ" دغه ځای په امن کې و، سر کونه یې پراخه او د زاړه ښار له بیرو بار نه بې غمه او له ګردونو پاك و. دلته برېښنا هیڅ باوري نه وه.

ځینې وختونه به ډېرې ورځې برېښنا نه وه، ځینې وختونه به اوبه هم نه راتلې د ساتونکیو وړوکې ډله وه، چې بهر به په بل کړي اور را تاوشوی وو.

چې موږ به کله کرایه ادا کړه نو د اړتیاوړ شیان به راغلل، لومړی قالینې راغلې بیا پردې بیا پلاستیکي میزونه او کرسۍ، تیلي بخارۍ، سرې سرې ختیني ګلدانی راغلې، بالاخره د سوځولو لرګي هم راغلل چې تقریباً یو کورنی ماحول ترې جوړ شو.

پخوونکی ښه و، خو بوډا او کمزوری و، هغه همایون نومیده، سهار به دومره ناوختي له خوبه پاڅید چې دې ناشتې وخت به تیر و. داسې یې ګڼله چې بر خلیك یې له کلچو پخولو سره تړلی دي، په داسې حال کې چې په افغانستان کلچې ډېرې لږ کاریدلې ځکه چې کوچ او بوره ډېره په زحمت تر لاسه کیږي، ډېرو خلکو په ډوډۍ ګوزاره کوله د کندهار په ښار کې سابه او سبزي ډېره لږ پیدا کیده هغه د رومي انو او بنډیو ډېر ښه خوراك تیاراوه او زموږ سره به یې یو ځای ډوډۍ خوړه.

چې موږ به کله بیرته راوګرځیدو دی به غرمه راته په انتظار و.

ما زړه نازړه د ډوډۍ خوړو هڅه وکړه چې ومې ویل: زه افسوس کوم چې همدا اوس له ستودیو څخه راستنه شوم.

زما اشتهايي وسوخوله زه پوهیدم چې که څه ونه خورم بده مني ما بیا زیاته کړه:

ما ګومان نه کاوه چې طالبانو به دومره هیبتناك کارونه کړي وي.

همایون یې په خپل قاب کې بیا بینډۍ واچولې او په مزه مزه یې خوړلې ویې ویل:

پانسي ښې وې زه څوځلې د هغو د لیدو لپاره ورغلی یم، یو ځل مې یوه ښځه ولیده چې پر غرغره راځړیده، هغې یې خپل میړه وژلی و، د یوه غله لاس مې ولید چې غوځ یې کړ یو ځل مې داسې سړی ولید چې پانسي شو، چې پسونه به یې غلا کول.

- ته پرې خپه نه شوې؟

هغه وویل:

نه هغه ګناهکار او د سزا حقدار و، د طالبانو په وخت کې چا سره زر په کور کې پرېښودای شوای. هیچا د هغود وړو جرئت نشو کولی نه د شپې په دوو بجو بهر پر سرك آزادانه ګرځیدای راګرځیدای شوای، اوس که دلته لس تنه ساتونکي نه وي نو دغه پلاستیکی کرسۍ به هم غلا شي تیره اونۍ یې یو زرګر او د هغه زوی په ګولیو وویشتل او ویې وژل او طلايي زنځیرونه یې ترېې یوړل، پخوا وضعه ښه وه.

د عامو کندهاریانو نظر هم د پانسۍ په اړه داسې و، لکه د همایون چې و، د هرات په پرتله کندهار تل وروسته پاتې ښار دی، دا د طالبانو مرکز او روحاني سرچینه وه د وسلې ېښدو نه یوه میاشت وروسته هم کندهار د طالبانو ښار ښکاریدو.

زه له پاکستان ته دې ښار ته له لمرلويدو ډير وروسته ورسيدم او له هغه محرابي دروازې څخه تيره شوم اوس هلته هماغه يوه محرابي دروازه پاتې ده، زما پروګرام داسې ؤ، چې بايد پخوا دلته راغلې وای خو خو چك دره په واورو بنده شوه، زه په همدې لاره ښار ته راتلم، د ښار يوازينی هوټل "نور جهان هوټل" ؤ، چې مالك يې يو بې زړه سويه سړی ؤ، او يوه کوټه يې په څلورو کسانو ورکوله څکه خو زه د لوی سرك پر غاړه په يوه سماوار کې پاتې شوم، تر څو چې معلومه کړم، چې دلته د اوسيدو لپاره کوم کوم ځايونه دي د يوې لويې څپرې لاندې په کټونو ډير کسان يوه پښه پر بله اړولي ناست وو، او شنې ورې چاينکې يې په مخکې ايښې وې او د چايو په څښلو بوخت وو، هغوی تورې لونګۍ تړلې وې، سترګې يې په رنجو تورې کړې وې او چلمونه يې څکول، هغوی له ما سره غير دوستانه چلن وکړ.

زما موټر چلوونکي وويل: طالبان دي غوره دا ده چې له دې ځايه ولاړ شو پرګرځيدو بنديز لګيدونکی ؤ، څکه خو زما موټر چلوونکي حکيم وويل چې زه ددوی په کورکې شپه وکړم هغهزه په کوڅو کې بوتلم چې وړاندې ورو ورو تنګيدلې، بالاخره دومره تنګې شوې چې موږ موټر همالته پريښود او ولاړو، هلته يوازې د سپوږمۍ رڼا وه، په حکيم پسې چې تلم سر مې د يوې دروازې پر پاسنۍ برخه ولګيد چې ډيره ټيټه وه، تر هغې چې تير شوو يوه پراخ ميدان ؤ، چې څو ګامه وړاندې د پښتنو هغه ځانګړي کور و،دا کورد محمدحکيم د خسر محمدداود ؤ، چې اوس يې د سرويښتان سپين شوي وو.هغه د مجاهدينو پخوانی قوماندان پاتې شوی ؤ، هغه حکيم ته به بدکتل، حکم له مانه بخښنه

وغوښته چې کور يې ډېر معمولي دی ماته يې د کور ښځيې را معرفي کړي.

چې غاښونه يې ټومبل بيا هغوی ماته را تر غاړې وتې او يو دسمال چې په زر تارو خامك دوزي شوی ؤ، ما سوغات رد کړ، زما سره دوی ته د ورکولو لپاره د قهوې له نيم ډبلی پرته هيڅ نه وو، چې هغه ما په نه زړه دوی ته ورکړ، زه پوهيدم چې اوس به سهار د قهوې څخه محروم وم، يوه نجلۍ چې سر يې په سره دسمال تړلې پټ کړی ؤ، په يوه پيپ کې تودې اوبه راوړې چې زه پرې لاسونه او مخ پرېمينځم، له يخنۍ نه داسې رېږديدم چې کله يې تشناب ته بوتلم ډېرې اوبه رانه په چړپيدوکې تويې شوې، د تشناب څمکه نرمه ښکاريده، په ټيکسي کې د اوږده سفر له امله مې د" ضرورت د رفعې" ته اړتيا وه، په لاس څراغ مې غوښتل په څمکه کې سوری وګورم خو پيدا مې نکړای شو، بيا مې يو انبار وليد او بد بوی مې احساس کړه وروسته و پوهيدم چې چيرته ولاړه يم.

موږ د زينې لاندې په يوه کوټه کې چې کړکۍ يې نه درلودی د شپې ډوډۍ وخوړه، د کوټې په يوه کونج کې برستنې پرتې وې، چې له دې نه وپوهيدم چې همدغه د خوب کوټه هم ده نجلۍ د تيلو څراغ راوړ، د محمد داود يوه زوی د کابلي پولاو يو غوري راوړ، چې پر هغو مميز ګازرې او بادام هم وو، د غوښو ښوروا يې هم راوړه چې ډوډۍ پکې ماته شوې وه، په يوه قاب کې يې سره شوې غوښه او په کاسه کې شړومبې راوړې، دا ټول يې پر غوړيدلي دسترخوان کيښودل.

موږ لا ډوډۍ خوراك نه ؤ پيل کړې چې دروازه ټك ټك شوه، بيا دوهم او وروسته دريم ځلې وټکيده ګاونډيان د پيرنګي ښځې د ليدو لپاره راتلل هغوی به د خپل دود سره سم محمد داود ته غيږ ورکړه او مبارکې

به يې ورته ويله بيا يې كلاشينكوفونه ديوالونو ته ودرول او په ډوډۍ را شريك شول تر لږ ځنډه چوپتياوه يوازې د هډوكو د ژوولو او په يوه نيلي رنګي چلمچي كې د تف كولو غږونه اوريدل كيدل ډوډۍ له خوړلو وروسته يو هلك راغی د ستر خوان يې له څلورو كونجونو ونيو او پاتې خواړه او ډوډۍ يې ټول كړل چای او چلم يې راوړل نارينه ؤ ديوالونو ته تك يې ووهلې ما دوی ته وويل چې زه پخوا هم كندهار ته راغلی يم .

هغه وخت د پسرلي موسم ؤ، چې پردې چوپتيا ماته شوه موږ د هغو قوماندانانو په باب خبرې اترې پيل كړې چې زه ورسره راغلی وم، هغوی غوښتل پر دې وپوهيږي، چې پر هغوی څه وشول، ما ورته وويل چې بورجان مې پيژاند، بورجان هغه قوماندان ؤ، چې طالبان يې جوړ كړل او بيا په جهاد كې ووژل شو.

يوه تن د بورجان تصوير را ويوست او ماته يې راكړ، تصوير د كلانو په پ... منظر كې اخيستل شوی ؤ.

د هغه په ټينګار مې تصوير را سره واخيست.

له پښتنو څخه د معلوماتو اخيستل ډير زحمت غواړي، ځكه چې د دوی ... دود دی چې نوی نوم اخلي نو دهغو ټول القاب او آداب هم ورسره يادوي.

د خبرو اترو لوري د محمد داود د زوی په لور ورواوښت چې له كويټې څخه راتلونكي ؤ، طالبانو د هغه ښی لاس غوڅ كړی ؤ. پر هغه دا تور پورې شوی ؤ، چې د ښار تر ټولو ستر سود خواره" حاجی لالك " څخه يې پور غوښتی ؤ، او دا تور هم پرې پورې شوی ؤ چې د صرافي له دوكان څخه يې غلا كړې ده.

بوډا سړي وويل:

د هغه پر مخ يې توره پرده راوغوړوله او متې يې پرې وتړلې او لاس يې په مړوند کې غوځ کړ دايې د ټولو په مخکې په لويغالي (ستوديوم) کې وکړل چې هغه له مخ نه پرده لرې کړه او خپل لاس يې پر ځمکه پروت وليد. نو بې سده شو او راولويد، هغه ختګر و، او ډير ښه کار يې کاوه، خو اوس په يوه لاس داسې کار چيرته کولی شي؟ موږ هغه سړی ولټاوه چې پرده يې دا تور لګولی و، له هغه نه مو پور وغوښت خو دې ته تيار نه شو.

د خبرو په وخت کې دا راته معلومه شوه چې په ښار کې هر سړی بل ته په شك او بد ګومانۍ کتل، په کندهار کې د ژوندي پاتې کيدو او ښه ژوند تيرولو لپاره ډير و. خلکو له حکومت سره ملګرتيا وکړه، لکه په دوهمه نړيواله جګړه کې چې د فرانسې او هالنډ خلکو دا کار وکړ. د کندهار معاملې کې يوازې بر توپير دا و، چې دوی د بل هيواد خلك نه وو، د همدې هيواد وو.

کندهار ډير غريب او وروسته پاتې ښار و، هر لورې ته ګردونه او دوړې خپرې وې زور وره يخني وه، طالبانو ته د دې ښار حيثيت داسې و، لکه د کاتوليك مذهبو عيسويانو لپاره چې واتيکان دی، ملا عمر دلته په ګوښه کې ناست و.

ما چې په کندهار کې له څومره کسانو سره وليدل په هغو کې زياترو راته وويل چې ملا عمر يې بالکل نه دی ليدلی، او نه دا معلومات لري چې هغه په څيره او ښه کې څه ډول دی، هغه د شپې مهال په خپل موټر سايکل په ښار کې ګرځيده چې دا معلومه کړي چې خلك د دوی په باب څه ډول تبصرې کوي خو هيڅکله هم د چا ده ته ور پام نه شو د ده د اخلاقو د نافذولو پوليس د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په نامه

يادېدل او په ښارکې هر ځای تر سترګو کېدل. د ملا عمر په اند کندهار مرکزي مقام و، چې له هغه ځايه يې غوښتل پر ټول افغانستان شرعي قانون نافذ کړي، او غوښتل يې پر ښارونو هم کليوالي ژوند وتپي.

که څه هم ملا عمر غرونو ته تښتېدلی و، خو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري مرکز اوس هم د لوی سرك پر غاړه شته چې امريکايانو پر هغو بمباري هم وکړه د ملاعمر د وخت ډېر ياد ګارونه اوس هم په ښار کې شته.

ډېر موده وشوه چې له ښار څخه د خاورو او ډبرو ديوالونه ورك شوي، يو وخت دا ۲۷ فتحه لوړ او۲۴ فتحه سورور وو. په هغو کې شپږ دروازې وې اوس يې هم مستطيل ډوله چوکاټ ښکاري چې د احمد شا دراني په دې ځای کې جوړه کړې وه، او ده ته پوپلزيو قوم ورکړې وه. د لارې د رسولو لپاره اوس هم هغه دروازه د لارې د نښې کار ورکوي، د کابل په څير کندهار هم د هغو سوداګري کاروانونو لپاره مهم مرکز و چې ايران،هندوستان او ترکيه يې سره نښلول، دا د خپلو څلورو بازارونو په سبب هم مشهور و، چې هر وخت به پکې بير وبار و.

په دې بازارونوکې، هر څه موندل کېدل په وړوکو دوکانونو کې به په کېسونو کې مرغۍ پلورل کېدې. د پسه په څرمن کې بند بازوت او ترياك د موټر له ټايرونو څخه جوړ تلی څپلۍ او د خاصې ژير رنګې ډبرې تسبيح هم پېرل کېدای شوای.

دغه ډبره شمال لوري ته غرونو کې موندل کېده په فضا کې به تور دودونه جګيدل چې د سيخ کباب د پخولو نه پورته کېدل پر هغو کبابونو به يې ګشنيز موښل، پردې سربېره به کله کله د مشکو او پخوانيو عطرو وږمه هم راغله، چا رسوق ته نژدې چې څلور واړه بازارونه سره يو ځای

شوی دی، یو نابشپړ شوی جومات و، چې د ملا عمر په نامه یې نوم عمري جومات ایښودل شوېدی.

خو ملا عمر خپل اصلي یادگار په نوي لاره دنویو آبادیو سره پرېښي دي هلته د ده کور و.

دغه کور په یوه پراخ او سورور ځای کې دی. دلته په دې پراخه ساحه کې یو فارم او جومات هم شته ما له ساتونکیو سره هغه ځای ښه ولید ساتونکیو ټینگار کاوه چې په ځینو خاصو ځایونو کې ددوی تصویرونه واخلم، په هغو کې یو د ملا عمر د بچیانو یو وړوکی پالنگ و.

دوی غوښتل پر هغو ودرېږي او زه یې تصویرونه واخلم، د ملا عمر یوه پخواني ساتونکي ملا خلیل حسني په کوټه کې راته ویلي وو، چې د کلا د احاطې دننه د اوسپنې دروازو مخې ته شل فټه لوړه فواره وه هلته پلاستیکي ونې وې چې له څانگونه یې اوبه را توییدلې، موږ د کور بام ته وختو، هلته مو د کروز توغندیو یو لوی کار تن پروت ولید. پر بام شپږ فټه پنډ د پولاد او ربړ پردې وې چې توغندې یې سوری نکړای شي.

لړه له دې ځایه لرې د ښار لویدیځ لوري ته د صوفي صاحب ریگي سیمه ده چې عربي شیخان به دلته د ښکار لپاره راتلل، پر افیمو بار د اوښانو کاروانونه اوس هم په دې ریگي سیمو کې تیریږي.

د دې ریگي سیمې پر څنډه یوه نیلي ځلیدونکې گنبزه ده دلته عید گاه جوړیده چې دملاعمر یو ستر یادگار به و. دې گنبزې ته د افغانستان د لومړي پاچا د مقبرې گنبزه پیکه وه چې له دوو سو کلونو پر ښار حاکمه وه، دغه عید گاه په لس هکتاره ځمکه کې جوړیده چې د کتارونو په بڼه ونې پکې ایښودل شوې وې په زرگونو کسانو له تیرو څلورو کلونو راسې کار پکې کاوه خو جومات تر اوسه ډیر نیمگړی پاتې

دی، یو نیم سا. فته جګې ګنبزې ته تر اوسه د لرګیو چوکاټونه دریدلي دي. له هغه سره جوخت د نیمګړیو کورونو بلاکونه دي، چې د دیني مدرسې د استاذانو او زده کوونکیو لپاره جوړېدل په دې ودانیو یې چې څومره زړه غوښتل پیسې یې پرې لګولې بې شمیره باغوانان یې ورته نیولي وو، له بهرنیوهیوادونو څخه یې انجنیران راوستي وو، د انجنیرۍ ملي انستیتوت یې له کابل څخه کندهار ته لیږدولی ؤ.

د ملا عمر د کور دننه په څېر یې د ګنبزې دننه برخې په سرو و شنو، ژېړو او آبي رنګونو ګلکاري او نقاشي کړې وي. تر هغو لاندې یې د هرات د جامع جومات او نورو سپېڅلو ځایونو تصویرونه جوړ کړي وو، د دې په سینګار او ښکلا کې یې په ښه ذوق کار نه ؤ کړی، دغسې تزئین او ښکلي کول عموماً په بدو ځایونو کې معمول وي په داسې حال کې چې د سپېڅلي ځای تزئین او ګلکاري باید تر دې ډیره ښکلې وشي.

د عید ګاه د جوړولو لپاره اسامه بن لادن پیسې ورکړې وې، ویل کیږي چې په کندهار کې د هغه د خپل کور ددروازو دستګیرونه د قیمتي کاڼو څخه دي.

او د غسل تپ " د ځان مینځلو لوی لوښي" یې د سروزرو دي طالبانو د دې ښار لپاره هیڅ نه دي کړي، افغانستان د نړۍ ډېر غریب هیواد شوی دی، پر دې ملګرو ملتونو دوه بندیزونه هم لګولي دي، چې د هغو څخه د وتلو هڅې کوي . دغه بندیزونه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د بشر د حقوقو تر پښو لاندې کولو په سبب لګول شوي وو، خلکو په ښار کې راته وویل چې په کندهار کې یوازې څلور ښوونځي وو. چې یوازې د هلکانو وو. اوس ترلي پراته وو پنځه سوه جوماتونه دي،

هغوی ویل چې اوس ښار ویجاړ شویدی ما پخپله هم لیدل چې ټولې ویالې وچې شوې دي.

مشهور باغ ویجاړ شویدی او ځای ځای د کندګیو او خاورو انبارونه جوړ دي یوه ورځ حکیم د کوکا کولا تش بوتل له کړکۍ څخه بهر سړک ته وغورځولو ما ورته وویل:

ته دې خپل ښار ولې چټلوی؟

هغه وخندل ویې ویل:

ښار له پخوا نه چټل دی.

یوازې د سرکونو، بریښنا او تیلفون نظام ګډوډ نه دی بلکې ښار یو ډول بې روحه شوی دی د دې یو سبب د کلونو اوږده وچکالي ده، چې د هغې له امله ډیر غوره انار چې ایراني شهزادګیو به یې اوبه په ناشته څښلې او ځلوېښت ډوله د خوږو انګورو باغونه چې د هغو د نامه په یادولو خولې اوبه اوبه شي ټول له یوې مخې له منځه ولاړل داسې ښکاریدله لکه د دې ښار اروا چې قبضه شوي وي، زما په یاد دي چې د جګړې په ورځو کې هم د خلکو زړونه ژوندي وو. خلکو به په کړس کړس خندل.

ځایي خلکو به تل ځانونه د تکساس اوسیدونکي ګڼل، سندرې او موسیقي به هم اوریدل کیده هلکانو به په شپیلۍ او رباب د مینې او عشق نغمې غږولې. اوس یوازې د هندي فلمونو سندرې اوریدل کیږي، خلك دکندهاري ودانیو سیوري ته څوړند سرونه ناست وي مستي او جوش یې نشته په ښار کې ویره او ترهه خپره وه، خلك به چې زما تر څنګ تیریدل ورو به یې ویل:

چوپ اوسه شاوخوا ته القاعده خلك شته د والي د دفتر به مخکې څلور ټانکونه پهره ولاړ دي.
د سرکونو ترڅنګ مورچلونه جوړیدل له لږ ځنډ وروسته به د امریکایي الوتکو کړسهار تر غوږو کیده چې ویره او ترهه به یې نوره هم زیاته کړه یوه ورځ په ښار کې پوسترونه تینګ شول، چې پکې راغلي وو، چې د اوسني حکومت نه لرې ګرځئ ملګرتیا ورسره مه کوئ ځکه چې د څو ورځو میلمانه دي.
زما خوان تر جمان احمد جان له کندهار څخه په ویره کې ؤ، په داسې حال کې چې د ده کورنۍ د کندهار وه.
خو دی د کویټې د مهاجرو په کمپ کې لوی شوی ؤ.
ما کندهار تر کویټې غوره ځای باله. خو دی له کندهاره ویریده، ده به ګیله کوله چې: دلته ډیر خلك اوسیږي چې خوراکونه او لهجې یې بیلې او بدلې دي، د هغوی د ویده کیدو طریقی هم سره توپیرلري، دغه خلك هر لوري ته توکې چې زما نه خوښیږي.
له احمد جان سره به زما کشمکش او جنجال روان ؤ، ځکه چې ما د ده مشوره نه منله، ده به ویل چې دا کار خطر ناك دی، ځان ترې ساته مابه هغه کار خامخا سر ته رساوه دغسې هغه مشوره راکړه چې څرنګه د امریکا د تلویزیون غړې وسله وال ساتونکي ورسره ساتي زه دې هم د ساتونکیو څخه ډك جیپ له ځان سره ګرځوم خو چې ما یې مشوره ونه منله نو رانه خپه شو ځیني وختونه به هغه ژړه غوني شو ویل به یې.
آیا موږ یو ساتونکی هم راسره نشو ساتلی؟
هغه له دې نه کرکه کوله چې کومه ښځه ده ته امرونه وکړي.
کله کله به یې په مرکه کې زما د پوښتنو د ژباړې پر ځای ویل:

دا احمقانه پوښتنې دي، هيڅوك هم دې ته ځواب نه وايي کله به چې کوم قوماندان مور ته د چای ست وکړ نو ده به په سپکاوي رد کړ او ماته به يې ويل چې که په دې پيالو کې چای وڅښې په کومه بده ناروغۍ به اخته شې، زياتره به يې ماسپښين ويل چې روغ نه يم ځکه به يې ټېنګار کاوه چې له درملتون ځخه دوا خامخا راته راوغواړه چې د ده سره دوا تياره وي. هغه نولس کلن و، خو د غرمې له ډوډۍ وروسته يې خوب عادت و.

احمد جان د کورنۍ يوازينی زوی و، ده په شپږ کلنۍ کې له خپلې مور او تره سره ښار پرېښی و، د کندهار په باب د ده هيڅ په ياد نه وو، يوازې د عکاسۍ يو دوکان يې په ياد پاتې و هغه راته وويل:

پلار مې د الکوزي قوم سره په دښمنۍ کې وژل شوی دی. مور پوپلزي يو، زمور د قوم ډېر کسان د الکوزيو قوم وژلي دي.

زما يو کاکا ډېر ښکلی هلك و، هغه يې وتښتاوه.

دوې درې ورځې وروسته د هغه مړی په يو بڼ کې پيدا شو د هغه پيژندل ګران شوي وو. تر دې چې هډوکي يې روغ نه وو، زما له پلار سره هم همدغسې معامله وشوه په دې ښار کې ښايست ښه خبره نه وه، زما بابا او يو تره نيويارك ته تللي دي، او زه مې له مور سره کويټې ته ولاړم.

يو ځل هغه ماته وويل چې ته بايد وپوهيږې. چې دا ځای زما ولې نه خوښيږي.

مابه تل ده ته حوصله او زغم ورکاوه چې بيرته کويټې ته او يا نيويارك ته ولاړ شي، هغه روانه انګليسي ويله په افغانستان کې لږ داسې کسان شته چې انګريزي دومره په روانۍ ووايي.

ده تصمیم نیولی و، چې پیسي پیدا کړي احمد جان ښکلی نه و، رنګ یې ژېړ ته مایل و، پیرې شونډې یې وې او سترګې یې مړې وې، ځکه خو د عیاشو قوماندانانو پام نه وراوښت ما غوښتل چې احمد جان نورو ژورنالستانو ته وسپارم.

خو داسې مې ونکړای شول. ځکه چې دی د ملیمستون لاندیني پوړته تللی و، دی به زما د ورځنیو پروګرامونو څخه په تنګ و، او هر سهار به یې دغه خپګان زیاتیده کله چې ما ورته وویل چې د عبدالله د خپلوانو په لټولو پسې ځم، چې طالبانو هغه وروستی په دار ځړولي و، نو هغه راته وویل چې دا هیڅ امکان نه لري.

ما احتجاج وکړ ورته ومې ویل:

د فوټبال په میدان کې چې کوم هلك را سره لیدلی وو، هغه راته وویل چې هغه هر څوك پیژني.

ده راته وویل:

دلته هر سړی دروغ وایي دغه خلك د رښتیا ویلو وړ نه دي. له دې څخه پوښتنه داسې ما نا لري لکه له ډبرو چې پوښتې.

نه پوهیږم ته دې ولې خپل وخت ضایع کوې.

راتلونکی ماښام موږ د عبدالله د تره په لټون کې د لرګیو بازارته ورغلو د ګلانو خوړو وړمو ماته دوولس کاله پخوانی یوه شپه را یاده کړه چې زه پرموټر سایکل په ملا پسې جوخته سپره وم چې پر کمونستانو د حملې لپاره د فرصت په انتظار وو.

که څه هم دغه مهال هم پر سرك بیر وبار و، پر سرك د ریکشاو هارنونه وو خر ګاډی ګرحیدل خلك په کاروبار بوخت وو، خو نه پوهیږم ولې زما پر زړه ویره نتوتلې وه، زما په یاد شول چې ۱۲ کاله پخوا زما

په هر اسویلي کې ویرې خاله کړې وه، چې د شپې د تیارو له زیاتیدو سره زیاتیدله د احمد جان د وړاندوینې سره سم د عبدالله کاکا پیدا نه شو خو د لرګیو په دوکان کې چې یوه سړي لرګي اره کول او بوره یې ورسره الوتله مور د عبدالله اوښی آغا ګل پیدا کړ هغه په غمجنه لهجه وویل:

عبدالله یې سهار په څلورو بجو غرغره کړ زما یو زوی سردار ګل موټر چلوونکی دی، چې دی کله هغه سهار د هرات بازار په لور ووت هلته یې د خپل کاکا زوی مړی ولید چې راځړیدلی وُ.

هغه بیرته راغی ماته یې وویل زه یې د مړي لیدوته بوتلم. چې ما کله مړی ولید سوګند مې وخوړ چې دی چا وژلی وي، زه به یې پرې نږنم.هغوی د ده له جیبونو څخه هر څه ایستلي وو، پر ده یې دومره ظلم کړی وُ، چې پوستکي یې تور اوښتي وُ او هډوکي یې مات شوي وو.

ما ترې وپوښتل:

دوی ولې داسې وکړل؟

هغه وویل:

ته د ده د کاکا له زوی نازک څخه وپوښته هغوی دواړه ډیر خواړه ملګري وو.

مور د ده له لارښوونې سره سم د نازک په موندلو پسې ولاړو په تلو تلوکې یوې داسې کوڅې ته ورسیدو چې د رنګو دیوالونو لوټې پرتې وې او کندیې پکې جوړې وې، بالاخره مور و، چې ویالې ته ورسیدو لمر په لویدو وُ اود آسمان څنډې سرې شوې وې، د سرک دواړو غاړو ته د خښتو وړې وړې بڼې او د بمباری په واسطه رنګ شوي کورونه وو. هلته رڼا ډیره لږه وه او پر نغریو خواړه بار وو، چې دودونه یې خپریدل پر

دې ځای د کوم زاړه ښار ګومان کیده لږ لرې ما یو ړنګ شوی منار ولید چې کړکۍ یې سوری سوری شوې وې، دغه ودانۍ روسي ټانکونو هغه مهال ویجاړ کړې وه، چې کله ملایانو پر هوایې ډګر ګولۍ اورولې او ما ځان په کنده کې غلی کړی و.

احمد جان وویل:

نور ډیره ناوخته شوه د القاعده کسان هر ځای شته ښایي دا یو دام وي راځه چې بیرته ستانه شو.

ډیره زر توره تیاره شوه د سپوږمۍ په رڼا کې کورونه آفت ځپلي ښکاریدل سیمه چوپه وه، یوازې یو سړی له خر ګاډي سره راغی چې شنه واښه پرې بار وو، بیا مې په یوه وړوکې هلك سترګې ولګیدې چې انګریز ښکاریدو د هغه پر سپین مخ د حیرانۍ نښې وې، سره ویښتان یې درلودل موږ ورته وویل چې د عبدالله کور لټوو هغه راته وویل چې موټر همدلته پریږدئ او له ماسره راځئ.

بیا یې په یوې لارې بوتلو چې د خاورینو دیوالونو په منځ کې تیره وه، د یوه کور پر بام مو ډش آنتن هم ولید.

هغه وړکي هلك چې ورروسته وپوهیدو د عبدالله زوی و. هغه په یوې دروازې چې ګلداره پرده پرې ځړیدلې وه ننوت، دننه په پسپسکو مشورې پیل شوې، بیا یې زه د ښځو کوټې ته بوتلم.

د خاورو تیلو څراغ یې راته کیښود، چې کله مې سترګې د تتې رڼا سره روږدې شوې. ومې لیدل چې یوه د څلوېښتو کلونو په عمر ښکلې ښځه پر غولي ناسته ده، د هغه سره واړه ماشومان هم دي په یوه کونج کې یوه ځوانه ښځه په سلګیو ده د هغې سر په تور څادرکې پټ دی، او یو ماشوم په زانګو کې زنګوي د ماشوم غومبوري د ګلاب په څېر تك

سره دي او توري سترګې يېن دي چې په پنډه توته کې نغښتلی دی. زه يې چې وليدم سخې مخ بل لوري ته واړاوه زه وپوهيدم چې هغه اميد واره وه.

احمد جان ته دا ښه ښکاره نشوه چې مور يې د ښځو په خونه کې کېنولې يو، په هر صورت هغه زمونږ د راتلو مقصد ورته ووايه مشرې ښځې سر وخوځاوه او د يوه پاکټ نه يې يو تصوير را ويوست او په چوپه خوله يې ما ته راکړ لومړی ما سرسري هغه وکوت په هغو کې د خلکو ګڼه ګوڼه وه، د هرات چوك د هغو دوړي پخلنځې مخې ته څو موټرونه ولاړ دي چې زه هره ورځ تودې تودې دوډۍ ترې اخلم بيا مې احساس کړه چې خلك يوه لوري ته ګوري هلته په منځ کې له بانسونو څخه جوړ شوي د غرغرې دار ؤ. چې څوك پرې را ځړيدل دا د منځنيو پيړيو د زمانې يوه ننداره ښکاريده ما د بانسونو د ماتيدو آواز اوريده. او داسې راته ښکاريده چې مړی تالونه خوري د تصوير پر شاد ددسمبر ۶ مه ۲۰۰۱ م او يا ۱۴۲۲ هجري قمري ليکل شوی وو. دا د طالبانو د واکمنۍ د پای ته رسيدو او د کندهار د ررانسکوريدو له ورځې څخه يوه ورځ وړاندې نيټه وه .

چای يې راوړ او د عبدالله خور بي بي زهری کيسه پيل کړه: په کونج کې د عبدالله کوندې لطيفې په پزه کې څه ويل.

د هغې سترګې اوښلنې وې، هغې خپله اته کلنه لور رحمانه نيولې وه، چې يو فيروزه يي تيکری يې پر سر کړی ؤ، چې وړې ستارې پرې ګنډل شوې وې، دې نجلۍ وړوکې ماشومې ته، اللو سندره ويله او ويده کوله يې پر دې يې د لوی سکندر د افغانې ميرمنې نوم ايښې ؤ، د سرو ويښتانو خاوند رحمت الله هلته بيل څك ناست ؤ. دی د کور سر پرست

ؤ، چې يوازې يوولس کاله عمر يې ؤ. دی چې کله وزيرېدنو لطيفه څوارلس کلنه وه

د افغانستان د سفرونو پر مهال ما ډېرې کيسې واورېدې، خو د عبدالله د کيسې په اندازه هيڅ کيسې هم د افغانستان غميزه ښه نشوای روښانولی.

بي بي زهره کيسه پيل کړه:

مونږ همدغه دوه تنه وو، زه مشره او عبدالله کشر ؤ. هغه د ظاهر شاه د حکومت له راچپه کيدو څخه لږ وړاندې په ۱۹۷۳ م کال وزيرېد زمونږ پلار حبيب الله د والي په دفتر کې نوکري کوله چې کله حکومت رنګ شو دی يې هم په کور کيناوه. ځکه چې زمونږ کورنۍ د بارکزيو د قوم ده، چې د پاچا پلويان بلل کيږي. دی يې دې ته اړ کړ چې ترکاني پيل کړي دا کار د ده ښه نه ؤ زده، زما ښه يادېږي چې خلك به زمونږ کره تلل راتلل. او د ميزونو او کرسيو په باب به يې ګيلې او شکايتونه کول چې مات شوي دي.

د لږو پيسو پر ګټلو برسيره به هغه مونږ ته داډ راکاوه چې زده کړې به راباندې بشپړوي.

هغې چې کيسه راته کوله يو هلك راغی چې له دووکالو څخه به وړوکی ؤ. هلك د دې په بنګړيو او فيروزه يې غاړکۍ لوبې کولې هغه غوښتل چې پاملرنه ورته وشي خو مشر ورور يې د دروازې په لورو شاړه هلته کيناست او د پردې پر ګلانو يې لاس واهه.

په کوټه کې داسې څه شی نه وو. چې ده لوبې پرې کړې وای په يوه ديوال کې په يوه سره چوکاټ کې هنداره لګيدلې وه.

پر هغې د زړه تصوير ؤ، خو سر چپه راځړيدلی ؤ.

بي بي زهرها کيسې ته دوام ورکړ:

ما او عبدالله روسي ټانګونه وليدل، چې کندهار ته راغلل. موږ هغه وخت په لوی سرك لاس تر لاس نيولي روان وو.

او پر دې مو فکر کاوه چې د دې مانا څه شی ده؟ څو ورځې وروسته زموږ پلار له موږ نه بېل شو بيا پر دې وپوهېدو چې د ټانکونو راتلل ښې علامې نه دي. زموږ پلار د حاجي لطيف له ګروپ سره ملګری شو، هغه د غلو " ډاکو ګانو"، مشر و، سپينه ږيره يي درلوده.

" حاجی لطيف جهادي قوماندان او قومي مشر و. ژباړن" ده دې به بې د سپو ساتونکي په نامه سپك ياداوه خو د مجاهدينو تر ټولو څواکمن قوماندان و، تر هغه وروسته د طالبانو له زوال وروسته د هغه زوی ګل آغا د کندهار والي وټاکل شو. د عبدالله د پلار په څير حاجي لطيف هم د بارکزيو د قوم و. دا د دراني قوم يوه څانګه ده، چې د افغانستان څوتنه پاچا هان له همدې قوم څخه وو، چې په هغو کې دوست محمدهم و.

.... چې موږ په کوټه کې ناست وو. نو دوه ماشومان ، د هغوی مور. د تره کونډه يې او د هغه دوه اولادونه په انګړ کې ناست وو، په هغوی کې نزاکت هم و چې موږ يې لټون کاوه پردې سيمه روسانو ډېرې سختې بمباری کړې. وې خو په يو ډول دغه کورنۍ ترې خوندي پاتې وه. د بي بي زهره له وينا سره سم حبيب الله کله نا کله کورته راتلو چې کله به ټيپي شوی هم و.

بي بي زهره وويل:

هغه له روژي وروسته يوه ورځ چيرته ولاړ خو بيرته رانغئ، مور واوريدل چي دی د حکمتيار کسانو وتښتاوه او چيرته يې سنګسار کړی يا يې وسوځاوه. دا د لس کالو مخکې خبره ده.

عبدالله د خپل پلار د بدل اخيستو کلکه اراده درلوده، ده د نورو هلکانو په څير په ۱۱ کلنی " کي کلاشينکوف ويشتل زده کړل او په همدې تمه ځوان شو، چې دی به يوه ورځ جنګيږي ده په پنځلس کلنۍ ښوونځی پريښود او د ګل آغا په ډله کې شامل شو.

چې پلار يې پر دې ترې ناخوښی ؤ.

خور يې وويل چې ډير نيك هلك ؤ، د شاه توت لاندې به ناست ؤ او د شعرونو په ويلو به يې خوښي ښودله.

په داسې حال کې چې نورو ماشومانو په خپل وخت به کاغذ پران الوزولو او وزو پوولو تيراوه هغې زياته کړه:

د هر چا هغه ښه ايسيده. ده به په مصيبت کې خلکو ته لاس وړکاوه. هغې په کونج کې د ايښودل شويو دوو بکسونو له يوه څخه د تصويرونو البوم راواخيست او راته ويې ويل:

ته ورته وګوره ! په البوم کې د يوه ځوان ډير تصويرونه وو چې په سترګو کې يې يوه تلوسه ښکاريده او پر شونډو يې موسکا غوړيدلې وه، په يوه تصوير کې هغه د يوه ډنډ پر غاړه له ملګريو سره د ميلې په حال کې ؤ، هلته يې هندوانه خوړله او خندل يې. په يوه بل تصوير کې په مزار شريف کې د حضرت علی "رضی الله عنها " په مزار کې د کوترو په منځ کې ولاړ ؤ." د حضرت علی رضی الله عنه مزار د عراق په نجف کې دی اردو ژباړن" هغه کوترې د ده پر سر ناستې وې اويه يې په لاس کې وه دافغانانو عقيده داسی وې اويوه يې په لاس کي دافغانانو

عقیده داسی ده چې په اووکوتروکې یوه روح وي ځکه خودهغو دخوښۍ تر لاسوکولو لپاره دانه ورته اچوي ویل کیږي چې دا دومره سپیځلی ځاي دی چې که کومه عامه کوتره ورته راشي تر ځلوریشتو ورځو پوري به سپینه شي.

بي بي زهرې راته وویل:

یوه دوي میاشتې به له مورږ سره وه، نور په کال اوسرپه جګړه کې وه، ځکه به مورږ ډیر ورته اندیښمن وو. کله چې مجاهدینو حکومت ونیو اوګل آغا لومړی ځل والی وټاکل شوو عبدالله یې دمخابراتو اوټلیفون د څانګې رئیس وټاکلو وروسته یې هغه کابل ته تبدیل کړ.

ده هلته کار کاوه چې طالبانو کابل ونیو اودي یې هلته ونیو ځکه چې دده دموټر په سامان کې یې یوفکس ونیو چې امریکا ته داستولو لپاره تیار شوي وه. خو هغوي دا ثابته نکړاي شوه چې دافکس عبدالله لیکلي دي ځکه یې پریښود. وروسته بیا عبدالله له طالبانو سره ملګري شو چې پرده څه شك اوبدګوماني ونه کړي خو هغه له ګل آغا سره هم کار کاوه یوازي ماته معلومه وه چې هغه څه کارونه کوي مادهغه دایسارولوهڅه هم وکړه ځکه چې ددي پاي به خامخا په غم اوړي.

ناوخته کیده ځکه خومورږ وعده وکړه چې ددي کیسي نوره برخه به سبا ماسپښین دده دکاکا له زوي نازك نه اورو چې په همدي کلا کې په یوه خونه کې اوسیده.

دهغه اصلي نوم حمید الله و خوهر چا نازك باله چې معني یې همدغه نازك اونرۍ دي دهغه عمر ۲۲ کاله و خوهغه دومره نازك و چې کله به یې چې دریشي واغوسته داسي به ښکاریده لکه دریشي

چې به کوټېند راخړېدلي وي هغه دوالي په دفتر کي مهم کار کاوه هغه به له خلکو څخه وسلي راټولولي.

عاموخلکو دده نوم ډېر په احترام او در ناوي يادا وه دنازك دكوټې نه بهر ډېر گرد جن بوټونه پراته وو.

دننه هغه يوې تكسي ته ډډه وهلي وه اوناست وه.

له ده سره ديوه لوي تلويزيون سره جوخت پنځه تنه وسله وال كسان ناست وو، غالباً دا دكوم عرب له كوره دغنيمت په توگه تر لاسه شوي وه، پرتلويزيون انگريزي نجونو اوهلكانو سندره ويله او ورسره گډېدل هم دا دام ( M) تلويزيون كوم پروگرام و زموږ په ورتلو ددوي محفل گډ وډ شو.

نازك يې خپلو كسانو ته څه وويل بيا هغوي جگ شول په تفداني كې يې په زوره وتوكل.

او ولاړل د هغوي سترگې سرې سرې خوټېدلې وې.

ماله نازك څخه دعبدالله په باب پوښتنه وكړه. هغه له جيبه وړوكې ديادښت سره رنگي كتابچه راو ښكله پرانستله يې اوويې ويل:

دادهغه يو نظم دي چې سرليك يې دي " چوپ فرياد" هغه يې خپل نظمونه د "خيال" په فرضي نامه خپرول او موږ يې نظمونه په ښار كې خپرول.

ماچيغي وهلې خوچا غوږونه نيو.

زما ټول اوريدونكي خلك مړه دي زه چې په كوم هيواد كې اوسم ماېن باله.

خودادمارانو څخه ډك ځنګل وخوت نصيب داسي ځاي ته راوستي يم چې همراز او هم ژبي مي نشته قانون څيرل شوي دي زه يوازي فريادونه اورم.

زما قلم په وينو ژاړي.
زه چيري ليکلي شم.
زه هيڅ هم نشم کولي.
څکه چې که زه رښتيا وليکم
نوزه به هم په مصيبتونو کي شامل شم.

نازك چې کله نظم لوست مايي څيري ته کتل چې ډير معصوم ښکاريده دهغه له مخ سره ډيره اوبريښونه نه جوړيدل بيا يي په خپل لاس اوښکي پاکي کړي په مړوند کي مې طلا يي ساعت اويه ګوته يي طلايي ګوتي وي چې غمي پکي لګيدلي وو.

هغه وويل:

موږ له وړوکتوبه سره ملګري اوياران وو عبدالله به چې څه ويل مابه همغه کول چا زموږ په منځ کې توپير نشو کولي.چې دي کله له ګل آغا سره ملګري شو زه هم ورغلم چې کله دي له طالبانو سره شو زه هم ورسره يوځاي شوم زموږ ټوله کورني دپاچا پلويان دي.

هغه ماته يو کارت راوښودچې په يوه لوري يې دعبدالله تصوير، دافغانستان پخوا ني تور، سوراوزرغون بيرغ و . په منځ کې يې دهرات کلاوه، هغه راته وويل:

موږ دواړه په جګړه کې ځوانان شوو. زه د تره کي له انقلاب څخه شپږ مياشتي وروسته وزيږيدم.

زما پلار، بابا اوتره دحاجي لطيف مشهور قوماندان وو زما مور اوپلار غوښتل چې زه ښوونځي ووايم.

خوپه څوارلس کلنۍ مې ښوونځي خوشي کړ اودخپلې کورنۍ دنفقې لپاره مې وسله پراوږه کړه ځکه چې پلار او تره مې ووژل شول مادا کوښه پخپله جوړه کړي ده بيا دعبدالله په څير زه يو جنګيالي شوم دبدن په هره برخه کې مې دګوليو نښې شته.

کله چې لومړي ځل طالبان راپورته شول نومونږ ورته خوښ وو. ځکه چې هغوي په ښارکې امن راوستې و خوستونزه داشوه چې ښار ديوه ګوند په واك کې نه و. په مختلفو برخو مختلف قوماندانان واکمن وو په لوي سرك په لنډه فاصله کې پنځه ځايه پاټکونه او تالا شي وې زمونږ ښځې بازار ته له ويري نشواي تلاي. مونږ ګومان کاوه چې د طالبانو په وخت کې به برښاريوازي يو تن واکمن وي.

تر څه وخته پورې په وضعه کې ښه والی راغي . مونږ پاکستاني پوځ وليد له هغوي سره عرب اوچينايان هم راغلل مونږ نه پوهيدو چې اصلاً واك دچا په لاس کې دي ما اوعبدالله پردي وضعي له فکر اوغور وروسته له طالبانو سره دملګرتيا پريکړه وکړه چې دهغوي دننه وضعه معلومه کړو.

دسي آي اې په نامه دفکس دنيول کيدو اوپه نتيجه کې دعبدالله نيولو معني داوه چې دطالبانو سره دوفاداري اوملګر تيا دثابتولو لپاره له دوي سره ديو ځاي کيدو نه پرته بله چاره نه وه هغه دکابل په شمال کې دشمال تلوالې پرخلاف دجګړې ليکوته وتلو وړانديزوکړ.

نازك وويل:

دایو ښه پلان و. په لومړي محاذ دجنګیدلو سره هیڅا دا بدګوماني نشواي کولی چې هغه به دطالبانو پرخلاف کار کوي.

عبدالله دخپل موقعیت څخه ګټه واخیسته اودمعلوماتو راټولول یې پیل کړل اود ډیرو با اعتماده کسانو نظام یې جوړ کړ لږ ه موده وروسته موږ دطالبانو دظلمونو اودشمال اتحاد دجرمونو په اړه ډیر معلومات راټول کړل.

هغه ماته دعبدالله څو تصویرونه راوښودل په یوه تصویر کې هغه په مزار شریف کې په دښته کې دیوه ډله ئیز قبر تر څنګ ولاړ و. چې دجنرال دوستم کسانو په سلګو نو تنه ووژل او دلته یې ښخ کړي وو.

په راتلونکي ۱۹۹۸م کال کې نازك هم دعبدالله په مشوره دطالبانو سره ملګري شو ده وویل:

" زه طالبانو ته ورغلم او ورته و مې ویل چې زه جنګیالي یم اوستاسو جنګیالیو ته اړتیالري ځرنګه چې ماخپل موټر درلود دوی زه دګزمي په ګروپ کې شامل کړم چې په ښار کې به ګرځیدل اوهغه کسان به یې لټول چې غیر اسلامی کارونه کوي مثلاً ږیرې یې خریيلې اویابه یې اوږ ده ویښتان پریښودل اویا به یې سندرې اوریدې پردې سربیره هغه کسان هم لټول کیدل چې دظاهر شاه دډلي دغړیتوب کار تونه به یې درلودل په داسې حال کې چې ماهم تل داسې کار ت په جیب کې راسره ګرځاوه.

ماله هغه نه پوښتنه وکړه چې په څه دلیل دظاهر شاه ملاتړ کوی ځکه چې کله دی زیږیدلی ظاهر شاه په روم کې ډیر آرام ژوند تیراوه.

ده راته وویل:

زه ځکه دهغه ملاتړ کوم چې زما دکورنۍ غړي وايې چې دده دواکپمنۍ په وخت کې ډېره آرامي اوامن وه. اودنجونو اوهلکانو ښوونځی وو.

نژدې ماښام نازك خپل ساعت ته وکتل ويې ويل:

وبخښې دلمانځه وخت دي بيا يې په کونج کې په يوه کوزه او دس وکړ اوجاين مازيې وغوړ اوه لمونځ يې ادا کړ داسي ښکاري چې دنړۍ تر ټولو زيات فطري شي لمونځ دي.

څودقيقی وروسته له لمانځه څخه وزګارشو او ترڅنګ مي کيناست دخبرو لړي بيا پيل شوه داسي ښکاريده چې دغه لړی به هيڅ ونه شليږي هغه راته وويل:

زما په دندو کې داهم شامل وو چې دکندهار په چيل کې بنديانو ته سزا ورکړم په داسې حال کې چې مامې په خپل ژوند کې څوك په څپيړه هم نه وو وهلي خومادخپل تره اونورو دوستانو ډبول هم وليدل موږ د موټر سايکل دکلچ له تار څخه دمترو کې کار اخيست.

هغه دا ياد کړل چې څوك ډير وحشيانه ظلم کوي دا معلومات دعبدالله په بنډو بنډو دوسيو کی ليکل شوي وو.

دوي چې څومره له طالبانو سره ډير وخت تير اوه هومره يې له عربا نو څخه کرکه زياتيدله چی اوس يې دلته شمير تر درې څلور زرو تنو پورې رسيده اوپه ښار کې به په جاپاني لنډ کروزرو کې په يوه شن تيريدل ددې موټرو نو هنداري به زياتره رنګداري وې پرهغو موټروبه د دوبۍ لمبر پليټونه لګيدلي وو اوپر بام به يې ماشيندار لګيدلي وو، هغه راته وويل:

دعربانو چلن له موږ سره ډیر آمرانه و هغوي به کله کله موږ هم دګزمې پروخت ودرولو اوتلاشي به یې کړو.

د۲۰۰۱ م دسپتمبر تر ۱۱ مې پورې دعبدالله په پټ نظام کې نژدې سل تنه اعتمادي کسان شامل شوي وو چې دمعلوماتویو سل اوشل دوسیې یې تیارې کړې وې خودوي پردې نه پوهیدل چې اوس دا معلومات څه کړي نازك راته ویل:

زموږ سره دطالبانو اوشمال تړلوالی هر ډول دوسیې شته.

دهر یوه په باره کې په عمومی ډول له دوو څخه تر پنځو مخونو پوری دي. ځینې وختونه به چې عبدالله دغه دوسیې لیکلی ورسره ژړلی به یې ، دغه دوسیې یوازې دقتلونو او وژنو په باب نه وې ځینی دوسیې دپاکستانیانو په باب هم وې چې دجنګیالیو په بڼه راغلی وو عبدالله په سمنګانو کې هغوي دکانونو دکیندلو په حال کې هم لیدلي وو دعبدالله لخوا جوړ شوي ویدو یې فلم هم شته چې دیوه ژور نالیست په توکه یې له ربانی سره مرکه کړې وه دا ټول شیان دیوه لوري لاسي بکس په پټه برخه کې ځای پرځای شوي وو چې موږ غوښتل هغه به څه ډول ګل آغا یا ظاهر شاه ته را ورسوو.

ګل آغا په پاکستان کې مهاجرو، هغه له ډیرې مودې راهیسې په روم کې دظاهر شاه ددفتر سره دطالبانو پرخلاف دپوځي عملیاتو په اړه خبرې کولې خودبهرني ملاتړ نه پرته دې دا کار امکان نه درلود.

په داسی حال کې چې هغه دشمال تړلوالی سره یوځای هم دې کار ته چمتو نه و، دګل آغا مشاور انجنیر پشتون ویل : په واشنګټن کې دظاهر شاه مرستندوی شته دهغه لمسی مصطفي ظاهر له ډیري

مودې راهیسې په لویدیځ کې سفرونه کوي او دا خبر داري ورکوي چې زموږ په هیواد کې څه کیدونکي دي خوهیڅا پرې پروا ونه کړه

په نیویارک کې پرنړیوال سوداګري مرکز دهغو الوتکو حملو هرڅه بدل کړل، کله چې امریکا پرافغانستان برید وکړ نو دهغوي دلته کوم اجنټ نه و پنتاګون پښتو ویونکیو ته زیاته اړتیا درلوده هغوي ته په کندهار کې تیار جوړ شوي نظام په لاس ورغی دسپتمبر له ۱۱ مې نه وروسته عبدالله په سمنګان کې دوالی دمرستیال په توګه دنده تر سره کوله. هغه پوهیده چې امریکا یان به داسامه لټون کوي.

ده والی ته وویل چې اسامه دبډو ډو نارروغي لري باید چې علاج یې وشي چې تر دې وروسته عبدالله کورته راستون شو.

نازك زیاته کړه.

له ګل آغا سره دجهاد دوخت ښه زیاته وسله وه ماته معلومه وه چې هغه وسله یې چیرته ایښې ده.

څکه ما دعربانو دوژلو پریکړه وکړه چې هغوي زموږ هیواد بد نام کړي و. دنړیوال سوداکري مرکز د ویجاړ یدو نه یوه اونۍ وروسته مادکندهار په کابل دروازه کې دکابل دموټررنو په هډه کې درې لاسی بمونه وغورځول چې درې عربان پکې ووژل شول هلته یو لوي اوپراخ کور دي چې په هغو کې یو دفتر هم و دي دفتر ته به اسامه بن لادن تلو راتلو اوخپل پروګرامونه یې جوړول یوماښام په شپږو بجو زه دخپل یوه ملګري سره په موټر سایکل دلته راغلم ددي کور منځ ته مې درې لاسي بمونه ور وغورځول وروسته مو اوریدل چې په هغو باندي درې عربان مړه اودوه ژوبل شوي وو.

بل ځل مې په نوي ښار کې په یوه کور ډزي وکړې اواته تنه عربان مې ووژل.

بیا ګل آغا اعلان وکړ چې دپوځي عملیاتو پلان لري څه خودی دخپلی خوښي جنګیالیو ته اړتیا لري موږ کوښښ ته ده ته ورغلو او هغه یو ستلایټ تلیفون، لایزر اونور شیان راکړل اوموږ ته یي راوښودل چې څه ډول تاسو امریکا ته دعربانو اوطالبانو په اړه معلومات اوخبر ورکولي شي چې هغوي چیرته دي.

د اد امریکا دبمباری څخه یوه اونی مخکی خبره ده موږ باید دطالبانو دخوځیدو اوپروګرامونو معلومات اوخبرونه برابر کړی وای موږ ته یې دامریکا یي هوایې ځواکونو خاص تیلیفون نمبر هم راکړي و.

ماچې کوم ځایونه ورښودلي وو په حیرانوونکي ډول پرهمغو ځایونو بمباري وشوې دساري په توګه مادښار په شمال کې هغه کور ښودلي و چې ملاعمر پکي پټ و هغوي پرهمغه کور بمباري وکړه چې ملاعمر پکي تېپي اوزوي يې ووژل شو.

ملاعمر یې چې کورته په زیکشا کې وتښتید ما دوي ته وویل:

دعبدالله دکاکازوي په انګریزي ښه نه پوهیده ځکه خوده زیاتره معلومات ګل آغا اویا انجنیر پشتون ته سپارل چې هغوي ښه روانه انګریزي ویله هغوي به نیغ امریکا یانو ته معلومات ورکول پردي سربیره یي په روم کې دپاچا له زوم اوپوځي کاریوه جنرال عبدالولي سره اړیکي درلودې ،دې خلکو ډیر لوي خطر پرځان منلی و، په کومه اوني چې بمباری پیل شوه، طالبانو فرمان جاري کړ چې له چا سره

ستلایت تلیفون ومونډل شو نواعدام به کړاي شي وروسته چې ماله انجنیر پښتون سره دیوځي عملیاتو خبره وکړه هغه راته وویل:

" دعبدالله اونازك په ځیر خلك ربنتیني اتلان دي چې وفاداری یې هیڅ زیان نه مومي ددی د خپلې خوښې سرتیریو خپل سرونه په لاس کې نیولي وو یوه ورځ ، به په کندهار کې دعبدالله مجسمه جوړوو"

له نازك نه پرته یوازي دعبدالله خور پرهغه پوهیده چې څه کارونه کوي زما خواته هغې ویلې وو:

چې کله هغه له لاسي بکس سره کورته راغلی و نو زه په حقیقت همغه وخت خبره شوم مادده د منعه کولو هڅه وکړه خوده راته ویل چې عربانو افغانستان په ټوله نړۍ کې بد نام کړي دي.

هغوي به تر هغو له هیوا د ونه وزي ترڅو چې څوك قرباني ورنکړي ماورته وویل چې ته خولې تر لړه خپله میرمن اوبچیان پاکستان ته بوزه چې هغه دې ته راضي شو.

دعبدالله خبره رښیتا وه. هغه پردې شکمن شوي وه چې طالبان دده په لټه کې دي نو ځکه خوده او نازك غوښتل په یوه لوي لاسي بکس کې ځاي پرځاي شوې دوسیې اونور اسناد په یوه طریقه پاکستان ته ورسوي په کومه ورځ چې موږ کویټې ته روانیدونکي وو عبدالله دیوه عرب دکور په مخ کې په ستلایټ تیلي فون له چاسره خبرې کولې چې یو موټر سایکل سور یې په مخکې تیر شو ، عبدالله بیرته راستنیدو چې مخ یې راوګرځاوه نوطالبانو راایسار کړي و ویې نیو اوجیل ته یې واچاوه.

چې په جيل کې پرده ستم روان و اوپوښتنې ترې کيدې همدغه مهال يې په څلورو ډاتسنو کې طالبان کورته راغلل ، بي بي زهرې راته وويل:

هغوي هرڅه لټ په لټ کړل قرآن کريم يې هم را واخيست اوويې کوت، دوي څه لټول زه همدلته وپوهيدم چې ورور مې يې نيولي دي.

هغوي په تلاشی کې نازك له هغه بکس سره ونيول.

نازك دعبدالله دراتلو انتظار کاوه چې کوټې ته روان شي هغه دتيښتې فرصت ونه موند. نازك راته وويل:

هغوي زما لونګۍ څيرې کړه اوپرهغو يې لاس تر شا راباندي وتړل بيا يې زه په موټر کې ورسره واچولم. په کلا شينکوفونو يې ووهلم بيا يې دجيل په يوه تنګه اوتياره کوټۍ- کې واچولم.دا دومره تياره خونه وه چې خپل لاسونه مي نشواي ليداي زه يې ماسپښين دوي بجې ونيولم او دشپې اته بجې يې وبولم لومړي شپه يې په لرګو اوقمچينو ووهلم دوي دشپې له اتو بجو نه د سهار تر ددوو نيمو بجو پوري وهلم اوعذاب يې راکاوه بيا يې پرټپونو تيزاب راته واچول هغوي غوښتل چې دا معلومه کړي چې مونږ دچا لپاره کار کوو دغه وخت زه خبر شو م چې عبدالله يې هم نيولی دي تر هغو وروسته ماعبدالله بيا ونه ليد که څه هم ماليداي نشواي خوچيغې مې بې اورېداي شوې

تر دوو اونيو پورې يې دواړه بي دريغه په عذاب کړو زه يې تر هغه لږ وځورولم ځکه چې څوك زمونږ پرځورولو مامورشوي وو په هغوي کې يې زياتره زما پخواني ملګري وو نازك ويل: زما باور و

چې دغه خلك به مې په وهلو وهلو كې ووژني دده په وينا دطالبانو تر ټولو دردوونكې سزا پرېښو په لمدو لښتو وهل وو ويل يې:

ددوي له تلو شپږ اونۍ پوره شوې خوزه تر اوسه پورې پښې نشم مينځلي بيا يې موزه وايستله اوخپله پږ سيدلې پښه يې راوښوده ويل يې:

چې كله يې وهلو نو راته ويل به يې چې تاسو مسلمان نه يې كافريې اودكافربه مرګ په مرئ كافران مرئ مرسته درسره كوي مابه هره شپه دبمباري غږونه اوريدل چې له هغو نه مو څه هيلې په زړونو كې را ويښې شوې خودا تمه مونه وه چې طالبان په دومره زر رانسكورشي.

يوماښام په جيل كې عجيبه وضعه وه خلكو ويل چې طالبان وسلې ږدي اوښايي موږ ټول ووژني سبا ته سهار زما څو دوستان راغلل هغوي زما دخوشي كيدو په بدل كې دجيل آمر ته يو موټر اويو لك روپې ۹۰ پونده رشوت وركړي زه خوشي شوم چې بيا يې ديوه دوست كورته ورسولم له دې نه دوه درې ساعته وروسته دطالبانو واكمني پاي ته ورسيده.

مامې دوستانو ته ويل چې عبدالله بايد راخوشي كړو هغوي راته ويل ته استراحت وكړه په ښار كې اوس ډيره ګډوډي ده تر سبا پورې بايد انتظار وكړو دراتلونكي سهار ما بيا ټينګار وكړ تر دې وخته معلومه شوه چې طالبانو وسلې غورځولې دي هر چا خوشې څرګندوله زه هم ډير خوشاله وم خوبردې نه پوهيدم چې دوي دعبدالله دراخوښي كولو هڅه ولې نه كوي بالاخره ماسپښين زما ملګري پردې راضي شول موږ په موټر كې سپاره شوو خوزه يې دجيل پرځاي يوه

نوي قبر ته بوتلم زه چې په کومه ورځ خوشي شوي وم ترهغې یوه ورځ مخکې یې عبدالله غرغره کړي و.

دا دطالبانو وروستۍ پاسي وه دعبدالله مړي دسهار له څلورو بجو څخه دماښام تر شپږو بجو پوري په دار ځړیده دده دوستانو بیا دده مړي دچینایانو روغتون ته یوړ هلته ډاکترانو دا تائید کړه چې تر غرغره کیدو مخکې یې هغه ډیر ربړولي و.

موږ تر ماښام ناوخته پورې خبرې کولې دنازك په سترګوکې دويرې اوترهې سیوري ښکاریده عمر یې تر دوه ویشت کلونوډیرلوږ ښکاریدو. ماترې وپوښتل چې اوس چې جګړه پای ته رسیدلې ده آیا ستا اوعبدالله زامن به په امن اوسوله کې رالوي شي؟ که څه هم ده له ځایي او سیدونکیو نه دوسلو راټولولو دنده درلوده خودعبدالله زوي رحمت الله ته یې دکلاشنکوف چلول ورزده کول. سریې وخوځاوه ویې ویل:

زموږ کورنۍ ډیرې قربانۍ ورکړې دي زوری باید دپلار اونیکه پرپله پل واخلي.

# د ماري يادښتونه

کابل ۲۰۰۲ جنوري

نن بیا واوره اوري غر په واورو پټ دی.

د هر چا زړه له هیلو ډك دی، چې نوره به وچکالی پای ته ورسیږي، د قرغې ډنډ به بیرته ډك شي، په کوڅو کې ماشومان لوبې کوي، د واورې غونډوسکي جوړوي پر غونډیو یخ مالك وهي او هر سړی په موسکا دی.

زه پرون له فرېښتې سره د ښځو سازمان دفتر ته تللې وم چې له زينب سينما سره دی، چې د ښځو د کار په باب معلومات وکړم.

هلته نورې هم ډیرې ښځې راغلې وې، هرې ښځې دعاګانې کولې خو هیڅوك خبر نه وو.

موږ پر راديو واوريدل چې هغوی زموږ له حکومت سره د مرستو ژمنې کړې دي، ځکه خو مې باور دی، چې ډیر ژر به ښوونځي پرانستل شي، اوس هم د ضرورت وړ شیانو کمبود دی.

دغه ښار د یتیمانو په ښار بدل شوی دی، په مهمو ځایونو کې هم د پرېښنا او اوبو کمبود دی، د تودو لو هیڅ بندوبست نشته موږ اوس ډیر غریبان شوي یو.

ښار ته د بیرته راتلونکیو بیروباردی. چې له دې امله موټر په ښار کې د ډیرې کنې کونې له امله نشي ګرځیدای.

عجیبه خبره ده چې پر سامانونو ډك ټیکسیان ښار ته راځي، په داسې حال کې چې له ښاره باید تلای په لاریوکې تلویزیونو نه او د بریښنا سامان راوړل کېږي.

پسته خانه بیرته پرانیستل شویده هر لوري ته شور او غوغا ده، ځکه چې بیرته راستنېدونکي خلك خپل کورونه پرانیزي.

ښار کې ډېر بهرنیان لیدل کېږي زما وړور وایي، چې په ښار کې هره ورځ تلویزیوني کامرې لیدل کېږي.

زه حیرانه یم چې د جمیل دوسته یوه ښځه خبریاله به هم راشي، ما له خپل دوست نه واوریدل چې هغه توفیق په کندهار کې لیدلی و، هغه زما لیکونه یې کویټې ته یوړل، هغه ویل چې طالبان ټول پاکستانیان وو. اوس په کابل کې چوپتیا ده. بهرني پوځونه چې پرجیپانو یې بیرغونه رېپېږي په ښار کې گرځي. فرشته ډېره شوخه ده زه یې راضي کړم، چې د چرګانو کوڅې ته ولاړه شم ویل یې چې ځینې پوځیان ډېر ښایسته دي، ځینی وختونه چادري ډېره ګټه کوي ځکه چې ته به نور لیدای شې خو نور څوك تا نشي لیدای هغې ماته وویل چې کومه نجلۍ د هغه بهرنیو پوځیانو تر څنګ تریږي نو د بیټلیانو سندرې زمزمه کوي هغه نارینه پردې نه پوهیږي، چې دا سندرې د دوی لپاره وایي موږ به بازار کې لږ څنډ ایسار شوو، او برتانوي پوځیان مو ولیدل هلکانو له دعوی نه سګریټ وغوښتل، دوی یې تصویرونه وایستل.

# له طالبانو سره مخامخ کيدل

چې کله لويه ډيره لويه وي نوبو سري بې يو وخت يوازې يوه برخه ليداي شي. "رډيارډ کيفلنګ"

سهار وختي تيلفون زنګ وواهه، زه هغه مهال په کوټه کې په آرامه بستره کې چې سپين څادر پرې غوړيدلی وء، ويده وم په تليفون غږ راغی چې قالينې راغلې. دا ډيرې ګرانبيه دي او په سوداګري حساب يې ډيرې نشو ايسارولی.

پر نړيوال سوداګري مرکز له حملې وروسته ما پرلپسې تر پنځو مياشتو زياته موده په افغانستان او پاکستان کې له خلکو سره د طالبانو په اړه خبرې کولې. په ځانګړې توګه مې له هغو خلکو سره ليدل. چې طالبانو ظلمونه پرې کړي وو. د دې تيلفوني شفر معني دا وه چې زه به په يوه پټ ځای کې د طالبانو د لوړ پوړيو چارواکو سره مخامخ کيږم.

نور تليفونو ته راغلل چې قالينو دوکان بدل کړ اوس به يوه پيچلې لاره غوره کوم په لاره کې بايد څو ځلې موټر بدل کړم د دغو تليفونو نه څلور ساعته وروسته زه د يوه دوست په تيکسي کې سپره شوم په خامو سړکونو کې تيره شوم چې مړ ژواندي خره پکې تر سترګو کيدل او افغانان په بايسکلونوسپاره په کې ګرځيدل. ايجنټانو په

بدشکل موږ تعقیبولوخوموږ پردي بریالي شوو چې له هغوي ځانونه وژغورو.

زه یوې کوټې ته ننوتم چې ځاي ځاي پکې ډیر انونه اوخاوري خځلې انبار وې پرکورونو پردې را ځوړندې وې .زه ددې کوټي یوه کورته ورننوتم.

چې ګواکې زه غواړم له ښځو سره مرکې وکړم په کور کې ناسته وم اوپه ناکراري می چاي څښلو دهلکانو ستاینې مې کولې چې پزې یې بهیدلې ، نجونو خپل پایزیپونه اچولي وو.

بالاخره یوه ږیرو ر مشر چې سپینه لونګۍ یې تړلې وه زه دیوي پردې له شانه کوټې ته ور وبللم چې هلته دطالبانو دحکومت دوه تنه وزیران په توشکو نو ناست وو پرهغوي برسیره هغه سړي هم ناست وو چې زما او د دوي ترمنځ یې دخبرو اترو زمینه برابره کړه.

دوي مې چې ولیدل سمدستي نه پوهیدم چې څه ورته ووایم؟

هغوي خپلې ږیرې لنډې کړې وي اوځوانان ښکاریدل ماته دا معلومه وه چې دطالبانو مشري د ۳۰ کلونو څخه دزیات عمر دخاوندانو په لاس کې ده، د تیرو ځومیاشتو راهیسي نه پوهیږم ولې ما سره ددوي په باب دا نظر پیدا شوي و چې دوي ځوانان لږ اومصیبت ډیردي.

دهغودوو تنو څخه یو دددفاع وزیر مرستیال مولانا عبدالله ساعدي وء چې عمر به یې ایله ۲۸ کاله وء، هغه لږ ویریدلی غوندې وء او په پیکه موسکا یې راته هرکلی و کړ دالومړي ځل و چې دکندهار له رانسکوریدو وروسته چې دوي له افغانستان څخه

راتښيتدلي وو دوې مياشتې وروسته له خپل پټ ځاي څخه بهر ته راوتلي وو.

دوهم کس به ۳۵ کلن و مبزبوت اوځ.اکمن سړی ښکاريده ، هغه په دې شرط زما سره ليدو ته راضي شوي و، چې نوم به يې نه افشا کوم.

دوي دواړه په ظلم کوونکيوکې شامل وو. ددوی ظلمونو لويديځه نړۍ ويرولي وه.

په څيروکې يې دپښيمانۍ هيڅ نښې نه وې، زموږ د ملاقات لپاره داځای ډير مناسب و، د ابلوچستان و، چې پراخ ډاګونه اوغرونه يې دقاچاق وړونکيو لپاره جنت دي او قبايلي قانون پکې چليږي ښځي په کولپوکوټوکې ساتې اوچې دمرکزي حکومت افسران دلته راځي نوويريږي.

مولانا ساعدي وويل:

موږ خپلې ږيرې وخرييلې. سپينی طالبي پکړۍ مو په کندهاريو لونګيو بدلې کړې اوپه موټرو کې له سرحده راتير شو و هغه يې خپل ټير ته ارشاره وکړه ويې ويل:

زما ږيره دومره اوږده نه وه لکه اوس چې ده. زه تر سرحد راواوښتم له بمبارۍ پېليدو څخه مخکې د هغه کورنۍ کوټې ته راغلې وه چې په هغو کې د ده اوه،درې اودوه کلنې درې لوڼې او يو پينځه کلن زوی شامل دی.

پاکستاني واکمنو پر موږ سترګې پټې کړې ځينې وختونه يې له سرحده په را اوښتوکې مرستې هم کوليز په داسې حال کې چې د القاعده او طالبانو د وژلو لپاره د امريکا خاص کوماندو او هوايي

قواو د کندهار له هوايي ډګر څخه په شمال لوري غرنيو سيمو باندي بمياري کوله دا يوبرالاراز و، چې د طالبانو مرکزي وزيرانو د سرحدنه پوري غاړې په مدرسواو کورونوکې پناه اخيستي وه. په هغوي کې د عدليې وزيرملانور الدين ترابي دکورنيوچارو وزير ملاعبدالرزاق، د اطلاعاتو او کلتور وزير او د ملاعمر ترجمان قدرت الله جمال هم شامل وو.

دغه دواړه کسان له ماسره ليدو ته ځکه تيار شول چې پخوا ما د طالبانو له جبهې سره اړيکې درلودې چې د طالبانو زياتره کسان د همغه جبهې غړي وو. هغوی زما پردوست چې ډاکتر و او د جهاد لپاره يې پيسي پيدا کولې اعتماد کاوه د همده په واسطه زموږ ملاقات وشو.

ما ته يې په پياله کې چای واچاوه يوه وزير راته وويل:

ته مو ويني چې موږ ښکروته نه لرو ګن چې هر څوك زموږ په باب هر څه وايي نړۍ باوري کوي خلك وايي چې موږ دژونديو بنيادمانو ته څرمنې ايستلې دي او بيال موږيې په اولادونو د هغوی غوښې خوړلې ا اوتاسو دا هرڅه چاپ اوخپاره کړل.

د خبرو په دوام کې ماتري وپوښتل چې تاسو په طالبانو کې څنګه شامل شوې؟

مولانا ساعدي کيسې هم د نوروڅخه څه توپير نه درلود د هغه پلارد حکمتيار له حزب اسلامي سره مجاهدو او له روسانوسره په جګړه کې وژل شوي و د هغوی کلي يې په بمبارۍ کې لوټه لوټه کړې و.

هغه مهال دی يوازې پنځه کلن و، د دوی کورنۍ د کندهار د مهاجرينو کمپ ته ولاړه کورنۍ يې ډيره غريبه وه، چې په يوه خيمه کې

اوسیدل چې په هغو کې د پخنۍ کې په خیمه کې ډیر ساړه وي او په ګرمۍ کې یې تودوخه د زغم نه وتلي وي ځکه چې د دښتي او غرونو توده هوا خیمي ته ورځي موږ به په سوال ګوزاره کوله یا به مې مور او خور قالینه و اوبدله او د هغوی په پیسو به مو ژوند تیراوه کورنۍ مو هغه وخت خوشاله شوه چې زه په اته کلنۍ د سرحد ایالت په نوښار کې په یوه مدرسه کې شامل شوم هلته ډوډۍ، کتابونه او د اوسیدو ځای ورېا وو، په دوو کلونو کې یوازي یو ځل د مورد لیدو لپاره کورته راتلو ځکه چې کندهار ډیر لري و اود سفر لګښت او کرایه ډیره زیاته وه ځکه خو په خصتیو کي هم تګ راته ممکن نه و په دي موده کې ده د کلاشنیکوف ویشتل زده کړل دانه شوای ویلي چې څه وخت او چیرته یې زده کړل هغه ویل چې یوه ورځ کلاشنیکوف وچلوې بله ورځ به دې زده وي.

په ۱۹۹۴ م په نمایې کې د سردارانو او پاکستاني علماو یو پلاوي مدرسې ته راغی هغوی وویل:

تاسو باید له طالبانو سره ملګري شی او جهاد وکړئ زموږ مشرانو جهاد کړي دي چې موږ یې بیاد پیروي وکړو موږ ورته ویل چې موږ لیدلي دي چې هغه جنګیالي ټول جنګي مشران شوي دي دښځو عزت تر پښو لاندي کوي اوخلك وژني.

دوي وویل چې پیا به داسې نه کیږي هغه کسان خوبې لاري شویدي ، داخل به موږ په ربتیا داسلام لپاره جهاد کوو زه دمدرسې له ملګرو سره یوځاي له طالبانو سره ملګر شوم.

په همدي کال په اکتوبر کې مو په سپین بولدك لومړي حمله وکړه هغه مهال موږ ټول تا ل سل تنه وو

هغه وویل:

مورِ ډیر کسن ووژل ز مورِ هم ډیر ملګري شهیدان شول خودا په جګړه کې معمول دین مورِ خوښ وو چې دالله پوځیان یو اوداسلام دسرلوړي لپاره جګړه کووسپین بولدك مویه اساني ونیو، بیا دکندهار په لور پرمخ ولاړو، خلکو چې مورِ ولیدو خوښ شول او وسلې یې راته وغورځولي ماترې وپوښتل چې آیا دجهاد له پیلولومخکې دې پردې فکر کړي و چې دظاهر شاه دتخت اوتاج دبیرته ګټلو لپاره به جګړه کوي؟

هغه حیران شو ویې ویل:

ظاهر شاه دجهاد لپاره څه کړي دي؟

بیا یې زیاته کړه مورِ د ظاهر شاه لپاره جګړه نه کوو د علماو لپاره یې، کوو چې د ملاعمر ملاتړ کوي ځکه چې دی د امیر حیثیت لري.

په راتلونکیو څو کلنو کې ساعدي د افغانستان په ډیرو ځایونو کې جهاد کاوه چې په هغو کې هرات. مزار شریف ، کندز او بامیان هم شامل دي.

د ده تر قوماندې لاندې پنځه سوه مجاهدین وو، ورروسته یې یو نیم زر تنه تر قوماندې لاندې وو په ۱۹۹۷ کې طالبانو د هیواد په نوي فیلصده برخو واکمنی درلوده او دي یې چارو مسوول وټاکه ده ویل: ما مجاهدین جګړې ته هڅول دوي ته مې ویل چې که شهیدان شوي نوجنت ته به ځئ او له ځانه سره به دخپلې کورنۍ ۷۲ تنه نور هم بیولي شي.

له ملاعمر سره د ده ښه ګوزاره روانه وه، ده راته وویل:

ملاعمر ډير نيك سړي دي . د هغه اخلاق او كړه وړه ډير ښه دي ماته يې زوى ويل . چا به چې ورسره ليدل ډير ښه چلن به يې ورسره كاوه

په ۱۹۹۹ م كې دى د ملا عبيد الله تر لاس لاندې د دفاع وزارت مرستيال شوچې د طالبانواو آي اس آي ترمنځ يې د اړيكو دنده درلوده.

په دې ډول به له اسامه بن لادن سره هم وخت پر وخت ده ليدل هغه خبره روښانه كړه: ملكې چارې عربانو نه كنترولو لې زموږ په هيواد كې داسلام دملاتړ كوونكيو ښه هركلى كيده.

همدغه لامل و چې په افغانستان كې دانګلستان. استراليا او امريكا مسلمانان هم شته.

دساعدي دوينا سره سم دطالبانو له زوال وروسته هم اسامه بن لادن په افغانستان كې و. دوى دواړو پرامريكايانو پروي خندل چې ويې منشورې نيولى.

هغه ويل:

په كومه ورځ چې موږ په كندهار كې وسله وغورځوله.

په همغه ورځ مې له هغه سره تيلفوني خبرې وشوې.

هغه په پاكستان كې و او بلكل روغ رمټ و ما د وضعې نه خبر كړ هغه راته وويل خداى دي ستاسو مل شي لومړي مې فكر كاوه چې پاكستان ته به ولاړ شي.

خواوس زما په نظر په سعودي يايمن كې دي.

وروستي ځل ماپه نومبر كې ورسره وليدل هغه مهال چې مې پرهرات بمباري روانه وه دا ملاقات دمالي چارو په اړه و هغه دموټر و

په پیرلوکې له موږ سره مرسته کو له هغه مهال یې ښایي ایران ته دتلو فکر کاوه. هغه بلکل روغ و. ځوکاله وړاندې یې دبډو ډو تکلیف درلود. خواوس روغ شوي و. کوم وخت چې امریکا یانو دهرات په څلورو لوریوکې پرپوځي مرکزونو بمباري کوله هغه مهال موږ په موافق هوټل کې دماسپښین ډوډۍ خوړله او خندل موچې دوي خبرنه دي چې موږ ددوي په څو کیلو متري کې یو اسامه آرام بخښونکي ګولۍ خوړلي خوځان یې پټ نه کړ.

ساعدي اعراف وکړ چې اسامه له بمباري څخه دځان ژغورني په خاطر په کندهار کې ځاي بدلاوه په بمباري کې دده ډیر ملګري شهیدان شول دساعدي په وینا طالبانو دخپلو ځانونو دژغورنې لپاره چا ته اسامه دسپارلو په باب هیڅکله هم سوچ نه کاوه هغه وویل:

هغه زموږ په هیواد کې میلمه و موږ پناه ورکړې وه میلمه پالنه زموږ دکلتور مهمه برخه ده پردي سربیره هغه موږ ته پیسي هم برابرولي په داسې حال کې چې نور چاراسره مرسته نه کوله.

دطالبانو دریځ:

دطالبانو مشرتابه دغه خبره دورغ بلله چې په نړیوال سوداګر مرکز حمله القاعده کړي ده، زه داکار غلط ګڼم. په اسلام کې دبې ګناه خلکو وژل ناروا دي، موږ ددې برید پلټنې کړې دي چې دامعلومه شوه چې ددې حملی تور په القاعده غلط دي.

ماله هغه نه وپوښتل چې دهغه ویډیو یې فلم په باب څه وايي چې په هغو کې اسامه بن لادن دحملي په باب خبري کړي دي هغه راته وویل:

پرهغو ویډیو زموږ باور نشته دغسې جعلي فلمونه جوړیدل ډیر

آسانه دي.

دوهم وزیر چې تر اوسه پورې چوپ و وویل: دغه جګړه اصلاً دکفر اواسلام ترمنځ ده امریکا غواړي خپل کفر اوالحاد پرافغانستان واکمن کړي موږ داسلامي ریښتیني ساتندویان یو دګل آغا اوکرزي په خبر دامرکیا اجنټان نه یو.

ساعدي وویل:

موږ ټوټه ټوټه نه شوو اوس هم سره یویو، ماته موهم نه ده څوړلي موږ ددې پرځای چې وینې توبې کړو داغوره وګڼله چې واك پریږدو زموږکسان خپل خپل قوم او کلي ته ولاړ ل یایې هیواد پریښود موږ اوس یوازې انتظار کوو. په مزار شریف اونوروځایونو کې پرواکمنی جګړې پیل شویدي دجمهوري ریاست مانۍ ساته بهر نې پوځیان کوي موږ اوس خپل تحریك له سره منظم کوو د هیواد دننه زموږ ډیر پلویان شته چې کله وخت راغی موږ به بیرته ولاړ شو.

بل وزیر وویل:

دخدای شکر دي چې داجګړه وشوه اوموږ ته دامعلومه شوه چې څوك له موږ سره ملګری دي اوڅوك مخالف دي حامدکرزی داسې ښودل چې زموږ ملګری دی، خود اوس هغه بل اوري ته تلل دي.

موږ ته معلومه شوه چې هغه داقتدار وږي دئ.

داټول به محکمې ته راکش کړای شي اوداسلامي قانون سره سم به سزا ورکړو.

ماوپوښتل:

څه ډول سزا به ورکوم؟

هغه وویل:

هغه به په دار راوځړوو بیا یې خپله خبره بیرته اصلاح کړه هغه ته به دشرعی قانون سره سمه سزا ورکړو.

زما دیادښت په کتابچه کې یو تصویر وء چې په کندهار کې دعبدالله کونی راکړي وء ، چې په هغو کې عبدالله دهرات په دروازه کې په بازار کې دننه په دار را ځړیدلی ښکاریدو، ماهغه تصویر دوي ته وروښود اوومی پوښتل:

ددی څه جواز دی؟

ساعدي وویل: داظلمونه کمونستانو کړی دي چې زموږ په لیکو کې ننوتلي وو هغوي دخپلو ځیرو دپټولو لپاره زموږ پګړی پرسر کړې وې ، هغوی دطالبانو دبدنامولو لپاره ظلمونه کول.

ماورته وویل:

ماپخپلو سترګو دهرات دکتابتون الماری تشی ولیدی، چې له هغه ځایه طالبانو کتابونه وړي وو اوسوځولي یې وو. دجمهوری ریاست تابلو ګانې یې ځیرلې وې داطلاعاتو اوکلتور دوزیر په مشر تابه یوه ګروپ په کابل موزیم کې لرغوني مجسمي او دقبل التاریخ دورو لوښي په تبرونو مات اوتوټه کړل. اودبامیانو دمجسمو سره څه وشول؟!

وزیر وویل: تصویر اوعکس په اسلام کې حرام دي ځکه مو هغه شیان له منځه یوړل اوپه کوموکتابونو کې چې تصویرونه ووي هغه مووسوځول دبودا مجسمې موځکه ویجاړې کړې چې هغه زموږ دعقیدي خلاف دي اوقضاهمدغه پریکړه وکړه په موزیم کې چې شیان ووهغه زموږ د تاریخ برخه نه وه بلکې هغه دکافرانو دتهذیب برخه وو ځکه موتباه کړل.

ماترې وپوښتل:

دنجونو ښوونځي موولې وتړل؟

دهغوي ځواب هماغسې و لکه دمولانا سميع الحق چې دحقانيه مدرسې څخه دفاع کوله راته ويې ويل:

چې موږ دنجونو دتعليم مخالف نه يو په پاکستان کې زما لوڼي ښونځي ته نه ځي خوپه افغانستان کې وضعه دومره خرابه ده چې موږ هلکانو ته مناسب تعليم نه شو ورکولي نونجونو ته به څنګه تعليم ورکړاي شو؟

زه حيرانه وم چې دوئ به زما په باب څه ګومان کوي، هغه ويل:

ښځې بايد بشپړې په حجاب کې وي که ته زما ښځه واې نو په کوټه کې به مې بنده کړې واې.دهغه په دې خپره کې دټوکې هيڅ بوې هم نه وه.

ماترې وپوښتل چې دطالبانو حکومت له تفريح اوساعت تيرې څخه داولس دمحروم ساتلو فرمانونه ولې ورکړي وو مثلاً پرکاغذ پران الوزولو يې بنديز لګولی وه.

هغه راته وويل:

پرکاغذ پران الوزولو دخلکو دساتنې لپاره بنديز لګيدلې و ډير هلکان له بامونو څخه راغورځيدلي اومړه شوی اوياټپيانې شوی وو. پرسطرنج قمار وهل کيده ځکه موبنديز پرې لګولي و دداسې لهو اولعب پرځاي دی نور ښه کارونه وکړي مثلاً دقرآن مجيد تلاوت دي وکړي په پارکونو کې دې چکر ووهي ،دطبيعي منظرو سيل دی وکړي موږ پرفوټبال او کرکټ بنديز نه دي لګولي ، يوازې دامو ويلي دي

چې لویغاړي دې ډېرې پرېږدي اوفاسبي جامې دې اغوندي.

هغه زیاته کړه:

دنړۍ اولس له افغانستان سره ډېره مینه ده خو تردې مخکې یې موږ ولې هیرکړي وو؟ تاسو یوازي دومره وکړل چې پرافغانستان موبندیزونه ولګول چې دهغو له امله زموږ دخلکو محرومیتونه نور هم زیات شول لویدیځ موږ ته څه شي راکړي دي؟ د اسامه دمرستو له تر لاسه کولو پرته موږ بله چاره نه درلوده.

ماغوښتل نورې پوښتنې هم وکړم خوهغوي اړخ پراړخ کیدل زموږ خبرو اترو ته ختڼه دوام درولد بوډا سړي چې سپینه پګړۍ یې پرسروه وویل چې امکان لري موږ افشا شو وروسته راته څرګنده شوه چې هغه دهمدغه ځای یو پیروء ماوویل:

څوك به مودرك ولګوي آي اس آي خو ستادوستان دي؟

نن سبا زموږ له هغوي سره هیڅ اړیکې نشته .آی اس آی دامریکا یانو لپاره کار کوي، پاکستان موږ ته دوکه راکړه، دوي څنګه ځان ته یو اسلامي هیوادوایي!

ماترې وپوښتل:

تاسو دګوانتاموبی دخلیج د ایکس رې کمپ تصویرونه لیدلي دي چې امریکایان اوس هلته طالبان اودالقاعده غړي وړي اودپلټنې لپاره یې په کپسونو کې بندیان کړي دي؟

هغه ځواب راکړ چې موږ هیڅ اندیښنه نه لرو.

هغه زیاته کړه:

امریکا یان ناکام شول ،هغوي اسامه بن لادن ،ملاعمراویا دالقاعده اوطالبانو کوم لوړ پوړي غړي ونه نیولاي شول ، هغوي یوازې

زموږ حکومت له منځه یرږ. موږ ددوي پرخلاف کوم عملیات ونه کړل، ملاعمر اوس هم په افغانستان کې دی. اوله هغو قوماندانانو سره اړیکې لری چې دنوي حکومت څخه خوشاله نه دي، برتانویان ډیر ښه پوهیږي چې په افغانستان کې له بهر څخه لاسوهنه څومره دبې عقلي کار دي ته به وګوري چې بریځ به داسلام وي موږ به دروسانو پا ځیر امریکایان هم توته کړو اودطالبانو نوم به بیرته راژوندي کړو.

زه یو ډول ناکراره کیدم، دآیرلند دطنز لیکونکي "جانتن سویفټ الفاظ رایاد شول:

"ستاسره زموږ لپاره دکرکې کولو مذهب شته خودمیني کولو نشته.

ساعدي ساده ځوان ښکاریدو. چې په داسی هیوادکې دخلوږو زامنو پلاروء چې ډیر ماشومان له خپلو پلرونو څخه بې برخې شوي دي.

دخبرو په وخت کې به کله کله هغه ماته په ځیر ځیر وکتل.

. ګومان کوم چې مایې په سترګو کې دشکونو نخښې لیدلې . خوبه کوم سبب هغه هیڅ ونه ویلاي شواي. داهمغه کاته ووچې ما دعبدالله ، سرو ویښتانو لرونکي زوي په سترګوکې احساسول چې دهغه سرګردانه سترګو له هر ځاي څخه دمرستې هیله درلوده خوهغه پرچا اعتبار نشو کولی.

## له جنرال حمید گل سره لیدنه:

له جنرال حمید گل سره مې کوم په زړه پورې یادښتونه نه وو یوه ورځ مې په ویره ویره په راولپنډۍ کې دهغه دکور زنګ وواهه دوولس کاله پخوا چې زه پاکستان ته راغلې وم نوماته یو پټ ټلیفون راغی ، یوه ښځینه غږ راته وویل:

مشر درسره ګوري ، ماته وویل شول چې اته بجې یې انتظار وکړم .پرتاکلي وخت خړکمیس پرتوګ اغوستي اوغاړه په وریښمین دسما ل کې پټه،توري سترګې پرسترګودوه تنه راغلل، چې داستخباراتې شبکې غړي کیداي شواي ،هغوي په اسلام آبادکې زما داپارتمان دروازه وټکوله،زه یې رنګینوهندارو درلودونکي تور ګرڼدي موټرکې زیرو پواینټ ته نژدې دسهروردي واټ یوې بې نومه ودانۍ ته بوتلم ، دا دآی اس آس دفتروء چې دلوړو دیوالونو پرسرازغي لرونکومزیوشاته وء.

دي شبکې ددې هیواد دډیرو خلکو په زړونوکې ویره اوترهه پیدا کړې وه.

زه یې په یوه کوټه کې کینولم چې په هغو کې یو دکنفرانس میزوء پردیوال دافغانستان یوه لویه پوځي نقشه راځوړنده وه چی ځاي ځاى رنګین میخك پرې لګیدلی وو له یوې ګوښې څخه یو دټیټ قدخاوند چې خړ کمیس اوپرتوګ یې اغوستي وو راڅرګنده شو. هغه برېتونه هم

ـ چې داسي ښکاریدل لکه دپزې لاندې یې چې نښلولي وي.
ـ ځلیدونکې سترګي او غنم رنګی وء ، هغه دحاکمانه شخصیت
ـند وء،خود وروسته مې داترنظره شول چې کینه پکې ځلیده، مالاس
ـ ورانديې کړ ځکه چې راته معلومه وه چې په اسلامي هیوادونو کې
ـځو ته دلاس ورکولو رواج نشته، هغه نژدې راغي اودسرپه اشاره
یې زما هرکلیٔ وکړ. داد آي اس آي مشر جنرال حمید ګل وء.

که چاته دافغانستان دجهاد رښتیانیٔ ښستګر ویلای کیدای شي هغه جنرال حمدګل دي، دسي آي اې دمالي اولوژسستیکي ملاتړ له امله هغه د۱۹۸۷ څخه تر ۱۹۸۹ م پورې دآي اس آی مشر وء، تر دې مهاله دروسانوما ته ددیوال شعار شوي وء چې هرڅوك پرې پوهیدل، دافغانستان جګړه یوازې تر افغانستان پورې ایساره پاتې نشوه.

بلکي داسلامي نړۍ جګړه ترې جوړه شوې وه.

دافغانستان له جګړې مخکی آی اس آي دپاکستان اولس یوه شومه اداره بلله، جنرال ایوب خان داپه ۱۹۵۰ کې دسیاستمدارانو د راقابو کولو اوڅارني لپاره جوړه کړې وه کله چې په ۱۹۵۸ م کال جنرال ایوب خان واکمنی ته ورسید نوځواك یې نور زیات شو اودا دپوځ یو اغیزمن سیاسي مټ شو دنولس سوه اویاپه ی ۱۹۷۰م کې صدراعظم ذولفقار علي بوټو دا اداره په بلوچستان کې دبغاوت دځپلو لپاره دبلوڅومشرانو دجاسوسي لپاره وګومارله، بیا یې خپلو سیاسي مخالفینو ته دزیان رسولو لپاره وکاروله آی اس آي دسیاستمدارانو ،ژورنالستانو اووتلیو کسانو دبدنامولو لپاره کمپاین وچلاوه. ځکه یې دا دکرغیړنو توطیو غونډ Dirty Tricks وباله.

په ۱۹۷۷ کال چې ضیاالحق له بوټو څخه واك واخیست نودي اداري دځپلو صلاحیتونو دایره پراخه کړه. دپاکستان مختلف بنسټپال اوقومپال ګوندونه یې وسله وال کړل،داد" وجنګوه اوحکومت پرې وګړه" پالیسي برخه وه پردي" سرېیره دې اداري په کشمیر کې دجګړي لپاره دځپلې خوښي پوځ وروزه ، دکشیمر مساله پرپاکستان ډیره ګرانه ده ، دافغان جګړې له امله دغه شبکه دومره ځواکمنه شوه چې د" ریاست دننه ریاست" ترې جوړشو.

د ۱۹۷۹ م دکرسمس په جشن کې چې کله روسي ټانکونه کابل ته ننوتل ، نوسمدستي ضیا الحق ته له امریکا څخه دګټو تر لاسه کولو فرصت تر نظره شو، دهمدې کال په نومبر کې د ذولفقار علي بوټو د پانسي کولواوپه اسلام آباد کې دامریکا دسفارت دسوځولوله امله دامریکا اوپاکستان اړیکي ډیري تودې نه وې ، امریکا دپاکستان مرستې ایساري کړې وې ، دغه مهال سره جګړه ښه په زورکې وه.

امریکا دروسیې دپراختیا غوښتني دمخنیوي لپاره ناکراره وه دایران دپاچا له رانسکوریدو وروسته په سیمه کې یوازې پاکستان دامریکا متحد پاتې وه.

دسرحد ایالت والي او دجنرال ضیاءالحق مهم مشاور جنرال فضل الحق دکار تر له حکومت سره داړیکو په ټینګولو کې فرصت ضایع نه کړ، وروسته بیا هغه وویل:

مابریژنسکي " دکار تر امنیتي مشارو" ته وویل چې له تاسو سره چې په ویتنام اوکوریاکې څه وشول دهغو دبدل اخستو وخت راغلي دي.

بریژنسکي سخت سر ي سړي و، هغه هم سمدسي له دې فرصت څخه دګټې اخیستلو پریکړه وکړه خوله مجاهدینو سره دمرستو پروګرام دریګن دجمهوري ریاست په دوران کې ونیول شو په ۱۹۸۱ م کي له پاکستان سره ددري ملیارده اودوه سوه ملیون ډالرو اقتصادي اوپوځي مرستوپریکړه وشوه څرنګه چې دغه جګړه له روس سره د پردې تر شاه دامریکا جګړه وه، ځکه مجاهدینو ته زیاتي وسلې برابرې شوې چې دویشلو اوڅارنې ټول واك یې آی اس آس ته ورکړ له دې سره دغه شبکه بې درکه زیاته ځواکمنه شوه. وسلې له چین ، اسرائیلو اوپولنډڅخه راغلې دروسي وسلې د ډولونو جوړولو لپاره کار خانې ولګیدې چې وسلې ونه پیژندل شي.

دوسلو باریه چې کراچۍ ته راورسید هلته به آي اس آي ته سپارل کیده ، دویش اوسنبالولو ټول مسوولیت یې دآي اس آي پرغاړه و، له ۱۹۸۰ _ ۱۹۸۳پورې دلرې ختیځ لپاره دسي آي اې مسوءول چك كوګن " Chuck Cogen " وویل:

پاکستان ټینګار کاوه چې دوي به داپریکړه کوي چې دغه وسلې چا ته ورکړي اوموږ ورسره ومنله.

دیوه اټکل له مخې آي اس آی (۶۵۰۰۰) ټنه وسله وویشله . دغه وسلې په پیښبورکې دجوړشویو ګوندونو په واسطه افغانستان ته رسیده.

دوسلو ویش ډیر ګټور کار وبارو، آي اس آی افغانستان ته وسلو درسولو لپاره په یوه کیلو ګرام شل ډالره تر لاسه کړل . ددې کار لپاره په قبایلي سیمو کې دقاچاق له ګروپونو څخه کار واخیستل شو چې اوږده موده یې دا کار کاوه افغانستان ته وسله و رونکې لارې له

هغه لوري په نیشه یي . موادو بار راتلې . سي آی اې په پاکستان کې بانکي خاصې ځانګې پرانېستلې اوپیسې یې پکی راټولې کړې.

آی اس آی ته یې نوی داستخباراتو وسایل هم ورکړل او دپوځې روزنې بشپړواك يې ورکړ.

دجنرال حمید ګل دعوه ده چې تر ۱۹۸۹ م پوري اتیا زره مجاهدینو په پوځي مرکزونو کې نظامي زده کړې تر سره کړې سي آی اې داهم ومنل چې خپل ایجنټان به له افغانستان څخه لرې ساتي.

په دې پریکړه هغوي وروسته پښیمانه شول جنرال حمید ګل ماته وویل:

امریکا یانو ته قبایلي سیمو ته هم دتلواجازه نه وه، هغوی تر هغه وخته له کوم افغان لیډرسره خبرې نشواي کولی چې تر څو به زموږ کس ورسره نه وء.

په افغانستان کې درې مهمې جاسوسي ادارې هم ککړې وې په هغو کې سي آی اې . دعربستان الاستخبارالعامه چې مشری یې د شهزاده ترکی الفیصل پراوږو وه اود چیني استخباراتی اداره شامل وو ددې ادارو داستازیو ترمنځ به اونیزه غونډه کیده. آس ای آی به دوي ته هماغه معلومات برابرول چې دوي غوښتل . دجنرال ضیاء الحق زوي اعجاز الحق ماته وویل:

زما پلار اوآي اس آي داخبره باوري کړې وه چې امریکا یانو له مجاهدینو سره نیغ په نیغه اړیکې ونه لري همدغه لامل دي چې هغوي دافغانستان په اړه په هیڅ خبرنه دي.

په هغو اونیزو غونډو کې چې هغوی ته څه نه ویل کیدل هغه داوو چې دآی آس ای ایجنټانو په افغانستان کې دپوځي عملیاتو

ACKU

پروګرامونه جوړول اوبیا به یې دهغو دعملي کولو لپاره امرکاوه چا به چې عملي کړ انعام به هم ورکول کیدو، "ستمګرتوغندي په ویشتلو به چې کومه الوتکه راوغورځول شوه نو بیا به یې دوه توغندي نور ورکول.

دمجاهدینو لپاره دوسلو ستره زیرمه راولپنډي ته نژدې په" اوجړي کمپ " کې وه چې داد افغان مجاهدینو لپاره د آی اس آی دیونټ مرکز و.

دغه زیرمه په ۱۹۸۸م کال په مرموز ډول وچاودول شوه، هغه مهال چې دسي آی اې آډت کیدونکی و".

دآی اس آی خپلسري قوماندانان نه خوښیدل په ځانګړې توګه دعبدالحق په څیر قوماندانان چې په افغانستان کې دننه داولس ملاتړ ورسره و آی اس آي داسي فکرکاوه چې ښایي هغوي ددوي قوماندې ته غاړه کینږدي اوزړه نازړه وي ځکه چې ددوي په زیاترو پلانونو کې دپلونو اوبندونو ورانول هم شامل وو آي اس آی دعبدالحق نوم دومره مسموم کړي و چې دسي آي اې ایجنټانو دی " هالی ووډحق" باله عبدالحق ماته وویل: داستخباراتي ادارو هم خپلې حلقې اوخلك وي ددوي خپلې خپلې اجنداوې وي له بهر څخه د تر لاسه کیدونکې وسلې پرځاي پرهغو وسلو حساب غوره دي چې دننه لاس ته راځي.

کله چې په قصدي توګه افغان مجاهدین په ځولیډرانو وویشل شول ، دروسانو دوتلو نه وروسته په کابل کې دافغان اولس دواحد ملي تنظیم او ملي زعامت راپورته کیدل ګران شول.

دافغانستان دباغیانو لپاره په ۱۹۸۰ م کې دامریکا مرستې په کال کې دیرش ملیونه ډالره وې چې په ۱۹۸۶ کې شپږ سوه ملیون ډالرو ته جګې شوې.

همدومره مرستې سعودې هم رالیږلې په دي وخت کې افغانستان دوسلو دواردولو له درکه په نړۍ کې پنځم لوی هیواد شو دې پیسو آی اس آی ته دازمینه برابره کړه چې له ۲۵ زرو څخه تر یو لك تنو پوري وړیا ایجنټان برابر کړي.

چې په هغوکې دهوټلونودروازو په مخه کی تشریفاتي ساتونکي، دټکسي ډریوران اودهیواد دلویو اخبارونو ژورنالستان شامل دي پردې سربیره دغه اداره په کشمیر کې د رضا کار وجنګیالیو دروزنې اودهغوي دوسله وال کولو جوګه شوه ددې ترڅنګ په ملکي سیاست کې یې اغیزه اونفوذ زیات شو.

په ۱۹۸۷ م کې چې کله جنرال حمیدګل دآی اس آي مسوولیت واخیست دغه اداره بې قابو شوې وه، په ۱۹۸۸ کې په یوه هوایي پیښه کې دجنرال ضیاء الحق له اسراسرو ډکې وژنې سره دغه اداره له منځه ولاړه اودجمهوریت درامنځته کیدو لپاره لاره هواره شوه. جنرال حمید ګل په انتخاباتو کې پوره زور وواهه چې دبې نظیر بوټو دبري مخه ونیسي هغه نور ګوندونه دې ته اړکړل چې دبې نظیر بوټو په مخکې یومحاذ جوړ کړي دده ایجنټانو دبی نظیر بوټو دبد نامولو هڅې وکړې ددې هدف لپاره یې دهغې دمور نصرت بوټو هغه تصویرونه له الوتکو څخه وپاشل چې په هغوي کې نصرت بوټو دپاکستان دلومړي ښځې " دلومړی مقام دمیرمنې" په توګه په لوڅو متو په سپینه مانۍ کې له جمهور رئیس اونورو سره دنڅا په حالت کې

ښکاري، دتصوير لاندې ليکل شوي وو چې دهيواد پرځانو دغلو واکمني کيدونکې ده.

دګل پروګرام ناکام شو نړيوال فشار اودبوټو دبيشانه اولسي ملاتړ له امله داد پاکستان لومړنۍ ښځه صدراعظمه شوه، خوتردې وړاندې دېوځ بې نظير اوامريکا ترمنځ په خبرو کې پردې موافقه وشوه چې افغان پاليسي به دآي اس آي لخوا اداره کيږي ، وروسته بيا واك بې نظير بوټو ته وسپارل شو.

دبې نظير بوټو نژدې ملګري اوددې دوخت د قانون وزيرافتخار ګيلاني راته وويل چې له ۱۹۸۸ څخه وروسته يوه حکومت هم افغان پاليسي نه ده اداره کړې ، له موږ سره يې مشوره هم نه کوله مابې نظير ې ته وويل چې بحث ته اړتيا نشته پردې مساله خبرې مه کوي دادهغو مسايلو څخه ده چې خبرې کول پرې منعه دي.

موږ ديوه انتخابي حکومت په کابينه کې وو، خو پوځ اوآي اس آی بهرنۍ پاليسي چلوله موږ ته بې ويل قدرې هم نه چې څه کيدونکي دي.

که زه ددې پرځاي وای نوپه دې شرط به مې حکومت نه وء منلی.

بې نظير بوټو هم زما په مخکې دا اغتراف کړي دي چې:

يوه اندازه دا رښتيا ده چې پوځ اوآي اس آي افغان پاليسي اداره کوله.

خوچې کله زه صدراعظم وم نولږ تر لږه يو څنډ خووء. زما دحکومت له برطرفۍ وروسته هغوي اسامه بن لادن راوست اوافغانستان يو تر لاس لاندې هيواد شو*

په ۱۹۸۹ م په پیل کې په هغه مابنام مالومړي ځل له جنرال حمید ګل سره ولیدل هغه دافغانستان بې تاجه پاچاو مادده په باب ډیر څه اوریدلي وو دلومړي زړه نازړه توپ اونابلدي نه وروسته موږ تر دوو ساعتو پورې دافغانستان په باب خبرې وکړې هغه دجګړې په باب ډیر د تفصیل اوپه ښه ډول خبرې وکړې چې مادافغانستان په باب پخوا دومره ښه وینا هیڅ نه وه اوریدلي. تردې وروسته زه وپوهیدم چې کله جنرال حمید ګل په پارلمان کې داسې په جوش خبرې کړې وې چې دروسي پوځونو دخوندی وتلو لپاره جنیوا تړون مه کوي نودپارلمان دغړیو په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې دلومړي ځل لپاره زه وپوهیدم چې مجاهدین دآي اس آي

د ۲۰۰۲ په اګست کې په لندن کې دبې نظیر بوټو په کورکې دې اثر له لیکوالي سره مرکه.

یوازې پالیسي نه وه بلکې دایې آرمان او ایډیال هم دي.

دافغانستان بهرنۍ پالیسي د ادارې کولو یو سبب داوء چې تردیرو کلونو پورې پاکستان دامریکا دیوه طفیلي هیواد په توګه پاتې کیدو نه وروسته له دوي سره دنورو دبهرنیو پالیسیو داداره کولو تونده تلوسه راپیدا شوې وه، دوهم سبب یې په سرحدونو کې دهندي پوځونو له شته والي سره دخطر هغه دروند احساس وء.

په جګړه کې ترنیمایي هیواد زیاته برخه له لاسه ورکولو وروسته بنګله دیش جوړ شوي وء. پاکستان دیوه مذهبي هیواد په حیث جوړ شوي وء.

خودپاکستاني مشرانو تر اوسه پورې پردې اتفاق نه وء راغلی چې خپل هیواد څنګه اداره کړي.

دغه مشران په دې کې هم ناکام دي چې دخپل هیواد اقتصاد په نوي سیستم جوړ کړي . یوازې په بهرنیو مرستو اوله پاکستان نه بهر ته داستول شو یو کسانو به را استولیو پیسو دوی خپله گوزاره کوي.

په کابل کې دیوه دوست حکومت له جوړیدو سره دپاکستان شمال لویدیځ سرحدونه خوندي کیداي شي.

اودپښتو نستان مسا له هم ختمیداي شي. دډیرو افغانانو وینا ده چې د پاکستان پښتني سیمې دې بیرته له افغانستان سره یوځای شي ، افغانستان یوازیني هیواد وء چې په ملگرو ملتونو کې یې په دې سازمان کې دپاکستان دغړیتوب پرخلاف رایه ورکړې وه.

پاکستان یو نظر یاتي هیواد دي دضیا دمسلمان جنرالانو څخه جنرال گل داسلامي امت یو ډیر ارځښتمن غړي دي.

دي په کابل اوبیا پاکستان کې دبنسټ پالو دحکومت دجوړولو پخه اراده لري دده په نظر حکمتیار ددې کار لپاره ډیر مناسب سړي دي. دي په پوره شله کې دامریکا یې مرستو او وسلو په واسطه دهغو مشرانو مرسته اوملاتړ کوي چې دلویدیځ مخالف دي.

ددې لپاره دا دلیل راوړي چې هغوی ښه جنگالي دي.

جنرال گل دافغان جهاد په پراختیا کې ډیر مهم رول لوبولي دي هغه له ملایانو اوعلماو سره وکتل اوهغوي یې دې ته چمتوکړل چې په دیني مدرسو په زده کوونکیو کې دجهاد جذبه را ویښه کړي په افغان جهادکې دبرخې اخیستلو لپاره عربان لومړی جنرال گل راوستل ده په بهر کې پاکستاني سفارتخانو ته لارښوونه وکړه چې ویزې اودالوتکې تکټ وړیا ورته برابرې کړي، که هغوي په خپل هیواد کې فرار شوې وی هم پروانشته. ددې په نتیجه کې له الجزایر

څخه تر سوډان پورې د۳۸ هیوادونو ترپنځوس زروتنو پورې دخپلې خوښې مجاهدین افغانستان ته راغلل، جنرال ګل وویل: دعربي کورنیو دایو روایت شو چې یوه زوي ته په افغانستان کې پوځي روزنه ورکړي.

هغه وویل:

لویدیځ ګومان کوي چې بنسټپال دجګړې لمبوته ورتېل وهلی شي ... دجګړې دګټلو لپاره ددوي داخیال پرځاي و خو په راتلونکې کې دافغانستان داداره کولو په باب ددوي خیال غلط دي موږ به دا اجازه ورنکړو.

چې بیا د ۱۹۸۹ م کال دجلال آباد پیښه رامخې ته شوه، ماته معلومه وه چې داحمله دجنرال حمیدګل طرحه وه، هغه ماته ویلي وو چې اوس هغه وخت راغلی دي چې مجاهدین لوي ښارونه ونیسي ده په دعوه وویل:

مجاهدین په دري ورځو کې جلال آباد نیولی شي.

خوچې کله حملې پیل شوې نوټولې خبرې غلطې وختې دیوي اونۍ جګړې په ترځ کې چې په جلال اباد کې څومره کسان ووژل شول بل ځاي دومره لویه مرګ ژوبله ونه شوه پردې برسیره دعادي وسلو په استعمال کې دمجاهدینو ناکامي رابر الاشوه.

وروسته بیا جنرال ګل له نیویارک ټایمز سره په مرکه کې ویلي وو چې دحملې قومانده بې نظیر بوټو ووکړې وه بې نظیر بوټو له هغه نه دځان ژغورلو په هڅو کې وه په دې کال کې یې له واشنګټن څخه دهغه دشړلو اجازه تر لاسه کړې وه ځکه چې دبش اداري اوس هغه یو بوج ګاڼه. دی یې دملتان دقول اردو قوماندان وټاکه، خوده

تر ۱۹۹۲م پورې افغان پالیسي اداره کوله وروسته هم دده نفوذ اواغیزه پرځای پاتې وه ده په سوډان کې له اسامه بن لادن سره هم ملاقاتونه کول

په آي اس آي کې دده وفادارو مرستیالانو دده کار ته دوام ورکړ.

له جلال اباد څخه دشاته تګ نه څومیاشتې وروسته خودده دبدلیدوځخه مخکې ماته یو بل تیلفون وشو چې "مشر" درسره ګوري په کمیس اوپرتوګ کې دوه کسان زما دروازې ته راغلل داخل موټر دآي اس ااي مرکزته دتلو پرځای له زیرپوائنټ څخه دراولپنډۍ په لور وګرځید. چې هلته پوځي قرار ګاوې دي موږ دچوني په مخکې دیوه کور مخې ته ودریدو. بیا یې زه په یوه کوټه کې دیوه میز مخې ته کښینولم ماګومان کاوه چې دجنرال ګل سره به کورم خودهغه پرځای دوه نا آشنا کسان له یوې پنډې دوسیې سره راښکاره شول اود وسیه یې پرمیز کیښوده یوه یې رانه وپوښتل:

ته ولي غواړې چې پاچا بیا راشي؟

ماوخندل ومې ویل:

داتاسو څه خبرې کوئ؟

ته ولې دپاچا دبیا راوستلو لپاره کار کوې ؟

زه وپوهیدم چې تحقیق رانه کیږي.

پرمایې تور ولګاوه چې برتانوي اوروسي ګډه توطیه کې شریکه یم چې غواړي پاچا بیرته راولي دخبرو اترو پرمهال داراته معلومه شوه چې جنرال ګل له کوموخلکو څخه زیاته کرکه لري په هغو کې یوظاهر شاه دي. دا تور ډیر خندنئ وه خوپرمیز یوه پنډه دوسیه ایښې وه چې په هغو کې زما دکړو وړو اوتګ راتګ په اړه تفصیلي

راپوروڼه وو پردې سربيره په هغو کې نور هم ډېر معلومات وو . دا معلومات دهغوخلکو له ډلې څخه ځينو تيار کړي وو چې ماتر ټولو ښه دوستان بللي دي. د بې وفايي په اړه دا زما لومړني ريښتيني تجربه وه.

ټوله شپه يې زه په دې خونه کې وساتلم اوهمغه پوښتنه يې رانه په وار وار پوښتله.

کندهار ته زما سفر دهمدې خبرې ثبوت وء چې زه دپاچا لپاره کار کوم. بالاخره يې زه بيرته اسلام آباد ته ورسولم اودا ګواښ يې هم راکړ چې که خپل خير غواړې له دې هيواده ووزه.

ماله ګواښونو څخه نه ويريدو اراده کړې وه چې کله بيرته کورته ورسيدم نودا پارتمان هرڅه يې راته ګډوډکړي وو. تليفون مې يې غوڅ کړي وء. دوه وړوکي موټرونه اويو سور رنګي موټر سايکل چې دجناح مارکيټ په يوه بنده کوڅه کې وو زما دکور په مخه کې دريدلي وو.

زه خپل دوست درويتر استازي اوليورو يټميس Oliver Wates اودهغه ميرمنې روزې Rosie ته ورغلم، خوماته يې کار کول ګران کړل پاکستاني اخبارونو خبرو نه خپاره کړل چې زه جاسوسي کوم يوه اخبار دا سرليك راوړي وء چې:

**Lamb to the slaughter**

بالاخره داطلاعاتو وزير زما دويزې دمنسوخې اعلان وکړ.

لږه موده وروسته حکومت بدل شو اوجنرال ګل يې له وخته مخکې تقاعد ته اړکړ اوماته بيا پاکستان ته دتلو اجازه راکړاى شوه.

دتقاعد نه وروسته جنرال حمیدګل دبنسټ پالو تود ترجمان شوچې کله طالبان راپورته شول ده یې ډیر تود ملاتړ وکړ.

دي دطالبانو استاذ اوپالونکي شو، د آي اس آی مسوولین بدلیږي رابدلیږي خودغه اداره دګل دپلویانو لخوا اداره کیده اوهغه خپل نفوذ پکي په کار اچولو.

چې کله دطالبانو زوال پیل شو نو دافغانستان په باب دوه تړول خوبونه توټه توټه شول ما دده دشخصي تلیفون نمبر پیدا کړ چې دده دسکرتر په واسطه له ده سره دلیدو دوخت اخستو اړتیا نه وي کله چې ما په موبایل ده ته وویل چې زه څوك یم نوره به تر شونډو لاندې خندلي وي داسي ښکاریده لکه ډیر کلونه چې زما دتلیفون انتظار کوي.

هغه راتلونکي سهار دلیدو لپاره ور وبللم دده کور په چکلاله کې دي ، هلته یې دتقاعد شویو پوځي افسرانو لپاره په یوه پراخه ساحه کې دځلوردیوالي دننه سپین رنګي کورونه جوړ کړي دي زما موټر چلوونکي دځای په موندلو کې له ستونزو سره مخ شو چې زه یې پریشانه کړم اونیم ساعت وروسته وړورسیدم، چې ده داګته تړې اخیستي شواي چې زمادمرکې نیم ساعت وخت کم کړي هغه داوسیدو په کوټې کې زما هرکلی وکړ، هلته پرمیز دبرلن ددیوال یوه توټه ایښې وه ده تل داسي ګومان کړی چې دکمونیزم پرخلاف چې چا څه کار کړی دي په هغو کې دي محوري حیثیت لري.

ده دهرکلي لپاره دڅه ویلو اړتیا احساس نه کړه، البته پرشونډو یې موسکا غوړیدلې وه کله چې ده دسپتمبر د ۱۱ مې دیرغل تر شا

ديهودو اوهندوانودتوطيي په اړه اوږدې خبرې پيل کړې نوزما زړه ولويد.

هغه ويل چې ما له يوې مودې راهيسې دداسې يرغل انتظار درلوده امريکا يان ډير بد کارونه کوي څکه خودبدل اخستو امکان وء داستخباراتو روزل شوي اود ۳۶ کلنې مسلکي پوځي تجربې له مخې زه داشك نه کوم چې داکار به دشارون کسانو کړي وي. خوامريکا په دې پيښه دنړۍ خواخوږي تر لاسه کړه اودهغو نه په ګټې اخستو سره غوارې ستر اتيژيك اهداف تر لاسه کړي چې معني يې داده چې دچين دمقابلې لپاره دخليج دختيځو څنډو نيول غواړي چې دپاکستان اتومي پروګرام تر خپل کنترول لاتدي راولي.

ماله ګل نه دده او اسامه بن لادن ترمنځ داړيکو په باب پوښتنه وکړه، ده ځواب راکړ:

ته پوهيږې چې لومړی ځل سي آي اې له هغه سره زما دليدو زمينه برابره کړه څکه چې دوي پرهغه مين وو .ويل يې چې يوملياردر په خندا په دي مرداره جګړه کې دبرخې اخيستو لپاره را روان دي دوي په ډيرويار راته وويل چې هغه سمځې جوړوي هغه سمځې چې اوس يې دوي پخپله بيرته ورانوي تردې پخوا هغه ماته د هغو زرګونو نور وبهر نيانوپه څير يوتن ښکاريدوچې په افغانستان جګړه کې يې برخه درلوده مالومړي ځل له هغه سره په ۱۹۹۳ کې په سوډان کې وليدل.

اوډير ساده اوحساس سړي راته ښکاره شو.

دامريکا يانو دا عادت دي چې له يوه سړي څخه چې کار واخلي بيا يې له شيدوڅخه دمچ په څير راوباسي اولري يې وغوځوي دوي

له آي اس آي سره هم همداسې وکړل. دروسانو دماتولو لپاره يې ډيره مرسته ورسره وکړه خودا جورج بوش وء چې زه يې لرې کړم، بش هدايت ورکړ چې آي اس آي تصفيه کړي اوس دوي له همغه آي اس آي نه معلومات غواړي دغه خلك همدغسې کوي لومړي يوځه کوي چې کله ووينې چې کومه اداره زياته ځواکمنه اودځپل اختيار خاونده کيږي بيايې له منځه وړي.

د"تر اشيدم، پر ستيدم، شکستم" په مصداق چلن کوي.

بش فکر کاوه چې په موږ کې نظريات ننوتلي دي خودا له پيله فکري اوعقيدوي جګړه وه دوی پردې خبره ونه پوهيدل.

ماترې وپوښتل چې دطالبانو سره دآی اس آي اړيکې څه ډول وې؟

هغه ځواب راکړ:

لومړي ځل چې طالبان راپورته شول نومافکر کاوه چې داپه يونه يو ډول دجهاد پرخلاف توذيه ده طالبان ناڅاپي راپورته شول ځکه خو يې په اصلي وضعيت خبر نه وم وروسته مې احساس کړه چې دا دجهاد دبې قدرې په مقابل کې دافغان اولس غبرګون دي بيا زه کابل ته ولاړم او ومې ليدل چې دغه خلك څه کوي هغوي امن ټينګاوه. هيروئين يې ضبطول ، زما باور نه راتلوځرنګه چې حکمتيار، زموږ هيلې پوره نکړاي شوې ځکه خوطالبان راته ښه بديل ښکاره شول.

زه په پاکستان کې هم همدغسې نظام جوړول خوښوم. وضعه دپخوا په ځير ده، حکومت په وار وار ناکاميږي په اولس کې دا احساس راپيدا شوی وی چې سراومال يې خوندي نه دي ، له فساد اودرغلی څخه په تنګ شويدي طالبان رشوت خواره اوفسادي نه دي.

ماترې وپوښتل چې دوی بیا دومره په اسانۍ ولې مات شول؟
هغه راته وویل:
تر اوسه پورې لویه پای ته نه ده رسیدلې، روسانو په لسوکلونو کې لویه بایلوده، امریکا به په پنځوکلونو کې لویه وبایلي. دوي ونیسي چې درنه ولاړ نشي!!
موږ به له منځه ولاړ شي.
مااصلي پوښتنې نه ترې کولې چې دی هم پردې پوهیده هغه نا څا په جګ شو او ویې ویل:
مرکه پای ته ورسیده ، نور دلمانځه وخت دي. زما زړه په زوره زوره ودرزید ودریدم اوومی ویل:
غواړم له تلو مخکې یوه بله پوښتنه وکړم چې تاله مانه ولی پوښتنې پلټنې وکړې اوله هیواده دې ولې وایستم غوښتل مې آرام اوسم خوغږ مې جګ شو...
ماخوخپل کار کاوه تاسو ولې داسې وکړل؟
دجنرال سترګې له غوسې سرې وخوټیدې ، فکر مې کاوه چې بهر به مې وغورځوي هغه چې پرمخ داخلاقو کوم نقاب غوړولي و ویې غورځاوه راته ویې ویل:
آیا میرمن لیمب تا ته معلومه نه ده چې دا یورازدی مادډوي په باب ډیره ښه پلټنه کړي ده زما سره تحقیقات کوونکي غوره کسان وو، هغوي واقعاً بد ماش خلك دي.
بد ماش خلك! آیا دا وضاحت هغه وړوکي ماشوم ته تسلي کیداي شي چې پرجلال آباد یې دتوغندیو په ډزو کې خپله تولـه کورنۍ له لاسه ورکړې وه کله چې خوشه یې بمونه دده څلورو لوریو

ته چاودیدل او دده کریغي اسمان ته اوچتې وې اویا دې دعبدالحق دوژل کیدو سببونه په ګوته کول، چې جلال اباد ته نژدې طالبانو ونیو اوویې واژه کله چې هغه له څلورو لوریو څخه را ایسار شو نوله امریکا یې الوتکو څخه یې مرسته وغوښته.

خودغه وخت ډیره ناوخته شوې وه، دعبدالحق کورنۍ وروسته ماته وویل چې دوي په دې نظر دي چې آي اس آي طالبانو ته دهغه دوژلو اشاره کړې وه.

په افغانستان کې دډیرو خلکو لاسونه په وینو رنګ دي ، ښایي هیڅوک هم داسې نه وي چې لاسونه یې پاك وي که قوماندانان دي چې ډیرې پیسې یې لاسته راوړې اویا ژور نالستان دي چې ډیر شهرت یې ګټلي ددوي ټولو لاسونه په وینو رنګ دي په دې کې هیڅ خبره نشته چې نړیوالو ځواکونو په ساړه جنګ کې مجاهدین وکارول اوبیا یې جنګ ترې واخیست او هیر یې کړل.

دریګن دملي امنیت مشاور چې له ۱۹۸۳ - ۱۹۸۵ پورې یې دغه دنده درلوده ویلي وو:

دبري نه وروسته امریکا له افغان اولس سره شرمناکه بې وفایي وکړه.

خودراولپنډۍ په دغه ځلیدونکي ورځ چې ماکله شاته وکتل جنرال یې په خپله دروازه کې ولاړ و، اوموسکل یې ماته دده دننه هغه سړی تر ستر ګو شو چې دیوه بل هیواد دبې ګناه خلکو له برخلیك سره یې دلوبیدو هڅه کړی ده ځکه چې دده خپل هیواد ده په وعدو عمل ونکړای شو.

# له کابل څخه یو لیک

خپلې سترګې دې ګوره، هغه ورځ دې خو لرې لرې شیان لیدای شي (رومي متل)

د اختر په رخصتیو کې له لومړۍ ورځې څخه زه د فاطمه ماري په لټون کې سرګردانه وم ،روښانه ورځ وه دلمروړانګې ډیرې ځلیدونکې وې اسمان دهرات ملکې ګوهر شاد د مزار دګنبزې په څیر تك شین و، کله کله به دهندوکش له لورې دوریځو ټوټې راغلې اولمر به یې پټ کړ چې دسباورځې دباران زیرى به یې راووړ. په کابل کې هر چا له کور څخه بهر داختر خوشحالۍ نمانځلې ماشومانو په هغو پلاستیکي هلیکوپترولوبې کولې چې په سوغات کې ورکړای شوې وې ځینو کاغذي کاغذپرانونه الوزول وړو نجونو ژیړ، شنه اوسره ګلدوزې کمیسونه اغوستي وو چې دوى کټ مټ دښکلو ثانځکو په څیر پکې ښکاریدلې دهغوى په ویښتانوکې ګلان او پرمخونو یې کریم اوپوډراو سرخي وهلي وو.

دډیرو نجونو رنګونه ډیر سپین اوسترګې اویښتان یې تور وو، ځینې سپین مخي اوشنې سترګې هم وې، ماچې پردې فکر کاوه چې دغه ښکلي مخونه به یو وخت په چادري کې پټ شي ډېره به خپه شوم . خلك په عام ډول چادرې دمرغانو دکپس سره تشبیه کوي، خودکپس له چولو څخه خودمرغانو ښکلا لیدل کیږي اوددوى زړه وړونکې نغمې خو اوریدل کیدای شي.

زما په بکس کې ډیر لیکونه ووچې په یوه بدډوله پاکټ کې ایښي وو دا فاطمه ماري. ځان په خطر کې غورځولی و او په قاچاقي توګه یې ماته پاکستان ته را استولي وو، لیکونه دکتابچې په مخونو کې لیکل شوي وو، لیك یې بلکل دوړوکیو په څیر و ماهغه په وار وار لوستي وو په یوه لیك کې په چادري کې بندي یوې کابلۍ ښځې لیکلي وو:

کیدای شي چې ته کله پرتلویزیون دبمبارۍ ننداري کوې زه به دې په یادشم اودا احساس وکړې چې زه هم دغوښو او وینو جوړه انسان یم.

زه هم احساس لرم اوغواړم چې شونډې سرې کړم، ما یوازې دړیرورو وسله والو خوبونه نه دي لیدلي،بلکی دنڅا اوسندرو خوبونه هم وینم.

هغې لیکلي وو چې زه دکابل په ختیځ کې هوایي ډګر ته نږدې په نویو بلاکونو (نوی میکروریان کي اوسیږم.

زما سره دهغې پته نه وه پرپاکټ دبلاك او اپارتمان نمبرونه کیدای شوای چې غلط وي څکه چې ددې اندیښنه وه چې دغه لیك دکوم دښمن لاس ته ورنشيځ بیا هم مافکر وکړ چې باید لټون یې وکړم.

دهغې اصلي نوم فاطمه صدیق دی. پلار یې پخوانی دپلومات اوموریې ښوونکې ده، عمر یې تقریباً دیرش کاله دی اوپېغله ده، یوه کشرۍ خور اودوه ورونه لري زما باور و چې پیدا به یې کوم.

کابل په یوه لویه دره کې پروت دی، څلورو خواو ته یې غرونه دي په منځ کې یې دکابل سیند بهیږي ، زه په یوه ټکسي کې له سیند سره خواته دخیتځ لوري ته وخوځېدم.

په لاره کې دیوه تالار څخه تیریدم چې هلته پر ځمکه یو سړی ناست و اوپه یوه تیغ یې د" پولیس "لوی لوی توري تراشل، څو تنو یوه وزه حلالوله چې وینې یې پرځمکه بهیدلې.

بالاخره دمرنجان غونډۍ په لمنه کې میکروریان راښکاره شول چې دسترګو تر څاره مې غځیدلي بلاکونه اواپارتمانونه ولیدل دماري دلټون تلوسه یې رانه والوزوله. داکتار کتار جوړ شوي داروپا په څیر پاخه کورونه دي، څه برخه یې دظاهر شاه په وخت کې جوړه شوې وه پاتې برخه یې دروسانو په وخت کې بشپړه شوه، داځای دمنځنۍ سویې کابلیانو لپاره جوړ شوي دي چې په دوی کې ښوونکي، دولتي مامورین او ډاکتران شامل دي په دې بلاکونوکې یو لك اوڅلوېښت زره خلك اوسېدل څکه خوماته داډیره ګرانه وه چې خپله ورکه دلته پکې پیدا کړم.

دغه اپارتمانونه په ۱۹۹۲ _ ۱۹۹۴ م پورې دمجاهدینو ترمنځ جګړو کې دجګړې لومړۍ کرښه وه.

لومړی دجنرال دوستم ازبکو ملیشو دغه سیمه ونیوه وروسته بیادمسعود کسانو ترې ونیوه،بالاخره د حکمتیار کسانو پرې توغندي وویشتل ، تقریباً هر اپارتمان په تورو ګولیو سوري شوي دي، دځینو یې بامونه او غولي مات شوي دي، کابل پوهنتون د ۴۸ اپارتمانونو دبلاکونو داتمې برخې سروې کړي وه څرګنده شوه چې له ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۶م پورې ددې بلاکونو نیمایي کورنۍ ترې تښتیدلې

وې په دې موده کې پنځوس زره تنه کابلیان ووژل شول او هره ورځ زروکسانو کډې کړې دي.

په دې موده کې له ښاره درې لکه تنه خلك وکوچیدل دغو خلکو دبې دریغه مرګ ژوبلې اویو مخیزې بربادۍ او ویرانۍ له ویرې خپل کور اوشته پریښودل او وتښتیدل.

دجګړې له تپونوڅخه ډکې دې سیمه کې بدبویي خپره وه، هر لوري ته دخاورو اوچټلیو ډیرانونه وو، له دې څخه ښکاریدل چې له کلونو راسې څه صفایي اودپاکوني کار نه دی شوی دسونګ لرګیو لپاره آن دروازې اودرشلونه را ایستل شوي وو، زینې چټلې او د کرکیو هنداري ماتې شوې وې دځینو اپارتمانونو څخه د تیلي بخاریو دودونه ختل.

پردې ټولو برسیره بیا هم دلته خوشالي وه څکه چې دطالبانو له سقوط وروسته خلکولوړی اخترنمانځلو،دبلاکونوپه منځ پراخومیدانونوکې ځای ځای میلې جوړې وې، ماشومان پرتختو ښویېدل وروسته معلومه شوه چې دښویدو دغه سامان د روسي ټانکونو او زغره والو موټرونو له پرزو څخه تیار شوی دی، چې د ناستي لپاره یې داشتنګن ماشیندار مسند کاریدلی و هلته یوه وړوکې زانګو وه.

په میله کې دخرڅلاو بازار هم لګیدلی و، چې په هغو کې چینایي پلاستیکي ارځانه د لوبو شیان، رنګارنګ بنګړي او واوره پلورل کیدل. ماشومانو د خپلې عیدۍ پر پیسو د خپلې خوښې شیان رانیول.

نوي میکروریان له پخوانیو سره توپیر نه لري ما د ټیکسي چلوونکي ته وویل چې د ۱۵۳ لمبر بلاك مخې ته ودریږي دلته د

نائیك او تیتانیك کلمې انځور شوې وې چې د دې معنا دا وه چې ځوك دلته په انګریزي پوهیږي چې له ټیکسي څخه راکوزه شوم او پر ځمکه مې پلونه کېښودل نو یو ډول کرېهار اوچت شو ما ګومان کاوه چې ځمکه له یخنی نه کلکه شوې ده، بیا په خیال کې راغلل چې هر ځاي د ودانیو ټوټې پرتې دي، او د کارتوسو بې شمیره تشې ټولې دي چې اوس یې ماشومانو راټولول پریښي دي.

په زیاترو اپارتمانونوکې د دروازو پر ځاي آهن چادرونه لګیدلي وو، د ۱۵۳ بلاك د اپارتمان په دروازه په تباشیر لیکلي وو، چې د دي بلاك اوسیدونکیو د نړیوال غذایي سازمان له لوري یوه یوه بوجی غنم تر لاسه کړي دي، د طالبانو له تلو څخه تر اوسه پورې لا یوه میاشت نه وه تېره شوې ځکه خو خلك په خپله دروازه کې د یوې بهرنی ښځې په لیدو شکمن او اندیښمن شول.

په ځانګړې توګه چې بیا د دې ښځې سره د لیکونو په باب یوه عجیبه او غریبه کیسه وه، خو پر دوي د افغانانو د عنعنې میلمه پالنه زور شوه، ځکه خو چې ما هره دروازه وټکوله او د فاطمه ماري په باب پوښتنه به مې وکړه نو د کور خلکو به دننه ورتلو ست راته کاوه چې د اختر کلچې، کیك، شیریني او بادام وخورم، شین یا تور چای وڅښم چې چاینکې ترې ډکې وې.

زما دا بد اخلاقي ښه نه ایسیدله چې انکار وکړم پر دې سربیره مې غوښتل د دوي د ژوند پر دود خبره شم، ځکه مې بوټان وویستل او دننه ولاړم، په افغانستان کې چې منځنی طبقه خلك یادېږي هغه په نورو هیوادو کې په غریبانو او بې وسو کې راځي کیدای شي چې په ۱۹۶۰ _ ۱۹۷۰ م لسیزو کې به اپار تمان عصري و، خو له هغو

وروسته هیواد پرلپسې مخ پر زوال روان دی، کورونو کې آن کړکۍ نلري. د کورونو د تودولو هیڅ بندبست نشته، پخوا اوبه په نلونوکې راتلې اوس یې له څاگانو راوباسي خواره پر څمکه ایښودل شویو د خاورو تیلو پر منقلونو پخېږي، پر میزونو لمپې او تیلي څراغونه ایښودل شویدي. په ډېرو اپارتمانونو کې د چرگانو لر گین کپسونه وو.

ما چیرته کتاب ونه لید په ډېرو کورونو کې تور او سپین تلویزیونونه وو، په دې ورځ حکومت د درې ساعتونو لپاره د برېښنا خاص بندوبست کړي و چې خلك د اختر په مناسبت د لري کیدونکې جمهور رئیس رباني اوږده وینا واوریدای شي، د وینا نه وروسته ځینې خلك تر ونو لاندې ناست وو او ډول ته یې اتڼ واچاوه، د یوه آپارتمان اوسیدونکیو د پپسي ډبلي چیت کړي او سره نښلولي وو، او ډش آنتن یې ترې جوړ کړی و، چې اوس یې پر بام د ټینگولو هڅه کوله.

زما لټون ښه روان و، ډېر زر راته معلومه شوه چې فاطمه صدیقي په ۱۴۱ لمبر بلاك کې اوسېږي او ښوونکې ده، کله چې ما هغه دروازه وټکوله په یوه گلابي نقاب کې ښځه راووتله چې شنې سترگې یې درلودې، یوه شیبه مې داسې گڼله چې دا فاطمه ده خود دې عمر ډېر ښکاریده په بیړه په دې پسې درې نجونې او یو هلك راغلی هغوې ټینگار کاوه چې زه دننه ورشم بیا یې یوې کوټې ته بوتلم چې هلته یوه لویه بړستن په ټوله کوټه کې غوړیدلې وه ،دوي راته وویل چې پښې په همدې بړستن کې دننه کړم، د حیرانی ځای دي چې هغه ډیره توده وه دا د تودوخې یو سملاسي بندوبست و چې صندلی ورته وایي، تر یوه میز لاندې د بل شوېو سکرو یو نغری ایښی و، چې له

هغې نه بړستن توده وه د شپې د کور خلك همالته ویده کیدل په داسې حال کې چې لږ ځنډ وروسته د ډبرو سکرو له دودونو څخه هلته ساه بندیده.

پر دیوال د یوه پوځي چوکاټ شوي تصویر را ځړیده،د هنداري په یو صندوق کې پیك داره خولۍ او مډال ایښي وو، چې کله موږ پر غولي کیناستلو اود ښیښې له یوه قاب څخه مو شیریني زیبنلې نو هغې ښځې وویل چې دا د افغان پوځ د یوه جنرال میرمن ده چې طالبانو له پوځه وشاړه، یوه ورځ له کوره ووت او بیا بیرته رانغئ، وروسته بیا خبره شوم چې مړ شویدئ.

طالبانو هغه پر سرك راکش کړی و، او وهلی یې و، چې بیا پرده د زړه حمله راغلې وه او مړ شوی و.

دوي ته یې هیڅ تقاعدي ور نه کړه اوس دغه ښځه ښوونکې شوې وه چې لږ او ډیر عاید لري په دروازه کې د دې درې واړه لورانې شرمیدونکې تلې راتلې ،هغوي په جوړو شویوجامو کې ښکلې ښکاریدلې، او له تورو پردو څخه یې راکتل چې کله به پوهیدې چې زه ورګورم نو وبه تښتیدې وروسته بیا فاطمې خپله مشره لور مغان راوغوښته، دې راته وویل چې ۱۱کلنه ده خو تر اوسه ښوونځي ته نه ده تللې بیا مغان راته کړل:

اوس به ښوونځي ته ولاړه شم څکه چې طالبان نشته زه غواړم ډاکټره شم. ما هیله وکړه چې د دوي آشپز خانه ووینم څکه چې. ما په کابل کې په جګړه کې د کونډو شویو ښځو په باب د یو نسیف په یوه راپور کې لوستي وو چې کونډې په شنه چاى او ډوډي او لږ اندازه مستو ګوزاره کوي.

د فاطمي په پخلنځي کې يو پياز، لړې وريجې. له اوبو ډکه کوزه په تيره اونۍ کې د ورکړای شويو غنمو څخه څه برخه چې پاتې وو، او د پلاستيك يوه وړوکې کڅوړه چې بوره پکې وه. ما وليدل چې د دې بورې په باب يې وويل چې: دا تيره اونۍ د دې يوې زده کوونکې ورکړې وه. هغوی غوښتل چې ما د غرمې ډوډۍ ته ايساره کړي، خو ما معذرت وغوښت چې کله دا تر دروازې پورې راسره راووتله نو ما په يوه بله کوټه کې زګيروی واوريدل فاطمې چې د کوټې پرده اوچته کړه ومې ليدل چې پر غولي بسترې انبار دي پر يوه بستره يوه بوډۍ ښځه پرته ده. دې راته وويل:

دا مې مورده پلار مې د کور په مخه کې د توغندې په برید کې ووژل شو، يوه شپه چې ډېره توده جګړه روانه وه او لمبې تر آسمانه پورته کيدې زما ورور ناڅاپه بهر ته وزغاست چې په هغه پسې مې پلار هم ورغئ... فاطمې وويل چې لږ وړاندې په ۱۴۶ لمبر بلاك کې يوې ښځې پټ درس ورکاوه، ځکه ما له هغې سره د ليدو پريکړه وکړه دا ځل يوې ډنګرې او خوارې ښځې دروازه ما ته خلاصه کړه چې په سترګو کې يې موسکل، هغې چسپ کميس اغوستی و، او ډيره ځوانه معلوميده ځکه خو دا ماري نشوای کيدای، سنيتا نوابي ۱۹ کلنه وه او په شپږ کسيزه کورنۍ کې تر ټولو کشره وه.

په هغوی کې د يوې نوم هم فاطمه يا ماري نه و. دا له کوم بهرني سره په انګريزي خبرو اتروته ناکراره وه، زه يې دننه ورکش کړم راته ويې ويل چې کله طالبان راغلل زه ۱۲ کلنه وم ټول ښوونځي يې وتړل. ځکه خو ما د کتابونو له مخې له ځانه سره انګريزي زده کړه، دا ډيره

خوښه وه چې اوس د کابل په تلویزیون کې د پروګرامونو د معرفي په ځانګه کې پر دنده لګیدلې وه.

د دې پر خوښۍ نوره کورنۍ هم خوښه وه هغې راته وویل: چې کله ته یوه مرغۍ له کپسه وباسي نو شپه او ورځ له خوښۍ نغمې وایي ما په تیرو تورو کلونو کې د ښه خوب لیدو جرئت نشو کولی اوس غوا رم نړۍ ووینم غوارم له خلکو سره ووینم چې هغوي څنګه دي زما ډیر ارمانونه دي پخوا یې د پوره کیدو هیله نه وه.

له بده مرغه دې کومه فاطمه صدیقي نومې نه پیژندله، ما فکر کاوه چې په افغانستان کې به لیده کاته معمول وي دا د دوي د کلتور برخه ده، ځکه خو به د هیوادننه په یوه وطن کې خلک یو بل سره پېژني خو سنیتا راته وویل: کابل ته خلک ځي راځي په تیره میکروریانو ته دغه تګ را تګ ډیر زیات دي د مجاهدینود جګړو په وخت کې په زرګونو کورنۍ له دې ځایه وتښتیدې، د طالبا نو له راتلو سره نورې زیاتې کورنۍ ولاړې. ته پوهیږې چې موږ ښځې یې پنځه کاله په کورونو کې را ایسارې کړې وو، ځکه خو پر دې نه پوهیدو چې پر چا باید اعتماد وکړو، زه خو پر دې هم خبره نه یم چې زموږ په پاس پوړ کې ښځې څوک دي؟

هغې د محمد حامد په نامه له یوه تن سره د لیدو مشوره راکړه هغه د مقاومت له لیکو سره ملګري و. حامد یو ډنګر نری سړی و، ژیړ رنګ یې درلود او وروکې بوره ږیره یې وه، هغه اندیښمن ښکاریدو او په یوه توکر کې نغښتې ماشوم یې ورسره اخیستی و، چې ما د ماري په باب پوښتنه ترې وکړه نو دی شکمن غوندې شو رانه ویې پوښتل چې له ماري سره څه کار لرې؟

بالاخره یې راته وویل چې هغه زما کورته تله راتله او د خپل پلار لپاره به یې پیغامونه وړل چې د طالبانو د مخالفو پوځونو جاسوس و، خو ده وویل چې خبر نه یم هغه اوس چیرته اوسیږي او پټ یې څه پروګرام درلود، ده وعده وکړه چې د اوسیدودرك به یې راته معلوم کړي او راته ویې ویل چې سبا ته په یوولسو بجو ما ووینې.

چې دی ولاړ زما ترجمان طهور علي (۱) راته وویل:

ده هغه پیژندله خو داسې یې ښودله چې نه یې پیژني.

- ولې داسې کوي؟

- د خپل خان د مهم ښودلو لپاره!

ما چې په دې وطن کې له هر چا سره لیدل دا یې راته ویل چې طالبان ولاړل، خو هغه وخت ډیره حیرانه شوم چې یوه هلك یوه اپارتمان ته بوتلم چې هلته مې د یوه اوږدې ږیرې له خاوندسره ولیدل، هغه توره لونګۍ تړلې وه او پرغولي یې پلتۍ وهلې وې. ما پریکړه وکړه چې د فاطمه ماري په باب به دې ته هیڅ هم نه وایم هغه په غوږو دروند و، په لوړ غږ مې ورته وویل چې زه خبریاله یم اود نوی حکومت په باب د خلکو رایه پوښتم، هغه ما ته را نژدې او تیټ شو ویې ویل چې دی د نوي حکومت کې په ستره محکمه کې قاضي دئ، ده د غلو د لاسونو غوڅولو او د زناکارۍ په ګناه دښځو دسنګسار او نورو شرعي سزاګانو په باب احساساتي دلایل راوړل او ویې ویل چې دې روښانفکردی او زیاته یې کړه چې په سنګسارولو کې به د وړوکو ډبرو د ویشتو امر کوم چې د تیښتې ښه فرصت پکې وي.

---

(۱) طهور علی او یا امکان لري (توریالی) وي. (ژباړن)

د ده ګاونډي د افغانستان د ملي هوایي شرکت " آریانا" د الوتکو انجنیر و، چې د هغو په واسطه زه له هراته کابل ته راغلې وم، دا د بامیانو د واورینو غرونو پر سر یو لړزوونکی سفر و، هغه مهال یې زه کابین ته وروبللم او راویې ښودل چې ټول وسایل مات شوي دي، ما له پیلوټ څخه پوښتنه وکړه چې تاسو به نو الوتکه څنګه الوزوئ؟

هغه په خواب کې راته وویل:

پخپله به یې وویني.

د الوتکې انجنیر راته وویل چې اسامه بن لادن څو ځلې په دې الوتکه کې سفر کړی دی، هغه زیاته کړه چې اسامه آریانا افغان هوایي شرکت خپل باله، یو ځل موږ سوډان ته ولاړو چې د ده د واده لپاره د ده دوستان او د کورنۍ غړي راولو، هغه دامریکا پر بمبارۍ سخت خپه و، چې په هغو کې د کابل هوایي ډګر اود آریانا الوتکې له منځه ولاړل، یوازې یوه انتونوف الوتکه پاتې وه، چې ما په همغو کې سفر کړی و، پر دې سربیره یوه پخوانۍ ۷۳۷ ډوله بوینګ الوتکه هم پاتې وه ځکه چې هغه یې تیر کال وتښتوله او لندن ته یې بوتله.

هغه وویل: اصل ترهه ګر پاکستانیان دي چې تر روسانو بد تر دي ځکه چې روسان دلته د میړنیو په څیر راغلل موږ ته معلومه وه چې دوي مو دښمنان دي.

خو پاکستان موږته دوستان وایي دوي بنسټپال دلته راواستول دلته یې د پوځې زده کړو مرکزونه جوړکړل، پیسې ورته برابروي لویدیځ زموږ پرځاي ولې پرهغوی بمباري نه کوي، هغه زیاته کړه.

په ما پسې راځه ! بیا یې زه تر زینې لاندې بوتلم.

ترسرك پورې غاړه يې يوې څلور ديوالي ته دننه بوتلم، هلته يو سوځيدلی بس ولاړ و، چې پر يوه اړخ يې سره الفاظ "افغان تور" نيم وران تر سترګو کيدل.

انجنير راته وويل: ته د هيواد کنډوالې او ورانی وينې، پخوا به دلته سيلانيان راتلل بهرنيانو به په ټول هيواد کې چکرواهه.

زموږ په هيواد کې ډير حيرانوونکي د ليدو وړ ځايونه وو، د بودا لوې مجسمې وې مانۍ، منارونه. غرنۍ ډنډ ... سيلانيانو دا هر څه چې ليدل ډير خوښيدل خو طالبانو او پاکستان زموږ سيندونه وچ کړي دي او هڅه يې کړې چې زموږ تاريخ برباد او له منځه يوسي، خو دوي زموږ يادونه له منځه وړای نشي پلار به زوي ته او زوي بيا خپل زوي ته دا هر څه ور په ياد کړي.

هيڅوك داسې نه وو چې د جګړې کوم داغ يې نه وي ليدلی، هر چا ته معلومه وه چې نړۍ د افغانستان په باب څه فکر کوي دغه خلك له دې نه ډير پريشانه وو چې ولې دوي ترهه ګر ګڼل کېږي. زه افسوس کوم چې د نړيوال سوداګرۍ مرکز د تباهۍ تصوير را سره نه و، له مانه به تل دا پوښتنه کيده چې آيا رښتيا په يوه ودانۍ کې په زرګونو تنه خلك ځاييدای شوای دا څنګه امکان لري؟

زه د زرزر چای څښلو نه په تنګ شوم او د داسې خلکو نه د سوغاتونو په تر لاسه کولو زړه تنګی شوم چې د دوي له وسه بهر وې، په داسې حال کې چې تر اوسه مايوازې څو بلاکونه لټولي وو.هلته يوه تماشه شوم، په ماپسې دماشومانو شميرورو ورو زياتيدو چې خندل به يې او دومره په زوره به سره ګرېدل چې هېڅ پکې نه اوريدل کيدل.

بې وسه طهورعلي ددوي د شړلو لپاره شپیلی هم ووهل خو پردې هغوي نور هم زړور شول،د اختر په سهار چې د بریښنا خاص بندوبست شوی و، اوس یې وخت پای ته رسیدلی و، له یخنی نه مې لاسونه او پښې کرخت شول ، مونږ چې له کومو خلکو سره ولیدل هغوي ډیر اخلاقي چلن راسره وکړ چا به راته ویل چې دغرمې ډوډۍ له مونږ سره وخوره یا د شپې ډوډۍ دې له مونږ سره ده او یا د شپې له مونږ سره پاتې شه. ما فکر کاوه چې که په شمالي لندن کې کومه افغانه میرمن زما ګاونډۍ وای، او په څه خبره یې دروازه راټکولي وای نو څه سلوك به ورسره کیده او څه ډول ځواب به ورکړای شوي و.

د اختر دوهمه ورځ ډیره بې خونده تیره شوه زه په دې اراده راویښه شوم چې دماري لټون به کوم طهور علي مې راسره واخیست اوورته ومې ویل چې که ماري پیدا شوه نو انعام به درکړم مونږ د محمد حامد اپارتمان ته بیا ورغلو، په دهلیز کې د کومې ښځې د لوړو پوندو د سپینو بوټونو جوړه ایښې وه په کوټه کې دننه په ښیښه یې قاب کې چارمغز او بادام کلچې د جوارو نیني او کیك ایښی وو، دا بندبست د کوم عزتمن میلمه د میلمه پالنې لپاره ښکاریدو.

زه په کوټه کې کیناستم او هره شیبه مې دا تمه وه چې ماري به راښکاره شي له بلې کوټې څخه د تیزو پسپسکو غږو نه راتلل بالاخره محمد حامد راښکاره شو، اوس یې هم یو ماشوم ورسره را اخیستي و چې هیڅ شوریې نه کاوه، ده ماشوم پرقالینه څملاوه ، ماشوم یې په یوه ټوکر کې پیچلي و همغسې چوپ پریووت د ده او د طهورعلي تر منځ په دري ژبه اوږدې خبري اترې پیل شوې چې ماته پرې پوهیدل

ممکن نه وو څکه خو مې په تاکرارۍ انتظار کاوه بالاخره ظهورعلي راته وژباړلې هغه ویل :

بد خبردي هر څوك د اختر لپاره تللي دي څکه یې ماري پیدا نکړاي شوه خو امکان لري چې په بمبارۍ کې د دوي کورنۍ له دې ځایه تللي وي.

لکه ډیرې کورنۍ چې کوچیدلې دي چا ویل چې هغوي هرات یا وردګو ته تللي دي.

هرات! له هراته خو زه اوس راغلي یم.

ښه مې یادېږي ماري په خپل وروستي لیك کې راته لیکلي وو چې موږ د بمباریو نه ډیر ویریږو څکه خو امکان لري هغوي له دې ځایه تللي وي.

تر اوسه ما له ډیرو خلکو څخه د ماري په باب پوښتنې نه وې کړې څکه مې د غرمې د ډوډۍ لپاره د حامد بلنه ونه منله او له ظهورعلي سره راووتم او د نورو دروازو د ټکولو په نیت روان شوو.

ما له ځانه سره ویل چې له هغو خلکو څخه باید زیاته پوښتنه وکړم چې پټ یې د زده کړو پروګرام چلولی دی خو زر راته معلومه شوه چې په دې ډول د کار دایره تنګه نه ده څکه چې په هر بلاك کی لږ ترلږه یوه پټه ښوونکې خامخا وه زه حیرانه شوم چې دا دومره پټ ښوونځي څه ډول چلیدل ښکاره وه چې طالبانو پر هغو سترګې پټولې یوې ښځې راته وویل چې د دې په ښوونځې کې د طالبانو د یوه وزیر لور هم سبق وایه.

د تلویزیون د پروګرامونو معرفي کوونکې سنیتا میکروریانو ته د خلکو د ډیر تګ راتګ معقول سبب وښود، چې معني یې دا وه

چې خلك له خپلو ګاونډیو څخه ناخبره وو خو ماګومان کاوه چې خلك د فاطمې په باب دروغ وایې او دوي یوې انګریزې ښځې ته د معلوماتو له ورکولو ویریدل.

طهور علي ډیر په غمجنه لهجه راته وویل:

میرمن کرستینا! پریشانه کیږه مه، الله ډیر لوي دي، الله رحیم اومهربان دي چې کله به زما ترڅنګ ژیړوته مایلو آبي رنګوچادریو کې د ښځو کومه ډله تیریدله نو مابه په همدې تمه په لوړ غږ انګریزي خبرې کولې چې دوي یې واوري اوکومه یوه ماري وي اوترې راووزي یوځل یوه د لوړ و پوندو بوټونه په پښو چادري پرسر یوازې ما ولیده. هغه ودریده او زما په لوري راوګرځیده، ورو ورو یې د اوږدو اوږدو ګوتو لاس له چادري را ویوست خپل ورغوي یې راوښود چې په نکریزو " په خیر راغلې "پرې لیکلي وو.

ماوویل: ماري به وي! خوهغه بیرته وګرځیده او ولاړه. زما باور و چې ماري په کابل کې ده د دې په خپل لومړي لیك کې راته ویلي وو چې د ښځو په سازمان کې کار کوي ځکه خو ما د جنرال سوریا په لیدو د خپل بخت از مویلو تصمیم ونیو. هغه د ښځو د وضعې د ښه والي لپاره د کار کوونکیو وتلیو ښځو له جملې څخه یوه وه، هغه د پاخه عمر او مضبوطې ارادې لرونکې ښځه وه ویښتان یې نه پټول هغه هم په میکروریانو کې اوسیده مور ماښام د دې په نیم روښانه کورکې ناست وو او خبرې اترې موکولې، د رڼا د کمی په وجه د دې د مخ خد و خال ښه نه معلومیدل وروسته یې چې د تیلو چراغ راوړ نو ځیره یې روښانه ښکاره شوه ما ترې

ویوبښتل چې تاته د جنرال لقب څه ډول درکړای شو؟ ما ګومان کاوه چې په کومه جګړه کې به د زړورتیا ښکارولو له امله ورکړل شوی وي.
دې وخندل ویې ویل:
زه په کابل کې د سره صلیب سکرتر جنراله وم ځکه خلکو جنراله راته ویل. جنرال سوریا دا دعوه کوله چې په ۱۹۹۲ م کال تر ټولو لومړي دې د پټو ښوونځیو په باب فکر وکړ دې وویل چې په میکروریانو کې د ماشومانو ښوونځي ته تلل ډیر خطر ناك وو، ځکه چې دوي باید د جګړې له لومړي لیکي نه تیر شوي وای چې هلته مجاهدین په جګړو کې ښکیل وو او توغندي رالویدل که به مجاهدینو کومه ښکلې نجلۍ ولیده نو ورسره پورته به یې کړه، کابل د پینځو جګړه مارو مشرانو په منځ کې ویشل شوي و هغوي به ښځې درولې او ګانې به یې هم ترې اخیستې ما خپل یو شفري نوم " پرلي کان" ایښي و، چې مجاهدین ونه پوهیږي چې زه څوك یم کورمې هم بدلاوه را بدلاوه ما داسې نوم ایښی و، چې بل چا نه و ایښي که ما د فاطمې په څیر کوم نوم ایښی وای، هغوي د داسې نامه ښځې ورسره بیولې او وهلې ډبولې یې وه.
مور به په ودونو کې ګډون کاوه چې چیرته به ښځې راټولې شوي مور به ورغلو او د ښوونځي د کورسونو په باب به مو خبرې ورسره کولې ما به ورته ویل چې دا یو لنډ مهاله کورس دي که تاسو راسره همکاري وکړی نو ماشومان به مو ښوونځي ته تللاي شي.
د زده کړي خاوندان به شي که ستاسو میړونه ډاکتر، انجنیر او یا ژورنالیست دي نو ستاسو اولادونه چې بې سواده پاتې کیږي دا

درته سپکاوی دی ما دوي وهڅول چې ستاسو لپاره هم دا ښه موقع ده چې په کور کې پر ماشومانو درس ووایي او یو څه وګټئ.

هغې زیاته کړه:

چې کله طالبان راغلل خبره نوره هم خطر ناکه شوه، هغوي زموږ کتابونه هم وسوځول زموږ ښوونکی یې ونیول زموږ د زده کوونکیو د کورنی خلك یې ونیول او ویې ډبول موږ به ماشومانو ته د سهار په پینځو بجو سبقونه ویل چې طالبان مو پرې ګیرنه کړي.

ما ته د دي په زړو روخبرو کې همغه روح تر سترګو شو چې د " ماري" په لیکونوکې وه، هغې راته وویل چې د ماري یې نوم هم نه دي اوریدلی، چې زما مایوسي یې ولیده راته ویې ویل چې په دې هیواد کې په زرګونو ښوونکې شته هغه اوس راسره بلده شوي وه څکه یې، د افغانانو عنعنې ته شاکړه او د زړه خبرې یې راسره پیل کړي هغه پردې خبره ډیره خپه وه چې د دومره زحمتونو سره یې په نوې حکومت کې څه مقام نه و، ورکړی هغې مې بیا لاس په لاس کې ټینګ کړ ویې ویل:

که ماري دلته وي زه به یې په موند لو کې د،سره مرسته وکړم.

ماري په یوه لیك کې یادونه کړې وه چې دا د عایشه درانی لیسې څخه وتلې وه، د دوي ښوونځی تیمور شاه مقبرې ته مخامخ د کابل د سیند پرغاړه ده، دغه قبر هیڅکله بشپړ نه شو. څکه چې د پاچا زامن د تخت او تاج لپاره پخپلو کې له جګړو څخه وزګار نه شول .

دا په ښار کې د نجونو تر ټولو لوي ښوونځي و چې طالبانو وتاړه، یو وخت د ښوونځي دوه پوړه ودانی ډیره له رعبه ډکه ښکاریده

محرابي کړکۍ يې درلودې، تيوله ودانۍ يې جګړ. ورانه کړه چې اوس يې يوازې چمبر ولاړ دي، کړکۍ يې هنداري نه لرې. د لويديځ لورې بام رالويدلی دي توغندی يو لوی سوری پکې کړی دی چې اوس کوترو خاله پکې جوړه کړې ده. زه چې هلته ولاړم په ښوونځي کې دننه بيروباروو. ځکه چې د ښوونځي ټولګې يې د کورسونو لپاره پرانيستل، ميندوخپل زامن د نوم ليکلو لپاره ورته راوستل، زه يې د مدير دفتر ته بوتلم، هلته پخوانۍ ښوونکې را ټولې وې، چې خپل حجابونه يې لرې کړي وو، چې کله به يې خپلو خورلڼو ته ستړي مشي کول، پر بارخوګانو به يې اوښکې راماتې وې، پخواني د ساينس ښوونکې رضيې راته وويل:

ما ته داسې ښکاري لکه له جېله چې را خوشي شوي يو. په وروستيو کلونو کې موږ ته خپل کورونه زندانونه شوي وو.

ما مديرې ته وويل چې زه د چا په لټه کې يم هغې وويل: دغه ښوونځي په (۱۹۶۴ م)کې جوړ شويدی. له همغه وخته زموږ سره د ښوونځي راجستر او اسناد وو. خو ټول طالبانو ورسره يوړل غوره دا ده چې ته د پوهنې وزارت سره رابطه وکړې خو دا نه شم ويلی چې ته به بريالی شې که نه.

رضيې د ښوونځي د راښودلو وړانديز راته وکړ ټولګي د هر ډول وسايلو څخه تش وو، چوکۍ ميزونه او تورې تختې نه وې په کړکيو کې هنداري نه وې ځکه خو په ټولګيوکې سړه هوا چليده له زينې څخه د لرګيوکټاره راغورځول شوې وه غالباً به سوځول شوي وه پر انګړ د مجاهدينو توغندې راپريوتې وو. چې ډير لوی سوری يې په کې جوړ ه کړې وه، د پاسني پوړ په صنفونو کې کوترې الوتلې او خالي يې کړې

وي، د ښوونځي په میدان کې د خاورو خځلو انبارونه او ډیرانونه وو، او له بیت الخلاو نه بد بوی جګیده.
رضیې په افسوس وویل:
زموږ مشرانو ډیر غوایان او پسونه وشپیلل او ولاړل خو تر اوسه یې لوړه نه ده لرې شوې.
د ښوونځي د تودولو هیڅ بندوبست نشته، په کړکیو کې هنداري نشته اوبه نشته ، کتابونه غیب دي ، ډیر ماشومان ښوونځي ته نشي راتلای، ځکه چې هغوي بوټونه او تودې جامې نشي تیارولی کتابچې او قلمونه خو پر ځای پریږده.
کتابتون تش تور و، ځکه چې کتابونه یې طالبانو سوځولي وو، یوه بوډا د نصابي کتابو نو بکس پرانستلو چې له وزارت څخه یې راوړي و. دا په ارځانه کاغذ چاپ شوي وړوکي کتابونه وو، په برتانیه کې ماشومانو ته په رنګه مرغانو او سویا شمیر ورزده کوي.

خو دلته یې د لومړیو ټولګیو په نصاب کې د حساب او شمیر د ښودلو لپاره دا تصویرونه ورکړي وو.
یو کلاشینکوف، دوه لاسي بم، درې ټوپکونه ، څلور زغروال موټر پینځه کارتوس شپږ د ۹ ملي متري ګولۍ.
د لوست د زده کولو په یوه کتاب کې د ګازر ,یو تصویر و چې لاندې تر ې لیکل شوي وو: زما سابه خوښیږي سابه ستاسو لپاره ګټه لري پر بل مخ دا مشق و: کلاشینکوف رنګه کړئ. له هغو لاندې لیکلي وو چې د مجاهدینو ګولۍ به پردښمن د باران په څیر را واوریږي .

د ماشومانو د جمعې او تفريق په کتاب کې دا پوښتنه وه:
که ديرش تنه او شل ميله کلاشينکوفونه وي ، نو څومره مجاهدينو ته به کلاشينکوفونه ورسيږي؟

څومره چې ورځې تيريدلې د نوي ميکروريان په خلکو کې را ښکيل کيدم اوماته عجيب عجيب فرمايشونه کيدل، او هيلې را پورې ترلې کيدې، سنيتا فکرکاوه چې زه به د انګلستان ته را سره بيايم او په بي بي سي راديو کې به يې په کار وګومارم، جنرال سوريا داسې ګڼله چې زه به نړۍ ته دا وايم چې دا بايد په افغانستان کې د ښځو د چارو وزيره شي، يا ښايي صدراعظمه شي، د اريانا هوايي شرکت انجنير غوښتل چې زه د امريکا د هوايي کرښې د مشر په نامه د ده ليك وروړم چې په هغو کې ليکل شوي وو . چې د امريکايي بمبارۍ په واسطه چې کومې الوتکې له منځه تللې وې، د هغو په بدل کې بايد نورې الوتکې ورکړای شي. د سترې محکمې قاضي غوښتل چې زه يې د برتانيې په قانوني نظام وپوهوم او دا ورته ووايم چې برتانيي د پانسي سزا ولې لغوه کړې ده .تر دې چې له مانه درېباري درول ادا کولو غوښتنه هم وشوه، دا غوښتنه له مانه د (م) بلاك يوه تاجك کاغذ پران الوزونکي وکړه، هغه پر يوه پښتنه نجلۍ مين شوی و . چې د ده د دوست د تره لور وه اوده يې يو ځل مخ ليدلې وه همغه وخت ددې د نظر غشي د ده تر زړه بوټ ختلي وو ، هغه سوړ اسويلي وکيښ ويې ويل: سترګې د غرنۍ چينې په څېر صفا او شونډې د ګلاب پاڼې، له دواړو لوريو يو ډول پر زړونو اور بل شوی و دی به د هغوي د اپارتمان شاوخوا ګرځيده چې کله د هغې مور بازار ته ولاړه شي نو دوه زړونه پټ سره يوځای شي هغه راته وويل:

که د هغې مور خبره شوه نو لوړه خوبه ښه وډبوي مگر زما د سر خیرهم نشته ځکه چې مینه کول زموږ په کلتور کې نشته....

ما فاطمه داسې ځایونه لټوله چې هلته یې پیدا کول گران وو، یوه ورځ محمد حامد زما هوټل ته راغی، راته ویې ویل چې د ماري یوه شاگرده یې موندلې ده، موږ په موټر کې کولایي پارك ته ولاړو.

چې دا د ښار په څنډه کې ښکلی ځای دی، هلته وړوکې وړوکې ښکلې کورونه جوړ شوي دي، موږ ته معلومه شوه چې د کومې نجلۍ په لټه کې یو، هغه یې له ښاره بهر خپلې کورنۍ ته تللې ده، پرووړوکي موټر تر هغه ځایه پورې یوه ساعت لاره وه. طهورعلي اوس پوهیدلی و، چې اوس له ما سره بحث بې ځایه دی، ځکه یې ډریور ته هغه ځای ته د تلو هدایت وکړ.

له کابل څخه بهر ته څلور لارې دي، موږ په ختیځه لاره روان شوو،د فابریکو له کنډوالو څخه تیر شوو موټر چلوونکي وویل چې دلته د څرمنو یوه فابریکه هم وه چې یوه انگریز جوړه کړې وه، پر دې سربیره هلته خورې کارخانې او د پوځیانو د اوسېدو کارته هم وه. اوس دا ټول کنډواله شوې وو سرك د مجاهدینو له یوې لویې هدیرې څخه تېر شوي و، چې هلته ډېرې پرې انبار وې او په منځ کې یې پر لکړو شنې تورې او سپینې جنډې رپېدې، د هغو نه لږ ټیټ ما سیند ته نژدې په یوه پراخه دښته کې څرخي جیل ولید،هلته به د افغانستاني کمونستانوپټوپولیسو(خاد اوواد)،پوهان اوسیاسي کسان بندیانول،یو وخت دلته یو زراو پینځه سوه تنه بندیان وو،کله چې حکمتیار کابل ښار کلابند کړ نو دلته په زرگونو خلکو پناه راوړه.

ما په کابل کې د خپ هوا اټکل نشوکولای خو چې بهر ترې راووتو په تازه هوا کې مو ساه واخیستــه ډیره ښه راولګیده موږ له ښاره ډیر لرې نه وو وتلي، چې له یوې تالاشی سره ودریدو چې هلته د ویروونکیو ځیرو درلودونکیو خلکو پهرې کولې، دغه کسان د یوه الوتکه ویشتونکي توپ شاوخوا را ټول وو، د توپ پر میل د شترمرغ پرې اود پلاستیکي ګلانو امیل راځړیدلی وو، د دې سرك اړوند دوژنو او لوټ تالان ډیرې کیسې مشهورې دي، ځینې ژورنالستان هم وژل شویدي، ځکه خو چې کله هغه کسان پر ټیکسي را ټول شول نو ما مې خپل شال پر سر او مخ نور هم راخور کړ.

طهورعلي وپسیده!

دا ښه ونه شول.

یوه تن د کړکۍ ښښه په زوره زوره په څپړ ووهله.

د هغه لاسونه په ختو ککړ وو. او په ګوتو یې د سپینو زرو ګوتې وې چې غمي پکې لګیدلي وو. ما دکړکۍ هنداره ټیټه کړه او چوپه کیناستم

هغه وویل:

سګرټ!!

ما سر وخوځاوه او ومې ویل:

افسوس چې نشته!

په زړه کې مې خپل حماقت غندلو چې ولې مې یو ډبلی سګریټ وانه خیستل. ځکه چې پر سرکونو سګرټ د ډیرې ګټورې پیسې کار ورکوي. ما مې خپل جیب ولټاوه، یوازې ژاولې مې پکې وموندلې.

هغه په موسکا واخیستلې او موږ ته یې د تلو اشاره راکړه.

محمد حامد دانه وو راته ویلي چې هغه نجلۍ په هودخیلو کې ده، چې د غلو کلي ورته وایي، هغه یوازې دا راته ویلي وو چې هغه د هیواد په داسې ځای کې ده چې په همغه نامه مشهوردی.

موږ چې وړاندې ولاړو نو موټر چلوونکي وویل:

دا کلی په ټول هیواد کې د غلو په سبب شهرت لري.

که هغوي وپوهیدل چې ته یوه پردۍ ښځه یې نو سمدستي به یو خر سرک ته راوباسي چې موټر ورسره ټکر شي، او موږ دلته پاتې شو او دوي به د خره تاوان غواړي وایي به چې دا د یو خاص نسل خر و، چې بیا به دوي له موږ نه هر څه واخلي، دا د دې خلکو یو ځانګړی چل دی.

لمر د غرونو تر شاډوب شوی و، پر کلي تیارې راخپرې شوې وې، موږ یوې او بلې خواته ګرځیدو او ما خروته کتل، بالاخره محمد حامد ډریور ته اشاره وکړه چې د یوه دیوال شاته ودریږي.

دروازه لږ چوله شوه او څه خبرې اترې وشوې محمد حامد وویل:

هغوي موږ ته بلنه راکوي چې مستې وخورو. ما په کلکه ورته وویل چې نشو ورتلای یوازې له نجلۍ ځخه د ماري په باب پوښتنه وکړه.

ما له ښاره بهر ته د تلو اراده نه درلوده ځکه خو زما ټول ډالر راسره وو، چې په یوه کمربند کې مې تر ملاتړلي وو، ځکه خو زه دې ته ناکراره وم چې تر بشپړې تیارۍ راتلو مخکې له کلي نه بیرته ووزو، محمد حامد په انګړ کې دننه شو او یوه ځوانه نجلۍ یې لاس نیولې ورسره راوسته چې د هغو په تورو سترګو کې د ویرې او ترهې

نښې وې، هغه نجلۍ یې د موټر وروستي سیټ ته ورټیل وهله ویې ویل:

مورې دا بیرته کابل ته راسره بیایو دا ماري نه پیژني، خو هغه ښځه پیژني چې له ماري نه خبره ده. زه وپوهیدم چې زما تر څنګ نجلۍ ریږدیدله بیا مې په اعتراض وویل:

مورې دا په زورد رخصتۍ نه نشو محرومولی، د دې د نورسامان به څه چاره کیږي.

محمد حامد وویل:

مورې دا راسره بیایو، د الله همداسې خوښه ده.

مورې چې بیرته کابل ته ورسیدو معلومه شوه چې کومه ښځه چې د ماري درك ورته معلوم و. کاناډا ته تللې ده او خپله پته یې هم چا ته نه ده پرېښې د دې پرلپسې ناکامیو نه وروسته له ماسره دا خیال را پیدا شو، چې ایا ماري په رښتیا شته او که نه هغه لیکونه جعلي او دروغ او دوکه ده؟

خو زما پر جمیل باور و. چې خپل ځان یې خطر ته ورکړی اودا چې لیکونه یې ماته راوړي وو. ما له داسې خلکوسره هم لیدلي وو، چې ماري یې پیژندله یوداسې سړی مې هم ولید چې له هغې سره یې د انګریزي په ښوونځي کې درس ویلی و،، خو د دوي اړیکې ټینګې پاتې نه شوې، یو هلك هم راسره ولیدل چې ځوکاله پخوا د هغې زده کوونکی و. هغه همدومره انګریزي زده کړې وه چې وار وار به یې له مانه د خیرت پوښتنه کوله. له هغه سره د ماري پخوانۍ پته وه. مورې ږغلو هغه تر ټولو زیات وران شوی بلاك و. غولي یې مات شوي و، په ..ږمم پورې کې یې ډمې اوسیدې چې په کړکۍ کې به ولاړې وې. چې

موږ يې وليدو لاندې راغلې هغوی ځليدونکې جامې اغوستې وې، پر مخونو يې پوډر تپلي وو، مصنوعي بانه يې ايښي او شونډې يې سرې کړې وې راغلې او ورو ورو يې ويښتان برس کول.

نور له کابله د تلو وخت رارسيدلي و، کومه بله ښه هم نه وه، ما له راديو افغانستان څخه هم اعلان خپور کړ، تر دوو سوو زياتو بلاکونو کې پوسترونه هم ونښلول دې، نتيجې ته ورسيدم چې د نورو کسانو په څير به د ماري کورنۍ هم د بمبارۍ پر مهال له کابله تښتيدلې وي، اوس هغوي ښايي بل ځای وي.

څو اونۍ وروسته مې جميل په کندهار کې وليد چې ماته يې د ماري ليکونه راوړي وو، هغه زما د طالب توفيق سره هم ليده کاته وکړل، چې همغه دا ليکونه له کابل نه پاکستان ته قاچاقي راوړي وو، ما چې دا واوريدل چې له هغه سره د ماري رښتيانی آدرس شته نو ډيره خوښه شوم هغه په کابل کې د ليدو ژمنه راسره وکړه او راته ويې ويل چې زه به دې ماري ته ورولم.

په جنوري کې بېرته کابل ته راغلم، دغه مهال ښه واوره اوريده پر غرونو واورې پرتې وې. سرکونه يخکونو ډير ښوی کړي وو، اوس په ښار کې وړوکي موټر زيات شوي وو، او خلك هم زيات شوي وو. د ژوند ګڼه ګوڼه زياته تر نظره کيده د ښاردغه بيروبار او هنګامه ما لومړی ځل ليدله د مصطفي هوټل په لويه دروازه کې د ساتونکيو شمير زيات شوی و، واعظ هر کلي راته ووايه د هغه په څيره کې د تکليف نښې وې. مخ يې ګريدلی هم و، او يو لاس يې د دسمال په واسطه په غاړه کې و، هغه پخپله راته وويل: زه يې ووهلم، چې له پوليس سره لانجې جوړوې نو دا سزا خو به خامخا ګالې.

"چې ته لويې لويې کوې نو دښمن به دې هم لوی وي." په افغانستان کې رښتيانی خبره معلوموول ګران دي.
ځکه چې دلته رښتيا نه معلوميږي، په عام ډول دا ويل کيدل چې واعظ د هوټل د لاندينيو دوکانونو کرايه لوړه کړې وه. خو دوکاندارانو کرايه ورنکړه، ده د دوکانونو هنداري ورماتې کړې دوکاندرانو له کورنيو چارو وزارت ته پوليسان راوستل او پر هوټل ورننوتل د خبرپالانو د وړاندي يې واعظ وډبولو،بيايې ورسره بوتلو او هلته يې نورهم وهلی و.
اصلي پيښه چې هر څه وه،خود ده پرهوټل يې ډيره بده اغيزه وکړه چې توفيق راغی نو ويې ويل چې د ميلمنو پرخلاف د بدل اخستو آوازې دي.
داسې اوازې هم وې. چې د واعظ دښمنان غواړي هوټل ته اور واچوي زما باور نه کيده چې له ماري سره به ووينم
توفيق موټر چلوونکي ته وويل چې د نويو ميکروريانو د ك ساحې ۱۸۷ يم بلاك ته ولاړ شي. دا له هغه ساحې څخه بيل و. چې د لټون لپاره مې ټول پام هغو لورې ته و. له دې بلاکونو څخه زه څو ځلې تيره شوې وم، خو دلته د هغو د لټون خيال په ذهن کې رانغی.
موږ په دوم پوړ کې ۱۵ م نمبر اپارتمان ته ورسيدو توفيق اوسپنيزه دروازه وټکوله. زه ډيره ناکراره کيدم، زما په لاس کې د ماري لپاره يو قلم او د يادښت کتابچه او د دې د کورنی لپاره څو انګريزي مجلې وې. يوڅ قهوې بوتل او چا کليټ. مادننه څه غږ. ونه اوريدل خو بهر ته څوك نه راوتل.
توفيق بيا دروازه وټکوله.

له پاسني پوره څخه دوه هلکان په منډه راکوز شول. یوه یې وپوښتل:

تاسو د چا لټون کوئ دغه خلك خو تللي دي.

ما ورته وویل:

مور د ماري یا فاطمه صدیقې په لټه کې یو. هغه د انګریزي استاذه، دلته یې له مور او پلار او ورونو او خور سره اوسیږي.

هغه هلك خپله ژبه په غاښونو کې ټینګه کړه ویې ویل:

هغوي رښتیا هم دلته اوسېدل خود بمبارۍ په وخت کې یې دغه اپارتمان پرېښود او تللي دي. هغې له مقاومت سره کار کاوه، یوه شپه د دوي کور طالبانو تلاشي هم کړي.

هلك دا هم وویل چې معلومه نه ده هغوي په کوم لوري ولاړل چا ته یې څه درك او پته هم نه ده پرېښې ټول فکر کوي. چې دوي هم د نورو مهاجرینو غوندې پېښور ته تللي دي.

زما لټون بیا ناکام شو. پېښور ته نژدې شل لکه مهاجرین پراته دي زه نه پوهېدم چې په هغو کمپونو کې زه د دې لټون څه ډول پیل کړم.

بیا د یوې ښځې لټون!

زه هره ورځ د میکرورپانو له چکره ستړې شوم، ځکه مې په ښار کې د ګرځېدواو چکر پرېکړه وکړه ومې لیدل، چې کابل ته ژوند بیرته راغبرګیږي او هره ورځ تر تېرې ډېره په زړه پورې او د ژوند له نغمو ډکه وي، چې کله به له ما سره د ګدایانو د تیل ماتیل سره د مخامخ کیدو حوصله پیدا شوه نود چرګانو کوڅې د دوکاندارانو غوسې ته د بلنې لپاره به هلته ولاړم. د سپینو زرو د با زوبند د پلورونکیو څخه به

مې دخه اخستو نه انکار وکړ، ځکه چې راته معلومه وه چې د هغو رنګ به یوه میاشت وروسته تور واوړي، یو وچ نری ازبك چې د وښو په څیر اوږده ږیره یې لرله او د فیروزې په څیر تیزې نیلي سترګې یې وې پرما به یې د واورینوغرونود پړانګ د پوستکي پلورلو ټینګار کاوه.

هر ځلې به یې راته ویل:

ته زمری واخله زه به د زمري کوټ درته جوړ کړم.

مابه ورته ویل:

دا زمری نه دی د واورینو غرونوشغال دی، دا نسل لږ دی باید نه دې وای وژلی.

نه بې بې ! دا د واورو شغال نه دی افغانی زمری دی خو د دې نسل هم لږ دی

دا زمری نه دی، پر دې ګردی ګردی نښې دي. په زمري کرښې وي هغه به په افسوس سر وخوځاوه او ویل به یې:

په افغانستان کې هر څه بدل دي.

په کابل کې زما وروستۍ ورځ ډیره سرګردانه تیره شوه ځکه چې عمومي پوسته خانه بیرته پرانیستل شوې وه.

بالاخره له بهرنۍ نړۍ سره د افغانستان ارتباط بیا ټینګ شو په انګلستان کې د مینې ورځ "ویلنتاین ډې" را نژدې کیده ځکه خو زه پښتونستان واټ ته ولاړم او د کارت د استولو پریکړه مې وکړه په لاره کې په انتر کانټینینټل هوټل کې تم شوم. ما چې دا ولیدل حیرانه شوم چې د شاه میرزاد کتابونو دوکان اوس هم شته د ډیرو کتابونو تصویرونه یې څیرلي وو، او پر لومړي مخ یې رنګونه تپلي وو. ما په

۱۹۸۹ م کال د دوکان له مالك شاه میرزا ده سره لیدلي وو. زما په یاد دي چې هغه د هیواد د تاریخ او کتابونو تږی و. هغه د استقبالیه میز له خانې نه د ګردجنو پست کارتونو یو بنډل راویوست او په موسکا یې راته وویل:

د هغو خلکو له امله مې دا لاندې ایښي وو. طالبان به زیاتره دلته تلل راتلل زما کتابونه به یې ورسره واخیستل او و به یې سوځول پست کار تونه یې هم اخیستل هغه د مزار شریف یو تصویر راوښود او ویې ویل چې پردې تصویر هم بندیز و، ځکه چې په دې کې هم کوترې ښکاري ما یو تصویر غوره کړ چې په هغو کې هلکانو یوه روسي ټانګ ته د هرکلي په دود لاسونه پورته کړي وو .پاس پرې لیکل شوي وو:

(له افغانستان څخه مبارکي)

په پوسته خانه کې د لیکونو استوونکیو ډیر بیروبارو.

یود خیرنو جامو بوډا چې توره بې موډه لونګی یې وه یو کست په لاس کې نیولې و. د هغه په ورینګه خوله کې یوازې یو زیړغاښ و. هغه په ویاړ وویل:

زه لیکلی نشم خوځپلې خبرې مې ټیپ کړې دي، او خپل زوی ته یې هند ته ور استوم.

ما د ایرمیل پاکټ په رانیولو کې مرسته ورسره وکړه. بیا مې ولیدل چې د پوسته خانې په مامور خپله پته لیکي:

غلام خان بمبیي، ابن غلام خان غزني.

ما ترې وپوښتل :

له کومه وخته را په دېخوا دې خپل زوی نه دی لیدلی؟

هغه ځواب راکړ چې د روسانو د وتلو نه وروسته تر اوسه .
تاته د هغه وروستي احوال څه وخت راغي؟
د مجاهدینو دحکومت په پیل کې موږ بیاله خپل کلي څخه راغلو هغه ته به معلومه نه وي چې موږ چیرته یو او احوال چیرته راواستوي. د مجاهدینو حکومت په ۱۹۹۲ مې کې جوړ شو. د دې معنا دا وه چې هغه له نهو کلونو راهیسې د خپل زوي احوال نه درلود.
بوډا وویل: "هغه چې زما غږ واوري خوشاله به شي". دهغه لاسونه رېږدیدل چې دافغانیو یو بنډل یې هغه مامور ته ورکړ زما اندیښنه شوه چې اوس به هغه ټوله اوني. په لوړه تیروي څکه خو مادا ست ورته وکړ چې د ده د پاکټ د پوستي لګښت زه ورته پرې کړم. چې د هغو په باب هم زما باور و. چې خپل منزل او پتې ته به هیڅکله هم ونه رسیږي.
بوډا زما وړاندیز ونه ما نه په فخر یې وویل: ډوډۍ څه شی ده موږ پخوا هم ډیرې داسې ورځې تیرې کړې دي.
له پوسته خانې څخه بهر منشیان او میرزایان پر خپلو کرسیو ناست وو، له هغوي سره ایرمیل پاکټونه، کاغذ، قلم اوسرېښ و. دا سامان یې په مخه کې په وړوکو میزونو ورته ایښی وو، د نفوسو تر پینځمې لږ خلك د لیك او لوست له نعمت څخه برخمن دی، خودې مرزایانو ته د زیاترو اړتیاوي د لیکونو ځانګړې نمونې وې، د څه دندې لپاره عرض پاڼه، د خیرات لپاره لیکونه د زامنو او یا مور او پلار لپاره لیك، چې د مرګ او یا تپې کیدو احوال پکې راغلی وي، د مینې لیکونه. او نورو دهر یوه لپاره پینځه زره افغانۍ میرزا ته ورکول

کیدې، چې په هغو کې د کاغذ او پاکټ لګښت هم و، دغه پیسې تقریباً پنځلس "پنس" کیږي.

میرزایان بوخت وو، ما د خپل نوبت لپاره د هغه بیضوي مخي منشي انتظار کاوه چې پنډې سترګې یې پر سترګو ایښې وې. چې ډنډې یې له ټیپ سره نښلولې وي، له ډیرې یخنۍ مې مخ او غاښونه سوځیدل او پښې مې ویدې شوې وې په داسې حال کې چې تودې جرابې او موزې مې پر پښوکړې وې، د هغه سړي په لاسو کې دستکش هم نه وو، او ربړي څپلۍ یې په پښو کې وې، هغه راته وویل چې پیر محمد نومیږم او د تیلو او ګازو انجنیریم، خو په۱۹۹۶ کې طالبانو له دندې څخه لرې کړم، ځکه چې هغوي زه د روښانفکرانو له ډلې څخه بللم هغه وویل چې د نهه اولادونو پالنه مې پراوږو ده، هیڅ کار مې پیدا نکړای شو خو په لیك او لوست پوهیدم اود ګاونډیو لیکونه ورته لیکم.

یوه ورځ دلته راغلم او کیناستم زه هره ورځ سهار اته بجې دلته راځم، چې پوسته خانه پرانیستل کیږي ځینې ورځې یو پینځه لیکونه ولیکم. کومه ورځ یو هم نه وي، پروسږ کال پوسته خانه وتړل شوه.

ما ورته وویل چې معمولاً له تا نه دڅه ډول لیکونو د لیکلوغوښتنه ډیره کیږي؟

ده راته وویل:

د دردوونکو لیکونو فرمایش ډیر وي چې په هغوکې دا راځي چې خلك څه ډول مړه شول، دغه لیکونه زموږ د هیواد د بربادۍ او ورانۍ ښکارندوي دي، او زما حیثیت د پیښو د ثبت کوونکي دي، ځینې وختونه د ډیرو دردوونکیو کیسو په لیکلو تنګ شم.

خو اوس وضعه بدله شویده ته یې وینې، چې مونږ ډیر مصروف یو، خلك په ایران او پاکستان کې خپلو خپلوانو ته د خوښۍ لیکونه وراستوي هغوي ته وایي چې بیرته راستانه شي، ځکه چې دلته هر شی بیرته سم او برابر شوی دی ځینې خلك د خپلو ورکو عزیزانو د لټون په خاطر بي بي سي، امریکا غږ او یا سره صلیب کمیټې ته لیکونه استوي، ماترې وپوښتل چې آیا زما لپاره د ولنټاین " مینې" لیك لیکلی شي"؟

هغه راته کړل: دا یو بل بدلون راغلی دی، چې اوس خلك د مینې لیکونه هم لیکي.

ته څه ډول خبرې لیکې؟

ځواب یې راکړ:

لیکم چې دلته هر لوري ته یخې واورې دي، خو چې ته را په یاد شې بدن مې تود شي.

زه چې کله بیرته هوټل ته ورسیدم نو توفیق ډیر په ناکراري زما انتظار کاوه، هغه سمدستي راته وویل: ته چیرته وې ماماري پیدا کړې ده.

بیا مونږ سمدستي شمال لویدیځ لوري ته روان شوو، په لاره کې دکابل له دروازي څخه تیر شوو دا دډبرومحرابي دروازه ده اودښار له اوویخوانیو دروازوڅخه یوه ده چې دزمانې له سیلي څخه یوازي همدا پاتې ده چا ته معلومه نه ده چې دښار مزبوت دیوالونه چا جوړ کړي دي دغه برجونه اودیوالونه ۲۴ فټه دنګ او۱۲ فټه سوور دي چې دغرونو پراوږو همدغسي پسې غځیدلي دي.

ACKU

په دیوال کې په یوه ټاکلي فاصله برجونه هم جوړ شوي دي ، دټيري پيړۍ په وروستيو کې دپاچا هانو دانجنيرانو مشر انګريز انجنير فرينك مارټين Fhamk Martin په وينا داديوالونه دجنوب لويديځو وحشي قبيلو دمخنيوي لپاره جوړ شوي وو چې دکابل په جنوب لويديځ کې اوسيدل اوتل به يي پرکابل يرغلونه کول اوچې څه به په لاس ورغلل هغه به يې لوټ کړل، دلوټ په مال کې به ښځې اوڅاروي هم شامل وو په افغانستان کې دغه دوه شيان دلوټولو شي بولي.

په لاره کې توفيق راته وويل چې بيشکه دماري کورنۍ په بمباري کې له ميکروريانو ځخه وتښتيده خوپه کابل کي وه دوي دښار بل لوري خير خانې، ته ولاړل،

اونن سهار يې مادرك ولګاوه . په سخته يخنۍ کې سرکونه داسې ځليدل لکه پاش شوي هنداره دترافيکو ددبيروبار سره د ۴۵ دقيقو لاره وه پردې سرك بسونه . موټرسايکلونه او ژيړرنګي تيکسيان په منډو رامنډو وو. د دوی په منځ کې د کوچيانو کډې وې، چې رنګينې جامې يې اغوستې او د اوښانو په کتار کې روان وو. د يخنۍ له امله اوښان ډير ښوييدل او د پل اخيستل ورته ګران وه. د سرك دواړو غاړو ته په څپرو کې ډش آنتنونه پلورل کيدل چې د تيلو د ټيمونو له ټيلولو نه جوړ کړای شوي وو، ځينې ځايونه حلال شوي پسونه راځړيدل چې څرمنې ترې ايستل شوي وې، د هغو سترګې رډې رډې راختلې وې. دغه سرك په غرونو ورننوزي چې تر هغو وړاندې د شمالي ډند دی چې کلي يې ټول طالبانو سوځولي وو، او ښځې يې بې

ستره کړې وې، موږ دسړك ښي لورې ته د هستو ګنې يوې ساحې ته وروګرځيدو او بيا مو په يوه سوړو ه کوڅه کې يوه شنه دروازه وټکوله.

ما توفيق ته وويل:

که دا په کور کې نه وي، څه به کيږي زه سبا ته روانه يم.

هغه په موسکا راته وويل:

هغه به په کورکې وي چيرته به ولاړه شي؟ که په کور کې نه وه هم موږ به ورته انتظار وکړو.

هغه بيا دروازه وټکوله يو نولس کلن ځوان راغی، او موږ يې يوه دهليز ته بوتلو، د يوې کړکۍ نه يې راوښودل چې پريوې استاذي ډيرې نجونې اوهلکان را چاپير شوي وو.

ما خپل ګردجن بوټونه وايستل او کور ته ورننوتم

ومې ليدل چې له دروازې سره په ميخونو ډيرې نيلي رنګي چادري راځړيدلې دي، هلك موږ يوې کوټې ته بوتلو چې ديوالونه يې انګوري رنګ شوي وو.

پر غولي يې سره غالۍ غوړيدلې وه. هغه موږ ته په يوه ګلابي تخت د کيناستلو اشاره وکړه.

ورټيټ شو پر غولي د اينښودل شوي يوه سپين ترموز څخه يې چاى راته واچاوه چې بوره يې ډيره وه، پر کړکيو جالۍ لرونکې پردې وې، د پلاستيك له يوه بوټي نه پاس د غرونو يوه منظره راځړيده، ما په دواړو لاسونو د چاى يوه پياله ونيوه چې لاسونه مې تاوده شي، دغه وخت دروازه خلاصه شوه او يوه ښځه را ښکاره شوه چې سترګې يې ځليدلې او پرشونډو يې موسکا وه هغې شونډې تکې سرې رنګ کړې وې او په تواوزمه سره دسمال کې يې ويښتان پټ کړي وو. دا ماري وه.

هغې په انګریزي راته وویل:

زه دې پیدا کړم ما ګومان نه کاوه چې ته به راشې.

هغې زما لاس ونیول اودواړه غومبوري یې راښکل کړل مور کیناستلو دې مې لاسونه تر اوسه نه وو خوشي کړي، ما سوغاتونه ورته وړاندې کړل، دا ډیره پرې خوښه شوه، سمدستي یې سوغاتونه واخیستل . د یادښت تر کتابچې د قهوي برتل ته ډیره خوشاله شوه وي، ویل چې طالبان تللي دي شوندې مې له خندا نه راټولیږي په ښار کې بیا واورې واوریدې، نن په یوه ونه کې مرغۍ هم غاړې کولې اوس ته هم راغلې مور دې ته زیري وایو چې معنی یې ښه خبره ده ښاغلي توفیق مسعوده! د دې ښو زیریو راوړونکیو ته خو باید شیریني ورکړو هغه که څه هم ډیره پراخ زړې وه. خوله توفیق سره یې چې خبرې کولې، هغه ته یې یو ځل ورونه کتل.

ما ورته وویل:

ستا پیدا کول څومره ګران وو. دوې میاشتې پخوا د طالبانو له زوال وروسته زه کابل ته راغلې یم. ستا رښتیانی پته راسره نه وه.

په نوېو میکروریانو کې مې لټولې، زما دا باور هم ته و. چې زه به فاطمه یا ماري پیدا کړای شم.

هغې وویل:

زه ډیره خپه شوم! زما نوم فاطمه دی خو هر څوک مې ماري بولي، په لیکونو کې مې سهي پته نشوای لیکلی، ځکه چې د دې خطر و، چې هغوي مې کله پیدا نه کړي مور نه پوهیدو چې دوي به ولاړ شي که نه. په میکروریانو کې د الوتکو بمباري او شور ډیر زیات و. زما

مور ناروغه شوه، ځکه له هغه ځایه را وکوچیدو موږ اوریدلې چې طالبان زموږ له کاره خبر شوي وو.

ماورته وویل:

ته اندیښنه مه کوه، ستا د لټون په سبب مې د ډیرو په زړه پورې خلکو سره لیده کاته وشول، که داسې نه وای له هغوی سره به مې هیڅ لیدلي نه وای.

هغې وویل:

زموږ په خلکو کې متل دی، چې څوك د مارانو د تلو ناکراره انتظار کوي، هغوي ته غمي په لاس ورځي ته زموږ ښار ته په خیر راغلې زما هیله وه چې زه څوانه وم، ته کابل ته راغلې وای، هغه مهال دغه ښار ډیر ښکلی و.

دلته باغونه او ګلونه وو. هر شی ښکلي ښکاریدل ښه هوا وه، ښه ښوونځي وو، ښه ښوونکي وو، خلك به په الوتکو کې تلل راتلل ښې ښې جامې به یې اغوستې ته لږ فکر وکړه زما مور د زده کړو لپاره نوي ډیلي ته تللې وه.

ما ورته وویل:

په لیکونو را استولو کې ډیر خطر و، تا داسې ولې وکړل؟

ځواب یې راکړ:

فکر مې وکړ چې نړۍ موږ هیر کړي یو، زه ویریدم چې طالبان مې لیکونه ګیر نه کړي او ما جیل ته وانه چوي.

خو په دې تمه مې لیکونه لیکل چې کوم چیرته خو به څوك خبر شي ... ته پوهیږې چې طالبان ډیر ظالمان وو، هغوي زما خور لنې او ورور ووهل.

آن تر دې چې مور مې يې په بازار کې ووهله هغوی افغانان نه وو، پاکستاني عرب او چيچنيايان وو.

ما يې د هغه ټولګي په باب ترې وپوښتل چې ومې ليده.

ځواب يې راکړ.

اوس مې خور "لطيفه" درس ورته وايي، زموږ تر هغه اپارتمان دغه کور ښه دی، خو کرايه يې ډېره ده ځکه خو موږ زياتو زده کوونکيو ته اړتيا لرو.

دې خندل خو سترګو يې د خپګان غمازي کوله، چې ما د دې د شخصي ژوند په باب ترې وپوښتل نو د ټيکري پر پيڅکه يې لوبې کولې،

بيا يې راته وويل: اولسمشر کرزي وعده کړې چې ښوونځي به پرانيزي، موږ ته يې د دندو او معاشونو راکولو ته‌مې راکړې دي. زه غواړم چې په يوه ښه ښوونځي کې استازه شم.

هيله لرم چې د ماشومانو لپاره ښه کتابونه وي، تودې جامې او پايزار ولري، چې زده کړې ته ښه پام وکړي، زه دا هيله لرم چې بهر ته کوم سفر وکړم، خو لګښت يې نشم پوره کولی، ځکه خو غواړم چې د نورو هيوادونو ښځې دلته راشي او وګوري چې پر موږ څه تير شول؟ نه يوازې دا چې هيواد مو کنډواله شو، بلکې دا وګوري چې زموږ په لويو او وړو څه تيرشول.

ته پوهيږې چي زما کورنی ډيره نيکمرغه ده، بيشکه چې موږ د خپلو زده کړو او خپلواکۍ نه تر څه حده محروم شوو، زما د مور او پلار وظيفې ولاړې. زموږ ښه کور او باغ را پاتې نه شول چې پخوا مو

درلودل. خو موږ ژوندي پاتې شوو ډېرو خلکو خو ژوند هم له لاسه ورکړ.

بیا یې یو بکس راووړ چې په هغو کې د دې او لطیفې څو توراو سپین تصویرونه وو، دا د هغه مهال تصویرونه وو، چې دا وړوکې نجلۍ وه، چې په هغه کې یې پرک داره لمن اغوستې وه، د دې ویښتان اوږده وو، او له ګلانو ډك یوه باغ کې شرمیدلې ولاړه وه، ما په تصویر کې ګلاب او لمر ګلي ګلان ولیدل.

په خواب کې ماله خپل دستکول نه د خپل میړه او زوی تصویر راویوست او وروميې ښودو، هغه تصویر د پرتګال د سمندر په یوه څنډه کې اخیستل شوی وه.

زه دا تصویر راسره ساتلی شم. دا ډیر ښکلی دی ته څومره نیکمرغه یې، دا سمندر دی، ما په دې اړه ډیر لوستي دي، زما مور او پلار سمندر لیدلي هم دي زما هم ډیره توده هیله ده چې ویې وینم.؟

ما ترې وپوښتل:

ته غواړې چې واده وکړې او اولادونه ولرې؟

خواب یې راکړ:

خامخا ! اوس ډیر ودونه کیږي، خلك د آزادۍ په فضا کې ساه کاږي اوس خو ګډا او سندرې هم آزادې دي، ناوې ځان جوړولی شي او ښکلې جامې اغوستلی شي تر دې پخوا نو څه ودونه وو! هغه وخت خو ما د واده په اړه سوچ هم نشو کولای.

ما ترې وپوښتل:

څوك دې په خیال کې شته؟

هغې وخندل ویې ویل:

نه، زما مور او پلار به يې راته غوره کړي ، زموږ نصيب همدغه دی، زما کورنی زماد راتلونکې په باب ښه پوهیږي، همدا غوره هم ده.

هغې بیا زما لاس ونیو ویې ویل:

کرستینا! ته پوهیږې چې دا ډیره ګرانه ده .

ما ټول ژوند جګړه لیدلې ده، ځکه مې باور نه راځي چې امن به راشي زموږ دا په خیال کې هم نه راتیریدل، چې طالبان په دومره په آسانی ولاړ شي، اوس خو هغوي یو ویروونکی، خوب ښکاري دا اوس یو ښکلې خوب ښکاري او دا ویره راسره وي، چې سترګې مو ونه غړیږي او سرکونه ناڅاپې د تورو پګړیو له خاوندانو څخه ډك نشي.

په دې وخت کې د دې خور هم راغله، ورور يې په یوه قاب کې کلچې او کیك راوړل، ماري بخښنه وغوښته ویې ویل: دا ډیر نه دي، خو زموږ کره اوس همدومره وو. د دوي پلار له چا سره د لیدو لپاره تللی و، چې ترې معلومه کړي چې په بهرنیو چارو وزارت کې به دوي ته بیرته دندې ورکړای شي که نه؟ زه حیرانه شوم چې مور یې زموږ سره د لیدو لپاره رانه وستله زما په ګومان دې خپل مور او پلار پردې نه وو خبر کړي چې دا یوې بهرنی ښځې ته پټ لیکونه استوي.

موږ آدرسونه یو بل ته ورکړل هغی د رخصتولو پر وخت کې ښکل کړم او راته ویې ویل:

زموږ رواج دی چې سوغاتونه ورکړو خو افسوس چې له ماسره له دې پرته هیڅ هم نشته بیا یې یو شی چې په ټوکر کې پیچلي وو، را اکړل ما په ټیکسي کې هغه پرانیستل ومې لیدل چې یوه پخوانی کتابچه وه، چې پاڼې یې ټولې ډکې وې دا د دې یادښتونه وو، راتلونکې سهار توفیق هوټل په میز ناست و، او د دې ډایرې یې ژباړله

دا ډېر قیمتي شی و، چې دې ماته راکولای شوای. دا د دې د ژوند برخه وه. ما غوښتل له خان سره یې وساتم. خو پوهیدم چې باید بیرته یې پرې وسپارم.

هغه چې دا ژباړله، زه د کابل د وروستي چکر لپاره له هوټل څخه ووتم. د بهرنیو چارو وزارت د تالار له مخې سره تیره شوم چې دلته د حامد کرزي نوی حکومت لوړه کوله دننه به جنرال دوستم، سیاف، رباني او اسماعیل خان غونډې یو د بل پخوانیو دښمنانو یو بل ته کتل ما فکر کاوه چې دغه حکومت به څومره دوام وکړي. بهرني سفارتونه یو په بل پسې پرانیستل کیدل زه کیڼ لوري ته وګرځیدم. چې د اندونیزیا سفارتخانه ووینم له سفارتخانې سره جوخته لاره یوه شخصي ځای ته تللې وه. چې هلته ډېر بیرور بار و. په لاریوکې قالینې. الماری اوکرسی. راوړل کیدې.

ناڅاپه مې یو آشنا غږ واورید.

کرستینا! دوړوکې ګڼې ږیرې خاوند چې د اوسپنې فریم واله عینکې یې پر سترګو وې په زوره لاس راته خوځول.

حامد! زما پخواني جهادي انډیوال حامد ګیلاني و. چې څو کاله وړاندې ما په اسلام اباد کې د ده سره د شپې ډوډۍ خوړلې وه.

زه په منډه ورغلم او ورترغاړې وتم. په کابل کې په دې ناڅاپې لیدو دواړو سترګې اوښلنې شوې. ما چې لاس په غاړه کې ور واچول د دې پروا مې ونه کړله چې دا خلك به څه فکر کوي.

هغه یوې لویې ودانۍ ته اشاره وکړه ویې ویل:

دا زما کوردی. له دیرشو کلونو راسې په دی کور کې د اوسیدو تږې وم. را څه ویې ګوره!

د ګیلاني کورنۍ ډېره شتمنه وه، په کابل کې د دوی ډېره زیاته ځمکه وه، حامد تر ټولو لومړی خپل برباد شوی بڼ را وښود، چې کندې پکې جوړې وې، ونې یې وچې شوې وې، او دیوالونه یې مات شوی وو، هغه راته وویل:دلته پالنې او لوېیدو او ځوانیدو ډېره مزه کوله.

په دې کور کې د لمبلو حوض، د ټینس میدان، د انګورو بڼ اولس هکتاره ځمکه وه چې دلته به موږ د ګرمۍ په موسم کې دګډا، سندرو او میلو پروګرام جوړ اوه، پلارمې په دې ځمکو کې د خپلو زامنو لپاره کورونه جوړ کړي وو.

هغه زه یوه کورته بوتلم چې په کړکیو کې یې خښتې اېښودل شوې وې او په دروازه کې یې وسله وال ساتونکي ولاړ وو.

حامد راته وویل چې ته وګوره له دې نه یې څه جوړکړي دي خاد زموږ پرکور او ځمکو خېټه اچولې وه، زما د ورور له کور نه یې جیل جوړ کړي و. چې دلته به یې پر بندیانو ظلمونه کول .طالبانو هم داسې کارونه کول دا اوس هم له بندیانو ډک دی.

موږ نه پرې پوهیږو چې اوس څه پرې وکړو.

هغه بیا زه د میلمستون تالار ته بوتلم چې پر غولي یې واښه او خوشایه پراته وو حامدوویل:

زما موراو پلار به دلته ډېرې شانداري میلمستیاوې ورکولې چې د شمعو په رڼا کې به د سندرو او موسیقۍ بندوبست هم و، طالبانو طبیله ترې جوړه کړې وه.

هغه ورپسې زیاته کړه:

په دې وطن کې نور څه پاتې دي، چې د اقتدار لپاره جنګ پرې وکړي؟

ما ترې وپوښتل:

"ته چې له دې ځایه ولاړې څو کلن وې"؟

هغه ځواب راکړ:

په ۱۹۷۳ کال شپاړس کلن وم چې قاهرې او لندن ته د زده کړو لپاره ولاړم. چې زده کړې مې بشپړې کړې نو وطن کمونستانو نيولی و، ځکه بیرته دلته رانه غلم. زموږ کورنۍ په ۱۹۷۸ م کې ځان وژغوره او وتښتیده، ځکه چې کمونستانو د علماو او روښانفکرانو نیول او وژل پیل کړل، هغوی هر څه پرېښودل او تښتې ته مجبور شول، یوازې د ځان په جامو کې ټول یو سر او دوه غوږونه ایران ته ولاړل خو په هغو ورځو کې په ایران کې د شاه تخت رانسکور شو، له نیکه مرغه د هیروډHarrodlشاته په (nights Bridge) کې زموږ یوکورو، هغه مو وپلوره چې د خوراك څښاك لپاره څه پیسې په لاس راشي.

حامد وویل: زه بې پروا خوان وم، هیڅ غم مې نه درلود، د لندن په یوه ښکلې سیمه کې په نړیوال معیار برابر مې ژوند کاوه چې کله پر هیواد کمونستانو خیټه واچوله نو احساس مې کړه چې باید وجنګیږم ځکه پاکستان ته ولاړم، ما په دوولس کلنۍ کې د ښکار لپاره د ټوپك ویشتل زده کړي وو. پلار مې په جهاد کې د برخې اخیستو اجازه رانکړه چې درې ځلې مې ترې وغوښته . خو هر ځل یې انکار وکړ، بیا هم زه په جهاد کې شریك شوم، ځکه چې پوهیدم چې د وطن آزادول زما مسئوولیت دی، او زما پلار او نیکه چې په اشرافي طبقه کې پیدا

شوي دي. مونږ دغه ژوند د عام اولس د حقوقو د محرومۍ په بيه تر لاسه کړي دي.

ما وخندل د الفنسټن Elphinston الفاظ را په ياد شول چې هغه دکابل په باب په کتاب کېAccount of the kingdom of Kabul کې ليکلي دي. ما دغه کتاب تيره شپه بيا لوستی و.

هغه ليکلي دي:

که کوم سړی له انګلنډ څخه کابل ته واستوې، نو هغه به پر دې ونه پوهيږی چې په دغسې ګډوډۍ کې يو اولس څنګه ژوندی پاتې کيدای شي.

او په دغسې وضعه کې د اوسيدونکو خلکو پر حالت به يې زړه سوځيږي. خو د دوی زړورتيا، لوړې روحيې، ميلمه پالنې او ساده ژوندانه ستاينه به مخامخا کوي.

د هغه د دغو جملو له ليکلو څخه دوه سوه کاله تير شوی دي. خو زه چې دلته له حامد سره ولاړ يم په دوی کې تر اوسه پورې هيڅ بدلون نه دی راغلی.

نور زما د تلو وخت شو چې ابو ظبی ته په تلونکې الوتکه کې سپره شم، بيا له هغه ځايه لندن ته ولاړه شم، او تر څلور ويشت ساعتونو نه په لږ وخت کې له خپلې کورنۍ سره وويئم او خپل هوسا ژوند ته بيرته وروګرځم. زه دې ته ناکراره وم، چې د خپل زوی په نرمو نرمو باړخوګانو لاس ووهم خو لندن تر اوسه پورې لرې و، څکه خپګان راباندې زور شو.

چې مونږ کله د حامد د موټر چلوونکي انتظار کاوه نو هغه راته وويل:

هلته گوره!

ما چې هغه لورې ته چې د ده سترګې پرې نښتې وې ورومې کتل ومې لیدل چې د سرك پورې غاړې ته په پلې لاره یو سړی یوازې ولاړ و، چې ما د همدې اونۍ په پیل کې لیدلی و. چې د شوخ رنګ پوقانې ورسره وې، هغه اوس یوه یوه پوقانه خوشې کوله، ما فکر کاوه چې دا به ولې داسې کوي.

حامد په موسکا راته وویل:

مورږ اوس دلته ولاړ یو دا ډیر ښه وشول خو مورږ له ډیرو خلکو څخه محروم شوی یو نږدې پینځه لس لکه تنه دا ډیر لوی شمیر دی، د دوی هر یو بیلا بیله کیسه لري مورږ باید هغوي هیڅ هیر نه کړو.

ACKU

## اخذ لیکونه

احمد اکبر اس۔ انډر سټېنډنګ اسلام راول هج (لندن او نیو یارک) ۱۹۸۸ ایلن چارلس۔ سولجر حاجس دي مین نیومیدوي نارته۔ ویسټ فرینډ جان سري (لندن) ۲۰۰۰.

بابر ـ دي بابر نامه" د بابر نامې یادښتونه " شهزاده او پادشاه (تزک بابري) ژباړه وهلیرایم۔ تهیکتیسن۔ آکسفورډ پوهنتون چاپ (آکسفورډ) ۱۹۹۶.

بوډنسکي" یوسف" بن لادن" دي مین هوډ لیکیړډ وار آن امریکا" رنډم هاوس (نیویارک) ۱۹۹۹.

برنس" لفټننټ کرنل الیګزنډر" کابل۔ ای پرسنل نیریټیو" جان سري (لندن) ۱۸۴۳.

بایرن رابرټ۔ وي روډ تو آکسیانا۔ پنګوئن (لندن) ۱۹۳۷

کیرو سراولف" دي پټهانز" منکملن (لندن) ۱۹۵۸.

چیټون پروس۔ ای لیمنټ فار افغانستان" واټ ایم اني ډونګ هنر پنګوئن (لندل) ۱۹۹۰.

ډاتیور" ماډ" دي هیرو آف هرات" کانسټیبل اینډ کمپني (لندن) ۱۹۱۲.

ډیپري" لویی" افغانستان" پرنسټن یونیورسټي چاپ (نیو جرسي) ۱۹۷۳

ډیپري" نینسی هیچ۔ افغانستان" ای هسټاریکل ګایډ افغان ټورسټ آرګنائزیشن (کابل) ۱۹۷۷.

الفنسټن" ماونټ سیټوارټ" اکاونټ آف دي کنګډم آف کابل اینډ اټس ډیپنډنسیز" جلد اول۔ لانګ منید اینډ جان سری (لندن) ۱۸۱۹.

PROPERTY OF ACKU
11634

ACKU

بنگاه انتشارات میوند
کابل - افغانستان